تیر هیر شاعران

له

عبدالحلیم اثر افغانی

پښتو اکیډیمي د پېښور یونیورسټي

Marfat.com

Collection of Prof. Muhammad Iqbal Mujaddidi
Preserved in Punjab University Library.

پروفیسر محمد اقبال مجددی کا مجموعہ
پنجاب یونیورسٹی لائبریری میں محفوظ شدہ

Marfat.com

ذخیرۂ پروفیسر محمد اقبال مجددی

جو 2014ء میں پنجاب یونیورسٹی لائبریری کو

ہدیہ کیا گیا۔

PUNJAB UNIVERSITY LIBRARY

LAHORE

Marfat.com

تیرهیر شاعران

له

قاضی عبدالحلیم اثر

ذخیره محمد اقبال مجددی

تحفه د
جناب محمد اقبال ع. مجددی
ایم. اے
د محترم محمد امیر قادري ګیلاني
یکه توت پښاور
۱۵ ذی الحج ۱۳۹۴ ھ
۳۰ دسمبر ۱۹۷۴ ء

پښتو اکیډیمي - پېښور یونیورسټي

Marfat.com

د پښتو اکیډیمۍ د مطبوعاتو د سلسلې نمبر ۲۰

129999

د ړومبي ځل .... اپریل ۱۹۶۳ء

شمیره ۱۰۰۰

قیمت .... څلور نیمې روپۍ

په اهتمام د خیال بخاري

په پبلک آرټ پریس پېښور کښې چاپ شه

Marfat.com

فهرست

شمار	نوم	مخ
۱	مسکین	۱
۲	میاں کریم داد	۳
۳	بی بی گله	۱۶
۴	میاں داد	۲۹
۵	شیخ فرید	۳۲
۶	حُسین	۳۴
۷	مُعزالدین	۵۲
۸	محمّد فهیم	۵۹
۹	ابراهیم	۶۴
۱۰	عبد الکبیر	۷۰
۱۱	بیاض	۷۷
۱۲	محمّد یوسف	۸۶
۱۳	حافظ محمّد	۹۰
۱۴	امیرخان	۹۷
۱۵	نور محمّد	۱۰۵
۱۶	دلاورخان	۱۱۲
۱۷	حضرت شاه	۱۱۵
۱۸	فیض الله (اخونزاده)	۱۲۳
۱۹	عبیدالله میاں گل	۱۳۷
۲۰	صالح محمّد	۱۴۸
۲۱	میرعالم خان	۱۵۲
۲۲	محمّد خان (درانکی)	۱۶۰
۲۳	امیرشاه	۱۶۴
۲۴	عبد الرحیم	[illegible]
۲۵	خان زمان	۱۷۳
۲۶	مُلا امیر	۱۷۷
۲۷	دوستم	۱۸۰
۲۸	احمدجی	۱۸۳

Marfat.com

شمار	نوم	مخ
۲۹	ابن الفقیه	۱۸۵
۳۰	قاضي عبد الرحمان	۱۸۸
۳۱	محمد جي	۱۹۰
۳۲	ارباب عبد الرحیم	۱۹۴
۳۳	دلیل	۲۰۲
۳۴	باز محمد	۲۰۴
۳۵	بهاول خان	۲۰۷
۳۶	عبد القادر خان	۲۱۰
۳۷	عمر دین عمر	۲۱۲
۳۸	خیرے	۲۱۸
۳۹	شاه پسند	۲۲۱
۴۰	فیض الله قریشي	۲۲۴
۴۱	رضوان	۲۳۰
۴۲	صفي الله	۲۳۳
۴۳	حبیب الله حمید	۲۴۳
۴۴	محمد شریف	۲۵۲
۴۵	گل احمد	۲۵۶
۴۶	محمود	۲۶۶
۴۷	محمد علي عزیب	۲۶۸
۴۸	فیضي	۲۷۳
۴۹	چاندی عبدالرحمن	۲۷۷
۵۰	بي بي تاجه	۲۷۹
۵۱	حمید الله	۲۸۲
۵۲	سفید شاه	۲۸۴

Marfat.com

پیژندګلو

بسم الله الرحمٰن الرحیم
نحمدہ ونصلی علیٰ رسوله الکریم

امّا بعد

د پښتو د ادبیاتو د تاریخ په میدان کښې چې تر ننه څو مره کار شوے دے هغه د ډیرې ستائینې او قدر جوګه دے. یوه ژبه چې تر څو کاله اګاهي نه وي هیڅ قسم تاریخ ادبیات په مقاله څه مستند معلومات نه لرل. تیرو څو کالو کښې د تیرو نه رڼا شوه. د ځنو عالمانو ادیبانو او تاریخدانانو په کښې کافي زیار اوکړو او د ژبې په قدامت، د ایشې او رښتې او د ژبې د شعرو شاعرۍ او ادب او ادیبانو په سلسله کښې ډیر کارونه اوکړو او پښتو ژبه او پښتانه ادیبان او عالمان او شاعران د ډیرو کارونو سره کړے شول. ښاغلی حبیبي او ښاغلی رښتین په دے موضوع باندې اولیکل چې په کښې د پښتو ژبې تاریخ شعرو شاعرۍ ادب وغیره په مقاله ډیر څه معلومات راغونډ شوي دي. ښاغلی همیش خلیل هم په دے میدان کښې د حبیبي د پټې خزانې په انداز د رکه خزانه او پښتانه لیکوال د دوه کتابونه چاپ کړي دي. نو شم د ویلې چې چا بل هم په دے میدان کښې څه

Marfat.com

منظم کار کړے دے او کړه نه - ولے زما خپله رائے داده چه په دے میدان کښے هر څو مره کار چه شوے دے د پښتو ادبیاتو د تاریخ په میدان کښے به دا علمی کاوش تل خپل خاص مقام ضرور لری - او هر څو مره کار چه ددے نه پس کیږی ددے بناغلو دکار او کړان قدر و قیمت او اهمیت به لا زیاتیږی .

قاضی عبدالحلیم اثر د څه زمانے راسے د ځنے پښتنو ادیبانو او شاعرانو په اکثر پکښے ورک وُو په حقله لټون را واخست - د پښتو اکیډیمی د چاپ او قلمی کتابونو ذخیره او دهغه د خپلے ولقے لاندے قلمی او چاپ کتابونه ئے په بنه راغلل او نتیجه ئے دا کتاب شو - چه پښتو اکیډیمی ئے لوستونکو ته وړاندے کوی - ددے کتاب نوم "نیمر هیر شاعران" خوښ شو

په دے کتاب کښے ذکر شوی اکثر عالمان او شاعران داسے دی چه دهغوی په حقله تر ننه څه خاص معلومات موجود نه وُو - د ځنو خو پکښے چا نوم هم نه وو اوریدلے - بیشکه یو څو کسان داسے هم دی چه دهغوی ذکر ددے بناغلیو کتابونو کښے راغلے دے - ولے قاضی اثر دهغوی د ژوند، کلام په حقله ځنے ځائے خوندناکے اضافے کړیدی او ځنے ځائے پکښے غلطئ او غلط فهمئ په ګوته کړیدی - او بیائے د خپل تحقیق په رڼا کښے دهغے مستند تصحیح کړیده .

مثلاً بناغلی رښتین د جنګنامه حسنین مصنف سید حسن بنودے ګڼلے وو او اثر وائی چه ددے لیکونکے حسین دے سید حسن نه دے .

د برټش میوزیم لندن د کتب خانے په فهرست کښے د نصیحت البیان د مصنف نوم عبدالرحیم بنودے شویدے ولے اثر په خپل تحقیق دا ثابته

Marfat.com

کړیده چه ددے کتاب مصنف حافظ محمدؐ، آمین دے چه د برنا کال او سید ونکے د
ځنو تذکره نویسانو احمد د تیراهی او احمد د پچکي دوه بیل بیل کسان ذکر
کړیدی. ولے اثر والی چه دا دوه کسان نه دی. احمد د تیراهی او احمد د پچکي
هم یو سړیده. داسے د امیرخان نوے شاعر په حقله د اثر تحقیق د نورو
تذکره نویسانو نه جدا دے.

دا ما صرف په تلو تلو کښے د ځنو اختلافاتو پلو د لوستونکو توجه
راوګرځوله. او غرض مے پکښے دا وو چه لکه څنګه اثر په دے کتاب کښے د
ده نه وړاندے مصنفینو په تحقیقاتو کښے کوتے اوو نیولے او ځنے معلومات
ئے بیا موندل او ځنے غلطئ په ګوته کړے. دغه رنګ یقین دے چه راتلونکی
دور علمی محققین به د اثر په تحقیق ژور نظر واچوی او کیدے شی چه
نور څه هم نوے تحقیق را برسیره کړی.

هم دغه ده چه دا کتاب پښتو اکیډمئ چاپ کړو. زما دُعا ده چه
الله تعالیٰ دے په راتلونکی نسل کښے داسے تحقیق کوونکی زلمی پیدا کړی چه
د تحقیق په میدان کښے مستند علمی کارنامے ترسره کړی. والسلام

(مولنا) عبدالقادر

Marfat.com

Marfat.com

بسم الله الرحمٰن الرحيم

مِسکین

د کوجړو ګړهي د ابوبکر میاں صاحب په قلمي مجموعه کښې د ابو نظم د سنه ۱۲۰۰ه
په شاوخوا زمانه کښې په معمولي پېښورۍ ساخت کاغذ باندې په متوسط
درجه پوخ خط باندې چه رسم الخط ئې نسخ دے لیکلے شوې دے صرف د نظم
په آخر کښې تخلص مسکین راغلے دے[1] نظم دا دے:-

زهٔ غریب ډېر ګناهګار یم ته مې وبخښې یا رب
له ګناهه شرمسار یم ته مې وبخښې یا رب
تمام پُر یم له ګناهه اے د کل عالم پناهه
ستا له فضله امیدوار یم ته مې وبخښې یا رب
خواست مې تا نه دے خالقه د همه خلقو رازقه
که زهٔ هر څو بدکردار یم ته مې وبخښې یا رب

نمبر۱ مسکین د شیخ رحمکار کاکا صاحب مرید او خلیفه وو. نوم یې خواجه مسکین
په یاد وو. (رولا حنفلد) کړې تذکرهٔ شیخ رحمکار صفحه ۳۵ په حواله د مجمع الذات ...
صوفي او د پښتو ژبې پوخ شاعر دے. هرکله چه کاکا صاحب علیه الرحمة په سنه ۱۰۶۳ه
کښې په حق رسیدلے دے نو ویلے شو چه خواجه مسکین د سنه ۱۱۰۰ه د آخره حده
پښتون شاعر دے. (راقم)

د پښتو ادب تاریخ صفحه ۹ کښې لیکي. په لندن میوزیم کښې د عبدالقادر خان خټک د دیوان
یو نسخه ده چه تقریبا په سنه ۱۲۰۰ه کښې قلمي شوې ده. په دغه نسخه کښې د مسکین یو غزل موجود دے.

Marfat.com

معصیت ے ترحد تیرے د بیابان تر شګو ډیر دے
د غفران په انتظار یم تۀ مے وبخښے یا رب

زۀ کۀ هر څو ناقبول یم بیا اُمت د پاک رسول یم
هم د دوستدار د چار یار یم تۀ مے وبخښے یا رب

پُر تمام له معصیّت یم ترحد زیات پر رحمت یم
څۀ مے نۀ کړی ناچار یم تۀ مے وبخښے یا رب

کۀ هر څو زۀ ملامت یم ملامت پر معصیّت یم
په بد والی دے اقرار یم تۀ مے وبخښے یا رب

هغه ورځ چه د محشر شی ټول عالم به وَبله ورشی
په هغه وُکښے زۀ خوار یم تۀ مے وبخښے یا رب

د لحد له توره تمه همیشه یم پُر له غمه
په عذاب لیل و نهار یم تۀ مے وبخښے یا رب

د صراط لاره باریکه او تر توره شپه تاریکه
روندہ په دغه لار یم تۀ مے وبخښے یا رب

د دوزخ له سخته اوره چه ډیر ګرم دے هر کوره
زۀ مسکین څنګه په دار یم تۀ مے وبخښے یا رب

د مسکین د یو بل نیم کړی نظم یو څو شعرونه دا دی:-

زۀ قربان شم ترجمال د محمدؐ	هم تر خلق هم تر کمال د محمدؐ
لکه دے چه دے روښان ره په عالم کښے	هم دا هسے کنزه آل د محمدؐ
عالمان د زمانے کۀ سره ټول شی	وُبه نه رسی تر قال د محمدؐ
له مشرقه ترمغربه زما دله	چرته نشته دے مثال د محمدؐ

Marfat.com

میاں کریمداد

د حضرت میاں کریمداد شهید پوره نوم عبدالکریم دے - او په اخون میاں کریمداد شهرت لري - په خپلو اشعارو کښې کریمداد او کریم تخلص کوي - د حضرت اخون درویزه ننګرهاري علیه الرحمة نامور فرزند دے او مشهور روحاني عالم او فاضل عارف تیر شوے دے چه په تصوّف او سلوک کښې معرفت او حقیقت د اسرارو او رموزو نه ډک بیانونه لري - او د طریقت سلسله کښې د لوئے شهرت خاوند دے -

د کریمداد د خپلو تصنیفاتو د بیان نه معلومیږي چه دهٔ د خپل بزرګوار پلار حضرت اخون درویزه ټول تالیفات را جمع کړي دي او [illegible] ترتیب ورکړے دے - لکه چه د اخون درویزه صاحب د یو ډیر نایاب کتاب "ارشاد المریدین" په آخر کښې لیکي -

" پوهه شه اے عزیزه - خدائے تعالیٰ د دے خپل نعمتونه [illegible] چه پیکوټکے او تالیف کوټکے د دے رسالے ارشاد المریدین [illegible] زرګوار پلار اخون درویزه علیه الرحمة چه مُدام [illegible] لري [illegible] دهٔ - د هغوئ دا حال وو چه هروخت به د روئ په خدمت کښې [illegible] خلقو کښې جوړه وه - بل دوئ خوښتل چه اهلِ هوا توک پاتے نشي [illegible] هرڅوک حق لارے د شریعت نه را واوړي) او بل د دین سره به د ریغه د دوی محبت وو دا سے چه حد او اندازے د دینی تعصّب ته رسیدلے وو - او [illegible]

Marfat.com

اِمکان یې لرلو کوشش به یې کولو چه د سنّت حبیب اسلام روایات، مسائل او حالات د بزرګانو د دین را جمع کړي تالیف ورله ورکړي۔

لیکن ورسره د دوئ شغل باطني د الله پاک سره تر دومره حده زیات وو چه اکثر به د اِستغراق په حالت کښې وو۔ او ډیر کرتے به داسې وشوه چه به د غه حالت د جذب او استغراق کښې د خپلو ځامنو اولوټړو نوموته به هم ورته نه یاد ییدل۔ په دے وجه دوئ چه به کوم کتاب اولیکلو نو دومره فراغت به په لاس نه ورتللو چه نظرثاني پرے اوکړے شي۔ او د خپل تحریراو تالیف کره او ناکره سره بیل کړے شي۔ په دے شان سره د هغوئ یو څو رسالے پاتے شوي دي۔ چه یو د هغوئ د ځامنو څخه زهٔ عاجزه فقیر حقیر کثیر التقصیر عبد الکریم په اندازه د خیر ځارے خپلے سره غواړم چه د والد بزرګوار د غه ټولے رسالے صحت ته اورسوم۔ چنانچه په دے سلسله کښې د اشپږمه رساله ده چه دے پاېزار او چنتو نکی د صالحانو سرته اورسوله او امید لرم تقوی دارو عالمانو څخه دا دے چه هرکله په صحت او فساد د دے رسالے واقف شي نو په مضمون د دے قول سره چه « کومه صفا خبره ده هغه قبوله کړه او چه کومه ریمنه ده هغه پریږده » نو چه کومه خبره پکښې صحیح بیاموي د هغے له مخې دے د دے رسالے مؤلف (اخوند رویزه رح) او مصحح (رکرمید اد) ته د ایمان د سلامتئ، د دوزخ د اور نه د بچ کیدلو، د جنت نصیب کیدلو او د پاک رب د دیدار په نعمت سرفراز کیدلو په دعا سره یاد کړي۔ او چه کوم ځائے په دے رساله کښې فاسد وي هغه دے صحیح کاندي او د دے تغیر دپاره دے بخښنه و غواړي۔ الله تعالی دے ټول مؤمنان او مؤمنات د زوال د ایمان نه په امان کښې وُلري او د آخرت مراد یې پوره شه۔

Marfat.com

آمین۔ یا رب العالمین۔ انتهی۔"

اخوند کریمداد صاحب چه د اخون درویزه علیه الرحمة کوم شپږ کتابونه یاد کړی دی او دوئ یې تصحیح کړې ده۔ ترتیب یې ورکړې دے۔ او د عامو مسلمانانو د فائدې دپاره یې یادګار پرېښې دی هغه دا دی:-

(۱) تذکرة الابرار والاشرار فارسی

(۲) شرح امالی "

(۳) برهان الانبیاء والاولیاء "

(۴) ارشاد المریدین "

(۵) ارشاد الطالبین "

(۶) مخزن الاسلام پښتو

په دے شپږو واړو کتابونو کښې یو کتاب "برهان الانبیاء والاولیاء" داسے کتاب دے چه زمونږ په لاس کښې نشته۔ صرف نوم یې پاتے دے۔ د دے کتاب ذکر په ارشاد المریدین کښې راغلے دے۔

کریمداد د "پښتو ادب" په سلسله کښې چه کوم د قدر او ستائینے قابله کارنامه یادګار پرېښې ده۔ هغه داده چه د مخزن الاسلام په نوم د حضرت اخون درویزه علیه الرحمة کښې پښتو مقالے۔ مضامین یې جمع کړی او ترتیب یې ورکړے دے۔ مخزن الاسلام علمی، ادبی، او تاریخی لحاظ حیثیتونه لري۔ او د پښتو ژبے د قدیم طرز د لیکلو او د مخصوص سبک نمائندګی کوی چه په دو ستوو زمانه کښې ډېر د سر نامورو او فاضلو مسلمانانو ادیبانو د پښتو ژبے په مختلفو علومو او فنونو کښې د دغه طرز او سبک پیروی کړې ده۔ او د یو مخصوص سبک او مکتبه فکر بنیاد اوګرزیده۔ او د دې اتلونکو دوه صده و

Marfat.com

پورے د مخزن الاسلام طرز انشاء د علمي او ديني مسائلو او مضامينو د بيان دپاره غوره طرز ګڼلے شوے وو۔ د اخون قاسم پا پين خيل د فوائد شريعت، د حسين بابا خلاصة الاحکام د حاجي ابراهيم بابا قصه د زنتوم۔ د بابوجان د ديوان څه حصه او په آخر کښې د صفي الله خټک مخزن الاسرار د دے غوره نمونے دي۔

د کريمداد د جمع او ترتيب له مخه د مخزن الاسلام کوم نسخه چه دا وخت زما د وړاندے پرته ده۔ د هغې مضامين په دے تفصيل سره دي۔

(۱) مخزن الاسلام يوه حصه تاليف د اخون درويزه د صفحه ۱ نه تر ۱۳۳ پورے

(۲) پنج ګوهر ״ تاليف د ملا عبدالسلام په صفحه ۱۳۳

(۳) غزل ״ تاليف د کريمداد ״ ۱۳۳

(۴) الف نامه ״ ״ ״ ۱۳۳ تر ۱۵۲

(۵) مخزن الاسلام يوه حصه تاليف د اخون درويزه په صفحه ۱۵۲ تر ۱۶۷

د دے وضاحت نه ظاهره ده چه کريمداد د مخزن الاسلام د جمع کولو او ترتيب ورکولو نه علاوه په دے کتاب کښې ډيرے ادبي او تاريخي اضافے هم کړے دي۔ چه الف نامه د کريمداد او په دوستو دور کښې د معرفت او طريقت د اسرارو د فاضلانو او کاملانو عارفانو په منځ کښې ډيره زياته مقبوله شوي ده او زيات اهميت ئے حاصل کړے دے چنانچه د کريمداد د غه الف نامه چه په دے موجز او بليغ شعر سره شروع شوے ده۔ ؎

الف يو کوره له ميمه د دے دواړو معني هيمه

ډيرو عارفانو او نامي‌رو سالکانو د دے مفصلے شرحے ليکلي دي چه په هغو کښې

1 يوه ډيره مفصله او مبسوطه شرح د حضرت شيخ المشائخ حاجي عبدالله

Marfat.com

ملقب په حاجي بهادر کوهاټي نقشبندي دے۔ دا شرح په فارسي ژبه ده۔ یوه
قلمي نسخه ئے د بالا ماڼړئ پېښور ښهر د جناب سید فضل صمدانی صاحب سره
ده۔ او هم دا شرح په سنه ۱۳۱۱ھ کښې په مطبع یوسفي دهلي کښې د نتهو شاه
کاتب په قلم سره د مخزن الاسلام په حاشیه باندے چاپ شوے ده چه
د دغه چاپ په نسخه د سوات د قمبر د قاضي سید رحمة الله مرحوم په کتبخانه
کښې موجوده ده۔ او هم د دے فارسي شرحے ترجمه د حاجي بهادر صاحب د
لوُر د طرفه نوسي محمد اکل صاحب په عربي ژبه سره کړے ده۔ چه قلمي نسخه
ئے د کړهي میاں حمید ګل د مولنا محمد علیه الرحمة د لوسِ د طرفه نوسو سره زما
د نظر نه تیره شوے ده۔

۲ | دویمه مفصله او مبسوطه شرحه د حاجي عبد الله قصوري ده۔ چه د
کنز الدقائق د فارسي ترجمے تالیف د نصر الله بن محمد جمال لودهي قصوري
په حاشیه باندے لیکلے شوے ده۔ او د پړانګ چارسدے د ارباب عبد الرحیم
علیه الرحمة په قلمي کتب خانه کښې موجوده ده۔

اخوند میاں کریمداد هم هغه مضمون چه د دوُ پلار بزرګوار په کتاب ارشاد
المُریدین کښې۔ او په خپله کریمداد په الف نامه کښې واضح کړے دے۔ په خپل
کتاب "شرح جام جهان نما" (فارسي) کښې په زیات جامع تحقیق، د ...
او وجداني استدلال په پیر شرح او بسط سره د هغے تشریح کړیده۔

کریمداد په شرح د جام جهان نما کښې چه د علم تصوّف معرفت او حقیقت
کومے باریکے نکتے او د سلوک مقامات بیان کړي دي، اګرچه د دوُ بیان واضح
او ساده دے۔ لیکن خبره داده چه د تصوّف دا نازکه مسائل یو قسم له د علم توحید
مابعد الطبیعاتي فلسفه ده۔ په تعقل او عقلي دلائلو سره د دے پوهه ګرانه

Marfat.com

ده - ترڅو پورې چه سړی نه د خپل زړه او سینې په صفائی سره شهودی علم حاصل شوی نه وی - او د علم لدُنی فیض ورته په لاس نه وی ورغلی - په دې وجه چه کوم کسان د دې مکتبهٔ فکر نوی طالبعلمان وی هغوئ ته د کریمداد د بیان په اسرار او رموزو پوهیدل به یقیناً چه مشکل وی.

د کریمداد د الف نامې او شرح جام جهان نما په یاریکو باندې د پوهې د پاره ځوک پکار دی او څنګه او څو مره پوهه پکار ده - دا یو جدا سوال دې - ترکومه حده چه د دهٔ د لوړې علمی او تحقیقی درجې او مرتبې تعلق دې - هغه ډیره اوچته ده - او د "خزینة الاصفیاء" نومې کتاب مؤلف مفتی غلام سرور لاهوری ئې د کریمداد د حالاتو د بیان په ضمن کښې په محقق افغان سره یاده وی.[عه]

میاں کریمداد د تصوف، سلوک او معرفت د مقاماتو د بیان په سلسله کښې چه په پښتو ژبه کوم مضامین لیکلی دی. هغه د اسلوب د بیان او د لیکلو د طرز له مخه د اخون درویزه په دود او پیروی کښې ئې لیکلی دی - لیکن د اخوند درویزه په ځای ئې مخصوص سبک کښې ئې د نثر او د الفاظو د ترکیب د واړو په لحاظ سره اصلاح کافی کړی دی - او نثر مسجع ئې د نظم تر حده او د قافیه دار شعر تر اندازې را رسولے دې - او په کومو ځایونو کښې چه د اخون درویزه د پیروی ئې کړې ده - په هغې کښې ئې هم دموزونو الفاظو په ذریعه لفظی او معنوی ښکلی والے پیدا کړے دے.

ما له یوه قلمی نسخه مجموعه د منتخب اشعارو په لاس راغلې ده چه په سنه ۱۲۰۰ھ کښې ملا صالح محمد غریب بن ملا موسی آوان د چارسدے په

عه:- خزینة الاصفیاء په سنه ۱۲۸۴ھ کښې مفتی غلام سرور د لاهور پنجاب تالیف کړے دے - او په نولکشور پریس کښې په دوه جلده کښې چاپ شوے دے.

Marfat.com

پخوانی مشکله نوے کمی کینے لیکلے دہ ؏ په دغے کینے دکریمداد دالیوہ قوتہ موښخ کلام دے - دلته درج کوُلے شی چه تَد دے نه دکریمداد دلیکلو دطرزا او دا خوندونه دسبک دپیروئ او په هغے کینے ددہ د اِصلاح انداز ه لګیدلے شی - وائی :-

هر چه دشهئ د خال هوس کا
په کمی دځپل د جود تر هرچا لیس کا

بیهوده نظر دے پر پیر دی
همیشه دے پاسوانی دخپل نفس کا

زاغ دپلیتئ په ملک گرزی
قناعت بخپله جاله کینے قفس کا

دشهئ خال خبرے دهغه طالبان کاندی
هرچه سر پریکړی نوښځ دخو پاو دوس کا

شاه بے حده بنایسته دے طالبه
چه بلځ په مخ کینے وړی زرهٔ ورسوس کا

که شاه وګوری د تا ته کریمداده
دغه ستا دزړهٔ بازار به ترلس کا

نن یکشهای واخلے نندارہ کا - چه ددهٔ رحم پر وشهٔ سیبان به وهغوی ته بسکاره کا - له بادشاهان سره ناسته پاس په تخت دی - نه که اسلے سره گرزی دریزه کا - له عابد سره ولاړه په نمانځهٔ - دښکلیان سره شیبه شماره کا - له عاقل سره ناسته ده خاموشه - له کم عقل سره گرزی مسخره کا - له د نخور سره ناسته ده بیداره - له غافل سره خوبیا په غمغړه کا - له سپین ... ناسته ده زهیره - کریمداده له هالک سره ذوق تماشه ...

له هندوان سره ناسته بازار ده
له حاجیان سره یون په بوخاره کا

له امرکان سره ناسته په کرکی کینے
له سپاهیان سره ځی ورته بزره کا

ځنے نوی را بیدا کاندی امور
دغو چینه به غه درنګ نوی نوره کا

علہ مشکله نوے کلے اوس دوان شوید د هغے په ځاے ځکوم کلے آباد هغے ته ناضخیل جدید والی۔

Marfat.com

دا فقیر چه دا بیان که امید وار دے
کند خدائے گناه دا پره اواره کا

کریمداد د عشق او محبت کرم او سوزانه شعرونه هم لری - او د دے نمونے کلام ئے پوره شعرته زیات نزدے دے - لکه چه وائی :-

هرڅوک له خپله سوزه څه وئیلږی — چه بے سوزه گفتارنه دے چالیدلے
شاعری مثالِ بحرکه پوهیږے — کم شاعرئے له کردا به راوتلے
ناقص تبستی له آغیاره — او عارف له خپله ځانه تښتیدلے

آقائے عبد الحی حبیبی په خپله کتاب "تاریخچۂ سبکهائے پښتو" کښے لیکی - چه د ریم سرے چه د خیرالبیان سبک له ئے رونق ورکړے دے - کریمداد یا عبد الکریم ځوئے دا خون درویزه دے - چه دا عالم سړے په کمالات صوری او معنوی سره موصوف وو - او د مخزن الاسلام مختلف حصے ئے راجمع کړے دی - او هم د خپل پلار په دغه سبک ئے په هغے کښے زیاتول کړی دی - کریمداد په حقه سره په عالم د عرفان کښے شهرت لری - او د دهٔ د ولایت او چتوالے او معراج ستائیلے شی - او په کتاب خلاصة الکر کښے د محقق افغان په نوم سره یاد شویدے مفتی غلام سرور او رحمان علی لاهوری هم د دهٔ ستائنه کړے او د دهٔ د علم او عرفان مرتبے ئے ډیرے لوړے ښودلے دی - لیکی چه دے په سنه ۱۰۷۲ھ کښے وفات شوے دے (په حواله د خزینة الاصفیاء تذکرهٔ علماء هند ص ۱۳۱) کوم تعلیقات چه کریمداد د خپل پلار په تالیف مخزن الاسلام کښے کړے دی - د هغے نه د مے نتیجے ته رسیږو چه دهٔ د خپل پلار په سبک کښے اِصلاح کانے کړے دی - آ

Marfat.com

نیم منظوم مصنوعي شعرئ د عروضي شاعرانو سبک ته نژدے کړے دے علاوه دے نه د افکارو او معاني له پلوه ئے هم ډیرے اصطلاح کانے په تصوّف او عرفاني شعرونو کښې په پښتو ژبه کښې راپیدا کړے دي. او عشقیه شعرونه ئے هم ویلي دي. حال دا چه د پلار شعرونه ئے ټول د فقهي عقائد او اخلاقو په مسائلو پورے مخصوص او محصور وو. مثلاً:

(۱)

دائم وته حضور شه
له جمله غفلته دور شه

ستا داخپل صورت تیاره دے	تیاره واخله کل په نور شه
کل امکان د وُچ وابنه کړه	ته د دے وښو تنور شه
شهي ستا صورت آفتاب دے	د آفتاب په دود په نور شه
اے طالبه که طلب کړے	هر شاه وسوزه چور چپور شه
درویشان بار داره وُنه	ته په وُنه کښې انګور شه
دا زړګے د کورو رنګ کړه	د اثبات په میوه پور شه
د صورت پرده کړه څیرے	د معني په سر مستور شه

کریمداد لکه احد غائب ازوس
لکه وحدت هسے مشهور شه

(نقل از مخزن الاسلام الف نامه کریمداد ص ...)

که عزتمند لوستونکي د کریمداد دوینا د ده د پلار سره مقابله کړي نو دا به ورته څرګنده شي چه د کریمداد وینا د هغه وخت د اصلاح کانے په هغے کښې کړے دي، هغه به ورته څرګندے شي چه د کریمداد وینا د عروضي بحرونو د اشعارو سره نژدے والے لري او په لحاظ د وزن، او

مطابقت د دوارو مصرعو. او په موافقت د قافیې سره ویلې شوي دي.

د کریمداد د خپلو ځینو تحریرونو نه معلومیږي چه د هندوستان مساف
ئې کړې ده. او اوږده زمانه ئې په آګره نومې ښهر کښې تیره کړې ده.

(په حواله د قلمي نسخې د مخزن الاسلام صفحه ۳۲۸ د حبیبي صاحب بیان دلته ختم ش
نو. زه بنده عبد الحلیم اثر وایم. چه میان کریمداد په یو جهاد کښې د کفارو
او مشرکانو سره چه د سوات کوهستان په علاقه کښې د چوړړئ (موجوده مدین
په ځای) شا کښې شوې وو. شهید شو. او بیا په کالجو نومې ځای کښې چه د منګ
نه شمال طرف ته د دریاب سوات په شمالي غاړه یو مشهور ځای دې هلته
دفن کړې شو. چه نن ورځ په شهید بابا مشهور دې.

د ده په اولاد کښې د ده ځوئ میان نور محمد (حضرت سید آدم بنوري
علیه الرحمة مرید او خلیفه وو چه زیارت ئې په سلام پور کښې دې (سلام پور د
سیدو نه جنوب ته دې او نن ورځ مشهور صنعتي مرکز دې) او دویم ځوئ ئې
میان دولت وو چه لوئ عالم وو. د علم فقهې په مشهور کتاب شرح وقایه باند
د ده حاشیه چاپ شوې هم ده. زیارت ئې په سلام پور کښې دې. او د م
نور محمد ځوئ مصطفی محمد هم ښه عالم او د پښتو ژبې شاعر او ادیب د
د مخزن په ځینې قلمي نسخو کښې د ده کلام موندلې شوې دې.

د میان کریمداد په علم تصوف او توحید کښې چه د کوم کتاب "شرح جام
جهان نما" ذکر وړاندې اوشو. د کتاب په سنه ۱۱۷۱ھ کښې د پنجاب په قصور نو
ښهر کښې ابو القاسم محمد مسعود د هغې نسخې نه نقل کړېدې کومه چه د کریمداد
د خپل لاس لیکلې ده. سوال دا دې چه د کریمداد دغه د خپل لاس لیکلې کتاب قصو
ته په څه ډول رسیدلې؟ نو د دې جواب دا دې چه د کریمداد ځوئ میان نور محمد

Marfat.com

هر کله چه د سید آدم بنوری علیه الرحمة مرید دو - او د خپل پیر طریقت سره ئے په ډهلی او لاهور کښې ورځې تیرې کړې وې - او بل د کریمداد د پیر خانې یو ناموړ فرزند یعنې شیخ فرید بن میاں قاسم بن میاں مصطفیٰ بن سید علی ترمذی (پیربابا) هم په قصور کښې ورځې تیرې کړې وې. نو کیدے شي چه میاں نور محمد دخپل بزرګوار پلار میاں کریمداد دغه تحقیقي کتاب ځان سره پنجاب ته اوړے وی - او یا شیخ فرید وړے وی. او دلویو روحانی او عرفانی عالمانو په مباحثو په مطالعو کښې راغلے وی. په دغو علاقو کښې شهرت ئے موندلے وی - او د دغه جهت نه د قصور د پښتنو مشرانو عالمانو او عارفانو په منځ کښې قبولیت ئے حاصل کړے دی. او هم په دغه وجه دکریمداد دغه په خپله لیکلے قلمی نسخه بیا دوستو ابو القاسم محمد مسعود نقل کړے وی. او هم د قصور د دے رابطے په وجه د لاهور عالمانو هم د میاں کریمداد او اخون درویزه او حضرت سید علی ترمذیٔ ذکر په خپلو تذکرو کښې د علماء هند په ذیل کښې کړے وی.

د سکندر نامهٔ نظامی ګنجویٔ یوه نسخه په دستخط د میاں نور محمد سره په ښهر د آګره کښې لیکلے شوے ده - چه دغه قلمی نسخه د پېرانګ کلی د ارباب عبدالکریم متوفی سنه ۱۳۸۰ھ په قلمی کتب خانه کښې زما د نظر لاندے راغلے ده - چه د دغے نه معلومیږی د علم او عرفان د دے کورنئ افراد د هندوستان په ځاے ځاے مسافرتونه کړی دی - او د روحانی فیوضاتو د حصول د پاره ئے مزلے وهلی دی.

میاں کریمداد د سنه ۱۰۱۶ھ په خواوشا کښې یو دیوان لیکلے دے چه په هغې کښې د وخت په وخت روستو زمانے د ده کلام هم شامل دے - د دغے قلمی دیوان نسخه د انډیا آفس لندن په لائبریری کښې ده - د مولانا عبد القادر ډائرکټر پښتو اکاډمی پېښور په همت دغه نسخه را دغوښتلے شوه او نقل تره نه را خستلے شوه - د هغې مطالعے

نه معلومیږي چه د میاں کریمداد فارسي او پښتو دواړو ژبو اشعار ډیر زړه راکښونک
د عشق او محبت د سوز او ساز نه ډک او د معرفت او حقیقت د اسرار او رموزو
یوه لویه دنیا د معنی لرونکے ادبي او علمي پانګه ده۔ او دا هم ترے نه معلومیږي چ
څه موده ئے په ښهر د رشید آباد او شمس آباد کښے هم تیره کړے ده۔ د دے قلمي
دیوان نه په طور د نمونے سره یو دوه غزلے دلته نقل کول مناسب ګڼم۔ وائي:

نۀ ناحق نه بیهوده په دنیا راغلم
د شیرین اشنا په مینه پروا راغلم

په ازل مے کل مقصود دیدار دیدن وه
په دیدن پسے ئے مست شیدا راغلم

نام و ننګ مے د ناموس په عالم پریښود
د جمال په ننداره ئے تنها راغلم

خراب زړه مے په دیدن پسے څکوینه
لکه رام په محبت د سیتا راغلم

زۀ وامق وُم بے عذرا مے قرار نشي
یا مجنون چه په دیدن د لیلا راغلم

د آشنا فراق مے دوغ زړګے رنځور کړو
خسته دل یم په امید د دوا راغلم

په اول مے سرکار وو له عدم
په وجود د محبت په ندا راغلم

په نظرے بنده امید د بادشائي کړم
که هر څو ئے په درګاه بے نوا راغلم

ډیر منت لرم له بخته کریمداده
چه دا هسے برابر پر آشنا راغلم

اشنا ستا د فراق غم بے کران وینم
زۀ ماتم د وصال د هجران وینم

ستا په مینے مے له غمه سر یکار شۀ
د بهار په هوس راغلم خزان وینم

خراب زړۀ مے د فراق له درده خوږ شي
په علاج ئے نه دارو نه درمان وینم

یو نفس پر ما بے یاره نه تیریږي
ستا بے نیاز نه د فارغ لیاران وینم

مدام ستا د خماري سترګو لیشوفه
مست پراته په میخانه زاهدان وینم

چه حجاب له مخه لرے کړه وُ خاندي
په هر لوري غلغله په افغان وینم

Marfat.com

تجه بانړهٔ دے ناوکی په لیندهٔ ینبی — بیا کبږے وُرُځے د عین کمان وینم
کرشمو دے قرار زړو نه بے آرام کړهٔ — په غمزه د قتل هر شهیدان وینم
بنائیسته مخ دے گلزار د بنهٔ ارم دے — تور دے زلفِ د طاؤس د جنان وینم
تر و خراب خاطر په څه شکل قرار که — چه کاکل د له نسیمه پریشان وینم

لکه تا په سترگو تورانجه کړی دی
کریمداد د ودیس ته حیران وینم

Marfat.com

بی بی کله

دپښتو ادبیاتو په تاریخ کښې دبي بي کلې نوم ترا وسه پورې نۀ دے راغلے۔ مال
داخون قاسم پاپین خیل دفوائد شریعت یوه داسې زړه نسخه په لاس راغلے ده چه د
هغې په آخر کښې دآخون کدا حافظ عبد الکبیر علی خان۔ بي بي کلې او امیرخان
مناجاتونه دي۔ هرکله چه اخون کدا دضلع پېښور علاقه داؤدزئ د موضع بابوزئ
اوسیدونکے او په سنه ۱۱۰۶ھ کښې تېرشوے دے۔ حافظ عبد الکبیر په سنه ۱۱۶۱ھ کښې کتا
معجزات لیکلے دے او زیارت ئے دپېښور خوانه په تهکال بالا کښې دے۔ او علی خان
دضلع پېښور منګل توے کلي اوسیدونکے وو او په سنه ۱۱۸۱ھ کښې ئے خپل دیوان
لیکلے دے او قبر ئے دپړانګ چارسدے په هدیره کښې دے۔ او امیرخان د ضلع
پېښور دعلاقۀ هشتنغر دشیرپاؤ اوسیدونکے وو او په سنه ۱۲۶۶ھ کښې ئے خپل
دیوان ختم کړیدے۔ او داخون قاسم پاپین خیل په عقله د پښتو ادبیاتو په تاریخ
کښې لیکي چه نورا حوال ئے نۀ دے معلوم فقط دومره ده چه داخون درویزه؟ د
ځوئ میاں کریمداد د شهادت په وخت کښې په سنه ۱۰۷۲ھ کښې ژوندے وو او په سنه ۱۰۷۶
کښې ئے فوائد شریعت لیکلے دے۔ او مشهور انګریز مستشرق راورټي دپښتو ګرامر
په دیباچه کښې لیکي چه اخوند قاسم په هشتنغر او یوسفزو کښې اوسیده وو۔

تو د هشتنغر دے کنړو ناموروشاعرانو دکلام سره دبي بي کلې مناجات یو ځاے
راټول دا ښائي چه دا مشره بي بي صاحبه هم دهشتنغر دعلاقے وه۔ هرکله چه د دے
په مقابله کښې نورزیات یقیني معلومات نۀ لرو نو دا قیاس تر ډېره حده صحیح معلومیږي

Marfat.com

دوی نه علاوه د بی بی ګلې دا نظم په خصوصیت سره یو بل احتمال هم لري چې دلته د دغې امکان څه لږ شان وضاحت درېنځ کول مناسب ګڼم. چونکه دا مرثیه د خبرې احتمالي او امکاني پهلو هم لري - که کله هم دوی نه په آخوا څه نور یقیني معلومات په لاس را غلل نو دا امکاني قیاس به په خپله د منځه په ولاړ شي. زما دا قیاس او د دغې قیاس په بنا د ممکنو دلیلونو وضاحت دا سې دے :-

" د پښتو د اد بیاتو په تاریخ کښې لیکلي دي چې

میرمن نیکبخته

د لسې پیړۍ یوه پښتنه شاعره او د شیخ الله داد مومن زي لور وه - پلار او نیکه ئې په هشتنغر کښې د مومن زیو مرشدان وو - دې دیني علوم لوستلي وو او یوه عارفه ښځه وه - دا په ۹۵۱ سنه کښې د شیخ قدم په نکاح کښې ورغله - او په ۹۵۶ سنه کښې ورځنه په ښځي کښې شیخ قاسم افغان پیدا شوئ - دې په نصیحت او عرفان کښې د "ارشاد الفقراء" په نامه په ۹۶۶ سنه کښې یو کتاب د پښتو په نظم کښې لیکلی دے - محمد هوتک وائی چې زما پلار د دغه کتاب یوه نسخه په بنوں کښې لیدلې وه - یو څو بیتونه ئې له پټې خزانې څخه دلته را نقل کوو چې او د غه کتاب نه نقل کړي دي :-

په زړه بنا د شئ اے مومنه | په ظاهر په [illegible]
ظاهر زهد په اخلاص کړه | په زړه تل [illegible]
شکر صبر په هر حال کړه | [illegible]

د خدائ حق ته غاړه کښېږده | نورې نورې دنیا پرېږده
دنیا پاتې له هر چا ده | په اخلاص کښې ژاړه لېږده

Marfat.com

څو قوت لرې په ځان کښې — سر د یار په رضا کیږده
ځان له بده خویه ژغوره — زړه په ذکر د یار سلیږده
کل دنیا به دې دښمنه شي — اوس له ویرې ځنې ریږده
لوله غواړې حسابونه — که دې اوښکې که دې میږده
دنیا ترک وهه که پوه شې — د بقاء پر لوري پښې ږده

د بي بي نیکبختې دا شعرونه د نظر د وړاندې دي۔ د بي بي کلې شعرونه به هم ر
راشي۔ چه سبک او طرز ئې هم هغه د بي بي نیکبختې د نصیحت او عرفان په
او دا ګمان کیدے شي چه بي بي کله په حقیقت کښې هم دغه بي بي نیکبخته ده۔
مطلب ئې دا شو چه بي بي نیکبختې په خپلو شعرونو کښې بي بي کله تخلص کولو۔ ځکه
چه د پټې خزانې مؤلف چه د بي بي نیکبختې کوم اشعار را نقل کړیدي په هغې کښې
مقطع شعر نشته دے۔ او یا دا هم امکان کیدے شي چه بي بي کله ئې اصلي نو
وه۔ او بي بي نیکبخته ئې لقب وو یا په عکس ئې۔ او که دا دواړه نومونه د یوے بي بي صاحبې نه وي۔
بیا ویلے شو چه د پښتو ژبے د شعرا او ادب په فهرست کښې د یوے بلے عارفے
او شیوا بیانے شاعرے بي بي اضافه او شوله۔

لیکن د دے څو وجوهاتو په رڼا کښې دا قیاس کولے شو چه بي بي کله او
بي بي نیکبخته دواړه د یوے بي بي نومونه دي۔ هغه وجوهات دا دي۔ او د
وجوهات موندنه د پښتو ادب تاریخ او پټې خزانے د روایت د تجزیه کیدلو په نتی
کښې معلومولے شو۔ وضاحت ئې داسے دے:-

(۱) بي بي نیکبخته د شیخ الله داد لوڼړه ده۔ پلار او نیکه ئې اشنغر کښې
مامون زو پیران وو؟ د پټې خزانے د دے روایت چه تحقیق مو او کړو نو معل
شوه چه دا روایت صحیح دے۔ شیخ الله داد تر اوسه پورے د اشنغر لو

Marfat.com

ستانه کښې شي. لکه نور الدین د بربرکلي او سیدونکې چه وائي :-

زامد د شي په هردم میاں الله داده

تخکښې نرم عجب کرم د بازار دے

(۲) بي بي نیکبخته په ۹۵۱ھ کښې د شیخ قدم په نکاح کښې راغله. او په
کال ۹۵۶ھ کښې ورځه په بنوتي کښې شیخ قاسم افغان پیدا شهٔ"

دلته چه په دے دواړو خبرو نظر واچوو نو معلومه شي چه خټک په پښتو
کښې دستور دے چه د مشرستانه څوئ په میاں کل بللے شي. نو هرکله چه د
بي بي نیکبختې پلار او نیکهٔ د مامون زیو ستانه دارو نو کیدے شي چه بي بي
نیکبختې هم د دغه قاعدے له مخه په بي بي کله شهرت لرلے وي. او خټک چه
میاں محمد عمر چمکنې څوئ عبیدالله میاں کل تخلص کوي او دا ئے لقب هم
دے. دغه شان بي بي نیکبختې هم بي بي کله تخلص کړے وي. او دا به ئے لقب هم
وي.

د پښتو خزانې په دویم فقره کښې د شیخ قدم په حقله دائے نه ده ښیلې چه
شیخ قدم د کوم خیل او کومې قبیلې ځنه وو. لیکن چه ورسره د پښتو خزانې د مؤلف
دا جمله ملګرے کړو چه" زما پلار د بي بي نیکبختې کتاب ارشاد الفقراء په بنوں
کښې لیدلے وو". او بیا د دے جملو په پس منظر او په دے دواړو جملو ...
وکړو نو معلومه شي چه هرکله بدني د پښتنو د یوے قبیلې نوم دے چه د ...
نه وړاندے د ضلع بنوں په علاقه کښې او سیدل. او بیا ... د محمود
غزنوي د حملے نه دو سوه د ... په خوا شا کښې راولاړ شول. وادئ پښتو
نه خانه کوچ را غلل او دلته آباد شول (ملاحظه کړئ تاریخ مخزن پنجاب بحث بنوں) د
دے بدني قوم خلق نن ورځ د بدني خیل په نوم سره په ضلع بنوں کښې د مروت په علاقه

آباد دی ۔ او د بډان ځای په نوم باندے بډانی خیل ۔ کړ بډانی خیل دوه کلی لري ۔ او د تاریخ
پوره ته حوالے په بناء د پیښور ښهر نه شمال مشرق طرف ته داووه میله په فاص
د تپهٔ خالصه په حدود کښے بډانی نومے کلے هم د دغه قبیلے په نوم آباد دے ۔
د بډانی خوا ګښا علاقه څه زمانه وړاندے د تپه خلیل نه شماریده
د خلیلو د عملداری په وخت کښے مشهور شاعر میاں نعیم متی زائ خلیل هم د د
زیږیدلے دے ۔ د بعضے نه څه زمانه وړاندے دا علاقه د تپهٔ مهمند یو حصه و
او د بعضے نه هم وړاندے د ۸۲۶ھ په خوا ګښا کښے دا علاقه د یوسفزو او دلازاکو
ترمنځه د جنګ نه پس ستو د یوسفزو په عملداری کښے وه ۔ او د هزار خانی په م
د خلیلو او یوسفزو ترمنځه په روایت دا هون د رمیزه یو تاریخی جنګ اوشو ...
روستو دا علاقه د بډانی د هشنغر د محمد زی قبیلے په علاقه کښے وه ۔ ځکه چه مامون
او یوسفزی سره شریک وو ۔ (د تاریخ مرصع او تاریخ پښاور نه په اختصار) د یوسف
د مامون زو د عملداری نه وړاندے د سنه ۸۶۵ھ په خوا ګښا کښے د لته د دلازاکو عملدا
وه ۔ او لکه چه وړاندے ذکر اوشو د سنه ۸۲۵ھ نه روستو دا کلے بډانی قوم آباد کړے و
او د بعضو د نوم په مناسبت سره بډانی نوم لري ۔ لکه چه د بډانی په خوا پورے دلازاکو
او ګلیزی مامون زی نور دوه کلي چه د مامون زو او دلازاکو عهد یاد تازه کوي ۔
په بډانی کښے د شیخ قدم زمانه او په سنه ۹۵۱ھ کښے دلي بی تیکیچے دے کانی شه
داوده کیدل او په سنه ۹۵۶ھ کښے دلته د شیخ قاسم پیدا کیدل دا ښغه د ...
چه په بډانی د مامون زی قبیلے عملداری وه او د دے قبیلے په وجه دا کلے د هشنغر
پوره تل شمیر کلو شته ... بل طرف ته هر کله چه دا دے کلی اصلی آباد کار بډا
نی دی ۔ او په بټور کښے بډانی خیل ترنن ورځے آباد هم دی ۔ نو دا چه کیدے شی چه
د بډانو او پیښور د بډانی قام د خلقو په منځ کښے د تګ راتګ تعلقات موجود دی ۔

Marfat.com

د ټيلې ستانې يعنې شيخ قدم د کاله بي بي نيکبختې کتاب ارشاد الفقراء ته ښوون نه ورسې وي - او د پټې خزانې د مؤلف پلار د دې ښوون کښې د بهرن خيل قبيلې خلقو سره ايښے دے -

په دے بحث کښې د ډېرو نه غټه خبره دا ده چې په کال ۱۰۶۹ کښې په بهرن کښې شيخ قاسم پيدا شوے - هرکله چې د شيخ قدم د قام او خيل په هغه وضاحت ليکلے نه -

بل ځا ره اخوند قاسم بابين خيل مؤلف د فوائد شريعت د پلار نوم اکوسه پوړې په کوم کتاب کښې نه دے راغلے - او د راورټي په قول اخوند قاسم په يوسفزو کښې اوسېده او شيخ قاسم چې په کومه بټنۍ کښې اوسېده - هغه هم د شيخ قاسم د پيدائش د په زمانه (۱۰۵۹ھ) کښې د يوسفزو په علاقه کښې وه - او د ډېرو سره ورسره نزدې د ډېرې پېړې د اخوند قاسم بابين خيل نه په غير د بل مشهور سړي د شيخ قاسم په نوم سره د چا ذکر مو د نظره نه دے تېر شوے - لو د دې د وجې هاته په بناء د خيال پيدا شي - چې اخوند قاسم مؤلف د فوائد شريعت او شيخ قاسم چې پټې خزانې ذکر کړے - دا د داره ديو سړي نومونه دي - او دا خيال د دے وجې هاته له بخه پيدا کيږي :

۱ :- د بي بي کلې دا نظم د اخون قاسم د فوائد الشريعة په آخر کښې ليکلے شوے دے

۲ :- د بي بي کلې او بي بي نيکبختې طرز بيان - اسلوب او سبک يو شان دے -

۳ :- راورټي وائي اخون قاسم په اشنغر او يوسفزو کښې اوسېده

هغه زمانه کښې د اشنغر په مامون زي قام لوړے آباد وو -

۴ :- د بي بي نيکبختې پلار او نيکه په اشنغر کښې اوسېدو - که شيخ قاسم او اخوند قاسم د داره ديو سړي نومونه دي - نو کيدے شي چې اخون قاسم د عمر په آخر کښې شيخ الله داد سره په هغه خاص اشنغر کښې چې د جېنډۍ په نامه د دے د لته زيات اوسيدلے وي -

Marfat.com

نو که چرې د امقول امکاني قیاسونه درست وي۔ لکه چه زما یقین دے۔ نو بیا دا د ډیلے شو چه

۱:- اخوند قاسم پاپین خیل هم دغه شیخ قاسم افغان دے چه په کال ۹۵۶ ھ کښې د شیخ قدم او بي بي نیکبختې کره زیږیدلے دے۔

۲:- د بي بي نیکبختې لقب بي بي کله وو او دا ئے تخلص هم وو۔

۳:- په هغه زمانه د علاقه بنوں او وادئ پېښور تر منځه علمي روابط موجود وو۔

۴:- بنو نئ د پښتونو د علم و ادب۔ تاریخ او روحانیت اهم موکز وو۔ د بي بي کله صاحبې علیها الرحمة نظم دا دے:-

اے بنده د پاک رحمانه
پاسه وخت دے د صباح
د دیدار جنت جویانه
پاسه وخت دے د صباح

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللہ
ذکر دا کړه په هر ساه
د ناسوت د ملک پادشاه
پاسه وخت دے د صباح

همت ډیر کړه په طاعت
درود وایه په حضرت
عمر تیر شه په غفلت
پاسه وخت دے د صباح

رب چه ډیر فضل کرم کا

129999

Marfat.com

خاص په وقت د صبحدم کا
کل گناه به ستا عدم کا

پاسه وقت دے د صباح

واوره اے ذ آدم خوبیه
سخته لار ده وړاندے لویه
غم دے اوس لا کړه بویه

پاسه وقت دے د صباح

که اُمید کړے له جنته
د بنه خدائے له بنه رحمته
اے د پاک رسول اُمته

پاسه وقت دے د صباح

د حضرتؐ په دین تا ئمه
په بندګئ د رب دا ئمه
اے په درسته شپه نا ئمه

پاسه وقت دے د صباح

چه د رب څه مخلوقات دی
جمادات که حیوانات دی
واړه سر په اسم ذات دی

پاسه وقت دے د صباح

که په وقت د سحر خیز کړے
زړه د خدائے په یاد و تیز کړے

Marfat.com

شیاطین به واړه ریز کړه
پاسه وقت دے د صباح

ته په وقت د سحرګاه له
کلمه د توحید لوله
دا نارے وهی بلبله
پاسه وقت دے د صباح

ته له خدایه ویره وکړه
د حضرت په قدم تله کړه
ناروا کار ونه مه کړه
پاسه وقت دے د صباح

غلیمان د نفس شیطان دی
پټ ظاهر ستا په نقصان دی
په دا غم کل مؤمنان دی
پاسه وقت دے د صباح

ستا په تن کښے دی څو څیزه
دا عطا له رب عزیزه
واوره اے صاحب تمیزه
پاسه وقت دے د صباح

یو عطا د رب ایمان دے
چه په دوؤ کونو ارزان دے
په غفلت کښے دے لوئ زیان دے

Marfat.com

پاسه وقت دے د صباح

دواړه غوږ سترګې یادېږي
خوله په نوم د حق وېښېږي
د رحمت باران ورېږي

پاسه وقت دے د صباح

نفس شیطان چې درپېږي
د لېږي په وسوسې دي
مومنان په تلوسې دي

پاسه وقت دے د صباح

اې په سنګ د ضرب سرکوبه
دغه چاردې لیږو نتوبه
ابلیس وکړه په تالوبه

پاسه وقت دے د صباح

پنځه وخته لمونځ ادا کړه
حق باطل ځېله جدا کړه
په زاریې رب ته زړه کړه

پاسه وقت دے د صباح

نمونځ له خدایه سره راز دئ
ورک له میانه غیرغماز دئ
په هر لوري یو آواز دے

پاسه وقت دے د صباح

Marfat.com

هر سحر چه بیدار یږی
په زارئ رب ته ژړیږی
دهغو دُعا قبلیږی

پاسه وقت دے دصباح

د خاکی آدم اولاده!
غفلت مه کوه نیکزاده
مهٔ اوڅهٔ درب له یاده

پاسه وقت دے د صباح

دا غفلت لویه ورانی ده
د دنیا چاره فانی ده
عبادت کوه ځوانی ده

پاسه وقت دے د صباح

چه ویلی پاک سرورؐ دی
یادول د حق بهتر دی
ډیر کارونه ستا په سر دی

پاسه وقت دے د صباح

روح بدن چه جدا کیږی
دا ساعت به ارمانیږی
کهٔ د لاسه دِ څهٔ کیږی

پاسه وقت دے د صباح

چه منکر نکیر په سوال شی

Marfat.com

بنده پېښې په لوئ جنجال شي
خدائ خبر چه په څه حال شي
پاسه وقت دے د صباح

د محشر په میدان پاسه
چه حاضر کړه واړه ناسه
د عمل سپرئ په لاسه
پاسه وقت دے د صباح

نیک او بد چه حسابیږي
پلار او ځوی به د بیزاریږي
خپل عمل به پکاریږي
پاسه وقت دے د صباح

د صراط په سر ولاړه
د ګناه پېټي په غاړه
له دے غمه خلاصے غواړه
پاسه وقت دے د صباح

که له خدائ غواړے دیدار
تل نعیم جنت ګلزار
نیک عمل کړه په تلوار
پاسه وقت دے د صباح

بی بی ګله خبر داره
له کل څخے توبه ګاره

Marfat.com

په ايمان شکر کړه اره

پاسه وخت دے د صباح

دلي بي کلے د نظم ټول بوديش بند دے۔ د شعر د سلاست روانۍ، سادګۍ معنوي او لفظي خوبۍ له مخه د نورو ډېرو شاعرانو د ورکوټي بحر د پښتو مثنوۍ څخه زيات ښه ُوالے لري۔ دلي بي نيکبخت په نوم د ورکوټي بحر د مثنوي نمونه هم وړاندے راغله۔ د ورکوټي بحر مثنوۍ د سبک او اسلوب د لي بي کلے په شعرونو کښې چه څومره فصاحت لري۔ او هر کله چه بي بي کله د سنه ۹۵۶ھ د زمانے کتونه۔ نو دے له مخه د ښاغلي عبدالحی حبيبي په کتاب تاريخچهٔ شبک پښتو کښې دا وينا چه په پښتونو به کښې د ورکوټي بحر د مثنوي د مخصوص سبک نسبت ملا الف کهوټک ته کيږي لے شي؟ او هر و سنتو نورو پښتو شاعرانو د ملا الف په پيروۍ په دے سبک او اسلوب بيان کښې ښه وينا کانے کړے دي"

زما په خيال د ښاغلي دا وينا داسے ده چه دوباره غور پرے ضروري دے ځکه چه ملا الف خپل کتاب بحرالايمان په سنه ۱۰۱۹ھ کښې ليکلے دے۔ او دا دهٔ زمانه تر يو حده دلي بي کلے د زمانے نه روسته ده۔ په دے بناء د غه سبک ته د سبک ملا الف په ځائے سبک بي بي کله ويل پکار دي۔

Marfat.com

میاں داد

په کتاب "د پښتو ادب تاریخ" لیکي: "میان داد هم د پښتو [illegible]
شاعر معلومیږي. ځکه چه ... روښانیه شاعرانو یاد کړي دي [illegible]
په پښتو [illegible] ده شمکاره چه دے څوک وو. مرزا خان د شعرونو ... په کښې
داو ... دے:

"... بل اخون میان داد د عشق په ... وو"

د مطیع الله په قلمي دیوان کښې د یو غزل د پاسه چاپیکلی دي چه:

" دا د اخون میان داد د شعر نقلس دے "

"دا نه معلومیږي چه د غه لیکوال د میان داد شعرونه لیدلي وو [illegible]
نه دایم د دے پورته عبارت نه معلومیږي چه د میان داد شعرونه
ډیر نایاب دي. او به ګمان نه دده احوال هم را پټ دے"

اخون میان داد علیه الرحمة د حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب علیه
الرحمة په مشهورو خلیفه ګانو کښې دے. په تذکرو [illegible]
د مشهورکالي اُستاذ او سید وئیلے دے. تذکرو [illegible]
کښې دے (سوانح شیخ رحمکار صـ۱۳۶)

هرکله چه حضرت کاکا صاحب علیه الرحمة په سنه ۱۰۶۳ کښې وفات شوے
دے. نو په دے حساب سره وئیلے شو چه اخون میان داد د ... [illegible]

Marfat.com

حصے په پښتون صوفی شاعرے او د شاعرۍ طرز او اسلوب کښې د پښتو ادب د قدیم دور سره تعلق لري۔ د کلام نمونه ئې دا ده:-

اَلاَ یَا اَیُّهَا السَّاقی پیاله که درے له ما
راشه بیهاء وا خله دا دُر او مغلاړے له ما

نا چه را سپینې جامے رنګ کړے پیر کامل پرخوم کښې
دا د قسمت خبره لرے که نادرے لـه ما

په نیمو شپو به پر عظیم دریاب کښې ولویږم
دا بیګانه عالم بے خبر به بند ئی لرے له ما

راشه لاس ئې لاسه نُسو خدا دوله دروم
چارګل پیغوان نے الول خوارو خوږے ډیرے له ما

اخون میاں داد لاس په نامه ولاړ دے کوره
ورله وسکے سپینه خوښ شهر شکرے له ما عله

معه زه چه تا غوښتې الله تعالیٰ لـرم	زه له چا اندوه پروا لـرم
معه بد شو او نه به زما شه اوکا	چه بد رکه راسره تا غوښتې همراه لـرم
لوحِ محفوظ ئې پخپل زړه کښې اولیدہ	زړه روشناسه لکه ماه لـرم

عله دا خون میاں داد د دې شعرونه ماخذ د مولانا فقیر شاه چه نوسه د صوفی عبدالرحمان شمس زی وو او دا صوفی صاحب مرید د میا عمر چمکنی وو د یو قلمی کتاب چه په ۱۲۹۶ھ کښې لیکلے وو۔ د دغه کتاب په حاشیه باندے لیکلی په لاس راغلی دی۔ مولانا صوفی عبدالرحمان په اصل د باجوړ د کلالہ وو بیا د هشتنغر په ګنهیری کښې اوسیده۔ ذکرے د اخون میاں داد په تذکره د میاں عمر کښې راغلے دے مولانا فقیر شاه په جلاله مردان کښې اوسیده۔

تا چه د عشق خبرې کښېنوې زما په زړه کښې ... خزانه څو پټه له پخوا لرم

د عشق راز به پټ څرنګ کړم له خلقه ... چه ښکاره د عشق رتبا د واړه ګواه لرم

زه د ایمان په بخت د پیر وپیر یم ... چه د شیطان غوندې بدخواه لرم

د سکندر په آئینه کښې مې ځل مخ او لیده ... چه د غفلت زړګنا هو لوڅ سیا لرم

زما هسکه او دولت په ازل خیشتلې ... چه پیشوا زه محمد رسول الله لرم

که نما نځې مې ترې هم یل خښتن مې نشته

زه میاں داد نه بل الله نه بل درګاه لرم

Marfat.com

شیخ فرید

د تحصیل چارسدے پہ مشهور کلی پړانګ کښې یو عالم تیر شوے دے۔ ارباب عبد الکریم چه په قوم مینهاخیل خلیل وو۔ او د کانور دهیری علاقه خلیل نه تلے وو۔ او د غلته آباد شوے وو۔ دے د سوات د باباجی شیخ عبد الغفور صاحبؒ همدرس، د سبق ملګرے او د خپل وخت یو ښه جیّد عالم او نیک سړے وو۔ او په فقیر صاحب مشهور وه۔ او د دیارلسمے صدئ (سنه ۱۳ھ) په آخرینئ حصے کښې تیر شوے دے۔ د دے فقیر صاحب په کتب خانه کښې یو قلمی کتاب دے چه د عربئ ژبے د فقهے د کتاب کنز الدقائق فارسی ترجمه ده۔ او د نصر الله بن محمد جمال لودهی ملقب په کرمانی تالیف دے۔ د دے کتاب په حاشیه باندے داشون میاں ترکمید او د پښتو الف نامے په فارسی ژبه شرح ده۔ چه د حاجی عبد الله لودهی قصوری تالیف دے۔ د کنز فارسی ترجمه چه په متن کښې ده۔ د عنایت الله ولد کالو متوطن پرګنه قصور دپاره په بلدهٔ لاهور کښې په لاس د عاشور بیګ کاتب سره په ورځ د جمعے د نما نحۀ نه پس په تاریخ ۱۳ د جمادی الثانی په سنه ۱۰۰۰ھ کښې مطابق سنه ۱۳ جلوس والا لیکلے شوے ده۔ او په حاشیه باندے د حاجی عبد الله فارسی شرح د هغے نه روستو لیکلے شویده او هم په دے کتاب کښې د شیخ فرید دابو غزل لیکلے شوید ے۔ دلته دا نظم هم په خپل اصلی رسم الخط کښې په دے غرض لیکم چه د خپل مخصوص سُبک او طرز اندازه لګول ئے آسان شی۔ دومره ویلے شو چه د سنه ۱۰۰۰ھ نه تر سنه ۱۳۰۰ھ پورے

Marfat.com

مانه کیږي په تصور کښې د پښتو شعر د ادب سره تعلق موجود وو غزل دا دے :

شاه چه دا هسې رنګ زړی کونه بېیاره ګرزي
د ښو یار اننو چه الیٔ شوه ناقراره ګرزي

مینه یار دې کړه عاشقان د وسو
دا بیګانه علم پېیرته له انکاره ګرزي

مینه د زنار کړه د خپل یار په غاړه
هغه عاشق نه دی چه بے ستاله زناره ګرزي

سلام دې راغی د خپل یار له لوري سینه
شهاد دی یار په سلام مسته شوه خماره ګرزي

ګل د نهال کړی د خپل په یار یې غوړی
شهاد یار دی باغ چا پیره شوه ملیاره ګرزي

نور عالم د حور جنتونه غواړي
دا نسیم د یې د قمعدار ستاله دیاره ګرزي

د سید حسین ابن حسن ابن میاں مصطفے ابن سید علی ترمذی پیر
بابا علیه الرحمة په خاندان پاندې تحقیق په منځ کښې زنه معلومه شوه چه
د میاں مصطفے ابن سید علی ترمذی د دویم ځوی میاں قاسم
ځوی قوم شیخ فرید دے او هرکله چه اخون کریمداد ابن اخون دے پیر بابا
د ځوی میاں مصطفے نوسی یعنی حسین ابن حسن ابن میاں مصطفے او شیخ فرید
ابن میاں قاسم ابن میاں مصطفے دا دواړه په علمي لحاظ سره یوه کورنۍ دی نو
وجه د شیخ فرید غزل دا خوند کریمداد د الف نامے د شرح سره لیکه شو
سید حسین بحث د دے کتاب په صفحه ۳۴ باندے وړاندے لیکل شوے دے .

Marfat.com

حُسین

حضرت شهنشاه د خراسان سیّد علی غوّاص ترمذیؒ چه لقب ئے پیر بابا علیه الرحمة دے په سنه ۹۹۱ھ کښے وفات شوے دے - د دهٔ کثیر اولاد وو لیکن دیو ځوئ میاں مصطفیٰ نسل ئے باقی پاتے دے - د میاں مصطفیٰ دوه ښځے وے - د مشرے بی بی نه ئے یو ځوئ وو - میاں عبد الله چه په میاں عبدل مشهور دے - د دویمے بی بی نه ئے دوه ځامنؒ وو - یو میاں قاسمؒ او دویم میاں حسنؒ - د میاں حسن صاحبؒ یو ځوئ نوم حسین وو - چه د خپل سیادت په وجه خپل نوم سیّد حسین لیکی - د دهٔ یو قلمی کتاب چه د یو مشرات تقریباً د آتیا کالو عمر خاوند سیّد عبد الخالق سره دے - هغه وائی چه دا کتاب زمونږ په خاندان کښے زما د والد صاحب د ترهٔ په قامی ذخیره کښے

لهٔ د میاں قاسمؒ زیارت د پیر سوات د شاهی ناوی په علاقه کښے پیرکلی کښے دے - دا کلے د مرکزی مقام سیدو شریف نه یوخلس میله شمال مشرق طرف ته دے - او د میاں حسنؒ زیارت د مرکزی مقام سیدو شریف نه جنوب مغرب طرف ته د دوه میله په فاصله په کوکړئ نومے کلی کښے دے - او د میاں عبدل زیارت د علاقه بونیر د دیوانه بابا د زیارت سره په ځنګنګ نومے کلی کښے دے - د دے د دواړو د پلار میاں مصطفیٰ صاحب زیارت د علاقه بنړ د پیشت په یو کلی کښے چه د ونالی پیشت ورته وائی علته دے - او د پیر سید علی پیر بابا صاحب علیه الرحمة سره یو ځائے د میاں حبیب صاحب قبر دے - میاں حبیب د پیر بابا رحمه ځوئ دے - لاولد وو نسل ئے نه دے پاتے - نغر خانه طرف ته قبر د پیر سید علی ترمذیؒ دے - او قبلے غاړے ته قبر د میاں حبیب صاحب دے -

(عبد الحلیم اثر)

Marfat.com

و۔ چه موږ ته په وراثت پاتے شوے دے۔ دوالی ے د دغه نتره ئے سید حبیب
نوم وو چه د سنه ۱۲۰۰ھ په شاؤ خوا کښې ژوندے وو۔ د سید حبیب شجرهٔ نسب دا
دے۔ سید حبیب بن سید علی بن شاه نور بن خواجه نور بن عبد الجبار
بن میاں قاسم بن میاں مصطفیٰ بن سید علی ترمذی رح لکه چه موږ وویل میاں
قاسم او میاں حسن دوه ورونه وو۔ او سید حبیب د میاں قاسم په اولاد کښې دے۔
او د دے کتاب مؤلف سید حسین د میاں حسن ځوئے دے۔ نو د دے مطلب دا
شو چه سید حبیب ته د خپل مشرنکه میاں قاسم د وراثت سید حسین تالی
تالیف په میراث کښې پاتے وو۔ چه بیا د هغه نه بیرے ته او د ټپه ے کورنۍ
ځوئے سید عبد الخالق ته په میراث پاتے شو۔ د سید حسین شجرهٔ نسب
پاس به ئے بولظ بیا راچوو۔ سید حسین بن میاں حسن بن میاں مصطفیٰ
بن سید علی ترمذی رح۔

سید حسین د ریاست سوات د مرکز نه مقام سیدو شریف نه منتقل
جنوب مغرب طرف ته کبرکی نومے کلی کښې اوسیدو۔ او د دغه ځائے نه په هغه
زمانه باندے د امازی قبیلے مشرانو [illegible] د اوسنی [illegible] د مردان مشرق طرف ته
په مشهور کلی کرپڼی دولت زائی کښې آباد شو۔ هم دلته وفات شو او [illegible]
ئے هم په دے کلی کښې دے۔ بیا د دوی اولاد ئے په خوا و شا علاقه [illegible]
چه په کرپڼی دولت زائی تحصیل مردان اسماعیله [illegible] سهاسیل
صوابی کښې آباد دی۔ او [illegible] اولاد ئے په ریاست سوات کښې خصوصاً [illegible]
کښې آباد دے۔ د ریاست سوات د والی صاحب ماماګان [illegible] اولاد [illegible]
دی۔ هغه د دے سید حسین رح اولاد دے۔
د سید حسین د زمانے پوره قطعی معلومات نه دی [illegible]

Marfat.com

یو تاریخي یادداشت نه د علم تاریخ د اُصولو په رڼا کښې په اندازه سره څه وی
شو. هغه دا چه د دغه سید حبیب په قلمي کتب خانه کښې د امام غزالي د کیمیاے
سعادت یوه قلمي نسخه ده - چه په سنه ۱۱۵۳ھ کښې د دې خپل شکه نیکه شاه ل
قلمي کړے ده -

هر کله چه موږ ده دے ته فکر اوکړو چه سید علي ترمذي رح په سنه [illegible]
کښې وفات شوے دے - او شاه نور د هغه د وفات نه یو سل دیارلس ۱۱۳ کاله
کیمیاے سعادت لیکلے ده - او بل خوا ته د سید علي ترمذي رح او شاه نور
ترمنځه څلور پیړۍ تیرے شوي دي - لکه شاه نور بن خواجه نور بن عبدالج
بن میان قاسم بن میان مصطفیٰ بن سید علي ترمذي رح - او چه موږ ده د غ
(۱۱۳) یو سل دیارلس کاله په دغه څلورو پیړو تقسیم کړو نو اوسط ئے [illegible]
راځي - او باقي پاتے دیارلس کاله د شاه نور او سید علي ترمذي رح په پیړۍ کښ
په دے طریقه حساب کړو چه شاه نور به په دے سنه ۱۱۵۳ھ زمانه کښې کم از ک
د څلوېښتو کالو وو - او میان مصطفیٰ به د سید علي ترمذي رح په آخر عمر کښ
کم از کم د څلوېښتو کالو وو نو په دے طریقه سره د شاه نور او سید علي ترمذ
ترمنځه د یو سل دیارلس ۱۱۳ کاله تقسیم او حساب د علم تاریخ د اصولو مطابق
درست راځي - لکه چه سید سلیمان ندوي صاحب لیکي -

د تاریخ عالمانو د یو قوم یا یو سړي د زمانے متعین کولو دپاره دوه اصول
مقرر کړي دي :-

(۱) یو دا چه د دغه قوم یا سړي په باب داسے معاصر قوم یا سړي پاندے قیاس
اوکړے شي چه د هغه حالات معلوم وي -

(۲) دویم دا چه عموماً څلور پشته یوه صدۍ فرض کړے شي - او چه پنځ

Marfat.com

تو مره پښتنه ستیر شوی وی۔ د هغه په شمار هغه هم ګنړ لړنه صحابو لے شی؟

(ارض القرآن جلد ۲ صفحه ۸۵)

نو چه دے ته فکر اوکړو چه د سیّد حسین او د سید علی ترمذی په منځ کښې دوه پیړئ دی میاں حسن او میاں مصطفیٰ او په دغه طریقه سره د دے دوه پیړو د پاره پنځوس ۵۰ کاله جوړیږی۔ بیا د سید علی ترمذی په تاریخ وفات سنه ۹۹۱ھ چه د پنځوس ۵۰ کاله زیات کړو نو سنه ۱۰۴۱ھ ترے جوړیږی۔ نو د دے دلیل دا ویلے شو چه سیّد حسین د سنه ۱۰۴۱ھ د فراوشاد زمانے سره دے۔

د علم اعضاء الانسان په مسئله دا هم ده۔ چه عام طور سره د بعض خاندانو عمرونه پښت په پښت پلار په نیکه پورې زیات وکم وی۔ د پیر سید علی ترمذی په متعلق روایت دے چه د هغه عمر د سلو کالو نه زیات وو۔ د سید حسین دا قلمی نسخه چه د چا سره موجود ده۔ یعنی سید عبد الخالق د وخت د ده عمر تقریبًا تلویا شپیته کاله دے۔ د ده د تره د ځوی سید میر صاحب عمر د سلو کالو نه زیات دے۔ او د دواړو نوسی او کړوسی موجود دی۔ نو داسے معلومیږی چه د پیر بابا ځوی یعنی میاں مصطفیٰ به خپل نوسے سید حسین لیدلے وی۔ او په دے حساب حسین زمانه د یولسمے صدی هجری اولنئ نیمه ته رسیږی۔ او دا ویلے شو چه ده به د سنه ۱۰۵۰ھ تر اوشا پیدا شوے وی۔ او دا هم کیدے شی چه هغه د سنه ۱۱۰۰ھ نه تر څه روستو زمانے پورے ژوندے وو۔ بهرحال دده په باب کښے د نورو معلوماتو لټون ضروری دے۔

ښاغلی عبد الحئی حبیبی په تاریخچه سبک هائے پښتو کښې چه د خوشحال خان خټک د سبک په پیروکارانو کښې کوم شاعران یاد کړی دی۔ د هغه په ضمن کښې لیکی" چه

Marfat.com

حسين هم يو داسے شاعر دے چه اشعار ئے ورک دي او په غير د خاورشناسانو محققينو د نورو چا په لاس کښې نشته ."

حسين لکه چه وړاندے مو اوليکل د سنه ۱۱۰۰ھ د زمانې سړے دے - او خان خوشحال خان په سنه ۱۱۰۰ھ کښې وفات شوے دے - هر کله چه د حسين شعرونه د خوشحال خان په سبک کښې وئيلے شوي دي او دا قلمي کتاب ئے مونږ ته په لاس را غللو نو گمان چه د حبيبي آرمان تر سره شو .

(۲) صديق الله رښتين په خپل کتاب " د پښتو ادب تاريخ په صـ۱۲۶ کښې ليکي چه سيد حسن د جنگنامهٔ حسنين ليکونکے دے ."

نو دے تصحيح دا سے پکار ده چه د غه جنگنامه حسنين د سيد حسن تاليف نه دے بلکه د سيد حسين تاليف دے . چه قلمي نسخه ئے دا وخت زما د وړاندے پرته ده . نور تفصيل به ئے روستو راشي .

(۳) د دے نه علاوه د پښتو ادبياتو تاريخ په صـ۱۶۲ کښې ليکي ،

"حسين - د ده په پښتو کښې يو کتاب لري چه د " خلاصة الاسلام " او نورو کتابونو څخه ترجمه ده . د دے کتاب موضوعات ديني دي . د ليکلو طرز ئے د اخون درويزه د مخزن الاسلام په شان دے . يعني په نيم منظوم نثر ليکلے شوے دے د دے کتاب يوه قلمي نسخه په پښتو ټولنه کښې شته . چه د حسين ليکوال ورڅخه معلوميږي . د حسين د ژوندانه پوره زمانه نه ده معلومه مگر د سبک او طرز له مخے ئے د اخون درويزه د اولاد معاصر ښکاري د سنه ۱۱۰۰ھ د وختو ليکوال گڼلے شو ."

او د رښتين دا قياس صحيح دے . ځکه چه د اخون درويزه ځوي ميان کريم داد په سنه ۱۰۴۸ھ کښې په حق رسيدلے دے . د ميان کريم داد ځوے

Marfat.com

میاں نور محمد[عه] او د سید حسین یوه زمانه ده - او په دغه زمانه کښې د اکثرو لیکوالو لیکونه د اخون درویزه رح د لیکنې د طرز متأثره وُو - بیا د حسین طرز څکه زیات متأثره شوے دے چه د سید علی ترمذی رح د غه ناموړ مُرید اخون درویزه د پیر سید علی د اولاد د اُستاذ حیثیت لری -

(۴) د پښتو پښتو ادبي ټولنې د دیوان حسین په نوم یو کتاب چاپ کړے دے د غه کتاب هم د دے سید حسین دے - ځکه چه د دے ادبي ټولنې یو رکن نصرالله خان نصر د دیوان حسین قلمی نسخه د امازو ګړهۍ د وټي محمد خان نه راوړے وه - هغه ئې چاپ کړے ده - او زموږ د دې اندازه چه دغه واقعه شوے ده چه حسین د سوات د کوکړۍ نه د امازو ګړهۍ مشرانو په جرګه سره امازو ګړهۍ ته راوستلے وه - او بیا رته ئې هم په ګړهۍ دولت زائي کښې دے نوکه د امازو ګړهۍ د خانانو په کورنۍ کښې د حسین قلمی نسخه موجود ده وه نو دا خه نا آشنا خبره نه ده - البته د حسین صاحب په دغه دیوان کښې دا یوه خبره د غور او فکر او زیات تحقیق محتاجه ده - چه حسین صاحب وائي زه په ګهاڼ کښې اوسیدم - بیا د دې ځائي نه سوات ته راغلم - لیکن وروستو سمے ته د فیاوو انتائو ذکر نه کوي - بحث په دے پکار دے چه په چاپ شوے نسخه کښې چرته تحریف شوے نه دے شوے چرته د ګهاڼ په ځائے پکهلي او دے په ځائے سوات خوند دے لیکل شوے - ځکه ده چه دغه چاپ شوے دیوان هم د دے حسین دے - لیکن ... حسین آخر په کومه زمانه کښې اوسیده - او په کوم کلي کښې اوسیده - تر دے وخته پورے خو صرف په سوات کوکړۍ او په سمه کښې ئې اوسیدل نه یقیني ده - ...

[عه] د میاں نور محمد زیارت د سید و شریف نه جنوب مغرب ته په سلام پور کښې دے - او د حضرت سید آدم بنوری رح مرید وو -

باب کښې که نوې معلومات په لاس را غلل، نو مناسب ترمیم او اضافه به اوکړلے شي.

د سید حسین کرمه قلمي نسخه په دا وخت زما مخې ته پرته ده. دا جنګنامه حسین نومے کتاب دے. په دے کښې چه هر څومره نظمونه دي هغه ټول دوه قسمه دي.

(۱) مرثیې د قصیدو په شکل کښې. لیکن د ټولو قصیدو مضمون مسلسل دے.

(۲) مرثیې د قطعاتو په شکل.

په مجموعي حیثیت سره ټول کتاب په یوولس قصیدو او ۵۵ قطعاتو باندے مشتمل دے. او ټول شعرونه په شماره باندے شپږ سوه اویا (۶۷۰) دي. د دے کتاب په هغه صفحاتو چه چرته قطعات لیکلې شوې دي یو بل نظم دے (۳۸) اته دیرش شعرونه دي. مقطع نه لري. دا سے معلومیږي چه د دے قلمي نسخې د کاتب شعرونه دي. د دے کتاب آخري پاڼې نشته. په دے وجه د کتاب د قلمي کوونکي او تاریخ او سنه کتابت صحیح پته نشته. کتاب په معمولي کشمیري کاغذ او معمولي نسخ خط کښې د پښتو په قدیمي رسم الخط کښې لیکلے شوے دے.

دلته د دے نظمونو یوه مختصره شان خاکه درج کولے شي. د هر یو نظم د مطلع او مقطع یو یو شعر د نمونې په طور را وړلے شي.

حسین په خپلو شعرونو کښې سید، سید حسین او حسین درے واړه تخلصونه راوړي.

اولنۍ قصیده کښې ۲۴ شعره ده. مطلع ئې دا ده:

Marfat.com

ته رجا اول په دوست باندې کرم وه
چې ترکل جهان په هرځا مقام وه
هم سرخط شه د جمله پیغمبرانو
بهترین هم د عرب و د عجم وه

مقطع :-

چې اولاد د پاک احمدؐ شو سے شید
په تا کوینې له همه خلقه کرم وه

(۲) دویم نظم ے ۵ شعرونه دي۔ مطلع ے دا ده :-

په کتاب کښې ے لیدلے روایت دی
صحیح شوے په حدیث هم په آیة دی

مقطع :-

په ارشاد الطالبین کښې مے لیدلے — سید حسین ترے په پښتو باندې صفت دی

(۳) دریم قصیده ے ۱۳ شعرونه ده :

مطلع :-

حضرتؐ ډیر په زړهٔ خوشحال شهٔ — جبرائیلؑ ورته دو غمه بیا شه

مقطع :

د حضرتؐ غوند لا زیات شو حسینؑ! — په اندوه د ځان او شو د امت تمام شه

(۴) څلورمه قصیده ۸۷ اوه شپیته شعرونه دي۔

مطلع :-

جبرائیلؑ چې په حضرتؐ وکړه خبر — نا اثر شهٔ په سر یر هم په بستر

مقطع ے ده :-

Marfat.com

زهٔ حسینؑ ئې په یزید پورې حیران شم
چه څوک څوک ئې مسلمان کړهٔ څوک کافر

(۵) پنځمه قصیده ۵۹ شعرونه لري:-
مطلع ئې داده:-

څوک به وران کا ښکلې توری د ازل
نه به وکښي نوی توری په کښل

او مقطع ئې داده:-
د فارسۍ ویل به واړه فراموش کا   که حسینؑ په شان پښتو وښکلي غزل

(۶) شپږمه قصیده ئې ۲۹ شعرونه لري مطلع ئې داده:-
له بانو چه سلیمان واخست خواب   د مقصود په لوري روان شهٔ په شتاب
او مقطع ئې داده:-
معاویه چه ډیر ارمان کاوهٔ سیدهٔ   دی په یاد وو د حضرتؐ د خولې خواب

(۷) اوم نظم ۹۲ شعرونه لري. مطلع ئې داده:-
معاویه چه په ارمان ارمان ژړل   دی په یاد وو د حضرتؐ د خولې ویل
او مقطع ئې داده:-
که حرودا او دبوډۍ څو به ژوندي وې   ماسید به ئې خدمت کړل ته تل

(۸) اتمه قصیده ۱۷۹ شعرونه ده مطلع ئې داده:-
علی اکبر قاسم چه دواړه ولویدهٔ   اهل بیت واړه ولاړ وو نولیدهٔ
او مقطع ئې داده:-

سید حسن چه دا غزل مسوده کړه
د زړهٔ خون ئې په بیاض کښې څڅیدهٔ

Marfat.com

۹) په دے پسے قطعات دی۔ چه په ورکوټي بحر کښے ئے په نظم کړی دی۔ او ټولے په شماره (۵۵) دی۔ اولنئ قطعه ئے داده :-

اول ووے ده په ښهر　　یو آواز وشه په جهر
په ښادئ شه واړه دهر　　په خشکئ کښے هم په بحر

او آخری قطعه ئے داده :-

سید حسین په پښتو کښلی　　په ارشاد کښے ئے لیدلی
په بنړوئے دی پیسئلی　　د زړه خون ئے پرې ښکلی

۱۰) لسمه قصیده ۳۴ شعرونه دی۔ مطلع ئے دا ده :-

دهره ! ولے دکړ کونِ کړے پیرے　　فلک کاندی په وکړی مسخرے

او مقطع ئے داده :-

هم هغه به په کړدن درسره وي　　خو دے خان لره تړلے ده سیّده

۱۱) یوولسمه قصیده نامکمله ده۔ د دے کتاب دوستئے پاڼے ضائع شوی دی۔ صرف ۳۰ (دیرش) شعرونه ئے باقی پاتے دی۔ د مطلع شعر ئے دا دے :-

لوئے ومره هلک واړه شو اسیر　　دیزید په خونه راغلو دغم زیر

او د دے نیمګړی روستنئ شعر دا دے :-

د مروان حوئ حکم فتنه انګیز وو
دیزید له زړه ئے وکښل د غم تیر

دلته د سیّد حسین یو دوه قصیدے په طور د نمونے درج کول مناسب ګڼړو :-

چه تر کل جهان په هر ځا مقدم وو　　تر هر ځا اول په دوست باندے کرم وو
بهترین هم د عرب و د عجم وو　　هم سرخط شه د جمله پیغمبرانو (ع)
خاص سردار د انبیاو مستحکم وو　　خو ئے لس افلاک پیدا دده په فخر کړه

هیڅ ځای لره یې وباله په خپله — چه لیدلی نه ملک وو نه آدم وو
چه نبي یې په دوستئ ده قبول کړې — هلته نه کرسي نه د لوح وقلم وو
نه د ازمکې نه آسمان وو پیدا شوی — نه ارواح وو نه دوزخ وو نه ارم وو
نه ملک وو پر آسمان په زمکه باندې — نه د انورخه جمادات په زمکه یم وو
خو هم یو د حضرت نور وو چه لیده شه — نه سپوږمۍ چه نه دا نور هسې حشم وو
هغه نور وو د جوهر وو چه لیده شه — بیا آواز ورته په غوږ وکښې بیا هم وو
له آواز معنی یې داوه لا اله الا الله — محمد رسول الله ورسره ضم وو
چه له نوره آواز وشو په دا رنګه — خدای تعالی کرم ورباندې وکړ مکرم وو
د داسې کونه یې خپل دوست ونه پیشکش کړه — هم ورکړې یې ذاتي اسم اعظم وو
د لږ نبیان وو خدای تعالی دلبار لره تللي — د حضرت معراج له کومه سره سم وو
هم څلور یې بیا یاران وو خیال لګولی — چه هر یو پخپل یقین باندې محکم وو
ابوبکر صدیق بهتر تر ټولو وه — چه په واړو کښې څرګند د دین علم وو
په صدیق پسې عمر تر داړو بزرګ وو — چه په عدل کښې د خوږ زړونو ملهم وو
پسې ور لکې سی د عثمان ذي النورین وه — چه په شرم په حیا کښې مستحکم وو
سخي ډیر سخاوت کاوه په خوارو — ډیر دولت ورته په مثل کښې درم وو
څلورم یې شیر علي د خدای زمری وو — پر کافرو یې همیشه ورهم وبرهم وو
د جنګ کرلو ثاني یې نه وه په میدان کښې — په مرتبه تر ټولو د څخه کم وو
چه دا هسې نه منی رافضي دی — رافضي په دواړو کونو کښې ملزم وو
څلور حق دي امامان څلور مذهبه — هر امام په خپل مذهب کښې مسلم وو
مذهب وته داره حق دي ګوره څو کښې — بهترین پکښې زمونږ امام اعظم وو
په اولاد یې د احمد شول سیدان — په تا ګوښې لا هم خلق کرم وو

Marfat.com

(۲)

په کتاب کښې مې لیدلې روایت وو — صحیح شوې په حدیث هم په آیت وو
حضرت حسینؓ چې تولد وکړو له موره — پرې حاضر د ملائکو جماعت وو
د حضرتؓ زهرې کره پرښته شوه بې حسابه — د آسمان عالمو بیل کړې نوبت وو
د جبین شغلې یې لاړې تر آسمانه — دوست خوشحاله د نبی په ولادت وو
پاک نبیؐ په خپله راغې کور د ننه — په حضرت حسینؓ یې کړې اقامت وو
چې اذان یې د حسینؓ په غوږ وو وې — جبرائیل پسې راغلې په حکمت وو
یو فرښته د جبرائیل سره راغلې — و محمدؐ ته یې خواست کړې په منت وو
هغه فرښته وه په لاسونو په پښو شله — د حضرت ورته کاته پټ په فکرت وو
جبرائیل ورته قدر مکرو اې سروره — ځني څو اترې واقع شوې معصیت وو
په سبب د ګناه هغې یې وزرونه وچ شوه — کل آزار یې کړې په خپل شامت وو
په دعا به د حسینؓ شي درسته روغه — [illegible] وو
حضرت حسینؓ پرې خپل لاس وتېره — تمامي صورت یې روغ [illegible] وو
فرښته کوره د [illegible] — د عیدن [illegible] په اشارت وو
فرښته چې درسته روغه ده لیدله — [illegible] د حسینؓ [illegible] وو

په ارشاد طالبین [illegible]
سید حسین [illegible]

(۳)

بسم الله الرحمن الرحیم

الف نامه

(۱) الف نوم دې د الله — یاد وي په هر ساه

Marfat.com

دزړه رزق کړه اِلاّ الله — همیشه اوسه په تراه
چه ضائع نکړې دفتر

(ب) بَ باریکه د دین لار ده — غیره لار رخنه خار ده
پیوسته په نری تار ده — دغه لار د فهمدار ده
چه قدم کړه برابر

(ت) تَ توبه کړه له اخلاصه — ویره بویه له خناسه
مخ وماته وُچار یا سه — جلب مه پریږده له لاسه
د حضرت نبیؐ سرور

(ث) ثَ ثنا د حق مدام کړه — ثره بنده په بل کلام کړه
خوصفت دالف لام کړه — څواره پرښکو نام کړه
شه له خدایه درویز کر

(ج) جَ جنت غواړه له خدایه — بل څه خواست مه کوه ځایه
روانیږه له دې سرایه — بدرګه در سره بیایه
وړاندې لار لری خطر

(ح) حَ حلیم اوسه اے یاره — خالی مه ځه له بازاره
هوږ هیڅ نشته هوشیاره — توشه وړه دی له[1] دسرایه
که دِمِس یوړه که زر

(خ) خَ خدمت دکامل پیر کړه — غیرت لرے له ضمیر کړه
دهغه جهان ند بیر کړه — همیشه دصورت ویر کړه
زاری کړه سکر سکر

له غیرت - غیر ډوډه - خاوده - په معنی د زړه د خیری - (ناشر)

Marfat.com

(د) دَ دایم وَته حضور شه — لہ جملہ بدیو دور شه
پر بلا کښې دې صبور شه — شکر وکاږه شکور شه
په دوستئ د پیغمبر

(ذ) ذَ ذاکر په هر نفس شه — د کامل د در بارخس شه
زود د عشق په جا کښې مست شه — صد رحمت په هغه کس شه
چه یاره کاندی جګړه

(ر) رَ رحمت د خدائے تعٰ په یاد کړه — دا نامراد زړګے پر ښاد کړه
تل د نفس سره جنګ کړه — پرې بند ځه فکر آزاد کړه
شیطان وشړه له دره

(ز) زَ زاری کړه په سرتوړ — دکور خون هر کوره توړے
بیا هله به دې وڅوړي — چه تخت شی د ښځه ځوړ
نه به لار موسے نه دره

(س) سَ سیراب دَ دین په کار شه — د توښې په کاروبار شه
له فانی دُنیا ویزار شه — زر د تلو وَته تیار شه
په مخ لوې لرے سفر

(ش) شَ په شرع مستقیم شه — لار وګوره فهیم شه
شکر وکاګه شکور شه — له شیطان سره غلیم شه
کمینی ده لوې هنر

(ص) صَ صابر بر بلا شه — په زړهٔ داغ لکه لاله شه
هم نشین پر مصلے شه — دنیا پرېږده تا لا شه
هسک وز خوک څکر

Marfat.com

(ض) ضؔ ضائع مکړه خپل فکر　　همیشه اوسه په ذکر
په نعمت د کاږه شکر　　دوزګار عکوه په مکر
چاته مه چاته استر

(ط) طؔ طاهر ظاهر باطن شه　　تل په زیرمه دوطن شه
داسیا بو پریستن شه　　روانیږه په رفتن شه
خلقه لاږه اکثر

(ظ) ظؔ ظاهر خوشریعت دے　　چه بے شرع حق غلط دے
په وییل کښے اشارت دے　　د نبیؐ د دین صفت دے
همکی دړد کړو هر

(ع) عؔ عالم په بنه عمل شه　　له بے دړده خلق بیل شه
له عارفه سره مل شه　　لکه پتنګ په لنبو جل شه
وبیره واچوه د سر

(غ) غؔ غني په قناعت شه　　له جمله عالمه فقط شه
طمع پریکړه فراغت شه　　ظاهر سم په شریعت شه
چه روښان شے لکه نمر

(ق) قؔ فاني دُنیا د شمشیره　　د قارون له مرګه تیره
شه اد نکړله هم ډیره　　عاشقانو کړله هیره
غافل واخسته پیښرُمه

عه پیښرُ - په قلمي نسخه کښے په حرف پؔ اوس دواړه بانداے زور یکلے شوید ے دا د محمدزی قبیلے د زړه لهجے نخښه ده - محمدزی لکه د نورو پښتنو قبیلو د پیښرُ اول حرف پؔ ساکنه (پیښرُ) نه وائي - د غه شان واخله مثال په مړنه په ځاے د غیره - (ناشر)

Marfat.com

(ق) ق قبول کړه کل حکمونه   رشتوان هم کتابونه
فرښتې په آسمانونه   داوړه دا رنګه پندونه

کړه په غوږ ونه کړې

(ک) ک کرم د حق مدام دے   همیشه په خاص وعام دے
چه راغلے په اسلام دے   په دوه کونه کښې انعام دے

مخالف ځاؤ حشر

(ل) ل تېر لوړ د اِلّا الله   غوټوه پرے د زړهٔ کاه
په صباح او په بیګاه   یادوه ئې په هر ساه

هم ئې زیر نوله هم زور

(م) م میں دنشاء په خال شه   پیپه دوزه دیس تکال شه
راشه تیر تر سرو مال شه   وجنګ کینوه سنبال شه

خناس د ستر لری لیکر

(ن) ن د نفس سره جنګ کړه   هوا ره پر ناموننګ کړه
دا اغوستے جامے رنګ کړه   په دربار کښې ئې آهنګ کړه

کند وا خلی ستا خبر

(و) و ویرېږه له قهاره   اُمید وار شه له غفاره
تل آمان غواړه له ناره   هرچه د ... له ...

هم ...... دے ستا بستر

(ه) ه هیبت د قیامت ډیر دے   په عاشقو ول ستیر دے
هرچه ستا په خوږ سیر دے

همیشه خزی ... و نه بیر

Marfat.com

(لا) لام الف سره تړلي — د وحدت په منځ ختلي
سالکان پرې پوهېدلي — طالبانو دي موندلي
د توحید د باغ ثمر

(ي) يې يګانه محبوب ګوره — هواره کړه دُنیا نوره
کړې د دینه سر توره — نور به څه "سیّد" روره
په بیابان په بحروبر

دین روښان د پاک رسول ص دے — مخالف ناقبول دے
د "سیّد" په سر قبول دے — شریعت د صراط پول دے
د هرچا دے پرې ګذر

بسم الله الرحمن الرحیم
اللهم صل علی محمد وعلی آل

اے د خدائے په مینه رانه — کرامت لرے در ازه
در دانه یې سر تر ازه — هلته مادرب نه غواړه
خدائے لوئ کړې سربلنده — د حضرت نبي ص فرزنده
په تمام جهان سر کښنده — هلته مادرب نه غواړه
خپل خاوند نه د نظر دے — چه نیکه د پیغمبر دے
په نبیانو کښې بهتر دے — هلته مادرب نه غواړه
اے د خدائے تعالیٰ په مینه مستنه — زده به کورم ستا و دستنه
هر څه که ستا له دستنه — هلته مادرب نه غواړه

Marfat.com

د زړګي ناسره غم دی　　　په لحد کښې لوی ئې تورتم دی

هلته ما د رب نه غواړه

مخ را واړوه دستګیره　　　د بغداد د سرو میره

خلاصوه مې له زنځیره　　　هلته ما د رب نه غواړه

زما ګلک په تا باور دی　　　د قیامت پېښې مې عذر دی

د دوزخ مې هډر دی　　　هلته ما د رب نه غواړه

چې مې خرخ شوه په خاطر د هجر غمه　　　نه مې ورځني آرام شي نهٔ د شمه

د آشنا له غمه ژوبل ژوبل ناست یم　　　نور مې مه کړه غمازي لهٔ ټوته

پس له مرګه به د یارته مخ تور شم　　　که مې دود د زړهٔ او نخوت له کفنه

عشق د صبر له کومکه نه کا تړاهه　　　په دیکه به ځان خلاص نکړې له توژنه

ما د اور قیلي په پښو کړې پر روان شوم　　　که څوک وائی ده د مینې لاس اعتزنه

لا مې میل د زړهٔ د وصل ته زیاتیږي　　　چې ناصح راته کوی د عشق غندنه

نهٔ چې ځان ساتې د غم د تاخت و باخته　　　عاشقي دا هسې چړده کوینه

نور مې توان د وجود نشته په هجران کښې　　　اوس مې او ساتې له دې بلا څخه

چې د کسی په آشنایې سپین نه شو　　　ما خله نوم د عاشقۍ په [illegible] پسنه

لیوني په محبت نهٔ شګه تیر یم　　　وابه نه ځم ستا له دره په زورنه

بې وصلته د ژوندون را باندې ګران شو　　　ستا ملالو سترګو وړک کړم له وطنه

چې د ګرد د بېلتانه په تندي پروت دی
تل ئې وی لکه حسین خوره رمینه

Marfat.com

مُعِزُّالدِّین

معزالدین په قام خټک دے۔ په سنه ۱۱۶۱ھ کښې یو کتاب ئے د پښتو مثنوی په ورکوټی بحر کښې لیکلے دے۔ د علم عقائد، توحید، فقه۔ تصوف مسائل ئے پکښې راجمع کړی دی۔ د دغه کتاب خوبي دا ده چه هرے مسئلے سره د هغه کتاب حواله هم ورکوی چه د کوم نه ئے دغه مسئله اخستی وی۔ د دے کتاب پوره نوم ربقة الاسلام دے چه اول ځل په سنه ۱۲۹۶ھ کښې په دهلی کښې او بیا په دویم ځل په سنه ۱۳۳۰ھ کښې په نولکشور پریس لاهور کښې د قاضی علام محی الدین حزین په کتابت سره چاپ شو۔ لیکن د دغه مطبوعه نسخے هم اوس نایابے دی۔ د دے نه زیات د معزالدین نور حال نه معلومیږی

معزالدین خټک یو بل کتاب په علم طب کښې د ورکوټی بحر په مثنوی کښې لیکلے دے۔ د دے کتاب "دلیل العلیل" نوم دے۔ چه په سنه ۱۱۷۰ھ کښې ئے تالیف کړے دے۔ دا کتاب ټول ۴۲۱ مخونه دے چه په سنه ۱۲۹۹ھ کښې قلمی نقل شوے دے۔ او د خټکو د علاقے د موضع تنګاړے د میاں باز ګل ولد خرم شاه فقیر خیل په ذریعه پښتو اکاډمی پېښور ته رارسیدلے دے۔ د اول سر شروع ئے داسے ده۔

حمد خدائے تعالیٰ لره لائق دے　　چه د کل مخلوق خالق دے
هر چه څه دی بالا پست　　ده کړه کل له نیسته هست

Marfat.com

چه لیدل زمکه آسمان شی   یا چه څه د دوی ترمیان شی
خود بخود نه دی اظهاره   نه دی بې له کردګاره

لوګی نه وی بې له اوره
نه مصنوع بې صانع وره

پس له حمده د معبود   شه په پاک رسولؐ درود
چه بزرګ نوم دے د دهٔ کښلے   محمدؐ مونږ ته رالیږلے
دے رسول خیر الورے دے   مصطفیٰ هم مجتبیٰ دے
دے رسول برګزیده دے   د عالم انیس دیده دے
چه آدم لا پیدا نه وو   نبوّت ښکاره د دهٔ وو

لکه دے خیر البشر دے
په نبیانو کښې سرور دے

غرض دا دے مسکین دے   چه خټک صدر الدین دے
ما وعده کړې له چا وه   اراده مې د وفا وه
چه یو طب به زهٔ مرقوم کړم   په پښتو به ئې منظوم کړم
بارې وو موانع ډیره   علایق وو را چاپیره
له وعدے زمانی الحاله   دی تیر شوی دولس کاله
هغه کس دُنیا ته شا کړه   رب جنت ورته ماوی کړه
د بنده چه څوک اسلاف دی   یاد دهٔ چه څوک اخلاف دی
آمرزش رب د هغو کړه   برکت همیشه په دوی کړه
سن زر سل او یا او وه وو (۱۱۷۰)   چه مې دا کلام په شوله وو
سلطنت د احمد شاه وو   د پښتون صاحب د جا وو

Marfat.com

د رب توفیق د عدل ور کړه — په عالم ئې داد گستر کړه
ښه وی عدل یو ساعت — تر شپیته کاله عبادت
چه قیام ئې در مسند شپه شی — بیا په ورځ ئې روژه شی
چه غرض له سلطنت دے — هم دا خوئ د معدلت دے
که دا خوئ د بادشاه نه وی — بادشاهی عبث د ده وی
بے له عدله شاهی چا نه — په یوه پشیز ده گرانه
خان د موږ سرفراز خان دے — ابن خان دے ابنِ خان دے
پښت په پښت والا تبار دے — ملقبه په سردار دے
دے زُبده دے د خانانو — اِفتخار دے د سردارانو
مکارم اَخلاق چه څه دی — حاصل ټن اکثر د ده دی
په خوبونو د بزرگانو — کوئ ئې یوړ له سرانو
هر مراد د ده روزی شه — په مقصود ئې فیروزی شه
همیشه دِ دے خوشحال وی — له هر غم دِ فارغ بال وی
بد اندیش چه څوک د ده وی — دهغهٔ دِ غمژن زړهٔ وی
دا کتاب چه ئې تمام شهٔ — دلیلُ العلیل ئې نام شهٔ
مشتمل دے په فصلونه — منقول عنها کتابونه
واړه دادی نام په نام — په پښتو ترجمه تمام
له معجزه منقول دادی — له مُغنی دی هویدا دی
اَفغانی موجزے ساز کړه — په مُغنی ئې سرفراز کړه

معزالدین چه کړه یاهُو
غَفَرَ اللهُ لَهٗ

Marfat.com

په دې کتاب کښې چې دهٔ د کومو کتابونو څخه اخستنه کړې ده - د هغې یو فهرست په آخر کښې درج کول مناسب گڼړم - په دې غرض چې په دغه ډېر بې شماره مأخذونو کښې په مختلفو علمونو کښې د پخوانو پښتنو بزرگانو او عالمانو د داسې کتابونو څخه حوالې اخستې شوې دي چې اوس د هغې کتابونو هیڅ درک نه لګیږی - د ربقة الاسلام په ابتداء کښې لیکی :-

حمد و خدائے له سزاوار دے — چې زمونږ پروردگار دے
نو د آغاز د دهٔ په نام کړم — په دا کار باندې تمام کړم
هر یو کار چې مؤمن کاندی — بسم الله بویه پرې باندې

بیا مخکښې لیکی :- فصل دے په بیان د آغاز د کتاب چې مسمّٰی په ربقة الاسلام دے -

مؤلف د کتاب یاره — اُمیدوار له کردګاره
چې ختک معز الدّین دے — پر تقصیر بنده کمین دے
رب دِ عفوه له دهٔ وکا — په غفران دِ یې زړهٔ ښهٔ کا

په مفتاح صلوٰة کښې ښکلی — واوره دی هسې را غلی
چې هر څیز پرې فرض وینه — فرض یې علم هم پرې شینه
د واجب وینه واجبه — د سنت، سنت صائبه
مُستحب چې هغه څیز وی — مستحب یې علم نیز وی
په قیامت به اول جانه — حساب کیږی له ایمانه
ورپسې به د نمانځه وی — بیا پوښتنې به د نورو څهٔ وی
چې یې عقل بلوغ وُشی — اول فرض ایمان داوړهٔ شی

Marfat.com

ځکه ما چه کتاب ساز کړ — په ایمان سره آغاز کړ
نوم د دهٔ چه دے تمام کړ — په خیر، ربقة الاسلام کړ
مزین دے په شل باب — بیا هر باب له دے کتاب
مشتمل دے په فصلونه — کال "غسق" وو د دې حرفونه
بے نقط حرف میانه دے — منقوطه وړاندې وروسته دے
هرچه نقل انتخاب شي — حواله به په کتاب شي

د ربقة الاسلام د مآخذو فهرست

۱:- مفتاح الصلوٰة	۱۳:- عین الزلال	۲۵:- هدایه
۲:- فقه اکبر	۱۴:- شرح امام محبوبیه	۲۶:- عینی شرح کنز
۳:- شرح فقه اکبر	۱۵:- تمهید ابوشکور سالمی	۲۷:- فتاوی مجمع خانی
۴:- عمدة الاسلام	۱۶:- مالابد للمسلمین	۲۸:- خزانة الروایات
۵:- اسماعیل الاسلام	۱۷:- صلوٰة مسعودی	۲۹:- نهایه شرح هدایة
۶:- ارشاد الطالبین	۱۸:- تذکرة الابرار	۳۰:- خلاصه کیدانی
۷:- کتاب المهتدی	۱۹:- صواعق محرقه	۳۱:- شرح خلاصه کیدانی
۸:- مخزن الاسلام	۳۰:- جامع الرموز	۳۲:- فقه نور الدین
۹:- مصباح الهدایة	۳۱:- مختصر القدوری	۳۳:- خزانة الفتوی
۱۰:- فتاوی نقشبندیه	۲۲:- منیة المصلی	۳۴:- خلاصة الفرائض
۱۱:- جنات المؤمنین	۲۳:- شرح منیة	۳۵:- سراجی علم میراث
۱۲:- ذخیرة الملوک	۲۴:- کنز الدقائق	۳۶:- کتاب ترغیب الترهیب

سنه:- (غ ۱۰۰۰ + س ۶۰ + ق ۱۰۰ = ۱۱۶۰ سنة الهجرة)

Marfat.com

۳۷ :- کتاب الجوھری
۳۸ :- بحر الرائق علی کنز الدقائق
۳۹ :- تحفۃ الصلحاء
۴۰ :- حب المفتین
۴۱ :- شرح امالی
۴۲ :- تفسیر مدارک
۴۳ :- تفسیر بیضاوی
۴۴ :- قنیہ شرح منیہ
۴۵ :- بوستان ابو اللیث ثمرقندی
۴۶ :- تنبیہ السنۃ
۴۷ :- عین العلم
۴۸ :- فتاوی صوفیہ
۴۹ :- ترتیب الصلوۃ
۵۰ :- شرح مشارق الانوار
۵۱ :- جامع ترمذی علم حدیث
۵۲ :- مفتاح الجنان
۵۳ :- ابو المکارم شرح کنز
۵۴ :- معدن شرح کنز
۵۵ :- شرح عبدالحق علی مشکوٰۃ
۵۶ :- جامع صغیر از امام محمد
۵۷ :- فتاوی تاتارخانیہ

۵۸ :- فصول عمادی
۵۹ :- نصاب الاحتساب
۶۰ :- حصن حصین علم حدیث
۶۱ :- کتاب التنبیہ ابو اللیث ثمرقندی
۶۲ :- وقایۃ الروایۃ
۶۳ :- موجبات الرحمۃ
۶۴ :- مدارج النبوۃ
۶۵ :- مشکوٰۃ المصابیح علم حدیث
۶۶ :- تفسیر الدر
۶۷ :- فتاوی ابراہیم شاہی
۶۸ :- فتاوی مجموع النوازل
۶۹ :- فتاوی قاضی خان
۷۰ :- فتاوی حمادیہ
۷۱ :- فتاوی [illegible]
۷۲ :- مدارج السالکین
۷۳ :- فتاوی سراجیہ
۷۴ :- مجموع النادرات
۷۵ :- شرح [illegible]
۷۶ :- فتاوی [illegible]
۷۷ :- فتاوی برہنہ
۷۸ :- کتاب ادب المائدۃ

۷۹ :- فتاوی قاضی خانی
۸۰ :- فتاوی تمرتاشی
۸۱ :- کیمیائے سعادت
۸۲ :- تحفۃ المثانی
۸۳ :- قمر العین
۸۴ :- کافی
۸۵ :- [illegible]
۸۶ :- صحیح بخاری
۸۷ :- [illegible]
۸۸ :- [illegible]
۸۹ :- [illegible]
۹۰ :- [illegible]
۹۱ :- [illegible]
۹۲ :- [illegible]
۹۳ :- [illegible]
۹۴ :- [illegible]
۹۵ :- [illegible]
۹۶ :- [illegible]
۹۷ :- [illegible]
۹۸ :- [illegible]
۹۹ :- فتاوی [illegible]

Marfat.com

۱۰۰ :- منهاج الشواهد
۱۰۱ :- حلاوة الاسلام[25]
۱۰۲ :- شرح تنویر الابصار
۱۰۳ :- جامع فتح القدیر
۱۰۴ :- کتاب الملتقط
۱۰۵ :- فتاوی ناصریه
۱۰۶ :- کشف المحجوب
۱۰۷ :- اساس المصلی[26]
۱۰۸ :- تنبیه الغافلین
۱۰۹ :- مکتوبات امام ربانی
۱۱۰ :- عوارف المعارف
۱۱۱ :- هدایة الاعمی[27]
۱۱۲ :- مرصاد العباد
۱۱۳ :- مکتوبات امام یحیی منیری
۱۱۴ :- تذکرة البیان[28]
۱۱۵ :- محک العارفین[29]
۱۱۶ :- خلاصة الفقه[30]
۱۱۷ :- خزانة الفقه
۱۱۸ :- شرح ابهری
۱۱۹ :- شرح عین العلم[32]
۱۲۰ :- مختصر الوقایة
۱۲۱ :- شرح جامع ترمذی

په دې کتابونو کښې زیات هغه دي چه زمونږ د مشرانو پښتنو عالمانو تالیفات دي. خصوصیت سره فتاوی اخون موسی یو داسې کتاب دې چه د رښتیا الاسلام نه غیر په هیڅ کتاب کښې ترا وسه پورې د دې ذکر موږ نه دې لیدلې. په کوم کتابونو چه پوره خط را اښکلې شوې دې دغه د پښتنو تالیفات دي.

محمد فهیم

ډکو جروګړهۍ د ابوبکر میاں صاحب متوفی سنه ۱۳۰۹ھ په قلمي نسخه کښې یوه
رنامه ده۔ کاغذئے دبیز بادامي رنګے کشمیرے دے۔ د لیکښتو ترب دوړ کوټي بحر
مثنوي کښې ده۔ د اول سرپاڼړے نه لري۔ او په آخر کښې د قلمي کېدلو او کتابت
سنه هم نه لري۔ البته د کتاب په آخر کښې د دے کتاب مؤلف خپل نوم محمد فهیم
ان کړے دے۔ او د کتاب د تالیف سنه ۱۱۴۵ھ ئے یوولس سوه پنځه څلویښت ښودلے
ده۔ دا محمد فهیم د حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب علیه الرحمة نمسے دے او شجره
نسب ئے داسے ده:۔ محمد فهیم ابن دل آرالدین (دل آرګل) ابن آزادګل (ضیاء
الدین شهید) ابن شیخ رحمکار علیه الرحمة (تذکرهٔ شیخ رحمکار ص ۱۶۶) په دے
حساب د دولسمے صدۍ د منځنۍ حصے شاعر دے۔ د دے کتاب په اولنۍ حصه کښې
داخون درویزه صاحب د ارشاد الطالبین نه حواله ورکړے شوے ده۔ د دے نه
معلومیږي چه د اخون درویزه صاحب د مکتبهٔ فکر سره تعلق لري۔ او د
ئے نورو شعرونو نه ئے معلومیږي چه د نقشبندیه طریقے د روحاني مسلک سره
تعلق لري۔ د لته ځایونو د شعرونو نمونه ئے داده:۔

هر اشیاء چه څه پیدا دي — په صفت د حق ګویا دي
که هر څو لطیف عجب دے — دا کلام د لته عجب دے
په ارشاد کښې دا رنګ دالې — چه هر حرف د قرآن سنالې

Marfat.com

د کلام دلته فایق دے　　پرے کلام د حق ناطق دے

د نقشبندیه طریقے د تعلیماتو مطابق د ذکر خفي په بیان کښې والی:-

لا اله ذکر آره ښکاره　　د نړه سر په دوه پاره کړه
د شیطان سر ته پرے دُوه کړه　　د یقین خنجر په سر کړه
نفس شیطان سره همدم دی　　تل خو ستا په غم په سم دی
د دوی د واړو سر ته پرېکړه　　وخپل رب ته نه مجرے کړه
همیشه شغول جمیل　　ذکر وایه د جمیل
د کامله تلقین واخله　　له ناقصه ئے مه آخله
د کامل تلقین صیقل دے　　همیشه د زړه تل دے
زبه ما د عشق له غمه　　خالي مه لرے یو دمه
محبت زما رهبر کړه　　ورته لرے وشناخت یې کړه
ستا د مینه په گرداب کښې　　زړه ئے غرق کړے په گرداب کښې

د پاک نبي صلی الله علیه وسلم د شمائل مبارک د بیان نه روستو په

دعا کښې والي:-

په دیدار ئے مشرف کړه　　کل گناه ئے بر طرف کړه
په صراط ئے مورو پلار　　زبه مه ئے کړے حصار
هم ما ستر هم مومنان کړه　　د دوی عفوه کل عصیان کړه
هم ئے مور پلار آزاد کړه　　په دیدار ئے خاطر ښاد کړه
که ئے رونړه که خواهر دی　　یا هغه چه ئے پسر دی
استادان که عزیزان دی　　نیکو کار که فاسقان دی
فضل همه واړه الله　　ته ئے خلاص کړه له ګناه

Marfat.com

همه ونجبني اے ربه — ته ئے خلاص کړے له غضبه
الهي بخښش معمور کړه — د حضرت امت مغفور کړه
دی هر کوره ګناهګار دی — ستا کرم ته امیدوار دی
په حرمت د پاک نبي ﷺ — وے ژغوره له بدی

محمد فهیم زاري کېږم
په درګاه د باري کېږم

په حرمت د محمد ﷺ کړه — عفوه واړه زما بد کړه
د زړګی تخته بے رنګ — په حنا د عشق کړه رنګ
د نور نامے ډیر برکت دے — په کتاب کښے ئے صفت دے

بیا د نور نامے په آخر کښے وائی:-

الهي ما کړه د بیدار — ستا کرم ډیر دے بے شمار
سلامت مے کړه ایمان — ته بخښنه ئے مهربان
مصنف د نور نامے کړه — بدی لرے له ذاته کړه
ربه تا ته صبح و شام — زه زاري کوم مدام
چه بخښش واړه امت کړه — ته ئے عفوه معصیت کړه

محمد فهیم د تا ته ویره
زاري کړه تر حده شپه

او د مناجات په آخر کښے لیکی:-

ما روئیدار کړه کردګاره — د [illegible] مقصد د پیاره
هم مے درد د عشق نصیب کړه — [illegible] ګڼل حبیب کړه
د عشق اور مے په زړه بل کړه — [illegible] تبلبل کړه

Marfat.com

شگوفه د زړه ئے وا کړه — ته ئے وا د عشق په ما کړه
که رکوع کړم که قیام — که جنبش کړم که آرام
که اوده یم که بیدار — خاموشي کړم که گفتار
که په بحر که په بر یم — په وطن که په سفر یم
بل که مړ یم که ژوندے — دے زما کړے غړوندے
چه مے را کاږی و تا ته — له همه واړه جها ته
نوړ نامه چه مے پښتو کړه — پښتنو ته مے پښتو کړه
که خطا پکښے له ما وی — عفوه واړه دے له تا وی
چه خاتمه د نوړ نامه وه — او نه ورځ د عاشوره وه
سن د هجر پوره اتم وو — په څلور حرفه ئے ضم وو
غین او قاف ته په شماره کړه — میم او طے هم ورسره کړه

(غ ۱۰۰۰ - ق ۱۰۰ - م ۴۰ - ط ۹ - جمع ۱۱۴۹ ھ)

دا څلور حرفه شماره شي — دا هجرت په تر ښکاره شي
شکر شکر تم کتاب — والله اعلم بالصواب

مغفرت د کړے الله
په کاتب پیر خوانده

د محمد فهیم په دے کتاب کښے د اسلامي علمونو د علم عقائد د دغه مشهورو درسي کتابونو حاشیة الخیالي علی شرح العقائد او شرح مواقف حواله هم راغلے ده. د دے نه معلومیږي چه دے د معقول او منقول دواړو علمونو عالم تیر شوے دے. هغه شعرونه ئے دا دي:-

بل روایت دا رنگ وایه شي — له کتاب آرویده شي

Marfat.com

په خيالي کښې ئې اوګوره　　نقل دا رنګ دے اے روره
تيرسو ديار ليس مرسل دی　　په هغه وکښې افضل دی
په شرح مواقف کښې مے ليدلي　　په پښتو مے دی ترے بنګلی

د دے نه زيات معلومات تر دے وخته د مصنف فهيم په حقله په لاس نه دی راغلی - دومره معلومه شوه چه دا د لسمې پيړۍ د اولے حصے يو فاضل عالم اديب او پښتون شاعر وو.

ابراهيم

ابراهيم د سوات د مشهور بزرګ پير "پيرنده" صاحب عليه الرحمة
اولاد ګڼلے شي. پير لوئے عالم روحاني بزرګ او د پښتو نثر د نخوالي طرز ا
اسلوب په ليکونکو رموزو کښې شاعر او اديب تير شوے دے. چه دا خون درو
د مخصوص سبک په پيروکارانو کښې بنسکا ليکونکے دے.

د پير پيرنده صاحب زيارت مبارک د بيسواش په علاقه کښې د خزانه
علي ګرامے ته نزدے د کبل تحصيل په علاقه کښې دے. پيرنده ورته په د
اعتبار روانئ چه دے د روحاني طاقت په زور د ملک عرب د شام علاقه
ته په هوا را الوتلے وو. او دلته سوات ته راغلے وو.

صفي الله خټک په يو کتاب نظم الدرر کښې ليکي. چه حضرت پير
پيرنده صاحب د کاملو اولياء الله د ټولګي نه دے. په نفحة الاحباب
چه دده د نوسي حاجي ابراهيم بابا عليه الرحمة تصنيف دے، ليکل
دي. چه "وله کرامات کثيرة فاحدها انه طار مع ابنه من الشام
الی الهند و منه الی وطن يوسفزئ و توطن فيه انتهی" (ترجمه
او د پير پيرنده کرامات ډير دي. پس يو له هغې دا دے چه په هوا را ا
سره د خپل ځوئ د شام نه هندوستان ته. او د هغه ځائے نه وطن د يوسفزو
وته. او دلته استوګن شو."

Marfat.com

دا د حاجي ابراهیم یو پښتو کتاب چه "د زقوم بادشاه قصه" ده. ماته په لاس را غلی دی. کاغذ یې د بیز خانۍ او د سوات جوړ دی. خط یې کچه، املا غلطه او بې ربطه ده. لیکن د هرڅه نه زیات عجیبه د دې کتاب ماته په لاس راتلل دي. د سوات په تمبر نومې کلي کښې قاضي سید رحمة الله صاحب مرحوم یو ډیر لوئ عالم فاضل او د پښتو ژبې ښکلی شاعر تیر شوی دی. د هغه یو مناجات په طالب علمۍ کښې زما د نظرنه تیر شوی وو. چه د هغې یو مصرعه دا ده. " قبول مې سوال کړې په حرمت د پاک رسول عربي " زه چه په دسمبر ۱۹۵۹ء کښې سوات ته لاړم نو د هغه ځوئ سید محب الله ته مې عرض اوکړو چه که د مرحوم قاضي صاحب څه نور کلام راته اوښودلې شي. هغوئ راته اووې چه د هغوئ د قلمي کتابونو یوه لویه ذخیره وه. لیکن په دې وجه چه ډیره خرابه شوې وه او بې ادبي یې کیدله نو یو دوه بوجۍ مونږ نه ډکې کړې. او د مخامخ په یو غار کښې د یو کمره مولانا نه کړې. دیوال مو ورلیپه اوو هغه. چه بې ادبي یې نه کیږي.

ما په تمبر کښې شپه کړه په بله ورځ مې ملګرې د ځان سره کړې او د هغه غار خوا ته مو قلمي کتابونه راوښکل. ډیره نایابه ذخیره وه. ... قلمي کتابونه وو. نم. لوند والي. دوپ او خوپ ترې نه یو ګټ جوړ شوی وو په هغې کښې د حاجي ابراهیم بابا دا یو ټوټه پاتې شوی. د بابو جان د دیوان یو ټوټه پاتې. او څه نور د عربي او فارسي متفرق معلومات په لاس را غلل. په هغه موقعه یو خوادز مې سخته نخښې تیږه یخ هم وه. د یا سه باران هم شروع شو. بل د غار او خاورو د تعفن او زهریله هوا په وجه د دغه کتابونو

راخستلو سره سم په لاسونو مے فوراً خارښت اولګیدو پونړاکے شوے۔ پ
دغه وجه نه تولے قلمی وغیره چه دغلته دفن شوے وو۔ او مے نه کتلے شوو۔ مجبور
دغه څه چه په لاس راغلل غنیمت مے اوشمیرل۔ او دخپلو مشرانو په قیمتی
علمی سرمایه په داسے طریقه تباه کیدلو مے داَرمان او افسوس یو دوه
اوښکے توے کړے۔ چه په دے کښے دحاجی ابراهیم بابا کلام دلته
کولے شی۔

لکه چه وړاندے ذکر اوشو دابراهیم دلیکلو طرز داخون درویزه" د
سبک په پیروئ کښے دے۔ هرکله چه صفی الله ختک په میاشت د صفر
المظفر سنه ۱۲۷۲ھ کښے ددهٔ ذکر دنورو شوو عالمانو په حیثیت سره
کړے دے۔ او دمیاں صاحب محمد عمر دځمکنی ځوئ عبیدالله میا نګا
دخپل کتاب هفت پیکر په دیباچه کښے ددهٔ دے قصے نوم یاد کړے
او حضرت میاں کل صاحب په سنه ۱۲۳۳ھ کښے وفات دے۔ نو ویلے ش
چه حاجی ابراهیم بابا د سنه ۱۲۰۰ھ هجری په زمانه کښے تیر شویدے۔ دکلام
نمونه ئے دادہ:-

" درسته شپه مے مصلحت دخپل زوئ سره وکړو زه من
ئے داوے چه نه دیو دے نه پرے دے نه سړے دے خلقے ئے سپین
صبا کړو اد په وار۔ رنګئ سُور نوم ئے علی دے خوئ ئے دیهشت
دعزرائیل دے زیات دموږ دبدی په هنرهار۔ په نارے دی
غروړنه زمکه په لړزا شوشنه مزری ئے بریږی پخپل غار۔
که رستم ستم سرام ثوندے وے هیڅ ۔حجت به ئے وَ دَ وَنه وڼه که
هره ورځ ئے خیالوی پروردګار۔ هسے تیغ ئے دے په لاس کښے چه

Marfat.com

زهیچ نه ودریږی. خلقه ئې ریز مریز کړه په غرزی په تنهار.
ولک زیات کم سواره ځنې کړیږ کا په دعوا که نه حلال دی نه
مردار. څلور واړه زه منو دا په وز قوم ورکه ورته ئې داو موږ
باب پلار اوس قرار خوب کړه تر سحار. چه صباح شی سپین
میدان لره به ورشو شیرعلی به دس تړلے در حضور کړو بے
امړکه ئې بله نه کیږی ناچار. نور لښکر به ئې همه بے تیغه ومری
له یو هیږی پردے ملک لکه کولیار. ته خبرے زموږ له زړه که
رستم ستړام ژوندے وے هیڅ حجت به ئې وموږ ته وُنه که. مولا
ستا د تمام بنهر پهږدار. په داګی هسې ګفتګوئې د زقوم خاطر خوشحال
کړ شپه تیاره ورپسې راغله ساعت لنړ شهٔ پر قرار شو مهلی
او دروغ بیمار. چه سحر شهٔ مؤمنان له ځایه پاځیده له ویرېه
زای بنه خدائے ته درست لښکر په نامه له بد و پرهیزګار.
چه صباح شه کوښې کوسلې وا خستے غازیان په اختیار د
کهیدو پرقطار. محمّد و یل یارانو چه څوک مخ په وړاندې منه
که. حاصل هیر دے تل نجات دے د جنت په مرغزار. که ئې
رزق په جهان دی مړک به ئې څه وکه خپل نصیب ور سره [illegible]
څوکیدار. که په اور یا په اوبو یا د مرزې په خوله کښې لیونزی یو
تار موئے به ئې کوږ نه شی د غه هسې کاری کړ ستا پسې ستار. بیا
یاران وے سرو زکه و زرځانونه دی منع به ئې نکړو ستا په تش
ویل کفتار. چه خدائے هسې ضرور راوست راضی من ئې په قضا
یو خلاصیده دی په عمل په کردار. دمائے غزو لے عالی به ئې کولے

Marfat.com

د کجبونو شنړهار- خلقه سره هم روشو بخانځ هم واړه زبردس
جنګ غرن دار- دغازیانو په کافرو انبوهے هسے کړبنے کوبنے
اول په میمنه په میسره چه تلاوه وَ د کفار- تلاوے چه کو
د صورت نوم یے قرطاس و پهلوان و د کافرو صد هزار- خلق
زغرے اغوستے وسله د دیرشو منو ګرزے په لاس انداخته وو- پس
هم په وشولے بخانځ هم واړه وجنګریزته غرض دار- دغازیانو
کافرانو انبوهے هسے کړبنے کوبنے لکه اول په میمنه په میسره چه
تلاوه د کفار- تلاوه چه یے کول د صورت نوم ے قرطاس وه پهلوا
وو د کافرو صد یکه خُول په سرن غر وه اَغوستے د سل دیرش
منه ګُرزے وو په لاس که پا په د کاب کبنے انداخته وو- خلو
باد توره سترلے په مقدار- پرمیدان کبنے غرض ده له ډیر
خیاله لا په شا په یے وئیلی په خزوار- دوباره د جنابیل په س
بازی شوه پټ شو- پټ سپاهی ورله راغے ګرن بردار- مح
وے علی یاره ناخوک دے- چه دده په بنه دیدن واړه خوش
شو- عجب سړے سره کښے که د لاړه دے دور دار- بیا علیؓ و
محمدؐ د لاهغه دے چه کافر وو مسلمان شه- اوس زموږ د خو
ږړونو دے ننه کار- دغه پس د حضرت مهر پروُنشه- جنابیل د
دیدن ته طمعدار- جنابیل وئیل قرطاس راشه ورشه و زتوه
ته وو ابه دَ اِسلام پرے پرغاړه ترموږ راشه امتی د محمد مصد
شه محمدؐ د دواړو کونو ستانه دار- زا به بربي ایمان که اُمت
رسول نشے قلا هونه به دے دړ وړمات کرم انتقام به دِ ویځ

Marfat.com

وخیژی آثار۔ بیا قرطاس وے غلط مه وایه غلط کفر اسلام په همه
عمر فتنه دار۔ بیهوده لا یه شے صورت به بایله هرزه ان ے
درته خیژی تنږ هار۔ چېږه وه یو ویشت گزه نیزه ده په نیزه
دے وهم چه ټنګ ټنګ راته مه کړے بو نږ هار۔

عاقبت قرطاس حمله په جنابیل پهلوان وکړه۔ جنابیل ئے
نیزه ماته کړه۔ په لاس کښې لکه څوک چه هیڅ پرے کار نه وي
یا په نیوتار۔ دغه پسه جنابیل ډگرز گذار په قرطاس : که
بے ایمان دوزخي و لاړ شه قرض دار۔ اصحابو وماے و :نې وے
پرېښادی شوه روح په ورځ ئے نه تورن شو توره دار۔ کافران
واړه غلط شو۔ مېنے ئے هیڅ له لاسه نه شه هره ورځ لا نه ے
کیده لکه پا یزار۔ جنابیل د قرطاس سر په یکه اېزا هیم د
زتوم پر پهلوانو کښې اوځار۔

ابراهیم یو بل کتاب د سیف الملوک قصه هم لیکلے ده۔ چه قلمي نسخه
ئے د پېښور په عجائب خانه کښې ده۔ شروع ئے داسے ده:-

" ابراهیم مط په شریعت کړه چه جنت لره ورځئ لا یمان دا ...
زمانه کښې یو بادشاه ووړ پیدا شه۔ د صورت نوم عا ...
مصر کلی مال په در دمتور زړه نو تر یاد شه۔ رعیتونه ئے ... ظلم ئے
نکړه هر لوری ادب ادیب وو خپے تپوس په هر لوری په هوا د شه۔ چه بے زړی
عمر یاد شه۔ بے فرزنده بادشاهي پکار نه وه زړه ئے بد شه۔ ... ورځ ئے خرقه
واغوسته نامراد شه۔ امرکانان وزیران واړه ورمردان شه چه بادشاه
ځکه ناشاد شه۔"

Marfat.com

عبدالکبیر

عبدالکبیر د حافظ کبیر او اخوند کبیر په نومونو یادیږي. دوی د پېښور د برتهکال نومې کلي او سید ګڼې وو. د دې بناء قیاس داده چې په قام خلیل وو. د دولسمې صدۍ هجري په نیمائي زمانه کښې ژوند کاوه. او د دې زمانې دوی د پېښور په پښتنو شاعرانو کښې د اوچتې مرتبې او لوئې شهرت خاوند دے. لکه چه د ده د شعرونو په بحث لاشي. شعرونه ئې مذهبي، اخلاقي او تصوفي دي. او نخیل ټول تالیفات ئې د پښتو د شهرت په ورکولو بحر کښې لیکلي دي.

د ده یو کتاب د پنجالس نوم دے. ټول ۳۲ مخه دے. د پېښور ښهر د مشهور کاتب غلام جیلانی په کتابت سره په ۱۲۹۷هـ کښې په هند وزیر پریس دهلی کښې چاپ شوے دے. دغه په صفحه ۲ ئې د ۱۱ اشعار دلته درج کولے شي چه د دے نه د ده زمانه معلومیدے شي. وائي ــ

نرسل پنځو سو کلونه — د هجرت تیر شوي وو نه

پنځه نور هم پرې د پاسه — وو تیر شوي بې وسواسه

بادشاه هم بادشاه وو — پر سره بې حد سپاه وو

د ده سن بیا خلورم وو — بل راته نیسي پنځم وو

ښاغلي عبدالحئ حبیبي لیکي[1]. اخوند کبیر پېښوری د ملا الف په مکتب کښې د هولدو روستنی شاګرد دے. یو کتاب ئې په نوم د "معجزات" په پښتو مثنوي کښې په نظم کړیدے. چه یادګار ئې پاتې دے. د ده کلام دلچسپ او ښه دے."

ښاغلي امین الله خان زمریال چه د پښتو کتابونو کوم فهرست

---

[1] تاریخچهٔ سبکهای شعر پښتو.

Marfat.com

لیکلی دے۔ په دغه کښې لیکي (۲) دربجالس حافظ عبد الکبیر نامي په پښتو نظم کړے دے۔"

ښاغلی امین الله خان زمریال یل ځائے لیکي۔ (۳) مناجات حافظ عبدالکبیر اولي لیکلے په قسم د مثنوي په نظم لیکلی شوید؟ چه یوه نسخه ئے په لندن میوزیم کښې ده۔

د عبدالکبیر په حقله نورې ذاتي معلومات نه لرو۔

د ښاغلی حبیبي په قول عبد الکبیر په اخون کبیر یادیږي۔ یو تالیف ئے د معجزات په نوم یادیږي۔ او دې پښتانه دي۔ د ښاغلی زمریال د تحقیق له مخه په لندن میوزیم کښې د عبدالکبیر دوه نور کتابونه دي۔ یو د ربجالس په نوم او بل مناجات" او بله خبره داچه دے د حافظ عبد الکبیر په نوم یادیږي۔

د حافظ، اخوند، عبد الکبیر د دغه مناجات چه یوه نسخه ئے په لندن میوزیم کښې ده۔ دا یوه نسخه ئے زما دوست سید کریم نه ماته راپاتے ده۔ له

په دے کتاب کښې ځلور نظمونه دي۔ په اول نظم کښې د کلمه توحید لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه په تضمین سره د عقایدو د توحید او تصوف مسئلې بیان شوي دي۔ په دویم نظم کښې د الف نامه په طریقه سره د عقائدو، توحید، تصوف او دیني مسائلو ذکر دے۔ په دریم نظم کښې د حضرت رسول پاک صلی الله علیه وسلم په دربار کښې مناجات

له ښاغلی حبیبي چه پښتو شعرونه په مختلفو سبکونو ئے تقسیم کړي دي۔ د هغه له مخه د عبد الکبیر د اشعرونه د ملا الف په سبک کښې شمار او په واړه بحر کښې دي۔

بند - دا دریم نظم نیمګړے دے. لوړے پاڼړے ئے نشته - او څلورم نظم یو څو بندونه دی - چه دغوث الاعظم پیران پیر شیخ عبدالقادر جیلانی منقبت دے. ددا څلورم نظم ددغو دریو نظمونو نه ځان له جدا په بل مخ لیکلے شوے دے. خطے زیات کیږا او د املاء غلطئ پکښې ډیرې دی. شاعرے نه دے معلوم. صرف دعبدالکبیر د نظمونو په شان په ورکوټي بحر کښې دے. زهٔ ئے په دے غرض دلته نقل کوم. چه دا نظم که پوره چا سره پیدا شی. نو هغه نه به ئے د شاعر نوم معلوم شی -) داسے معلومیږی چه دا د کوم لوی کتاب یو څو پاڼړے دی د هر یو نظم په سر کښې بسم الله الرحمٰن الرحیم. رب یسر وتمم بالخیر لیکلے دے. کاغذ ئے د سنه ۱۲۰۰ او سنه ۱۳۰۰ د منځ د وخت دے. تقطیع ۲۰×۳۰ ده. په هر مخ کښې ۱۵ کرښې دی. رسم خط ئے پوخ او د عربی رسم الخط نه جدا دے. چه خالص پښتو ورته ویلے شو. لکه د محمد کل او جان محمد د قلمی نسخو په دے کښې هم د کلمے په آخر کښې د حرکت فتحے او سکون د اظهار د پاره هائے مختفی او هائے خفی نه راوړی. حرف "ک" لکه د عربی حرف (ک) لیکی. یعنے لفظ (کوم) داسے لیکی - (کوم) یو بل خصوصیت د دے قلمی نسخے دا دے چه حرف (ه) په کومو لفظونو کښې چه د کلمے په سر کښے راشي ده هغه ئے اکثر د چرګوټی (ھ) په شکل لیکلے دے. مثلاً کلمه د هرا هسے ئے هر ا ت هسے لیکلے دی - او لکه د محمد کل او جان محمد د قلمی نسخو په دے قلمی نسخه کښې ضمیر منفصل مضاف الیه حرف (له) د نن ورځے د رسم خط نه په عکس د مضاف کلمے سره یو ځائے لیکلے شوے دے

Marfat.com

مثلاً ننګه رسم خط دے (لهجه) او زوړ رسم خط دے (لهجه)

د حافظ، اخوند کبیر په حقله نور معلومات نه لرو. کیدے شي چه نور چاته په دے باب کښے څه معلومات وي. او د نصح په ذریعه د پښتو ادب د دے نامداره ادیب، شاعر، صوفي او عالم حال معلوم شي.

د کلمهٔ توحید په تضمین کښے دے یو لغت راغلے دے.

ے له کل ید و استغفار کړه　　پښے شا ځنبش تیار کړه

ځنبش په معنیٰ د غالبست د هشنغر د محمدزي قبیلے د مخصوص لهجے لغت دے. کیدے شي چه د بنا غای حبیبي دا قول چه خوږ عبد الکبیر " پېښاور په علاقه هشنغر کښے وو" لیکن دا به تحقیق غواړي

ربِ یسّر　　بسم الله الرحمٰن الرحیم　　وتمم بالخیر

غافل ولي یې ویده اي　　آخر تل دي له دي سراي
که ستا مینه دي له خدایه　　هر نفس دا هسے وایه
لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله

توي ده رستګیر دنم نه　　[illegible]
هر قدم ادم بهیر دم ته　　[illegible]
لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله

هر نفس د تلو تکل کړه　　راشه یاریک عمل کړه
هم په خداي توکل کړه　　هم دا ذکر د ځان مل کړه
لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ

Marfat.com

که په روی یا په زوره　　　نور څه مه وایه ای روره
دا آوازوی لوړ د لوره　　　خو دا ذکر وایه کوره
لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

سحر کیا چه له زمین　　　سر که پورته نازنین
که باور کوی آمین　　　همیشه شان ذکر کړین
لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

همیشه شان چه څه اشجار دي　　　دوی مقرین په اقرار دي
په تسبیح د کردګار دي　　　همیشه په دا اذکار دي
لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

راشه دا وره بلبل هسې　　　ته به نه پاتې تر پس
که د نزدې وی ناکس　　　اوس ی زده کړه له دې پس
لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

ملکوت په بهروس دی　　　جبروت په منبوس دی
د لاهوت هم دا ثمر دی　　　کل ناسوت په دا خبر دی
لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

همه بیداو توبه کړه　　　شپه ورځ په ځان پوه کړه
ته حاصل دا میوه کړه　　　هم دا ذکر وظیفه کړه
لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

ځان و تلو ته مضبوط کړه　　　خاطر صبر لناسوت کړه
تل ثناه د لاهوت کړه　　　هم دا ذکر د ځان قوت کړه
لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

Marfat.com

له کل بدو استغفار کړه   پیشے شا خپش تیار کړه
هم دا ذکر د ځان یار کړه

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

هیسے ونه ده ولاړه   چه تر عرش پورته ولاړه
د اشه ته شه در ستر غاړه   ځان و خوږه میوه واړه

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

که محکم په دا یقین شی   نکنه به ته سپین شی
ته به درست لکه آهین شی   که به دا ذکر تعین شی

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

که باور کړی په دا دم   مونږ نشی پهر دم
بل چار تر دا نه غوره   نه شته بی له دې بهتره

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

هم له دی ذکر افضل   کلیمه نشته دی بل
که باور کړی خدا ته

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

چیر نوی چه غافل شی   ته لپ ذکر ...
له کامل به کامل شی   ته به ...

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

چیترڅی شکر شیرینه   عم ... تر ...
طیبه د د امین   و کړه هیڅ ... امین

له چیترڅی چه ترخه (آثر)

Marfat.com

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

چه نفی اثبات اظهار شه   شرمنده پرے کل کفار شه
ستا ایمان پوره خوار شه

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه کړه   محمدٌ رسول اللّٰه کړه
نه تلقین پیر ساه کړه   پوه پیدا ذکر کمراه کړه

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

ذکر واخله له کامله   چه دا چیاد دشه حاصل
ما خبر کړه ای جاهل   په تکرار باری ده ویل

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه محمدٌ رسول اللّٰه

محمدؐ پیروی خدای   چه ما بیای لَب سرای
مقهر کړه محشه وای   د اکلیمه د ا سفر بیای

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه محمدٌ رسول اللّٰه

زبنده عبد تکبیر یم   لی حساب پر تقصیر یم
گنه کار ستر حد کثیر یم   خو مقر پدا لقصیر یم

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

Marfat.com

بیاض

د دولسمې صدۍ (سنه ۱۲ هـ) په آخر کښې د ضلع مردان په علاقه صوابۍ کښې یو رنګین بیان صوفي او رومانوي شاعر تیر شوی دی. چې د دغه دور د نازک خیالۍ شاعرانو په صف کښې اوچت مقام لري. د دې شاعر تخلص بیاض وو.

د ده پوره نوم محمد بیاض دی. د صوابۍ په زیده نومې کلي کښې اوسیده. او په قام جدون وو. د خپل قوم خپل کلي او خپل قام قبیلې په حقله پخپله وائي:

مسافر محمد بیاض سره څه نشته — په نخاس که ئې خرڅوې سرې د رنا [illegible]
بې له غمه د هوس نشته بیاض — پس له دې د په زیده کښې تمام سبز شه
د بیاض تاوې رنځ چه د زړه ملي شه — ځواني [illegible] آنګلا [illegible] د زیده
د خپل یار په مینه سرښندلاه بیاض — [illegible]
که پوښتنه څوک زما د نسب کا نن — زه په [illegible]

د جدون علاقې ته په مقامي لهجه کښې "ګلاهار" وائي. ګلاهار نومې قوم د زیده [illegible] نومې ...... او د اباخیل نومې علاقې سره په شمال مشرقي پلو آباد [illegible] نومې قبیلې سره پیوست شمال مشرق طرف ته آباد دي. او [illegible] حصه خلق د [illegible] او اباخیلو په منځ کښې هم راغلي دي او آباد شوي دي. اګر چه [illegible]

Marfat.com

چه زیباسے نه محمد بیاض پخپله راغلے دے - که پلار ئې راغلے وه - لیکن غالب گمان دا دے
چه دے پخپله راغلے وه - لکه چه د دے شعر نه ئې قیاس کیدے شي - وائي ۔ سه

د بیاض که خدائے تعالیٰ نصیب وي پیدا کړم   دا خطره په زړه به ځي د پلار زیارت له

بیاض په خپل یو شعر کښې د زیباسے د دیوخان ذکر کوي چه اشرف خان نوم ئې وه.
دغه اشرف خان د زیباسے د موجوده خانانو مشر ئې او لوئې کورنئ مشرنیکه تیر
شویدے - اوس ورسته هم په زیده کښې د دغه کورنئ د خانخیلو خاني ده - د دے نه
معلومیږي چه د بیاض د دغه خان اشرف خان سره تعلق وه - او د لوډیني عالم په
حیثیت ئې دلته کښې اوسیده - لکه چه وائي - بیا په آخر کښې په غم خفقان د زیباسے نه
تلے وے - سه

چه بیاض د بیتانه سر و پا وا نسست   غم کا یله ته د کشمیره دا خبر له وه
چه تونده ورلیږلې پاره افسوس کاندي   چه بیاض د اشرف خانه مرور له وه

د یو شعر نه ئې دا هم معلومیږي چه د دغه نه دوستو ته مودو په پښتونو کښې هم
اوسیدلے دے - او بیا په آخري عمر کښې دکن ته ورلیږلے شوے دے - وائي ۔ سه

د بیاض ناره په دے به ناله مراني   که آشنو که ناڼه بیا په پښتونو کښې

د دغه په ویرونه یا نظمونه کښې د "پردیسي" او "مسافر" لفظونه راغلي دي.
د وطن او د وطن د یارانو د بیلتانه سوزناک په ملے او شدرونه ئې ویلي دي - او هسې دے
پردیسي توب د ده په شعرونو کښې د دردناکئ او سوز تاثیر پیدا کړے دے - د
نمونے په طور دا یو شعر ئې لوستلا شو وائي - سه

که غواړے چه بیا ووینې د خپل یارانو   د بیاض دعا سلام ورته وسته وائي

دا هم معلومیږي چه بیاض زیات زوړ عمر خاوند وه - که څه هم په ویرو کښې شعرونو
کښې ئې د خپل پیریانه یو توب ذکر کړے دے - لیکن سره د دغه سپین یو توب په

Marfat.com

اشعارو او غزلو کښې ئې د ومره د حد په څېر نه شوخي او رنګيني موجوده ده چې يو خوا ته د عبرت او نصيحت مضمون وي او بل خوا ته د پښتو ژبې د محاورو او لطيف طرز د بيان نادره نمونه وي. لکه چې د خپل سپين ږيري توب او د حقله څومره په رنګينۍ سره وائي :-

غابښ ونلي، هيټه ملا، سترګې تاريکې — بياض نه نکلي پيئې کړې سوال د خوږې که
سپينه ږيره بياض خوله غواړي ږيره — ملامت په چې يار نه ځې وائي عالم ځکه

بې پيرۍ کښې د بياض [illegible] ډېره شوه
شعره لمبه د عشق په ورکه [illegible] شو

او د شوخۍ او رنګينۍ په باب کښې دا لا څه يو څو شعرونه [illegible] ګټلو دي. چې څومره ډېره بې ساختګي او رواني پکښې موجوده ده. د بياض [illegible] شعرونه په معروضاتي چې د سادګۍ، رنګينۍ او سرچوښۍ په ميدان کښې د يو منفرد او امتيازي حيثيت لري. عام طور سره په شعرونو کښې د بې ساختګۍ او سادګۍ جوهر نه ډېر د قدر په سترګه کتلې شي. او بياض په دې ميدان کښې ښه قوت لري. د نمونې په طور سره دا يو څو شعرونه ئې د رو مطلو [illegible] :-

ما بياض [illegible] چې يار خپه [illegible]
لکه آينه [illegible] ماته بيه په [illegible] شوه

چې ترې آخر چرې خوله وچوله تريو که — يار په خوله [illegible]
سوړ ئې ننشي په ديدن خوله ورنږدې کړه — د بياض [illegible] د مخ په [illegible]

بياض په خپلو څو اشعارو کښې صرف د عبدالرحمن او عبدالحميد مهمند ذکر کړی لکه چې وائي :-

چې رحمن عبدالحميد کړو سره ګوړ کښې — سنه مضمون ونه په [illegible] کوم شاعر شي

Marfat.com

او بیا په دې دواړو کښې په خصوصیت سره د عبدالحمید د شاعرۍ نه زیات متأثر معلومیږي. او د حمید د کتهو غزلونو د جواب لیکلو نه علاوه د حمید په ترکیب بند باندې یې یو جوابي ترکیب بند لیکلی دے. او د جواب لیکلو حق یې ښه ادا کړے دے. چه یو څو بنده د نمونې په طور دلته درج کوو:-

نن به شپه زما د یار په کوم مقام وي — لکه میاشت به د ښکاره په کوم یو بام وي
تماشګیر به یې ولړ نه خاص و عام وي — هر سړے به یې د سرو سترګو غلام وي
دواړه لاس به یې ایښي چاته په سلام وي — خوب خندا له سترګو یې به پرې حرام وي

ولې نه چوي زمانه ځه له چیره غمه
چه لا بیل کړې جدا له ښیل همدمه

چه زړه غوږ وے د یار د غوږ آواز شه — د غم تند دے د زړه په غوږه ساز شه
په اولس باندې ښکاره زما پټ راز شه — باغ ورید په خندا ورته غماز شه
ولې یار سره دے پاتې راز د ناز شه — لکه باز د رنه په کومه خوا پرواز شه

ګرم غونه یم چه دار ټک له غمه غونږم
لکه شمع په خوله پټه په اور سوزم

له هیبته په دا غم ے دار خطا دے — دار خطا په خطا نه دے په ربښتیا دے
له غماز سره یې تللے چه آشنا دے — د بېلتون غشي برزړه خوږے ما دے
غرق په وینو کښې یې زړه لکه لالا دے — هر سړے وائي چه یار له ما جدا دے

آخیستے له درده نه شم ساه په زوره
بېلتون ویشتے په څکیریم حال یې ګوره

بیا هم د څو کلو د میاں صاحب محمد عمر علیه الرحمة مرید دے او په کلهو شعرونو کښې یې د دې خبرې ته اشاره کړې ده. لکه چه وائي:- سه

Marfat.com

ستا زما تر منځه ورک فساد که چا   په صاحب د څمکنو را مددت نه دے

زهٔ بیاض خاصه غلام د میا صاحبؒ یم

دامن گیرے په دُنیا هم په قیامت

په زیارت د میا صاحبؒ چه دا غزل لاړ   د پیر تعظیم تسلیم پکښے د ښکلے بیاضه

که دُعا د طفیل صاحبؒ له تا سره وی

دے بیاضه رنګینه به طفیل دیوان کړے

خو چه نوم د میا عمر صاحبؒ څمکنی واخلی   هغه لوړ ته زهٔ بیاض لاس په سلام یم

غم به نه وینی بیاض تر مرګه پورے

چه مرید د میاں صاحبؒ څمکنی شهٔ

چه خلوت له شم باله په هغه درځ   میا صاحب د څمکنی زما ربیار شهٔ

هر کله چه میاں صاحب محمد عمر د څمکنو علیه الرحمة په قول د کاظم خان شیدا، او د میاں محمد سعید بازګل اود ملا دادین سره په سنه کښے وفات شوے دے او بیاض په دغه پوره شعر لیکے والی چه :-

مرید د میاں صاحبؒ څمکنی شهٔ

نو دے شعرونه د بیاض زمانه معلومیدے شی . چه د سنه د آخرنه څخه سره دے . دغه شان بیاض کښے یوه قصیده او دوه مخمسونه کښے د میاں صاحب محمد عمر د کشری ور میاں محمد موسی د مشری ځوئ چه میاں محمد سعید بازګل نوم ئے وو . دے بازګل د وفات مرثیه او قطعه د تاریخ ئے لیکلی ده چه بازګل په سنه کښے په حق رسیدلے دے . لکه چه والی سه

په سنه ونرا ودره سوه دا عم دد

ورځ د اتوار او شه قدر شپا پهم دد

Marfat.com

بېلتانه چه راپېښ کړي دا ورځم دی
ځانته په زړه کښې د غم کله دزغم دی
بازګل جي د جانانه په آس سوري ځي

ورته ښه معلومېږي چه بياض د سنه ۱۲۰۰ نه روسته هم ژوندي وو. حضرت ميا صاحب عليه الرحمة د نقشبنديه طريقې پير طريقت وو. هر کله چه بياض د مياں صاحب مريد وو. ظاهره ده چه د ذکر او فکر او سلوک منزلونه به ئې د دې طريقې د تعليم مطابق وهلي وي - او د اخيره دوه د اشعارونه هم معلومېږي. چه بياض د دې لارې ښه سواره وو. لکه چه وائي :-

چه باز د لاهوت کښې تيزه شي
په سيمين مخ بازنه ځان خوږ د زلفو دام کړه
که طلب کوې د يار پاسه بياضه
بس د نيمو شپو نه خوب په ټاکرو کړه

د بياض د اشعارو نه دا هم معلومېږي چه اولاد ئې نه درلود پاتې شوي او په دې باب کښې ئې د معرفت وئيلي دي لکه چه وائي :-

چه پرې ... مابعد د ... اوکړي بيا
څوک به ... د ... ميراث ...
د بياض شوک ... خو د خيرات ...
... پاتې شي ميراث
کښته کوڅه ... مطلع نه د دوه
بېرته خونه د بياض شو له ميراث

معلومه ده چه بياض بېرته وطن ته راغلي ... البته د

Marfat.com

راننه ئے شعرونو نه دده پردیسي توب او دده د زړه د غمونو د ډېرو حال معلومیږي شي- او چونکه د سپین ږیرتوب په عمر کښې به مسافري ډېره سخته ښکاره دے- چه دے وجه زیاته ممکنه ده چه هم رنګه پاتے شوے وي. ښه شعرونه ئے دادي:

یو له ملکه ئے بیاځي او ښارونه لا پرځه
بل ئے حکم پیاد کور په نزینو ځکه

د فلانکي ښکلي په تورو بے ګناهه — چه خونه د بیاځي تالا غریب شوه
د خپل کور قدر به هله درله نه شي — د بیاځي په خبر کړے یار به پردیسي شي

توره به پره کړه بیاځي په وطن سپینه
د خپل یار د جوړه تي ځانګ ئے سخن شوه

انس و جن ملائک هم په پرده امین که — که بیاځي په پردیسي ماچه نیلي نه شوه
بیلتانه کړه ستر د امیان عمرونه بیاځه — نه لیدلے شه نه ځانګه نشته نه پاتې شه

مګر دا خبره داسے ده چه د ښځ له مخه په دے هیڅ بحث نه دے کړے چه بیاځي زیده نه راغے که په دکن کښې پاتے شه. ځکه په بیاځي د سپین ږیرتوب د عمر سوال کړے شے او د دے نه چه هیڅ پښتون ادیب او شاعر به خپله دنیا کښې پاتے شو نه کړي- لکه چه دادي دے

د هر نه بیاځي چه له ځول لا مرګ د ځانه
پردیسي بیاځي دے هم په کښې پاتے له

د لته د نمونے په طور د بیاځي یو دوه غزلونه او د یا بیاځي درج کوو دے

غزل

سحر دارا نه آواز د کړه بلبلې — چه په لوټه کړه ډوب د ماد باغ یار ځي
لوے شه ولے رانه پاسیږے بیاکښېنه — د غم زړه د مه ے د کښېني په کنډ

بیا به هیڅ رے زهٔ اوبه وایم تا ته — چه ته بد ګڼړے د خولے په راکولو
لا هوسه په مجلس کښے مے نه رونړه که — چه مے ښکنځلے چرے راشی بے ویلو
جدائی راغله په ما دیار لسه لوړی — د ناړه سترګے چه مے سرے دی په ژړلو
په خپل یار پسے به ځی قلندر کیږی — چه بیاض غواړی رخصت د پردو خپلو

پس له دے به د بیاض د زړهٔ رضا کړم
چه د مخ صفت مے کاندی په غزلو

چه په سپین رخسار د تورو زلفو دام به دی — عاشقان به ورته سر ږکښے مدام به دی
خوله په خوله چه نخانے د دریږی یار ته — مجنون به لب په لب سره په جام به دی
د بڼو غشی چه نه ول را باندے خلاص کا — یار هاله لیندهٔ د ورو ځو به آرام به دی
چه دیدن د دنیا ئستهٔ ئی به کورهوی — سترګے د خوږ چه په بله خوا به کام به دی
چه مے خاوره کړه خپل ځان ستا په کوڅه کښے — په تندی مے قدمونه خاص و عام به دی

راشه دړشه د هر چا په تشه خوله شی
بیاض لاس په سر د یاسه د سلام به دی

رُباعیات

چه ظلم پرېشی دلاسه کمه شی — که ورځ کږه دی هغه به سمه شی
چه پیرنانان شی پیرملکان شی — سه غرګوره د ناړه له غمه شی

سترګے مے سپینے په پیر کا تهٔ شوے
هیڅ نهٔ پوهیږم چه یاره څهٔ شوے
نه ما خبر دے تر اوس وانخیست
چه چرته یو ځے کهٔ ته اوده شوے

Marfat.com

نه ځيږدي چا په ځان پورې دي ولې هغه به تل د مزه وي
يار آشنا واړه برابره دي څوک د اسباب وي څوک د پوزو وي

بيګاه په خوب کښې مې ورته ژړلي دي
چې مې نو وه کسي په مېلستلي دي
چې را پېرتائ شوم له خوبه نو به
نه مې ياران وو نه مې لېلي دي

Marfat.com

محمد یوسف

داوخت د يو قلمي کتاب زړه نسخه زما د وړاندې ده - چه د مختلفو پښتنو شاعرانو د کلام انتخاب په کښې درج دے - په دے انتخاب کښې درج لطفونه د ميان محمد عمرؒ د چمکني د ځوئ عبيدالله ميان ګل درج دي اشعارو سره يو نظم د محمد يوسف مناجات دے - چه محمد اسلم ځوئ د ملا نظر ابراهيم ساکن سياه چوئ په ۱۲۳۳ھ کښې قلمي کړے دے. ټول ۱۰۸ يوسفي آته شعرونه دي. د مخمس په طرز دے - او د تقطيع په وزن ډير دوډ بيتونه روستي د آيت شريف دا الفاظ دي:-

وَقِنَا رَبَّنَا عَذَابَ النَّارِ

دننه دے نظم د اول سر او د روستو سره يو څو بندونه درج کوو:

الٰهي دستا کرم دے ډير بسيار ... زه غر کوره يمه ګنهګار
بے عمل يم خوار و زار ... په محشر کښې مے ته مکړه شرمسار

وقنا ربنا عذاب النار

اوس زاري کوم وتا ته ... ما يو دم مه پريږده ما ته
درست مے وشکوے وتا ته ... زما بنده خدايه حيا نه

وقنا ربنا عذاب النار

Marfat.com

په آخر کښې وائي :-

زه دې ستا په کرم دیا ېم — هم به تا ته پېرو پېش اېم
ستا په امر پېښې لاړم — له بدې دې بل پېر غواړم

وقنا ربنا عذاب النار

اُستادان مشائخ دا ړه — مور و پلار عزیزان دا ړه
شاګردان یاران کل دا ړه — په رحمة کښې شې ولغاړه

وقنا ربنا عذاب النار

په بېکسۍ د پښیمانو — په خوارۍ د اسیرانو
په زارۍ د فقیرانو — په ښنه شمار کړې لمخاصانو

وقنا ربنا عذاب النار

یوسف تاوته ژلېږي — ستا له قهره ډېر ویرېږي
له دوزخه ډېر تښتېږي — په بار بار رحمت د مېږي

وقنا ربنا عذاب النار

یوسف څوک او د ده حال پوره نه دې معلوم. البته دومره ښکلې شرح هر کله د ده د امنا جات په دې قلمي کتاب کښې د حبیب الله میا نځا رضا بیاتو نسره یو ځای انتخاب شوې ده نو په دې وجه ... چه یوسف د میاں محمد عمر د چمکنو په مریدانو کښې شمار دې. او د دې سې صدې یو روحاني عالم او شاعر دې. او زیاتره ممکنه ده چه دا ده اخوند محمد یوسف وي چه د میاں محمد عمر د یوبل مرید دادین د قول مطابق د لوئ احمد شاه بابا د سره دستنګ قلعه په جنګ کښې ملګرې وو. دا دین وائي :-

Marfat.com

بل وَتَهٔ ولی اخوند ملا یوسف وو
ریاضت ته سے شیطان په تأسف وو

د دادین د دے بیان نه معلومیږی چه اخوند محمد یوسف د ولایت او بزرګئ مرتبه لرله او په درجه ډاو تادو کښے دو - بله خبره دا چه دے ملا وو - چه د یوسف د مناجات په دے مصرع غور اوکړو :-

ع " شاګردان یاران کل داره "

نو د دادین د دے قول تصدیق کیږی - چه اخوند محمد یوسف ملا وو او دینی علمونو درس به ئے ورکولو - او دا مناجات هم د دے اخوند وَتَهٔ - ولی ملا محمد یوسف دے چه دادین ذکر کړے دے -

دادین وائی چه ملا محمد یوسف په قام ډرانے وو - او په ځمکنو کښے اوسیدو - لکه چه وائی :- سه

دا قصه د ډرانی ملا یوسف ده
دا ارمان په ډُوړ وږُ په تأسف ده
ده وئیل چه یو آشنا زما قدیم وو
باشنده جلال آباد کښے لګحیم وو
خکه کله په ...ته زما دین له
د دین له پیښه پیا په غیبل وطن له
ملاقات په ځمکنو زما ده وو
تل به دے کلی کښے وایم چه له ده

هر کله چه احمد شاه ابدالی نهرات فتح کولو د پاره روان شهٔ نو میان صاحب د ځمکنو په خپلو خاصو مریدانو کښے مخلوص مریدان چه هر یو

Marfat.com

په مرثیه د اوتادو کښې دوه درسره لیږلی دي - چه نومونه ئې دا دي :-

(۱) اخوند محمد اکرم - (۲) اخوند جان محمد درانے -

(۳) اخوند ملا محمد یوسف درانے - (۴) عبیدالله میاں کل -

د ملا محمد یوسف نور کلام په لاس نه دے راغلے - او د دے موجوده مناجات نه د ده د شاعرۍ د درجے اندازه لګول په ښه ډول ممکن نه دي - کیدے شي چه نور کلام ئې زیات بلیغ وي -

Marfat.com

حافظ محمدؒ

حافظ محمد خوی د مولانا دوست خان په تمام محمدزی پښتون دے۔ په ډیر مشهور کلی عمرزی او سید و غنی وو۔ او په حافظ جی صاحب مشهور ... قادریه طریقے پیر طریقت او روحانی پیشوا وو۔ زیارت ئے په عمرزو کښے ... د ... بابا جی صاحب د قوم رهبری ... حافظ محمد شعیبؒ مرید وو۔ او ... حافظ جی صاحبؒ مرید وو۔

حافظ محمد د بونیر د پښتو ژبے مونږ کلی د مشهور بزرګ شیخ حافظ محمد صدیق صاحب علیه الرحمة نه په قادریه طریقه کښے لاس نیوه کړے وه۔ او د هغه خلیفه او ماذون وو۔ هر کله چه حافظ الپورےؒ هم د پښتو ژبے د صاحبؒ خلیفه او مرید وو۔ او حافظ الپورے د میاں عمر چمکنی په مرثیه لیکلے ده۔ او میاں عمر د چمکنو په ۱۱۹۷ھ کښے وفات شوے دے۔ نو په دے حساب دا ثابت شو چه حافظ محمد د ۱۲۰۰ھ د دورسته زمانے یو مشهور دینی عالم صوفی او د پښتو ژبے شاعر ... شیخ تیر شوے دے۔

د محمد زو د ... نوے زاد کالو په کندی کښے په ۱۳۲۶ھ کښے یو قلمی (نیغے یا ... الکلیم اشعار) په معتبر سړی لیدلے ده چه د حافظ جی صاحب د زمانے بلکه د هغه عمر ... دوه ... دیناد ... چه ... کړے وه۔ چه حافظ جی صاحب په مرګ ...

Marfat.com

سپین سپیره وو. سره وینښته ئې وو. چه د ننګر په برابرې لږ څان وینښته کم وو. چه د مسافرئ نه راغئ. د څوانئ په عمر کښې وو چه د کلي په غاړه په ویرګو سره (چرته چه اوس ئې زیارت دے) وظیفه په ئې کوله. نقادر په ئې په مخ را خور کړے وو. د ښځو نه به ئې مخ پټ ساتلو. په زوره زوره به ئې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ویله. دومره به چه په تنو لکړو کښې مال ساتلو. تیوس او لیدلو ته ورتللو. څه موده پس ئې بیا لنګر شروع کړو. درس به ئې ورکولو. د دغه معتبر سړي د وینا مطابق د تیمور شاه په زمانه کښې په حق رسیدلے دے. ځکه چه تیمور شاه په سنه ۱۲۰۰ه کښې په حق رسیدلے دے نو ویلے شو چه د سنه ۱۲۰۰ه او سنه ۱۲۰۷ه په منځ زمانه کښې وفات شوے دے۔

حافظ محمد د علم فقه د مشهور کتاب مستخلص الحقایق شرح کنز الدقایق اشعار و شرح لیکلې ده. چه دیباچه ئې په دے الفاظو شروع کړې ده:

"الحمد لله استعانة ما نحمده و یحمده جمیع خلقه کما یحب ربنا و یرضاه ... اما بعد فیقول العبد الفقیر حافظ محمد بن ملا د ... خان غفر الله له ولوالدیه ..."

دا کتاب په سنه ۱۲۸۸ه کښې د محمد فضیل په وینا سره د شیر ... په ... د پېښور ښهر په مطبع مصطفائي کښې چاپ شوے دے. ... ...

عه په ... د حضرت میاں حافظ حضرت شاه صاحب د ... مردان د تخت دیوان ... په ... کښې ... حافظ سید احمد صاحب د کوټې ... ته ... نقل ... شمس الدین صاحب لیکلې ده. د دغه ... د ... چه حضرت شاه و ... حافظ محمد صدیق ... شاه ... په سنه ۱۲۱۵ه کښې ژوندے وو. ... د حافظ محمد زمانه د (سنه ۱۳۰۰ه) د بار لسمې صدئ هجري ابتدا ... ده.

(... العلیم اثر)

Marfat.com

دی۔ د دے کتاب یوه نسخه په نمبر ۱۲۲ع مولوی محمّد عثمان مرحوم د فضل آباد په کتب خانه کښے موجوده ده۔ چه دا چاپ شوے نسخے هم اوس نایابے دی۔ دا د چاپ شوے نسخے تصحیح مولوی عین الله ځوئ د عبد الله لغمانی کړے ده۔ عین الله د پیښور پیښه را وسیده ؤ تلے وو۔ او د عربی علمونو فاضل عالم او شاعر وو۔ دا عین الله د حافظ محمّد د کتاب په آخر چه په کومو الفاظو سره تعریف لیکی۔ د هغے نه د دے کتاب اهمیّت ښه معلومیدے شی۔

عین الله لیکی:۔ نحمد الله الموفق المعین و نصلّی علے رسوله محمد الامین لیس والیٰ دا امید وار د خدائے د رحمة عین الله ځوئ د عبد الله لغمانی هرکله چه اشعار مستخلص الحقایق گران وو۔ او د هغے د پښتو ځایونو حل کول او پیر المستلو ته طالبان حاجتمند وو۔ او د دے اشعارو کمزے شرحے موجود دے ؤ چه یوه په نسخے کښے شرح د فاضل کامل حافظ محمّد د عمرزی قدّس الله سرّهٗ و رفع قدرهٗ ده۔ د حافظ صاحب ټول متعلّقات اصولاً یعنے د طریقے پیران۔ او فروع یعنے د سلسلے مریدان۔ خصوصاً د مریدانو په سلسله کښے هغه کسان یا کس چه لوئ ولایت او رښتو وس کرامتونه لری۔ او د سوات په صاحبؒ مشهور دے۔ خدائے تعالیٰ دے د دغه د سوات صاحب د نبی صلے الله علیه وسلم د شریعت په لار روان لری۔ او د حضرت محمّد مصطفےٰ په طریقه دے ټینګ اوساتی۔

مګر د مستخلص دا ابیاتو نورے شرحے داسے وے چه ځنے د پرهے په کار نه راتللے۔ او ځنے په طبیعت باندے بار پریوتلے۔ نو ما په دوئ کښے د حضرت حافظ صاحب شرح غوره کړه۔ او چه څو مره مے وس کیدهٔ تصحیح مے اوکړه۔ او د عربی شعرونو فارسی ترجمه مے هم اوکړله۔ چه طالبانو ته آسانه شی۔

دا کتاب چه د عین الله په تصحیح سره چاپ شوے دے۔ د دے په حاشیه

Marfat.com

ړې د هغو عربي شعر په پښتو شعر کښې منظومه ترجمه ده. دا پښتو شعرونه
چاپ شوي کتاب په حاشیه باندې بل ځای په پښتو رسم الخط کښې لیکلي دي
رباعیات ټول په شمیره غلط شپېته دي لیکن د چاپ شوي کتاب په حاشیه
ندې د قلمي رباعیاتو د ملاحظې نه دا اندازه لګي کیږي چې دا پښتو رباعیات
یا دي.

هم د دغه مولوي عثمان په کتب خانه کښې د حضرت حافظجي صاحب د کتاب
یو بله قلمي نسخه هم شته ده. چې د دې کتب خانې ۱۸۲/۱۵۳ نمبر دی. دا نسخه
ناقصه ده. د ۲۷×۴/۱۶ سانتي پوښتو پاڼسېره ده. چې په ادنا قسم کشمیري کاغذ
کښې او معمولي فارسي رسم الخط نستعلیق کښې لیکلې شوې ده. په هره صفحه
کښې ۱۳ کرښې دي. او کوم رباعیات چې د چاپ شوي کتاب په حاشیه په قلم
لیکلې شوې دي. هغه رباعیات د دې قلمي نسخې په متن کښې د هغو عربي شعر
شرح په آخر کښې لیکلي شوي دي. د دې ناقص قلمي نسخې په دغه برخه پاڼو کښې دا
رباعیات کل اوه درج دي. لیکن د دې نه د دوه [illegible] معلومېږي.

(۱) یوه دا چې دا رباعیات هم د حافظ محمد صاحب کلام دی. او په دې شان سره
حافظجي صاحبؒ د عمر نه هم د پښتو ژبې ادیب او شاعر وو.

(۲) بله خبره دا چې عین الله لغماني دا حضرت کتاب د [illegible]
معلومه نه ده چې [illegible] او [illegible] د دې چاپ [illegible]
بله قلمي نسخه هم موجوده [illegible]
لیکلي دي. رباعیات دا دي:

(۱)

نور روښان دې لکه وو په هغه شان　　　　خ.شوکه [illegible] نابینایان

Marfat.com

شهد حقه رنگ خوا بزه عجب شیرین دی   که پرست نه پو هیږی څه شو تلخ دهان

نا امید شو د مسکی د تشنګی نه   چه خبر نه شی په بحر بې پایان

لکه څوک چه وی د ننه په تیاره کښې   تو یې کم نه شه د آفتاب ماو تابان

حال حیرت سره چه دی یکتا نه دی

که پوهه نه پو هیږی څه شو منطقیان

(۲)

نا محتاج یې بې پروا سوته کړې هم زاری   رد د بلاؤ کړې نشته ما سره تیاری

کړې مې تحمل محتاج په د بلاؤ کښې کریم ته   شکر دې محمد ﷺ دې کړی د ده منت باری

(۳)

ثابت په همیشه دا یمه چه فوت یې دی د سر نه   آه فریاد کوم چه دې زیاد دې بلشرونه

مختصې یې باقی ګویا په لاس شپنکی خاتونه   ځکه د فراق او منکې ځی په رخسارونه

(۴)

نقل د منکو تو له سروتی د عزت ... یو   رحمت دی نمایاره په نهدیه ... ولویو

بیاو ماته چه که سختی وه هر کیده دیره   نه چه منت بار شم د ناکس غنت جولیو

(۵)

یا جزاد نیکو به دار یی چه ... اهم   رب رحیم که رحم په ما وکړه ثنا وایم

یا مسن د بس چه له امره یې وانه ږي   خود په نا دو سر و پښیمان په اویلایم

(۶)

نه دو هیڅ پاره ... قت پنځه قصد و کړم   زړګی وته وایه چه تن بیوبه و ته څه کړم

مراد خو د نیکو دی ده ... کوم له غیره شره   پیغمبر به شوی د ماته وایه کوم عذر به زه وکړم

(۷)

Marfat.com

قصه مې کړېده د قیس په طلب ټاېم
به مدام د نورو ډېرو طلب خواه یم
کوندوی په سر د [illegible] چې مې وموم
د هغه [illegible] ذی [illegible] نوا یم

(۸)

هسې ګروه به موږ [illegible] دی عالمه
چې قتال و [illegible] په [illegible]
دائم [illegible] ملت
نه په داځه ګردن [illegible] قبلته [illegible]

(۹)

و بنیان چې پېزوانی شي ګرځېدلی دی
سر که [illegible] په قدم کېږدی دی
کم [illegible] د [illegible]
[illegible] قبله [illegible] دی

(۱۰)

تسبیح [illegible] برابر دی [illegible] غم کښې
[illegible] په [illegible]
[illegible] که [illegible] شي غم به کم شي
[illegible] کم کښې

(۱۱)

عبادت که په اخلاص کړې د بارئ
په عقبی کښې [illegible] تیاری
چې حاجیان په عرفات [illegible] شي زاری
[illegible] الله تعالی د [illegible]

(۱۲)

پس افسوس دے په [illegible]
چې عمر [illegible] عقل [illegible]
هم [illegible] چې [illegible] په جنګ کښې [illegible]
[illegible]

(۱۳)

په هر وقت چې [illegible] علم شي [illegible]
خلق شي ورته [illegible]
[illegible] ورته شي پیش [illegible]
په قوت د بازو د [illegible]

(۱۴)

Marfat.com

مکړه تلوار صبر عشق دے په هر کار | وکړه تکیه ټینګه په رحمة د کردګار
نه ده هیڅ ستا نه هم جنت به د ګنهګار شي | او سه منتظر حکم د الله القهار

(۱۵)

نن اطوار د کرم بوسه کل زما ښکاره ده
باطن یعنې چه د خلقو پنهانه ده
نه ده زړه په صافۍ کښې نه بې ګوهره
ته اخلاق ظاهر د خلق ورته ښکاره ده

Marfat.com

امیرخان

ماله د نظمونو یوه پښتو انۍ مجموعه په لاس راغلې ده چې په هغې کښې د اخون کډا- عبدالکبیر- امیرخان- علي خان- بي بي کلې مناجاتونه درج دي او کله چې اخون کډا په سنه ۱۱۶۰ھ، عبدالکبیر په سنه ۱۱۶۱ھ، علي خان په ۱۱۸۱ھ، او بي بي کله په سنه ۱۱۰۰ھ زمانه پورې تعلق لري- نو په قیاس سره ویلې شو چې امیرخان هم د دغه زمانې یعنې د سنه ۱۱۰۰ھ نه تر سنه ۱۱۸۰ھ د زمانې یو دور شاعر دے.

د دے یو مناجات نه بغیر مترنم ورځ د امیرخان نور څه شعرونه زما به نظر نه دي راغلي. او نه مې په هیڅ یو تذکره او تاریخ کښې څه ذکر شته.

د پښتو اکاډمۍ پېښور چې اوس اوس د انډیا آفس لایبریرۍ لندن نه د دیوان امیر کومه نسخه راغوښتلې او د هغې نقل یې آخستے دے ... مسوّده په تفصیل سره ملاحظه کړې ده- د هغې نه معلومه شوه چې د امیر پوره نوم امیرخان دے- په اصل د جلال آباد وو- لیکن د ده پلار د احمد شاه ابدالي په زمانه کښې د وادۍ پېښور د هشتنغر علاقې شیرپاؤ نومې کلي ته راغلے وو- او تر سنه ۱۲۶۱ھ پورې ژوندے وو- پلار یې په شب شنبه ۲۴ شوال سنه ۱۲۴۷ھ کښې وفات شوے وو- او هم په شیرپاؤ کښې ښخ شوے دے.

Marfat.com

صوړے په سنه ۱۲۴۶ھ کښې وفات شوے وه. دا سے معلومیږی چه دا امیرخان موړ پلار تر ډیرے زمانے ژوندی او دا اوږد عمر خاوندان وو. ځکه چه په قول دامیرخان. دا میرخان پوه ښځه چه دده د عبدالرحمان نومے ځوئ موړ وه. ۱۰ ماه رمضان شب جمعه په سنه ۱۲۰۶ کښې په حق رسیدلے وه. او دوه دبل مور ځوئ غلام جیلانی مور هم په ۱۰ شوال شب یکشنبه سنه ۱۲۰۶ھ کښې په حق رسیدلے وه. یوه لوړه وه ستوره نومے په سنه ۱۲۴۸ھ کښې حق رسیدلے وه. دا غلام جیلانی په قادریه طریقه کښې د عمرزو د حافظ محمد صاحب علیه الرحمة مرید وو. غلام جیلانی په وخت د چاشت ۲۰ ربیع الثانی بروز جمعه سنه ۱۲۶۰ کښې په حق رسیدلے دے. امیرخان په خپله هم د قادریه طریقے سره تعلق لری. او دغه وجه په بعض شعرونو کښې خپل نوم امیرجیلانی لیکی. لکه چه وائی:-

سپینه کوګے دے خاوړے مشه

دا زه امیرجیلانی دا دُعا کومه

امیرخان په قام علی زے او په علی زو کښې حسن خیل مهمند دے. په جلاآ او لا لیوره کښې ئے رونړه عزیزان وو چه د هغوئ په فراق کښې ئے ډیرے درد ناکے مرثئے ویلے دی. د رحمة الله خان د هشتنغر. دخپل ځوئ غلام جیلانی او د خپل نړه د ځوئ غلام حسن خان د جلال آباد او لعل پوره په فراق کښې ئے چه کوم شعرونه ویلی دی هغه په خصوصیت سره ډیر درد ناک دی. دیوان د مخمس په یو بند کښې وائی:-

نه به وکړو لوتر بله مونږ خندا | نه به کینو په مجلس کښې سره بیا
نه به بیا شورو غ په یوه خوا په خوا | نه به وُوائی په ډکه خوله دا دا

نه به راشی بیا په بیرته حسن جان

نه به دا د مرګ آواز بیا په دروغ شی

Marfat.com

نه به راتلشی له هنده محمود خان

نه به نرخم بیا زما د خاطر دوغ شی — نه به غبن زما تر غوږو لے بنه دوغ شی

نه به بیا خوارهٔ زما د نصیب دوغ شی — نه به د داد مرګ آواز بیا به دروغ شی

نه به راتلشی له هنده محمود خان

این عریضه عم ازجان غلام احسن خان از جلال آباد فرستاده بود :-

چه دے خط زما ته رسیږی — بنهٔ مے روح بیا پاتے کیږی

حیات ستا د سر پکار دے — مرګ شه غم محض دشوار دے

اوس به دا ختم داستان شهٔ — برخوردار شهباز کلان شهٔ

لکه ډیر منور او سه

په خدمت د پیدا او سه

این مصرعه از زبان ارجمندی ام غلام احسن خان است به بنده از جلال آباد فرستاده بود

چه ستا د مخ ستورے پنا شهٔ — لکه هلال خم په رکوع شو مه مینه

چه دے د مخ ستورے پنا شهٔ

تو به تو به شه د حسن له ډے زونده

که زهٔ خبر وے چه میلمه ئے — د حسن زو به زهٔ له تا خله راتلمه

د حسن زو په میدان را غلم — د خان حسن خالی پرانه [illegible]

د عالی خیلو سنګار ورک شهٔ — حسن سرکیبنو د لحد به تورو خاورو

که به لا لیوره کیبنے یار دے — په تیره لیمه به په سفر درپسے تلمه

یاره لا لیوره کیبنے مهٔ نه ئے — زهٔ چه کاغذ ستا درا تللو دم لیږم

چه آشنائے پکښے نشته — امیر خه کوی لا لیږم

Marfat.com

دا سې معلومېږي چه امیرخان صاحب حیثیت او شته مند سړے وو په یو
نظم کښې د غلام حسین نورے خیل نوکر د نمکحرامۍ په بیان کښې وائي چه
غلام حسین دَ امیرخان د پلار میرآخور وو۔ نو کوم سړے چه دومره شته‌من
وي چه میرآخور ساتلے شي۔ یقیناً چه هغه مالدار سړے وي۔ هغه شعرونه
دا دي:-

اے غلام حسینه ظاهر سپین په باطن توره — ته تشه کاسه ئې د معنیٰ له غوړو سپوره
ما وے میرآخور زما د پلار وے زما یار وے — ځکه د پالنے ستا مدام وم زه غم خوړو
کور زما د پلار دے آخوروان په منصوبه کړه — نه چه په بدے شوے منتفق زما له دو

وائیم زه امیر تا ته رقیب غلام حسینه
ستا د مخ بشره دې په محشر کړه الله تعالیٰ توره

د نمونے په طور یو غزل یے دلته درج کولے شي:-

ستا د زلفو خیال مې تلونے له سر نه دے — نخرے ساه لیسے له غمه بد رنه دے
لکه وي لذت دا ستا د لعلو لبو — دا لذت لا د شربت د کوثر نه دے
لکه ستا ایشر دے ښکلے پیدا شي — لا ښایست هسے د شمس و قمر نه دے
ښایسته که په جهان کښې ډیر پیدا شي — په ښایست کښې یو له نا برابر نه دے
ناصح ځکه که ترو دے ترخے خبرے — چه یې ښیلے ستا د شونډو شکر نه دے
لا پخوا تر ما خبر له هغه وا خله — چه یې تورے خاورے خولا بشر نه دے
نمو کړیوان په د واړه لاسه پاڼه کا — لا ښکري د یار له غمه بتر نه دے

مئین یار چه پکښې نه وینی په سترګو
په امیر باندے ودان هشتنګر نه دے

د جلال آباد په علاقه کښې شاه مرز مخصوص خند متکار ملازم ما نو ته و پیلے شي

Marfat.com

دغلام - مرلئ - همسایه او فقیر په طور سره -

په کومو ورځو کښې چه امیرخان په جلال آباد کښې دے - په هشنغر کښې د دهٔ څوک دوست رحمة الله نومے وفات شهٔ چه دهغه نومۓ خالص په پښتو لهجه کښې رامتولا یاد کړے دے - په لاندینو شعرونو کښې دهغه ذکر کوی :-

راغلی دی شاموزے دوئ په ما خبرو که — داد غم آوازے څه ناشایه لوئ سمرو که
نۀ په جلالاوئے یار د کوچ په هشنغرو که — یادے ترهغے دے له دُنیا چه دهٔ سفرو که
بوځئے تهٔ دستګیر چه مړکی راوستل نوخونه

بدنصیب زما نرے سکونت په جلالا کښے کۀ — یارے زما کیرتل دغمونو په قلا کښے کۀ
بے له ما آخستے لاد هجر په بلا کښې کۀ — کوچ ئې له دنیانه په داهسے واویلا کښې کۀ
راوړی که امیر ترما دخپل دین بادونه

کړم کۀ ویرد ځانۀ زۀ په سر تورے لۀ ما بنالئ — زۀ چه شوم ترے یادام تو لالحد له بیالئ
خپل پردی مے واړه داخبره سره ښنائ — یو زمان چه روغ لا په دُنیا بے یاره یالئ
اے توبه توبه شه د امیر له ذ ژوندنه

د پښتو ادب په تاریخ کښې د امیر نومے بل یو شاعر ذکر راغلے دے - والئ چه " امیر د دوهم دورے په شاعرانو کښې دا خلیږی - دهٔ په ۱۰۲۳ھ کښې د پښتو په لنهوه مثنوی کښې د قرآن عظیم په تجوید لیکلے دے - ذدے کتاب د مطالعے نه ... چه امیر په عربي علومو کښې پوهه او عالم وو - ذدهٔ د اوسیدو ... معلوم او د ژوندانه زمانۓ د ۱۰۲۳ھ څخه راروستوده - د امیر تجوید یوه کوچنئ مثنوی ده - په شعرونو کښې د ملا الف د سبک پیروئ دے - او یو متوسط شاعر ګڼل کیږی کتاب ئے په دے بیتو شروع کړے دے :-

تل ثنا وایم شکر ئې — د خداوند په نعمتونه

Marfat.com

چه قرآن ئے راستوے — په سرور باندے را غلے
چه ایمان ئے له عرفانه — مونږ ته د ښنوله قرآنه

د امیر د تجوید د اشعرو نه او د امیر خان د مناجات شعرونه چه په لاس را غلی دی او د لته لاندے درج کړے شي - په طرز او اسلوب د بیان کښې سره نژدے دی - دا ښکاره شو چه امیر او امیر خان دواړه د یو سړي نومونه دی - او په دے دلیل امیر خان د بی بی کلے همعصر نه دے بلکه د سنه ۱۰۲۰ھ د روستئ نیمائي او د سنه ۱۰۳۰ھ د اولنئ ربع نامور پښتون شاعر دے - لیکن د ښځے تفصیل له مخه چه د انډیا آفس لندن د نسخے په رڼا کښې یوه درج شو - او د دے حقیقت له مخه چه د امیر نومے کوم پښتون شاعر په سنه ۱۰۲۳ھ کښې د قرآن عظیم تجوید لیکلے دے - نو دا یقیني خبره ده چه د امیر په نوم دوه شاعران تیر شوی دی - یو په سنه ۱۰۵۰ھ خوا شا کښې چه نور هیڅ حال ئے نه دے معلوم - او دویم په سنه ۱۲۶۰ھ کښې چه پوره حال ئے درج شه - او د بی بی کلے همعصر دغه اولنے امیر خان دے - او په دے مجموعه کښې د دویم امیر خان د اخون ګدا - علی خان او عبد الکبیر په دله کښې را غلی دے - مناجات ئے دا دے:-

دوست د خدائے صمد کباره محمد ؐ — له هر چا په رب تعالیٰ ویاړه محمد ؐ
د محشر د ورځ سرداره محمد ؐ[1] — د تمام جهان مختاره محمد ؐ
غواړه ماله کړه کاره محمد ؐ

په تندی مے ګناهونه — دی پراته لکه لوئ غرونه
شته زما شه رهنمونه — و مے ژغوره[2] له بیچونه
اے د خوارو مدد ګاره محمد ؐ

---

[1] تطبیق دانډیا آفس د لندن د نسخے سره (ص ۲۳۳/۸۰۸) د محشر په ورځ سرداره محمد ؐ - غواړه ماله کړه کاره محمد ؐ ؛ اے د خدائے سره رازداره محمد ؐ -
[2] د نسخه دانډیا آفس لندن (ص ۲۳۴) و مے غواړه له بیچونه -

Marfat.com

دَعصیان په لوئ دریاب کښې — زهٔ لاهو شوم په سیلاب کښې
ته را رسه به شتاب کښې — چه ډوب نه شم په ګرداب کښې
دَقاسم ابراهیم پلاره محمدؐ

زهٔ که یمه ډیر ناکس — تهٔ همائے تر دا مګس
په تنګسه کښې ته را رسه — دهر چائے فریاد رسه
دَ تمام اُمت غمخواره محمدؐ

هیڅ ساعت را باندے شاهه — نه تیریږی بے ګناهه
ډیر دیریږم له اللهَ — د خوارانو تکیه ګاهه
اے شفیع یوم القراره محمدؐ

که هر څو زهٔ رو سیاه یم — پر عمل سپک تر ګیاه یم
خو آخر اُمتی ستا یم — هسے نه چه د بل چا یم
له ما نشے دست برداره محمدؐ

دا رنګ داوره ته له مانه — ماکړه مل له خپله ځانه
ته مے خلاص کړه له نیرانه — د همه نبیانو خانه
د مرسلو شاه سواره محمدؐ

ته په ما باندے نظر کړه — دا خراب سیم مے [illegible]
خپل قدم زما په سر کړه — تر افلاک مے بالا تر کړه
چه دے زار شم له پیزاره محمدؐ

په لویئ دے هوسیږم — زهٔ به ستا په مخ خلاصیږم
شپه په ورځ تا نه ژړیږم — لکه بید هسے لړزیږم
ډیر دیریږم له قهاره محمدؐ

Marfat.com

دتمام جهان آمینه ! دهر چا دزړهٔ تسکینه
اے د پاك الله نیازمینه راکړه ماله لاس په مینه
دبی بی فاطمے رض پلاره محمدؐ

چه قاضی شی رب پهٔ خپله ودرېږی د حساب تله
نهٔ خبر زما آ خله چه زړهٔ نه شم خوار خجله
دعاجزو باربرداره محمدؐ

د محشر په شور و شر کښې په هغه وخت دَ خطر کښې
ما لره په خپل نظر کښې خلاص ے کړه په لوئ دفتر کښې
اے دَ پاك الله مختاره محمدؐ

له خوارئ د دین دُ نیانه ته زما شه نګهبانه
اے نبی ص آخر زمانه د دوه کونو پهلوانه
اے معراج لره یادګاره محمدؐ

مخاطب په قاب قوسین ئے هم ته جد دَ حسنین ئے
هم شفیع المذنبین ئے هم بادشاه د دوه کونین ئے
ماسانه له کل آزاره محمدؐ

اے نبی ص خیر البشره اے له هر چا معتبره
د جمله مرسلو سره اے شفیع یوم الحشره
ما رد مکړه له درباره محمدؐ

په محشر ے شفاعت کړه په ما ډیر ډیر شفقت کړه
نهٔ ے شماره له خپل امت کړه هم ے خلاص له خجالت کړه
زهٔ "امیر" یم نیستګاره محمدؐ

Marfat.com

نُورُ محمّدؐ

نور محمد په قام قریشي دے او د مالاکنډ ایجنسۍ د سوات والي زي د خانخیلو د تانړے نومے کلي او سیدونکے وو۔ د میاں محمد عمر چمکني علیه الرحمة شاګرد او مرید وو۔ تر سنه ۱۲۰۰ھ پورے ژوندے وو۔ د دولسمے صدۍ هجري د دوستنے حصے یو پښتون عالم، صوفي او شاعر دے۔ چه تر دے وخته پورے د پښتنو شاعرانو په کومه تذکره یا تاریخ کښے ئے ذکر نه دے راغلے۔ البته په حیثیت د عالم او د میاں عمر چمکني د مریدۍ مسعود ګل پاسني په خپل کتاب مناقب میاں عمرؒ کښے ذکر کړیدے چه له هغے نه د ده د په علمي درجه معلومیږي۔

مسعود ګل والي چه د علاقه مردان د سال زو دهوټي نومے کلي فتح خان نومے یو قومي سردار انه دا بیان کړیدے چه په سوات کښے یو معتبر ملا وو۔ نور محمد نوم ئے وو۔ دغه نور محمد د فتح خان نه یوه ورځ دا خبره کوله

چه پیر غوث د زمانه قطب الافاق دے ۔۔۔ پیر شوے په زمین شمس الاشراق دے

شهر سوات غو سند او هند عجم عرب ۔۔۔ په دی باد کښے ئے پیاله دی ...

تتمه د خواجهاء نقشبند بیانو ۔۔۔ خاتمه د چشتیانو قادریانو

قوارلس داره طریقے ئے په کمال ی ۔۔۔ باطني کاردنه تولے ئے په اکمال دي

په ظاهر علم کښے هم بحر مواج دے ۔۔۔ فی الواقع د عالمانو د سر تاج دے

Marfat.com

دلخبرے ځائے په ځائے آوریدلے   ورځ په ورځ ورپسے نورے زیاتیدلے
ما دے پرینږده نور محمدؐ نورهوس   اول وګوره صاحب بل کار کړه پس

چه داخل په څمکنی شومه په سیمه
په هیبت شه زما زړهٔ لړزان نه بیمه

مسعود کل دانهٔ ده ښودلے چه نور محمدؐ په کومه سنه کښے څمکنو ته راغے او د میاں صاحبؒ مرید شهٔ۔ هر کله چه میاں محمد عمرؒ په سنه ۱۱۹۰ھ کښے حق رسیدلے دے۔ نو ښکاره شو چه نور محمدؐ به د دغے نه مخکښ مانه و چه د میاں صاحبؒ لیدلو له تلے وی۔

نور محمدؐ په سنه ۱۲۰۰ھ کښے د قصیدهٔ بردے په پښتو ژبه منظومه شرح لیکلے ده۔ او په آخر کښے ئے مختصر ا خپل حالات لیکلی دی۔ او ځنے تاریخی واقعاتو ته ئے اشاره کړیده۔

د نور محمدؐ دا منظومه شرح تر اوسه نهٔ ده چاپ شوے۔ په دے وجه دلته د ره بعض حصے درج کول مناسب ګنړم۔ چه ورسره ورسره به د نور محمد د شعرونو نه هم مخے ته راشی۔ د کتاب قول په مخمس نظم کښے لیکلے شویدے نمونه ئے داده۔

حمد لایق د پاک احد دے   چه بے نیازه دے صمد دے
بیا درود په محمدؐ دے   هم په آل د دهٔ بے حد دے

هر چه دهٔ په پے روان دے

محمد، اشرف په نامه وو نه   بوصیری لقب ئے شهٔ نه
د نبیؐ صفت ئے کهٔ نه   بنهٔ شهرت ته رسیدهٔ نه

دے بادشاه د مادحان دے

Marfat.com

دهٔ تمامه یوه شپه کښې | په نامه ئې تعیده کړه
چابرده کړه چا ستر ایځ کړه | الٔ ساتل ورد وظیفه کړه

تارئې دېر په هر زمان دے

دهٔ له سوزه هم له درده | دېر د عشق له آه سرده
د محبت له ښکلي ورده | چه عاشق وي کړنه زرده

دهٔ اول کړے بیان دے

نور محمد پښتو دغه کړه | په لس ورځے ئې مسوده کړه
په کال پس بیا کړه کړه | و دعا ته ئې آسره کړه

دغه عرض په قاریان دے

او د قصیدے د عربي پښتو ترجمې نمونه ئې داده:-

أَمِنْ تَذَكُّرِ جِيْرَانٍ بِذِيْ سَلَمٍ
مَزَجْتَ دَمْعًا جَرٰى مِنْ مُقْلَةٍ بِدَمٍ

چه یادیږي دے یاران د ذي سَلَمْ
اوښي وریږے دے په رڼو دي دواړه صَنَمْ
له چشمانو دے بهیږي دم په دَمْ
همیشه ته مبتلا ئې په دا غَمْ

دغه حال خو تل خاصه د عاشقان دے

او د کتاب په آخر کښې لیکي:-

دا کتاب د بوصیري دے | غږ په ژبه عربي دے
صفت کړے د نبيؐ دے | په فارسي شرح هم شوي

Marfat.com

هم افغانی کړے دیر افغان دے

دا قوت دړنه یزه جانه — بنه پښتو ده مسلمانه

ده موشره زما خانه — تر هر چاره دا آسانه

خپل ثواب د پاره دائم دائمے توان دے

نور ذره په داخار نښت دو — که ده نه زما جو هر نښت دو

د بیتونو قوت زهنت دو — د ځان مے کړے آزمینښت دو

تش دعاے په قاری بامنتاوان دے

ماویلي په دا باب دے — شرح کړے مے کتاب دے

د بیتونو جوهر نایاب دے — اختیار کړے مے ثواب دے

جوړے نه کړه که ځائے وران دے ۴۴

چه آسان کړی مے لغات دی — پوره شپږ سوه ابیات دی

د نغانے وربانده مے زیات دی — ماشمیرلی هیر کرات دی

سبه له زړه نه پرېستلي ماکمان دے

اته سوه ذرګر بنے دوے دی — هم دیرش زره نے مصرعے دی

د قصیدے ښکلي معنے دی — حساب کړے مے هوړے دی

هر یو بیت مے په معنی درنه مرجان دے

چه ما فقیر په دعایا دکا — خدائے پوره دده مراد کا

رب د اد کړدی په ده دا دکا — چه هوړے نے زړګے ښاد کا

رب په مومنه مهربان شی مهربان دے

زر دوه سوه کاله سیاره — ده هجرت کلونه شماره ۱۳۰۰ء

دا نیر شوی هو هبنیاره — چه کتاب تم شه دلداره

د قصیده کمال ثواب دے

دیرش ورځے د رمضان نبه کتاب لے

سپین د اول نه تربل د ا...

۳۳

Marfat.com

که حاجت دې په سنه د ګډ دراز دے

دا د سوات په وطن خانه   د یوسفزو په ملک کښې جانه
قصیده شوه ښه آسانه   قلم خلاص شه له بیانه

باري خدائے کړے په یادنه احسان دے

ختم تمام دے دا کلام شه   د شاعر په دا مقام شه
چه له خدایه دا انعام شه   په صفت خیر الانام شه

نور ګنهے ئے دا سود نه چه زیان دے

نور محمد بنده غریب دے   نازیدلے په حبیب د ربه
امیدوار د تقریب دے   هم شاکر په دا نصیب د

امتي د پاک رسول په تن او جان دے

که قریشي یم په نسب   پیر کامل یم په حسب
که مې حق ساز که سبب   د کرم شه ئے ترتیب

وجیب ته ئے سپارلے دا خپل ځان دے

چه مرشد مې د ارشاد دے   هم مې ئے زما اعتقاد دے
د شمکنو صاحب د مراد دے   شکر زما په دا استاد دے

وسیله مې پاک رسول ته غوث زمان دے

شاکر او سید نور محمد   مرشد او [illegible]
مکرم د ده له صمد   [illegible]

چه په شمار ئے مهذاب سبحان دے

جانشین ئے اوس پسر دے   په ائین د خپل پدر دے
متابع د پیغمبر دے   پسند کړے بن [illegible] دے

Marfat.com

هم زما سر و چشمان دے

شاګرد دے نور محمد | چه ئے شته دا معتمد
د بښو چارو په سداد | اهتمام کوی بے حد

هم د لجوئے د خوردکان دے

چه له بد و آزاده دے | په نیک امر نیک زاده دے
هم په شرع استاده دے | محمدی صاحبزاده دے

چه مرحوم تل د رحمان دے

په دوه کونه دِ آزاد وی | چه پوره ئے کل مراد وی
هر مشکل دِ ئے کشاد وی | پرے دِ عام د خښتن داد وی

دا ئے خواست په هر زمان دے

چه دلے دِ کړو پیشوا | د کهد اے د امراء
قبلوے ئے نه دعا | هورے هم ورکړے لقاء

که پیردے کہ ئے جان دے

چه له بنکلو کتاب تم شهٔ | په غلور د محرم شهٔ
په جلوس د څوار لسم شهٔ | د تیمور شاه عالم شهٔ

هم په دا تاریخ د ذات شاه دوران دے

هم شارح هم ئے کاتب شهٔ | نور محمد د دے کاسب شهٔ
په دعا د شاه طالب شهٔ | په خلف د شاه راغب شهٔ

استوار ئے په اقبال دور دوران دے

وضاحت :- چه د کتاب ختمیدلو په وخت کښے د تیمور شاه د جلوس څوارلسم

کال دی۔ او د شاه دُرّان یعنې احمد شاه ابدالي د وفات هم دا تاریخ دی۔ یعنې د هغهٔ
د وفات هم څوارلس کاله شوي وُو۔

هر کله چه نور محمّد د کتاب په سنه ۱۳۰۰ھ کښې لیکلی دے او احمد شاه ابدالي په سنه ۱۱۸۶ھ
کښې وفات شوے دے۔ نو په دغه کال د تیمور شاه د تخت نشینۍ په حساب
سنهٔ جلوس (۱۴) څوارلسم ۱۴ [illegible]۔

دلاور خان

د فقير صالح محمد غريب بن ملا مولوي آغا نه کومه قلمي نسخه چه د غه پښتو ادب په سنه ۱۲۶۰ه کښې ليکلې شوې ده - په هغې کښې د بابوجان، کريمداد، عبد الرحمن د نظمونو انتخاب نه علاوه يو نظم د دلاور خان هم دے - د ده حالات بيخي نه دي معلوم - هر کله چه صالح محمد په منګله کښې اوسېدو. نو کېدے شي چه دلاور خان د هشنغر د علاقے څوک وي.

د دلاور خان يو غزل په تعار لو روزي نومې کتاب کښې راغلے دے. ليکن د صالح محمد په مجموعه کښې د ده د کلام د انتخاب کېدو او بيا هغه هم د مشاهيرو شاعرانو په لړ کښې - د دے نه معلوميږي چه دلاور خان د دو لسمې صدۍ هجري د زمانے شاعر دے. نظم ئے دا دے:

نن مے زړه چېرې زلمون دے ... فراغت په سو مضمون دے

نن ديدن ... بيلتون دے

که بادشاه د شام و ... دے ... د مرګ پياله به ښوے

آخر به ... به ... بله لار به نۀ ... موے

نن ديدن ... بيلتون دے

که دے عمر ... خوبه ... زما لاله

لاس به د و خیژی له ماله   سرتور به د روے له عیاله

نن دین کُنډ بیلتون دے

مرګ چه دار نګے شیبے کا   څوک به څه کوړی د لے کا

خوبه زړهٔ پارے پارے کا   منګل زر په طلب کېښے کا

نن دین کُنډ بیلتون دے

اے زما مینَ جاره ده   راشه ځو تر ګور ستانه

خبر وا خلو له اشنانه   په لحد پروت دے دیرا

نن دین کُنډ بیلتون دے

که دنړه به بار بارڅ اړه   دا دنیا ګوره چه لاړه

باقی دا به لار ولاړه   په نابود جهان مهٔ دیاړه

نن دین کُنډ بیلتون دے

اے ځما مینَ وجوده   ځو یه اوسے په نابوده

غافل مشه له مقصوده   دا دنیا ګنړه معهوده

نن دین کُنډ بیلتون دے

اے زما مینَ ورورہ   نهٔ نظر وکړه د ګوره

هرچه د زړوهٔ له موره   آخر ور به شی تر ګوره

نن دین کُنډ بیلتون دے

مرګ چه تا که میلمه شی   میلمستیاے ستا ګله شی

یکایک به دے لیکه شی   چه په چل دُهمانُ دِشپه شی

نن دین کُنډ بیلتون دے

که ځوک ځان په زغره نتاړی   د مرګی به شی همتاړے

Marfat.com

سر به دې پرېږده کاشکه غاړه ش — که دې ونغاړي وا نه اوړي
تن دې دن کنډ پلټون دے

همیشه سکون اري — بېهوده مه کړه یاري
د مرګ ویره ده خواري — هم په دغه لوړ جاري
تن دې دن کنډ پلټون دے

سکه هځي مړ ما په ځان شه — چه جدا اله سو به یاران شو
د ملګي په لا [illegible] شه
[illegible]

دلاوره ویره ځان [illegible] — شته په [illegible] غم دا یما کړه
تنا ویره د سبحان کړه — [illegible] زړه سو جهان کړه
تن دې دن کنډ پلټون دے

د غزل پر شو [illegible] نه دادی به

قربان ورشي [illegible] ان زما په تا [illegible]
تا څه کوه چوله ایښه ده چه زه یې [illegible]

[illegible] زما [illegible] ده — تا [illegible] چه زه به [illegible]
[illegible] د بلا په [illegible] — تا سا په [illegible] چه [illegible]
[illegible] — ضعیف [illegible]
قسم [illegible] دلبر [illegible]
[illegible]

Marfat.com

حضرت شاه

حضرت شاه د ضلع مردان د بائيزو د علاقې د چم جوړ توت کلي اوسېدونکي وو. قرآن شريف حافظ وو. او په نقشبنديه طريقه کښې د بونير د پشونړي توت کلي د حافظ خوند محمد صديق مريد وو.

ماله د ده د اشعارو يو ټوټه پاڼړې په لاس راغلې دي چې د هغې په آخر کښې دا عبارت درج دے:

تمام شد کتاب مستطاب ديوان فضيلت پناه کمالات دستگاه حقائق و معارف آگاه حافظ جيو صاحب ساکن چړچړ طلبزه که از دست ميان شمس الدين که به تاريخ يازدهم صفر ۱۲۱۳ھ نوشته بود. به دست حافظ سيد احمد (ابن حضرت جي صاحب سيد امير عليه الرحمة) ساکن کوټه تحصيل صوابي ضلع پشاور نوشته شد بتاريخ ۲۷ شعبان ۱۳۰۹ھ.

دا کوټ پاڼړې چې ماله په لاس راغلې دي په دې باندې د صفحو نمبر د ۱۳ نه تر ۱۲۲ پورې دي. دا نه معلوميږي چې د حافظ حضرت شاه صاحب ديوان بنا يسته بنه لوئ ديوان وو چې ضائع شوے دے. دا ديوان کوم چې حافظ سيد احمد نقل کړے دے. د ۸×۱۲ سائز په عام سپين کاغذ باندې ليکلے شوے دے او په هره صفحه کښې ديارلس کرښې دي. او په دې حساب سره د ده ټول شعرونه

په شماره بانډے تقریباً خلور زره دی. چه داوخت زمونږ په لاس صرف یوسلو او نه[۱۰۷] شعرونه باقی پاتے دی عه

د حضرت شاه دردے دیوان په صفحه ۳۰۹ بانډے یو نظم دے چه په هغے کښے ئے شاه زمان بادشاه دُرانی ته دُعا کړے ده. او د دے نظم په حاشیه بانډے ورته سنه ۱۲۱۵ھ لیکلے شوے ده. د دے نه معلومیږی چه میاں شمس الدین د حضرت شاه صاحب علیه الرحمة دیوان په سنه ۱۲۱۳ھ کښے لیکلے وو. لیکن بیا وخت په وخت د حافظ حضرت شاه صاحب تازه کلام چه څه وو هغه ئے هم ورپسے درج کړے دے

روستو په یو نظم کښے د شاه شجاع د بادشاه کیدو ذکر کوی. دا نظم د دے دیوان آخرنے نظم دے چه په صفحه ۳۱۱ درج دے. هرکله چه شاه شجاع په سنه ۱۸۳۹ء کښے دلته بادشاه شوے وو نو په دے بناء دا ویلے شو چه حضرت شاه صاحب تر سنه ۱۸۳۹ء پورے ژوندے وو.

د دیوان د ختم کیدو نه روستو یو منظوم خط دے. سلاست او روانی پکښے ډیره زیاته ده. لیکن دا نه معلومیږی چه چاته ئے لیکلے دے. د کلام نمونه ئے دا ده:-

د دولت پایه بالا عمر مزید شه — د سلطان ابن سلطان ابن سلطان

په دعائے عالمان کړی جدوجهد — په طره نخر کړی خورد و کلان

اعتضاد ئے کړے اقبال ربُ الارباب — چه نازیږی ئے په داد همه سُبحان

نیکبختی ئے کړے د هرے ملکرے — سعادت ئے همقرین کړے آن په آن

موانع ئے د مقصود لاړے درک کړے — جیش ئے کړے سرے پیری فرشتگان

عه دا یا نمره مالہ و صاحبزاده اسماعیل صاحب د کوهاټ په قلمی کتب خانه کښے په لاس راغلے چه حافظ سید احمد صاحب یعنے تلی کوډنګے د نقل کړی نکے د دے دیوان د ده لیکه وو.

جلب دا رے د مهدی آخرزمان کړے | چه پرے لوټ کړی د جال غونډ بدمنان
کل غرض له دے انشاء آینه مراد دے | که رواے کړی دا د ... قبله جهان
د انشاء چه مشرنه په قبول شی | د تحسین په التفات شی نمایان
چه راغب ئے وکتو ته حاضران شی | آرزومند ئے شی د بنګلو کاتبان
په رواج به ئے خوشال اهل سنت شی | پوښتانه د ولایت د هندوستان

حضرت شاه ئے نیک قبال لحدایه غواړی
هم به والی په روزی د شه ایمان

(۲)

بادشاه د روی زمین خدیو کشور جان | خاقان ولایت ملک هندوستان
امین عهد وناضمین فتح بلاد | والی و مستولی و داور مظلومان
وارث ملک پدر بلکه پدر پدر | خلیفهٔ عالم و زینت افغان
امام لشکر دین و نظام اهل سنت | بسان جد جید می زند نقاب بدان
عبید رب و عباد و خدیم شرع رسولؐ | ظهیر ملت و دین نصیر اهل افغان
په دا دے فخر کوی اوه طبقه زمین | په سر ئے لاس ابنوی ملائکو د آسمان
خضر الیاسؑ کوی دعا په عمر دراز | عیسے روح الله د جلب کړی د ...
محمد مهدی پیشاه دین متین | لرخیله ... دو باره ...
ملجا د دهر علماء د عصر | دعا په حق ئے کوی شیخ د دوران په

شو ئے همراه دے حیات د اهل خیر و به شان
حضرت شاه مه هیروه له دعا شاه زمان (١٢١٥ھ)

(۳)

خدائ د په بری شه محمد د شه په لوری | دیر خلق له ظلمه په امان شه سنا په سوری

زه دعا کومه ملایک دې ترې آمین که — هم سپوږمۍ پیری کل زمانه سره چه چرته پیوری
لوی دې مراتب شه د شمعی نه هم لا دوېه — ستا په طالع خیژه دا اوده آسمانی ستوری
همره ګړمانی چه پا سوی شبنم له ګله — رب العالمین دې تاله صبره تا ده زغوری
تخت و تاج دې د واړه له زواله په امان شه — څو چه زائل نه دی د قرآن له پانړو توری
شپه دې خدای تعالی باعته په توبه پا ستغفار کړه — ورځ دې عشقه شه په غوږ دې کمزوری
سپوږمۍ سخاوت شه خوانمردان دې تېره تېغ شه — دوی بلا ګرځان شه ستا له خانه هم له سوری
ځبې عالمان دې خدای تعالی قوت د دوی د زړه کړه — آبه د دعا یې تل د ستا په سینه اوری
زړه د حاسد چه چه هغې ستا زوال غواړی — خوله یې د کنده لیږه شه له پیازه هم له اوری
شاهانو د واجب په رعیت باندې دعا ده — خاص په اهل فضلو بیا په ماغوندې غمخوری

ټول خلق هم دعا کړی حضرت شاه دشاه په ښه تینګې
رب دې قبول ته په نظر د فضل ګوری

(۴)

آیینه د غزنی دې ګوره فانی په لوسه ګړان دی — دا مشکل آسان دې په حصار د نقشبند
شپه و ورځ یې هر دم مشغول اکړی په طاعت دی — نه هوی فراغ لیل و نهار د نقشبند
وینې کړی اود دوی د تلقین په اشاراتو — پیدا شول عمل کوی اذکار د نقشبند
جضنت خو له دا کاره شی اسرار د خدای په فضل — دا کانی عروج سیر و رفتار د نقشبند
نقش یې باقی د خدای په حفظ له زوال وی — زړه چه مقرر شی په پرکار د نقشبند

وی به لکه تاج په سر د بادشاهانو!
ګټه دی حضرت شاه په سر یا مراد نقشبند

Marfat.com

مناجات

بدرګاه قاضي الحاجات بحضرات صاحبان نقشبند

په حرمت د راز و نیاز جان پروري   مکمل باطني هم ظاهري
خوب خصال معنوي دکم صوري   شیخ زما اخون صاحب بونیري

الٰهي زما نصیب کړې مسروري

په حرمت د راز نیاز د ده د پیر   چه و د شیخ اخون [illegible]
وو [illegible] د ده [illegible]   [illegible]

الٰهي زما نصیب [illegible] مسرور [illegible]

په حرمت د راز و نیاز د شیخ شهباز   [illegible]
هر [illegible] وو په باغ [illegible]   د ظاهر باطن [illegible]

الٰهي زما نصیب کړې مسرور [illegible]

په حرمت د راز و نیاز د شیخ حبیب   [illegible]
په نظر [illegible]   [illegible]

الٰهي زما نصیب کړې مسرور [illegible]

په حرمت د راز و نیاز د شیخ آدم   [illegible]
په درګاه الٰهي [illegible]   [illegible]

الٰهي زما نصیب [illegible]

په حرمت د راز و نیاز د شیخ احمد   [illegible]
ماهر وو په طریقه [illegible]   [illegible]

الٰهي زما نصیب [illegible]

په حرمت د راز و نیاز باقي بالله   [illegible]

Marfat.com

دا البان دې مستفید وله درګاه　　په روزګار دې خوش خرم وي مهر وماه
الهي زما نصیب کړې مسروري

په حرمت دراز و نیاز شوا جلي　　چه دې دې سنسو لیبه امکني
بې له حق چه دې نشته دلبستګي　　رغوي په آه د لهر دلو خستګي
الهي زما نصیب کړې مسروري

په حرمت دراز و نیاز درویش محمد　　چه کاوه دې په اخلاص په دې کښې کد
ځکه شه په درویشانو کښې امجد　　حق تعالی د هیر اولس کړ معتمد
الهي زما نصیب کړې مسروري

په حرمت دراز و نیاز محمد زاهد　　چه په هر نفس وو حق له ره عابد
هم د جنس حسنات وو قائد　　د محتاجو د حاجات ورته عائد
الهي زما نصیب کړې مسروري

په حرمت دراز و نیاز خواجه احرار　　چه جلي دې هم اذکار وو هم اسرار
په حیات دې فخر کړ لیل و نهار　　شمس و قمر دې آرزومند د دیدار
الهي زما نصیب کړې مسروري

نوټ:- دا نظم نامکمل په لاس راغلې دی په دې وجه نیمګړې پاتې شو.

(۶)

جهاندار ظهیر الدین بتائیدات ربانی　　زند بر سیم و زر سکه شجاع الملک درانی
بزرګواران افغانان امید از فضل حق دارم　　که از مکر بداندیشان کند اورا نګهبانی
بارث از جد محی الدین بفضل آثار عدل ګستر　　شهنشاهی بتیغ غازی ګرفت اورنګ سلطانی
سزد اورا بتهنیت ملک جلوس میمنت مانوس　　ظفر بر طاغیان دین و تدبیرات خاقانی
درین ایام نافرجام بیمن همت پاکان　　بزیر نقش خود آورد علامات سلیمانی

Marfat.com

حسد برند بدبختان جفا در زند با اهلان — چو گرفت لقمهٔ عزت ز خوان داد آسمانی
چو خس گشت زیر پالش آنکه خصم جان او بود — زهی کوتاه اندیشان زبان کاران شموانی
تبرائی نباید زانچه از سنت جماعت نیست — بزیر آنچه در ملت و شدایان مسلمانی
قضای آسمان فرمود بگیر آی خاندان شاه — برات همت شاهی به بست خود آسانی

دعای دولت باقی و نسر زجانش از آفات
ترا باید که حضرت شاه چو ورد روز و شب خوانی

تمت تمام شد کتاب دیوان حضرت شاه

او د دیوان د ختم کید لو نه روستو په صفحه ۳۱۱ باندی د الفظ لیکلی شوی دی ــــــ

په نسب خجسته ذات — په حسب والا صفاته
جسمانی شکسته حال — روحانی قوی سماته
میمون بخت شریف نژاد — فرزنده با برکاته
پښتانه مغل هند کی دی — آرزومند و ستا د عاته
صاف یقین کمر بسته کړه — د حاتم په سیر سخاته
ستا د جود له خوانه آورم — له بیلبیل شوي مخلوقاته
بی نوا حی سیر شکمه — شکنده پوره هره خواته
عکس ستا حسن نه کوری — نمونه شه له مرآته
آسمان کړي تکه طالب شه — ستا د نیک مطالعاته
شمس قمر چی زائران دی — خوښ د خپله حرکاته
خوش وقت او د خوش نسیمه — د کتاب قبله حاجاته

Marfat.com

حسنِ خُلق د خلق غافل کړ — ستا له کشف و کراماته
راهب پا سیزه طالب شه — مُستبعد له سومناته
شجره د بنده منبت دے — ثمره ئې بے نواته
مُدعی ته عاجزه یم — ستا د فضل له اثباته
تمسُّک مے دے ملګرے — له حدیثه له آیاته
اکرمُ اُمتی اتقیٰ دے — متقی مے وئ مصلیٰ ته
بې تمیزه ښځې غوا — خانقاه له خراباته
د انصاف په تله تویه — په ممتاز شی کلم زیاته
په میزان د عقل سپک شی — ....
الغرض په ذات مشغول — خواست خواسته خمس الاوقاته
تعظیمات و دعوات دی — عرض عقیب له تسلیماته
تمنا لرم مخزون شوے — یو ځل ستا له ملاقاته
مُستغنی په ملاقات شوی — د مخلوق له التفاته
حُسنِ ظن په بابا عشق ... — ستا د دین و التجاته
سامعان د خدای محفوظ که — له اتولیشته ابیاته
دا به شم د خدای په حکم — که سالم شوم له آفاته

حضرت شاه عملاج اختیار کړه
له ناصحه و مصحف سته

Marfat.com

فیض الله خان

(اخوند زاده)

فیض الله خان اخوند زاده، ځوی د محمد کریم اخوند زاده ځوی د محمد جلال اخوند زاده- په قام بټهی زائے پښتون او د اګرے د سیدو ګډی دے.

د هشتنغر د محمدزی قبیله ټول جائیداد په څلورو ویشو تقسیم دے. دغه ویشونه د دریو سینډونو جینډی. خیالی. د سردریاب تر منځه او څوارلسم ... اولو ویش ته د شیخ داؤدزی، ګواړے مرو په نوم د سردریاب او ... دواړو سینډونو تر منځه دے- چه د دغه څلورم ویش مرکزی مقام ئے اګره نومے کلے دے.

اګره د دے کلی د کوزه اګره دے نه داخوند زادګان اګره ... بیلتی. مینځ اګره دے نه د خانانو اګره والی. بره اګره دے نه د شیخانو اګره والا.

اخوند زاده فیض الله خان د دغه کوز کلی اخوند زادګان ... دے. دا کلے د جالے بیلے، کنهرا او مینځ اګرے تر منځه ... سردریاب ... دواړو سینډونو په منځ کښے په هغه لار باندے آباد دے چه د چارسدے نه په سردریاب جاله بیله، ناګمان، میاں ګوجر د لاهاک ورغلی پښور ښهر ته تللی ده. اګره د هشتنغر د نیټے نه مسابیینی په څیرمه د چارسده ضلع پښور کښے اهم او مشهور کلے دے.

Marfat.com

اخوند زاده فیض الله خان د سنه ۱۲۱۵ھ او سنه ۱۲۸۲ھ د زمانے یو لوئی روحانی بزرگ ۔ حاجی، عالم، فاضل او د پښتو ښے ښکلے شاعر دے ۔ او په نقشبندیه طریقه کښے د حضرت میاں صاحب محمد عمر علیه الرحمة د چمکنو مرید دے ۔

دا خوند زاده فیض الله خان د علم او فضل او بزرګئ ذکر او تعریف د هغه ګڼو معاصرو عالمانو او پښتنو شاعرانو کړیدے ۔ د حضرت میاں صاحب محمد عمر علیه الرحمة د چمکنو یو بل مرید مسعودګل پاسنے چه په سنه ۱۳۱۲ھ کښے ئے د میاں صاحب علیه الرحمة د مناقب یو کتاب په پښتو ژبه په نظم کښے لیکلے دے ۔ هغه دا خوند زاده فیض الله خان ذکر په دے الفاظو سره کوی ۔ ؎

دستګاه د حقایق او فیض رسان

معارف آګاه اخوند فیض الله خان

د مسعودګل د دے شعرونه د اخوند فیض الله خان د علوم ظاهری او علوم باطنی مرتبه او فضیلت په ښه شان سره سرګند یږی ۔ مسعودګل صاحب په یو بل ځائے کښے لیکی :۔ ؎

پېښور کښے یو مسجد دے ښه عیان
او بانی ئے وو نواب مهابت خان

د مسجد منزلی شیخ فیض الله وو
د غه شیخ مرد فهیم دانا آګاه وو

محمد اکرم له شیخ د انقل کاندی
کرامت د میاں صاحب زما د وها شندے

مشر ورور زما آخوند عبد الله خان
مونږ ه پاتے شو له پلاره یتیمان

بیا مسعودګل صاحب په بل ځائے کښے لیکی :۔

نقل کاندی مولنا عبد الله خان

مدرس استاذ کل دانش جهان

د مسعودګل صاحب د دے بیان نه معلومه شوه چه اخوند عبد الله خان او آخوند

Marfat.com

فیض الله خان د وارو رونړو ډېر لوئ عالمان وو - او د پېښور ښهر په محبت خان جماعت کښې ئې د دینی علمونو طالبانو ته درس ورکولو۔

د دغه استاذِ کل مولانا عبد الله خان صاحب کشر رورا خوند فیض الله خان صاحب د پښتو ژبې په ورکوټي بحر کښې د علم قرأت یو کتاب لیکلے دے چه د هغې نوم "ذخیرة القراء" دے. او د علم تجوید مسائل پکښې په نظم سره بیان شوی دی - د دے کتاب د دیباچې یو څو شعرونه دا دی:- ؎

وے ماله څه کتاب — جمع د لته کړه څه باب
له قاریانو د میکے ! — مې تحقیق کړه که باور کے
په مدینه کښې له قاریانو — له بصریانو له شامیانو
ځائے په ځائے مې کم د بیش — تحقیق کړے وو لا پیش
هم د عربو اِصطلاح — زده کړه داکړے مې اصلاح

رساله مې کړه تیاره
په پښتو د خدائے د یاره

د دے کتاب کومه قلمی نسخه چه دا وخت زما د وړاندې ده - د هغې په آخر کښې دا عبارت لیکلے دے:-

تمام شد کتاب ذخیرة القرآء بروز جمعه بوقت چاشت از دست فیض الله خان مؤلف این رساله سکنه آگره تپه هشتنگر بتاریخ یکم رمضان ۱۳۱۵ھ ۔

او دغه پورته عبارت ته لاندې په بدل خط او طرز تحریر سره دا عبارت لیکلے دے:-

" مالک کتاب مسمی عمر خطاب قوم افغان قاضی خیل ساکن شهباز گړه علاقه یوسفزائے تحصیل مردان ضلع پشاور مورخه ۱۱ مارچ ۱۸۹۳ء "

Marfat.com

د اقلمي کتاب ټول يو اويا (۷۱) مخونه دي. په اول مخ کښې يو ولس کرښې او په روستني کښې دوه کرښې. او نور په هر مخ کښې پنځلس کرښې دي. په دې حساب سره ټول يوزر يو پنځوس شعرونه دي (۱۰۵۱ شعرونه) کاغذ يې پېښاوري دويم قسم معمولي دے. سياهي يې پخه ده. خط يې عربي نسخ مکرادئي قسم دے. او د پښتو ژبې رسم الخط يې د دغه دور د عام رسم الخطونو په شان دے.

په سنه ۱۲۹۴ھ کښې د مولوي احمد د تيراهي علاقه خليل ضلع پېښاور په تصحيح سره غلام مرسلين تاجر کتب د پېښور ښهر دا کتاب چاپ کړيدے. چه دغه چاپ شوې نسخه هم اوس ناياب ده.

دلته د دے قلمي نسخې او چاپ شوې نسخې د مقابلې کولو نه پس يو څو خبرے مخے ته راځي چه د هغې وضاحت مناسب معلوميږي.

۱:- مولوي احمد د تيراهي د دے کتاب د چاپ کولو نه وړاندے چه د دے کومه تصحيح او اصلاح کړيده. د هغې په حقله د احمد بيان لوستل ضروري دي. احمد صاحب د کتاب په اول سر کښې د اخونزاده صاحب د اصل ديباچې نقل کولو نه روستو ليکي:-

د حاجي د خولے تقرير دے | خوږ له قنده په ير کثير دے
حاجي کړے ښه کتاب دے | دے جوړ کړے کوښه باب دے
حاجي خوار په دعا ياد کړه | په دين اردِ الله ښاد کړه

ليکن سعي کړه احمد
په صحت د ېښ د ضد

او بيا د کتاب په آخر کښې دغه احمد صاحب د تيراهي د دے خپل صحت او اصلاح نور وضاحت په دے شان سره کړی . . .

کتاب اصل کښې وو ساز — قاعده سره ممتاز
مصنف یې بنهٔ قابل وو — هم عالم وو فاضل وو
لیکن ما په خپل قوت — سعی وکړه په طاقت
بعض بیت په وو دراز — په پښتنې کښې وو ناساز
ما کوتاه کړه په بیت — په ما مه کوئ عبرت
که څه سهو وي له ما نه — دا دې عفوه وي له تا نه
زهٔ احمد یم عاصي ډېر — په دعاء کوئ [illegible] ډېر
تېراهي کښې سکونت کړم — هم پېښه د امامت کړم

یم په اصل کښې خلیل
وایم تا ته [illegible] دلیل

دا احمد د پوره نه بیان نه دا واضح شوه چه دا اخونزاده فیض الله خان د کتاب "ذخیرة القراء" تصحیح او اصلاح یې په پوره قوت سره کړې ده هاله یې چاپ ته ورکړی دی. د دغه اصلاح شده نسخې د دې [illegible] بحث به روسته راشي.

۲ - که د قلمي اصل نسخه چه د اوخت زما د مطالعې [illegible] ده [illegible] د کوم آخر کښې چه اخوندزاده فیض الله خان [illegible] خیل نوم لیکلی [illegible] احمد صاحب د تیراهي [illegible] د تصحیح نه سوا کتاب چاپ [illegible] هیڅ پته نه لګیږي چه ذخیرة القراء د چا تالیف دی [illegible] تحریف دوهمه [illegible] چه دا [illegible] صاحب [illegible] صاحب [illegible] نوم ذکر نه کړی. حالانکه د خپل [illegible] متعلق [illegible] تفصیل سره وضاحت کړی. چه زهٔ یم تمام خلیل [illegible] اصلاً [illegible]

پېښه لرم - په دغه پوهیږې کښې جا ئې ادلرم - او د پلار نوم یې عبدالکریم دے - لیکن د کتاب د اصل مصنف نوم صرف حاجي صاحب یاد دی - او لیکن بیشکه اخوند زاده فیض الله خان صاحب حج کړے وو - او دا خبره د دغه د کتاب د دیباچے نه معلومیږي چرته چه وائی :-

له قاریانو د مکے ے تحقیق کړه که باور کړے

په مدینه کښې له قاریانو له بصریانو له شامیانو

لیکن ورسره د حاجي صاحب نوم آخستل هم پکار وو۔

۳:- د دغه خبره چه په دغه بحث کول مناسب دی۔ دغه د احمد صاحب دا قول دے چه د حاجي صاحب د شعرونو اصلاح او تصحیح کړې وه - د قلمي نسخې سره د چاپ شوے نسخې د مقابلے نه پس دغه تصحیح نوعیت او شکل معلومیږي او د معلومیدو نه پس سړے په دے فکر کولو مجبوره شي چه آیا د پښتو ژبے د مشرانو شاعرانو او ادیبانو کوم کتابونه چه تر نن ورځ چاپ شوي دي - آیا دغه د هغه مشرانو شاعرانو خپل الفاظ دي - د هغوی خپل ترکیبونه دي - د الفاظو بندشونه لغات او محاورے د هغوی خپلے دي - که نه روستو د چاپه تصحیح سره دا کتابونه چاپ شوي دي - دغه هرڅه د تصحیح او اصلاح کونکي دي - او د کتاب د اصل مصنف الفاظ۔ لغات۔ ترکیبونه هرڅه د منځه ویستلے شوي دي۔ خصوصًا د دے کتاب ذخیرة القراء په حقله دا سوال پیدا کیدلے شي چه دا چاپ شوے کتاب تر کومه حده پورے د حاجي صاحب تالیف دے - او تر کومه حده پورے د احمد صاحب اصلاح او تصرف دے۔

د دے سوال د جواب د پاره مناسب ده چه اول د اخوندزاده صاحب اصل شعرونه د قلمي کتاب نه چه په ۱۲۱۵ھ کښې ئے په خپل لاس نقل کړیں ے تقر

Marfat.com

کړو - او بیا د پیښې د مولوي احمد صاحب د تنبیه [illegible] په ۱۲۹۳ھ کښې د [illegible]
شوے چاپ شوے نسخې نه إصلاح شوې تصحیح [illegible] - [illegible] دا مسوال به په
آسانه سره حل شي -

اخوند [illegible] الله خان :-

(۱) [illegible]

(۲) [illegible]

(۳) [illegible]

(۴) [illegible]

(۵) [illegible]

(۶) [illegible]

[illegible]

(۱) [illegible]

(۲) [illegible]

(۳) [illegible]

(۴) [illegible]

(۵) [illegible]

(۶) [illegible]

مولوي احمد صاحب [illegible]
[illegible]
صاحب [illegible] کتاب [illegible]
[illegible]

Marfat.com

(۱) تصحیح نه پس چه څرنګ چاپ شوی دی چه هغه هم ورسره درج شی نو د
دے نه به دوه فائدے په لاس راشی۔

(۲) یو دا چه د اخوند زاده صاحب علیه الرحمة د کلام زیاته نمونه به د نظر
د لوستونکو شی۔

(۳) بله دا چه د احمد صاحب د تصحیح نوعیت به ښه څرګند شی۔

د اخوند زاده نیک الله قلات د خیل لاس لیکلی قلمی نسخه :-

بسم الله حمد دے له ازله ‌‌ ثنا د یاره لم یزله
چه حامد و حمد ویلے ‌‌ پټ ښکاره دی تالیه دے
یا ئے لیس له د کونانی ‌‌ په جمله ثنا رسنالی
خاص محمد ئے ستا ویله ‌‌ زیات لا یې تے ځان ستا ره
سیاره ئے ثنا قدرت څوک ‌‌ په تمام کا استقامت
که خضا زمکه تر دلی شی ‌‌ که شجر ئے قیاس شی
ټول دی رنګ که ستانه دی ‌‌ کتابت کا جلد روان وی
هم سیاهی شی بد اوبه ‌‌ ځان زیات زلے رو د ونه
عمر عمر که تمام مشغول ‌‌ ستا ثنا به ئے نه تمام کړی
سر به سر به شی تر زبانه ‌‌ په تحقیق به شی تر زبانه
ته الله رحمٰن رحیم ئے ‌‌ هم کریم هم حلیم ئے
ته ناصر حافظ شکور ئے ‌‌ هم غافر باطن عفو ئے
ته حفیظ حسیب جلیل ئے ‌‌ لطیف مجیب جمیل ئے
ته قدیم احد عظیم ئے ‌‌ دائم حکیم صمد علیم ئے
ذات صفات ئے تب نقصانه ‌‌ له قدیم دی پاک سبحانه

Marfat.com

په جمله صفت موصوف دے — په کامل قدرت معروف دے
نشته هیڅوک ستا په شان بل — صدکن نه دي په جهان بل

په هر کون دے کې موجود
په ذات قول په سبب وجود

دا لویه شعرونه د [illegible] خطي د اصلاح او تصحیح نه پس دا شان چاپ شوي دي۔ سه

جمله حمد دے له الله — ستا د پاره لم یزله
چه حامد دے حمد بیان — پټ ښکاره دے ته تابید لے
یا به پس له دے شوک وائي — [illegible] ثنا دے ستائي
خاص مخلص دے ستا د پاره — [illegible] خدایه ستاره
کله دے صاحب قدرت شوک — په تمام کا ستا صفت شوک
که آسمان زمکے قرطاس شي — کل [illegible] تمام قیاس شي
کل ذي روح چه کاتبان شي — [illegible] دات شي
هم سیاهي شي دریابونه — [illegible]
که هم عمر تمام کړي — ستا ثنا [illegible] تمام کړي
ستا ثنا به شي ترے پاته — په تحقیق به شي [illegible]
ته الله رحمن رحیم دے — هم کریم [illegible]
ته ناصر حافظ شکور دے — هم قاهر باطن غفور دے
ته قدیم احد علیم دے — هم حکیم صمد حلیم دے
هم حفیظ حسیب جلیل دے — هم عزیز مجیب جمیل دے
ذات صفات دے بے نقصانه — ته یې ذات پاک سبحانه

په جمله صفت موصوف دے | په کاملې قدرت معروف دے
نشته هیڅوک ستا په شان بل | ممکن نه دے په جهان بل
په یو کن دے کړه موجود | جهان شه د اوه وجود

مولوی احمد صاحب د تیراهی په قول کتاب گنج د اول نه تر آخره پورے هم په دغه طرز او طریقه سره اصلاح او تصحیح کړے دے۔ د آخوند زاده علیه الرحمة په شعرونو کې احمد صاحب په دغه الفاظ بدل کړی دی۔ او بیا کړه د دغه تصرف او تصحیح نه رو سمشو د شعر خپل اصلی مفهوم او د ملا په هم بدل شو شوی۔ د مثال په طور آخوند زاده علیه الرحمة د کتاب گنج آخر کې لیکی

چه ادعی خپل هم د دے کتاب | کړه ما سره ... ثواب
چه یوشو پرے ... اصله | د دے کتاب په ... فصله
ز د ده ... په لس کاله | د هجرت په ... الاله
تمام د ظهیرة الفرا شه | ... عند الله شه

مولوی احمد صاحب په دے شعرونو کښے داسې تصرف کړی دے

ادعی ختم دے کتاب | د ... ثوابه
... پورے ... اصله | شمیر پوره په ... فصله
ز د ده سره ... لس کاله | د هجرت ... لا اله
تمام د ظهیرة الفرا شه | ... عند الله شه

مولوی احمد صاحب د تیراهی په اصل کتاب کښے چه په دغه شان سره کوم تصرف کړے دے او په ځینو ځایونو کې د تصحیح نوم ایښے دے۔ ... حد په دے ځای نه تصحیح ډیر مناسب دی۔ په دے ځای کې د ... ضرورت نشته۔ ... چه احمد صاحب په خپله نیک او عالم سړے دے۔ ... د

Marfat.com

هرځای چې په نکټ نېټه سره کړې دي. لېکن زما دا خيال دے چې دا حسن صاحب عليه
الرحمة کم دا تصحيح نه وه کړے نو بيا به وه. لکه چې د مثال په طور دا قران
صاحب عليه الرحمة په دا ډول شعر

[illegible] له ارته   [illegible] پوره [illegible] پېژله

کښې [illegible] [illegible] [illegible] لفظ [illegible]
[illegible] دواړه [illegible] وه [illegible] د حسن صاحب په [illegible] کړي شوي [illegible]

[illegible] له اوره   [illegible] د [illegible] پېژله

کښې وجه نه لري. دغه شان [illegible] کښې هر [illegible]
[illegible] چې په هر [illegible] [illegible]
[illegible] عليه الرحمة په ځېنو اصلي شعرونو کښې [illegible]
[illegible] تصحيح کړي شي [illegible] ابيات [illegible]
صاحب عليه الرحمة [illegible] صاحب په [illegible]
[illegible] کړي [illegible] دغه زما خيال دے [illegible]
[illegible] او تصحيح چې دغه [illegible] الفاظ [illegible]
[illegible] معنے او مفهوم [illegible] ختم کړي [illegible] هر [illegible]
کښې نېټې سره وي شايد چې [illegible]

د بلې چېستان [illegible] کښې [illegible]
عالم [illegible] [illegible] [illegible]
نه يو څو شعرونه نقل کړي دي

هر چې ما وکړه له سوزه د [illegible]   دغه [illegible]
دغه هيڅ نو بيت دا الره نه دے   چې په [illegible]

Marfat.com

ولیکن پر ځائے روا د ضرورت دی — چه تعریف ئے کړم وهم چا ته نما
ورمنم وړی قبول په دواړو سترګو — د ښینو خاوندانو ئے د سترګو طوطیا
دا سے نه چه د ده کم دی تصنیفونه — ده د خلوص عتابه کړی مهیّا
برکت ئے تل له ما سره همراه وو — خو چه دے له برکته دے پیدا
ما چه دا دیوان تصنیف بعون الله کړو — بولیا بل خلیفه دین دے مسمی
حلیه دین په یو کال پس شو دا ده پاتی — په تاریخ د فرنګیانو د عزا

هر چه ما دغه سلوک لیکے و یُلے
مکړے ما جان محمد نیے جدا!

حافظ جان محمد لیکی چه "نو موړی شاعر پاس په ډیرمی شعر کښے د خپل پیر نوم ښکاره کړے دے۔ چه فیض الله نوم ئے دے۔ په پنځم شعر کښے ئے ویلی دی چه دغه هم کوم جاهل سړے نه وو۔ بلکه د خلوص و تصنیفونو خاوند وو۔"

جان محمد صاحب د دغه دیوان په آخر کښے لیکی:

تمت بعون الله تعالیٰ فی یوم الخمیس وقت ضحی من ید جان محمد نسخة هذا سنه ۱۲۱۵ھ فی شهر ربیع الاول"...... در جماعت اخندزاده شیر محمد "استاذنا" در ملک بنوں ایام طالبعلمی شاګرد او بودم ...... مذهب من حنفی از نسل کاکړ و ملک من ژوب"

جان محمد صاحب چه د خپل استاذ اخوندزاده شیر محمد صاحب بنوسی ذکر کړی۔ دغه شیر محمد صاحب هم د حضرت میاں صاحب عمر علیه الرحمة د چمکنو مرید او خلیفه وو۔ شیر محمد صاحب یو لوی فقهی او اصولی عالم تیر شوی دے او په خپل وخت کښے د سلسله نقشبندیه پیر وو۔ جان محمد

Marfat.com

به دده سره په بنوړ کښې ډیره وه او علم سره ئې ما صنولو نو دده ځکه نه دا خیال
پیدا کیږی چه جان محمد به د علم حاصلولو په دے سلسله کښے په بنوړ کښے
اوسیدلے وی او د اخوند زاده فیض الله خان نه به ئے علوم ظاهری او باطنی حاصل
کړی وی. ځکه چه د حضرت میاں عمر علیه الرحمة په مریدانو کښې دغه لوړه
مرتبه ده. مشهوره کلی چه په کومو القابو یاد شوے دے فیض الله خان [illegible]
کړے دے. دستگاه د حقایق و معارف دستگاه او فیض [illegible] یاده وی. او د
حضرت میاں صاحب محمد عمر رحمة الله علیه په ټول مریدانو اخوند محمد اکرم او
فیض الله خان صاحب د شیخ په لقب یاده وی چه د تحفه د مصنف هم په قول
تائید کیږی. دا دواړه خبرے د اخوند زاده فیض الله خان صاحب د مرتبه
د کمال او فضیلت او درجه د عرفان او طریقت د پاره وزن داره دلیل کید [illegible]
او د دے نه د دغه خیال تائید کیږی چه جان محمد کاکړ چه کوم فیض الله خان
یاد وی هغه هم دغه اخوند زاده فیض الله خان صاحب علیه الرحمة دے.

اخوند محمد اکرم په خپله هم د حضرت میاں صاحب محمد عمر علیه الرحمة
په مریدانو کښې د ولایت او عرفان درجه لری. دا ئې په سفری چه [illegible]
کښې د حضرت میاں صاحب محمد عمر علیه الرحمة د مناقبو کوم تحفه [illegible]
په هغه کښې والی چه اخوند محمد اکرم علیه الرحمة د اوتادو په [illegible]
ابدال. نقبار د تصوف په اصطلاح کښې د هغو کسانو د ولایت او بزرګۍ [illegible]
او مرتبې نمونه دی. احمد شاه ابدالی علیه الرحمة چه د حضرت نه ئې اجازت اخستلو او
په لاره کښې د مستقبل نوے قلا ئې ځما مرو سے اوړله. د دے د پاره د بیان په سلسله
کښې داسې وائی هه سے

هک حیران شه احمد شاه په دغه کار کښې　　　بل پرے [illegible] په دند [illegible] کښې

قلعه ئې چه پورته ژي له پسماته
نيت ئې وکړ په سنته بيا ئې جوړاته

بيا ئې دے عجب پښتون غيرت ښودے
نه پرېږدم زه د عالم هيسے ناوړے

اوس ئې وقف کړه چه [illegible] تا دوه
نام په نام ئې [illegible] مستحکم چه [illegible]

پوله دننه اخوند کرم [illegible] دي سپره
بل اخوند جان محمد په دين غيره

بل وڅه ولي اخوند [illegible] په [illegible]
رياضت ئې شيطان په تاسته وو

لمونځ [illegible] قاسم [illegible]
زه نه شيم اکثر حکم د کل دے

تا پيدا د [illegible] په کار شم زده
زه [illegible] د [illegible] په [illegible] زده

[illegible] د ولايت [illegible] په [illegible] بيان [illegible] اخوند زاده
فيض الله خان صاحب عليه الرحمة د شيخ په [illegible] ؤ د تصوف په اصطلاح
[illegible] شيخ [illegible] د [illegible] فضيلت [illegible] او [illegible]
مقام [illegible] په [illegible] قبيلو
[illegible] او [illegible] په [illegible] الله [illegible] اعتقاد
[illegible]

[illegible] حقيقت [illegible] چه [illegible] چه [illegible]
[illegible] فيض الله صاحب [illegible] اخوند زاده فيض الله خان
[illegible] اخوند زاده صاحب [illegible]
[illegible] زمونږ [illegible]
[illegible] د [illegible] ضرور [illegible]
[illegible] ضرورت دے

عبیدالله میاں کل

عبیدالله میاں کل د حضرت میاں صاحب محمد عمرؒ د چمکنو منځوے ځوی چه د ۹۵ کالو نه څو زیات عمر کښې په ۱۲۳۳ھ کښې په مقام چمکنو کښې وفات شوے دے۔ د وفات د تاریخ ماده د لفظ "غزیان" دے۔ په دے حساب د ولادت زمانه ئے ۱۱۳۸ھ خواؤ شا متعین کولے شی۔ لیکن په دے سلسله کښې نور تحقیق ته هم ضرورت پاتې دے۔ د حضرت میاں صاحب محمد عمرؒ چمکنی درگاه ته چه د مشرقی دروازے نه مخامخ ادلته قبر د عبیدالله میاں کل دے۔ دویم قبر د دوئ د مشر ورور محمدی صاحبزاده دے او دریم هم چه د حضرت میاں صاحب څنګ مزار مبارک دے۔

میاں صاحب محمد عمرؒ په خپل تالیف تمیم الانعام کښې د دواړو ځویانو یادګیرے دے فرمائی:

عبیدالله

چنانچه دغه عبیدالله صاحب روستو په خپل اشعارو کښې خپل تخلص میاں کل راوړے دے۔ البته په څو غزلو قصیدو او مثنوی کښې عبیدالله او احمدی هم تخلص کوی۔ د دوئ بے شماره تالیفات دی۔ یو اهم تالیف ئے د اردو قصو مجموعه ده چه تقریباً پر اته نیم زره شعرونو باندے مشتمل ده۔ په دے کتاب باندے به بحث روستو راشی۔

Marfat.com

ډکو جړو کړهۍ د مشهور بزرګ حضرت ابوبکر میاں صاحب علیه الرحمة (متوفی سنه ۱۳۰۹ھ) کومه قلمي نسخه چه دا وخت زما وړاندې ده. په هغې کښې د عبیدالله میاں ګل دا درې نظمونه هم انتخاب کړي شوي دي:-

ـه

ته توفیق د نیکۍ ره کړې زما ربه ‌ ‌ ‌ له بدۍ مې بله خوا کړې زما ربه

نفس شیطان هم په ګډه هر درنګ اخیستی ‌ ‌ ‌ ته مې خلاص له دې بلا کړې زما ربه

مونګه ژبه مې ګویا کړې په خپل ذکر ‌ ‌ ‌ فکر نږدې له مې عطا کړې زما ربه

آموخته دے زما نفس په غیر و چارو ‌ ‌ ‌ له هغه مې مخ په دا کړې زما ربه

هدایت توفیق له تا غواړم عاجز یم ‌ ‌ ‌ ته خپل یاد مې مشغولا کړې زما ربه

زړه مې صبر کړې له بد زهیر خواب شوم ‌ ‌ ‌ نیک عمل راکښې پیدا کړې زما ربه

درکوه زه دُنیا او دین پرې آخلم ‌ ‌ ‌ که مې جوړه دا سودا کړې زما ربه

دم قدم زما د شرعې په لار بیایه ‌ ‌ ‌ له غیر لوړې شا په شا کړې زما ربه

په قیامت مې پرده پوش د کل بد مې شه ‌ ‌ ‌ ته زما ژړا خندا کړې زما ربه

بد عمل مې تر نظره پورې سپک کړې ‌ ‌ ‌ نیک عمل نصیب زما کړې زما ربه

په جفا د خلقو صبر له تا غواړم ‌ ‌ ‌ دا تور تم په ما رڼا کړې زما ربه

بد نظر د سترګو لرې لیستم کوښي ته ‌ ‌ ‌ په اخلاص تل ما رها کړې زما ربه

په دې ژبې زه په بند یم درکړې ‌ ‌ ‌ ته ترې خلاص مانند صبا کړې زما ربه

لاس له بده نه زما اوس زر کوتاه کړې ‌ ‌ ‌ دا غنچه د مراد مې وا کړې زما ربه

زړه خوله لاس مې دا په سم کړې د نیکۍ ته ‌ ‌ ‌ په خپل یاد مې پر ضیا کړې زما ربه

زما خوب کړې بیداري چه له غم خلاص شم ‌ ‌ ‌ ته خپل یاد زما آشنا کړې زما ربه

هر نفس چه آخلم خپل نوم مې ته بل کړه ‌ ‌ ‌ زما کار هر دم ثنا کړې زما ربه

Marfat.com

زما ژبه له دروغ ویلو بند کړه　　په رښتیا ما تل ګویا کړې زما ربه
پښې مې وتړې دبد ځای ته وردتلو ته　　له بد ائیو مې جدا کړې زما ربه
هرڅه ته اوسنا حبیبؐ پاندې راضي دی　　هغه کار هميش زما کړې زما ربه
دحضرتؐ په روئ دا هر سوال مې قبول کړه　　خپل کرم مې رهنما کړې زما ربه
ما میاں ګل روئ دحبیب تا له راغلی
چې مې عفوه کل خطا کړې زما ربه

(۲)

نفس شیطان چاپیر له مادي یا حضرت الغیاث
غلمان د دین زما دي یا حضرت الغیاث

دوئ مانه پرېږدي طاعت نه عبادت ته
والپسې صبا بیګاه دي یا حضرت الغیاث

شرمخان عزت داواړه په ما که د خارښ غاړه
ډېر بې شرم بې حیادي یا حضرت الغیاث

غم زما په زړګي پېر دې په هر وخت را چاپېر دی
اوس خبرې د ژړادي یا حضرت الغیاث

شیطان ګوري مې ایمان ته نفس دځان لو نقصان ته
په ما روئ دوئ لګیادي یا حضرت الغیاث　　یا په سینه عبادت نشو

تو دعا تیر زه ګنا هګار یم د عمل له لاسه خوار یم
اوس عرضونه مې په تادي یا حضرت الغیاث

نور عالم خندا هوس کا ما له غم او ژړا نس کا
تل په خوله مې دا وینا دي یا حضرت الغیاث

Marfat.com

ستا د ویرانه نه خپل ځان ژاړم هر مطلب له تا نه غواړم
غلیمان یې هغه دادی یا حضرت الغیاث

ته زما دا خواست قبول کړه ته زما د زړه دا نول کړه
له تا لاړه څوک به نو ادی یا حضرت الغیاث

خپل صورت زما ښکاره شه چه په ځان زما لګیا شه
چه په مادی هم لمادی یا حضرت الغیاث

زه په تبسمت ترسره نه ځلا شیم همیشه په غم کړیږم
را لیږه سر په غوغا دی یا حضرت الغیاث

دونه راکاږی ما ښکاره ته څو رنځوی مې د غم د چاړه
د بدیو په مځه عادی یا حضرت الغیاث

بې له تا نه ښېرم اشره څوک چه مقصود مې کړي پوره څوک
په تا پېښ داړه رسوادی یا حضرت الغیاث

د بدیو پنډ کاندی ما ته ماو باسی د بلا شته
لایق د اوره د سزا دی یا حضرت الغیاث

زه شو مستا په آتره هست یم ستا لمن مدام په دییم
دوی زما یا غذا عادی یا حضرت الغیاث

که غور سستاله سوری نه وی په ژړا مې زړه چوی
دین ایمان مې پرې تالا دی یا حضرت الغیاث

په محنت وقت دې نه کړې کیفه کړه مې بنا د کړې په دین نه کیفه
نور یې سخته خیر په مادی یا حضرت الغیاث

میاګل ستا مرید اوس یاد دې پیر په دا تا فضل بنا دې
ننګ او شرم مې د دا یې ستا دی یا حضرت الغیاث

Marfat.com

۳

په بلا کښې گرفتار یم یا حضرت را کړه لاس — ستا د مهر امیدوار یم یا حضرت را کړه لاس

را پیښه د غم هیر دے زړه مے ټکه ټکه په وینو دے — شپه او ورځ په غیره لاړ یم یا حضرت را کړه لاس

پاس کتے نشم له شرمه مړ که شوی را باندې کړه — زیات تر حده گناهګار یم یا حضرت را کړه لاس

هیڅ مے خوند د عمل نشته ځه د ورځې مے مل نشته — خالی هسک لکه چنار یم یا حضرت را کړه لاس

آخره نه لرم بے تا نه که وکړے عالیشانه — ډېر خراب عاجز او خوار یم یا حضرت را کړه لاس

توکل مے نه پرېږدی وځان ته چې کړی نقصانه

پریوتلے زه ورد دیوار یم یا حضرت الغیاث

په توبو همیشه سریم تل د غم خاورے په سریم — زه هر څو ډېر ناپکار یم یا حضرت را کړه لاس

په بد خوئی زما دوزخ دے د شیطان زړه په ما خوږ دے — زه په خپل گناه اقرار یم یا حضرت را کړه لاس

تل د غم په اور د خوبیم هم په سر مغرور و مغلوب یم — زه په وینه که آزار یم یا حضرت را کړه لاس

د غم بار مے پریوتلے بے تا نے خوک شی هسک تر کړی — منت بار د ستا په بار یم یا حضرت را کړه لاس

چه زه په بد امانه شی واړه ستیر دی را ځی خوی

زه له واړه توبه گار یم یا حضرت را کړه لاس

نفس شیطان له ما چاپیره دی له تا م نور کړل هیر دی — زه په منځ کښې د حصار یم یا حضرت را کړه لاس

مهر ستانه دا بود نے گناه د ورځې جارو دے — گرفتار په سخته آزار یم یا حضرت را کړه

ما خپل ځان تا ته سپارلے ما ایمان تا ته سپارلے — زه په خپل کار ... را کړه لاس

په مبارک کلی مهر ستا د بی د خدای په عطا لوله

د رکیدو نے وار په وار یم یا حضرت را کړه لاس

د عبید الله میاں گل د مثنوی نمونه دا ده۔ په خپل کتاب هدنت پېغه کښې وائی۔۔

دیوانونه د فارسی د پښتو ډېر دی — چه یاران یې شپه په ورځ چاپېره دی

Marfat.com

د عبدالرحمٰن دیوان د خوشحال خان وو
داشرف د خلیفهؒ د بابو جان دو

د سکندر د دولت مرزا دارز آنی دو
د صدر د کاظم خان چه لا ثانی وو

د عبدالحمید دیوان هم پروت حاضر دو
چه مشتاق ورته په هر ساعت ناظر وو

هم دا رنګ د مصری خان د علی خان وو
د صدیق دیوان څرګند چه په بیان وو

هم دا رنګ د قلندر د خیرالدین وو
د حاجی محسن اوبل د صدرالدین وو

د یونس دیوان هم پروت په ښه عنوان وو
د یوانونو سره پروت هم په دا شان دو

د کامګار خټک دیوان په ښه ترتیب وو
په مجلس کښې حاضر پروت ورته قریب دو

د فاضل دیوان چه هر غزل ئې نر دے
په مجلس کښې چه حاضر د عشق له درد د

څه به ئې شمیرم دیوانونه په دا شان
له حد زیات دی چه ئې راوړم په بیان

یو غزل ئې هم له دغه هفت پیکر نه دلته نقل کولے شی.

محتاج مې کړو ستا کوسه جنګ دے
چه مې زړهٔ لکه لاله په وینو رنګ دے

ستا د غم لښکرې راغلې ناګهانه
د زړهٔ غزلې کښې به ځائے نشی چه تنګ دے

مرګ به هر چا باندې راشی یو ځل تیروی
زما مرګ به جدائی کښې ستا هر درنګ دے

سره لمبه شه راته مخ هر لور د مزکې
هغه یار چه دا ساعت له ما په څنګ دے

چه ستا مخ ئې ولیدو زړهٔ به مې ځی چرته
سلامت له شمعې کله لاهو پتنګ دے

عه د خان خوشحال خان خټک لمسیٔ عبدالقادر خان خټک په خلیفه صاحب مشهور وو. ځکه چه د حضرت شیخ سعدی لاهوری علیه الرحمة نه په نقشبندیه طریقه کښې خلیفه او ماذون وو. او په سهروردیه طریقه کښې د خپل تره نقیب جمیل بیګ ماذون وو. چه دا جمیل بیګ صاحب د حضرت کاکا صاحبؒ مرید وو.
(اش)

هر طرف ته چه دوینو رود تر دروی　　معلومیږی خوارمینّ په زړه چرنګ دے
ستا د خټو طوق په غاړه هم په پښو کښے
غریب ناست د خال د وهے نه ستا ملنګ دے

عبید الله میاں ګل د خپل پلار محمد عمر چمکنی د وفات (سنه ۱۱۹۰ھ) نه روستو بیات وخت د خپلو نیکونو په علاقه کښے یعنے د باجوړ په جندول کښے تیر ولو۔ تر هغے چه دده مشر ورور محمدی صاحبزاده چه د خپل پلار سجاده نشین وو سنه ۱۲۲۲ھ کښے په حق اورسیده (د محمدی صاحبزاده د وفات ماده تاریخ دا جمله ده: "محمدی دخل الجنة") نو بیا عبید الله د خپل ورور په ځائ د رشد د هدایت په سجاده په چمکنو کښے کیناستو لیکن بیا هم زیات وخت به ئے جندول په معیار و کښے وو۔ او په قطب جندولی سره مشهور وو۔ د باجوړ د قیام په دوران کښے د شیخ فرید الدین عطار رحمة الله علیه د مشهوری مثنوی پند نامهٔ عطار تضمین ئے د مسدس په طور سره کړے دے۔ چه په مجموعی طور سره تقریباً دریے زره شعرونه دی

د عبید الله میاں ګل یو بل تالیف دے چه "عبرت نامه" نوم ئے دے۔ دا کتاب تر دے وخته پورے نه دے چاپ شوے۔ ددے قلمی نسخه ئے د پیښور بنهږ ریکارډ آفس کښے موجوده ده۔ چه هغه هم ناقصه ده۔ موجوده نسخه صرف (۲۰۴) مخونه لری۔ په اول سر کښے ئے څلور مخونه نشته دے۔ او آخر ئے هم ناقص دے۔ لیکن دا نه معلومیږی چه په آخر کښے ئے هم فقط دوه څلور مخونه کم دی او د کتاب د ختم کیدلو نه روستو د خاتمے آخری اشعار نه لری۔ دا کتاب په $\frac{۲۶+۲۰}{۸}$ سائز باندے لیکلے شوے دے۔ کاغذ ئے سیالکوټی او خط ئے کچه دے۔

Marfat.com

د دې کتاب ترتیب داسې دے چه په اول سر کښې حمد دے. بیا نعت دے
بیا مناجات دے. بیا د څلورو یارانو مناقب. بیا سبب د تالیف د کتاب او بیا ورپسې
د کتاب مضمون دے. کتاب د بل چا کاتب د لاس لیک دے. ولې ځائے په ځائے
چه په کښې کومې اِصلاح، ترمیم او اضافې شوې دي هغه د حضرت میاں گل صاحب
په خپل قلم دي. هرکله چه د دې کتاب نسخه ناقصه ده. په دې وجه د تالیف د تاریخ
سنه ئے په یقیني طور نه ده معلومه. البته د صفحه ۴۵ د یو شعر نه ئے داسې
معلومیږي چه دا د ده ابتدائي کلام دے او د ده د وفات د نیټې (۱۲۳۳ھ)
په مناسبت دا ویلے شو چه دا کتاب (عبرت نامه) د دوئ یو داسې تالیف دے چه
د سنه ۱۱۹۰ھ نه ئے مخکښې لیکلے دے.

لکه چه د بیانه ښه په دې خبره بحث شوے. عبید الله میاں گل
صاحب په خپلو اشعارو کښې (احمدی)، (غریب)، (میاں گل) درې واړه
تخلصونه راوړي دي. په دغه سلسله کښې د دې کتاب نه هم د یو نه درې واړه
تخلصونو اشعار په طور د مثال درج کړے شي.

(۱) د تخلص (میاں گل) مثال ئے دا دے:- (صفحه ۱۹۶)

ته حافظ ئے د ایمان شې — له بلا ئے نګهبان شې

د میاں گل دا سوال قبول کړه

ته له زړه نه ئے ورک تول کړه

(۲) د تخلص (احمدی) مثال ئے دا دے:- (صفحه ۲۳۳).

هغه زیاتې دے لرمانه — عرض کوم زۀ عالیشانه

احمدي حکایت کاندي

نه چه دے شکایت کاندي

Marfat.com

(۳) د مخمس (عقیب) مثال شه دا دی . (صفحات ۹۷۳ - ۹۶۹ - ۳۳۰ - ۲۳۰)

ما عقیب اومس دا بند دی
په دا مخمس څرګند دی

زه مان له ... [illegible] ... [illegible]
اومس ... [illegible] ... [illegible]

... [illegible]
په ... [illegible]

سلامت می ... ایمان ... [illegible] ... [illegible]
خاتمه شی په خیرت کړه ... [illegible]

په ایمان ... [illegible]
... [illegible]

... شی په آسان ... [illegible]
... عذاب ... [illegible]

... [illegible]
... [illegible]

د منکر نکیر په ... [illegible]
... [illegible]

... [illegible]
... [illegible]

... [illegible]
... [illegible]

Marfat.com

هم قرآن مے ته شفیع کړے
شفیع ما او دا رفیع کړے

هم شفیع زما حضرت دے | نه یو ځل په زر کرت دے
"محمد" چه د ده نوم دے | او د تا ته بنه معلوم دے

صلی الله علیه مدام
د درود وینئ په کلام

په حضرت بانسے تل وائی | په درود او سلام ستائی
په حرمت د انبیاؤ | په حرمت د اولیاؤ

په حرمت د چهار یارو
په حرمت ستا د رو یډارو

په حرمت ستا د دوستانو | په حرمت د محبانو
ټول د دښمنان چه ستا څه یاد کړی | په دوستئ بانده کے ستا بند آدی

دائم دا په هر ساعت
په رښتیا په هر ساعت

چه ایمان مے له خالقه | وساتے عز و جل
احمدی لاس په دعا دے | عن په دا امین دعا دے

په آخر کښے لیکی :-

شکر مراد د زړه په لاس شه
کتاب خلاص چه لاس په لاس شه

زما زړه خلاص شه له فکره | کار د زړه شه د ذکره
نیکه ستړے شه اوس پوره | چه بیغم کوم هر نور ته

Marfat.com

شرچه دوه خبرې یو که

لعغه وُرح به د زړهٔ تو که

زړهٔ د فکر سیند کښې ډوب وو | پړو بندګهٔ د ګوهر خوب وو

بنې خبرې چه ادا شي | پرې د خلق دعوس ختنا شي

صالح محمد

[illegible]

[illegible]

Marfat.com

هر ۱۰-۱۹-۳۱ شعرونو پس د تخلص راوړي. لکه د مشهور روايت [illegible] ته
بدلوي. د مقطع د شعرونو نه علاوه [illegible] په [illegible]
به [illegible] شعرونه او غزلونه [illegible] وکړي.

ملا صالح محمد په بعضو ځای [illegible] اوان [illegible] شعر
د مشهور [illegible] چاربیته [illegible] ادبي
او غالباً [illegible]
[illegible]
[illegible]

په [illegible]
په [illegible]

[illegible]
[illegible]

[illegible]
چه [illegible]

[illegible]
[illegible]

[illegible]
[illegible]

[illegible]
په [illegible]

اے ملا نصیحت تا ته وایم راشه
نهٔ د زړهٔ په خوږ و درد خبر
چه دا خپل دوست ئې و ستلیه غم مشغول که
اے ملا وهه په دعا هم لاسه سر

د خپل خدائے ثنا صفت په ژبه وایه
اے غریب ئې تل رشته د ژبې سر
اوکه ژبه د سر تیره نشي غریبه!
سېزرګي ئې یاره و تاره اکثر

نهٔ غریب په سرور نه شم له یاره
که مې کین دی په تندی باندې خنجر
د دلبر په لاس خنجر دې ورته کوه ۱
ښا غریب پکښې پېښلې خپل ټیکر

د دلبر د باغ پناه دې نه ښکاریږي
اے غریب! په دې لار ځه برابر
اے غریب! د خپل یار په باغ ورګډ شه
پکښې دو دو بویه ده ګل د دلبر

Marfat.com

څوک چه دوست ګڼي سردار د امتیانو ص
دوست دی وګڼه یاران د پیغمبر ص

ښکته رن غریب ولاړ دے ستا په در کښې
غني خدایه که دے شفیع کړے پاک سرور ع

په غریب نه فضل وکړے یوه خدایه
ځکه دان له دے چه راشي پیغمبر ص

دا قصه دے په فارسي کښې وه موله دے
پښتو کړه صالح محمد په زیر و زور

زمانه شوه د شیطان له مکره ډکه
دروغ نه وائم پرے وکړه ته باور

زه غریب ملا هر څوره ګنهګار یم
غني خدایه سالاتي مه د خیل در

Marfat.com

میر عالم خان

د باجوړ د جندول علاقے د مسکینې درے د "بوسنده" نومے کلي د میانا میاں محمد وسیم علیه الرحمة کاکا خیل (زمانه سنه ۱۲۲۴ھ / ۱۲۷۴ھ) په قلمی کتابونو کښې د علم منطق د (حمد الله) نومے کتاب په آخر کښې یوه پاڼه محفوظه کړلے شوے ده - د دے پاڼے په یو مخ په فارسی ژبه یو خط دے - او په بل مخ یو پښتو مثنوی او دوه مصره د یو غزل دے - دغه خط د خان "پیر دلا ...." د طرف نه د باجوړ مرکزی مقام "ناوګی" حاکم "میر جمال خان ته لیکلے شوے دے - د خط د سرنامے نه معلومیږی چه میر جمال خان ځوئ دے - او د خپل پلار (خان میر عالم خان) د طرف نه مونږه ته کاغذ یا لیکلے شوے دے - د دے خط په آخر کښې یو خلور کنجه مهر دے چه شکل ئے داسے دے - او سنه ۱۳۰۰ھ په کښې لیکلے شوے دے



خان میر عالم خان په قام د باجوړ تر کانړی وو - چه دا قام په تر کلانی ... ترکانړی هم نو یاد یږی - بیا د دے قام په مشهوره قبیله سلارزی کښې د ابراهیم خیل خاندان څخه وو - او دغه قبیلے ابراهیم خیل په ولسی کښې د باجوړ په نوی کلی کښې د مشران آباد وو - په سلارزی قبیله کښې ترټن ورځے

عه ... میر جمال خان بعافیت باشند

پورے ابراهیم خیل د مشرۍ او خانۍ خاندان دے۔

میر عالم خان د باجوړ په دغه ابراهیم خیل خاندان کښې بلکه په ټول ترکانړی تاریخ کښې یو مهم تاریخي شخصیت او مشهور خان تیر شوے دے چه په دے لاندینو علاقو باندے د هغه حکمراني وه۔

(۱) موجوده قبایلي علاقه باجوړ۔ (۲) موجوده ریاست دیر۔
(۳) موجوده ریاست سوات۔ (۴) سمت مشرقي افغانستان۔
(۵) د ضلع پیښور د هشتنغر او دوابے علاقه۔

ځکه چه په عزیز ولۍ کښې د دوابے ګګیاني او د باجوړ ترکاني سکه رونړه دي۔ په دے وجه په هغه زمانه د باجوړ د ترکانړی قبیلے حکمران او خان د دوابے (پیښور) د ګګیانی قبیلے هم خان ګنړلے شه۔ په دے وجه میر عالم خان به کله په (منډه مغل خیل) کښې وو۔ کله به د باجوړ په دار الحکومة ناوګۍ (ریانړی کلی) کښې وو۔ او کله به د باجوړ په مرکزي مقام (بنهړ) کښې وو او دا ټول مقامات د ده د دار الحکومتونه وو۔ او دغه خط چه پورته ئے ذکر او شه دغه ئے د دوابے نه قبیل خرۍ میر جمال خان (د باجوړ د بنهړ حاکم) ته لیږلے وو۔

د مولنا میاں محمد وسیم علیه الرحمة یو بل تاریخي خط چه میاں صاحب مرحوم په سنه ۱۲۵۴ھ مطابق سنه ۱۸۳۸ء کښې لیکلے دے او د هغے یو څو جملے دا دي:

نجیم خان پیش کار میر عالم خان برائے آوردن عیال امیر مذکور بملک دوابه ...
خبر آورده که هشتاد هزار عدد لشکر فرنګ خوب با اسباب از توپ و سلاح بقصد

عه د یوسفزی قبیلے نیکه (ملک) د ګګیانی قبیلے نیکه (ګګ) او د ترکانی قبیلے نیکه (ترک) دا درے واړه د (خښتی) اولاد دے او داؤدزی، خلیل، مهمند درے واړه د (غوری) اولاد دے۔ او خښي او غوری دواړه سکه رونړه دي۔ (انش)

"کین بجا رسیده که از حدود پشاور ست ۔ داخل گردید" [عله]

د دې خط نه هم دا معلومیږي چه د میر عالم خان دارالحکومت په هغه زمانه په هشتنغر او دوآبه کښې وو۔

د دراني خاندان د احمد شاه ابدالي او تیمور شاه په زمانه کښې میر عالم خان دا آزاد حکمران حیثیت لرلو۔ د احمد شاه ابدالي د طرف نه چه په وادي پېښور "سردار جهان خان" نومې حاکم وو د هغه او د میر عالم خان ترمینځه چه اختلاف پیښ شوی وو نو حضرت میان صاحب محمد عمر رحمة الله علیه چمکنو په خپله حضور کښې د هغې فیصله کړې وه۔ لکه چه (دادین) [عله] وائي: —

وو تعظیم نه د صاحب سردار جهان خان راغلے
که په فریاد ورته مجبور شي د نیستان راغلے

داته سردار رحمے چه راځي د ده دوره په تعظیم
نور قدموس نه یے احمد شاه دُر دُران راغلے

داغے سردار د سرداران خو په تکریم د حضور
د دوسره قسم د باجور میر عالم خان سر راغے

عله د مولانا میان محمد وسیم علیه الرحمة په د هغه خط کښې چه د دې جنګ تعداد دولس زره بیان شوي دا سے زیات ثابت شوي دے لکه چه په نورو مختلفو تاریخونو کښې چه د هغه زمانې مشهور انګریزانو و ... لیکلي دي لکه (۱) برکینهانت په افغانستان کښې (طبع بمبئ سنه ۱۸۸۰ صفحه ۳) (۳) د ... صفحه ... (۴) ... طبع لندن سنه ۱۸۴۱ صفحه ۵ د دې تاریخونو د بیان نه معلومیږي چه د دې جنګ صحیح تعداد (۵۰۴) وو (د تفصیل دپاره ملاحظه کړئ تاریخ نوائے معارک صفحه ۹۰۹) (ناشر)

عله "د حضرت میان عمر چمکني مناقب" تالیف د دادین سنه ۱۲۱۹ھ (صفحه ۸۲ و ۸۳) قلمي نسخه مکتبت د مولانا محمد یعقوب مرحوم د چمکني چه د اوخت زما سره ده۔ (ناشر افغاني)

Marfat.com

صاحب د کشف وه ورته ووے شان نه ګو پکار
شیرین الشّلي خبر آیت یو په قرآن [illegible] راغلے

عرض وکړو د ماله د بنده به وشي د صاحب په ارشاد
چه زمونږ نیت صاحب ته خود کشف د میان راغلے

مکه چه ویاند دے ذکر او شو میر عالم خان د باجوړ یو ډیر مشهور حکمران و [illegible] کینې د لوړ لوی حکمران [illegible] شوے دے [illegible] حکومت حدود [illegible] ته د پولړے پورے رسیدلی وو [illegible] خان د باجوړ په ریاست [illegible] حکمران [illegible] ۱۸۸۸ء [illegible] د مشهور حکمران خان [illegible] خان د [illegible] مشهور [illegible] شهرت په کښه راغے - دلته [illegible] ۱۹۱۸ء کښې په [illegible] [illegible] دوه ځله د باجوړ د نیولو کوشش کړے وو [illegible] نه راواپس کړے وو - او بیا ئے نظربند ساته -

په دے خاندان کښې نور هم میر عالم [illegible] تیر شوی دی - چه په ذیل ذیل [illegible] د غه غزل او مثنوی [illegible] دی -

مثنوی

تن بیا صنم شروع کړ لیبرلے په موتی لړه	[illegible]
تن بیا صنم شروع کړ لیبرلے سان د حمزه لا	رونق [illegible]
تن بیا صنم شروع کړ لیبرلے او دیل بجوړکه	بازار ئے د حور [illegible]
تن بیا صنم شروع کړ لیبرلے عالم ئے رنګ له	نرګس ئے د دوه [illegible]

Marfat.com

نن بیا صنم چمن نوے په زلفو په اوربل کړه — میوه د زنخدان نجل منزه ئے د کابل کړه
نن بیا صنم شروع که سپیرے ورک ئے خزان که — اختر ئے د وصال نسخ د هجر د رمضان که
نن بیا صنم چمن غلغوته وشکوه له حجابه
لازم ده میر عالم چه لنظر هسکه کتابه

غزل

خزان ستو بلبل ئے له فریاده نه امین که — سم قدے ئے تلنگۍ اخستله شمشاد صنوبره
بلبل ئے د گلشن له تماشو چمن موړ که — خوږ شات ئے خوږے له داوړو سا قیانه کوثره
بلبل د گلستان ئے د شغلے د نغ پتنګ که — ریحان ئے بوے نجل که له زلفانو له مجمره
بنایست د رخسار ئے سنبیسته د گل په سر که — دادلته چرته راغله د ورانۍ له قند ډمره
بنایست ئے ستو بنهه د بلبل د زړه و دا که — میخواره ئے خوږه په خود که قدم نه بود ی تر کشره
آفتاب ئے شرمنده که د مهتاب ئے له تابه
چقمق د ستر گو ئے پر لیست میر عالمه زړه

د کوچړ کړهۍ د حضرت میاں ابوبکر علیه الرحمة کومه قلمي مجموعه چه داوخت په کوچړ کړهۍ کښے د حبیب الرحمان بابا سره ده او ما ترے بنه ډیره استفاده کړې ده د هغے په آخر کښے یوه پاڼړه ده چه حاشیه ئے شلیدلے ده ـ او ډیره زیاته زړه شوے ده ـ آ خط ئے دومره کچه دے ـ املا ئے دومره غلطه ده چه ډیر وخت مے د هغے په لوستلو تیر کړو ـ په دے پاڼړه باندے هم د خان میر عالم خان یو نظم چاپ شوے دے ـ داسے معلومیږي چه کوم صاحب دغه نظم نقل کړے دے هغه د خپلے املا او خراب خط په وجه دروغ جوړ نظم او شعر ولونه نثر جوړ کړي دے ـ بیا هم هر کله چه د خپل مضمون په لحاظ سره ډیر اهمیت لري ځکه ئے سره د مختصر وضاحت درج کوم ـ

Marfat.com

دا نظم د هشتنغر د مامون زی قبیلې د یو دوه نومیالو او ننګیالو غازیانو مرثیه ده۔ چې په سنه ۱۲۳۴ھ کښې د سکهانو سره په جهاد کولو کښې شهیدان شوی دی دد غه مرثیې نه فقط دومره معلومیږی چې د هشتنغر د محمدزی قبیلې د خلقو یو لوی لښکر د جهاد د پاره تلے وو۔ او په هغې کښې (۱) یو ګل محمد نومے یو عالم او روحانی سړے۔ (۲) او دویم محمد نومے یو مشهور سړے چې د شاهئ نومے کلی خان وو۔ دوی دواړه شهیدان شوی وو۔ او د شهادت نه پس بیا راوړی شوی دی او په خپله خپله هدیره کښې دفن شوی دی۔ د دے دواړو په حقله زما معلومات دا دی چه :-

محمد :- د پېښور په ضلع کښې د خلیلو په علاقه کښې شاهئ نومے دوه کلی شته دے۔ (۱) کوزه شاهئ۔ (۲) بره شاهئ۔ لیکن په دے نظم کښې چه د شما شاهئ په نوم سره کوم یو کلے یاد شوے دے۔ دا هغه کلے دے چې د هشتنغر د شوګر په علاقه کښې د کوټ۔ ترناب۔ چینې نومے کلو سره نزدے دے۔ او د (رحیتی، شاهئ) په نوم یادیږی۔ او دغه نامور خان او شهید (محمد) هم د دغه شاهئ وو۔

ګل محمد :- په دے مرثیه کښې دویم نوم د مولنا ګل محمد شهید یاد شوے دے چه میر عالم خان ئې ډیره ستائینه کړے ده۔ د دهٔ زیارت د هشتنغر د "ډهیر" نومے کلی په نورخانه طرف نه هدیره کښې دے۔ چې تر نن ... "ګل بابا" په نوم ئې زیارت موجود دے۔ او ورسره په خوا کوټه هدیره کښې د نورو بے شمیره شهیدانو زیارتونه او قبرونه هم شته دے۔ دا سے معلومیږی چه دا نور هم په دغه غزا کښې شهیدان شوی وو۔

د خان میر عالم خان د دے نظم نه دا هم معلومیږی چه په سنه ۱۲۳۴ھ کښې چه هر کله په اول ځل سکهانو په دے علاقه حمله کړے وه او په دغه جنګ

د هغوئ سره مسلمانانو چه کوم جهاد نه کړی وو په هغو کښې دے په خپله هم شریک وو. علاوه او د هغوئ او دوآب کومو مشهورو مشهورو عالمانو او خانانو چه په دغه جهاد کښې د قوم رهنمائي او مشري کړے ده. میر عالم خان د هغه ټولو سره رابطه نرله. دا نظم چه څومره دردناکه ده. د هغې اندازه به لوستونکي پخپله اوکړے شي.

نظم دا دے:-

د غه ورځ ورله دنیا بسته وه کړه سبحان
چه د دین په ننګ ئے ځان کړلو قربان

هر یو به ئے مزے وو په میدان
پریدل به ئے له سهمه کافران

ماموں زی تیتوونه وتړل رواں شو
هر چا ئے کوښښ کو پهلوان

چه په ملک تیګي کړل ادکوی د توره
شته په لیاظ کښې دے محمد شاه خان

زنږالی به ئے له مخه هر چرے وی
هیسے د توتے ځای پرښتنه ئے لقمان

تحفه چه د غازي نه پاتے شو ګاونه
په پېرنه به راځي پرے پښتنګان

چه دنیا ئے به رښتیا وه ترکه کړے
ګل محمد شهید به وه بهتره روښان

چه د کوره شه روان زره ئے صابر که
د مولا په تنا وو نه به ئے کو بیان

د غه مرګ ئے د شهادت پیدا شو بهتره
بنځ په خپله سبیره شو زاهدان

شپے او ورځے ئے په پښه په سر کړے
روی په حقه پېژند لے وو سبحان

د منصور هسے وینا د رب په سینه
انا الحق نا ئے د هغے په هر آن

بنځ بنائے وه تحفه کړے په هوش
حرکت پرے با نې نکړونو شیطان

ل نادي پښتونه د سکهانو د راتلو ماده تاریخ د ماده ده (راغے ګرځ ۱۳۴۲ھ) او پیاده محبت سنګی د مرګ د تاریخ ماده ئے دا جمله ده (خو مرداد ۱۳۳۵ھ) - (ا، ش)

٢ وانیپ په معنیٰ ده د ټوپ قطار قطار کیدل - (ا، ش)

٣ په ملک تیګي ګډ ادکول محاوره ده چه د اتفاق معاهدے ځنبه کړے - (ا، ش)

٤ لیاظ مساوی دے لحاظ سره.

Marfat.com

پتمځی قسمته به دو ناست په جماعت کښې — دوباره نه وینم ښتره د دیدن ارمان
میرعالم فقیر له سوخته غزل وُوے — په زړهٔ کښې ئے عشق لګ وُوړی د هجران

که د دوئ په دوئ ے او بخښنے خاوند
میرعالم عاجز دے کرم تا ته حنان

د پوره تفصیل نه به معلومه شوے وی چې د خان میرعالم خان د اشعارو د اثر لږه شان حصه څو مرده په پریشانه ذریعو زما لاس ته راغلے ده. او د دے اثر مجموعه مونږ ته دا ډاډ پیدا شو چې د دے نامور خان او شیوا بیان شاعر نور اشعار به هم چرته موجود وی. چې که لټون ورپسے وشی. نو شاید چې په لاس راشی.

د مولنا میاں محمد وسیم د هغه خط نه چې مخکښې مو اقتباس ئے درج شو یئ د هغه په بنا تر سنه ... ه د خان میرعالم خان ژوندی ښکاری. د دے نه وړاندې نور حالات ئے تر دے وخته پورے په لاس نه دی راغلی.

عبدالحلیم اثر

Marfat.com

محمد خان

دشهنواز خان د یو قلمي دیوان په آخر کښې یو څو شلیدلي پاڼې ماته په لاس راغلي دي - چه په دے کښې د محمد خان یوه تاریخي چاربیته هم ده کومه چه په داسے کږه او خراب خط لیکلے شوے ده چه د ډیر کړاؤ سره مے پاسوله او دلته د صفحې یو څو شعرونه په طور د نمونے درج کوے شي.[1] دا چاربیته تاریخي اهمیت لري. په دے کښې د وادئ پېښور د ځینو مشاهیرو او روحاني مشرانو ذکر راغلے دے. د دے چاربیتے په یوه حاشیه داسے لیکلي دي: "فیض الله خان د ډاګئ زوئ د مکرم خان زوئ د مقرب خان زوئ د محمد خان." هر کله چه فیض الله خان په څلورم پشت کښې دے - او د څلورو د پشتونو د پاره یوه سلسله حساب کړے شي. نو ویلے شو. چه محمد خان د ۱۲۶۰ھ د خواؤ شا سره دے. ځکه چه فیض الله خان هم اوس د پوخ عمر دے. د ډاګئ کلے د چارسدے او چینے نوے کلو تر منځه د پوخ مړک په غاړه دے. او د محمدزي قبیلے د شونکرے د علاقے کلے دے.

محمد خان د پښتو نه بے د ورکوتي بحر په مثنوي کښې یو مناجات لري چه د حضرت غوث الاعظم شیخ محي الدین عبدالقادر جیلاني قدس سره په مناقب کښې دے. دا نظم د پښتو ژبے د مشهور کتاب رشید البیان په حاشیه باندے چاپ شوے دے.

---

[1] دا چاربیته مے په خپل کتاب کښې چه پښتو چاربیتے نوم یې دے. په صفحه کښې مے مکمله درج کړے ده. زما دغه کتاب د پښتو اکیډمي په ذریعه کښې دے. او لا چاپ شوے نه دے - (ا ق)

Marfat.com

پہ هغه کښې وائي:-

زهٔ طوطا د عمر نزد يئم — ولاړ تا ته په آرزو يم
ګل دے خوا هم له بېړتنا — دا بند د شاه ميرانه
محمد خان د ښتنا خوان دے — سختا په درولا پهيوان دے

لا س پرے کېږده نيصر سه

د بند د شاه ميرانه

د محمد خان د کوے تاریخ چار بیتے سی نه چه پوره ذکر شوه . د هغه مطلع او د مختلفو بندونو بعض شعرونه ئے درج کړئ لے شی . دا پار بینه ئ او د لس بنده د مطلع ئے داده:

دلبران که په جهان کښې نازونه دا کوي — سر د طره جیلانی

سرخطے جيلاني دے چه سنکاره په در جهان — [illegible] ورکړے دا د
پيرے جنج ے ولیسئ او د هغه بحر جهان — د بوهی پرځے کړه د
دوېم ے دورتو عزیزو جیلانی کړه عیان — بازار کښې د بغداد

[illegible] دے کړے د زړنامے سوداګر

د ستا [illegible]

بونير کښې پیر بابا چه [illegible] — [illegible]
اخون د پښتونوی [illegible] — [illegible]
[illegible] حافظ جی اخون [illegible] — [illegible] د سالما د

[illegible] که د باطن په دیروزیه

طوحلبان ے [illegible]

Marfat.com

په دې بند کښې وائي :-

د ډیلي نظام الدین صاحب ولي د حق تعالیٰ وو — ډېر دیني پرهیزګار وو

دوهم ئې کښې رند په بوخه ظاهري پېغور ګټو — د هر وطن سنګار وو

دې کښې حضرت جي صاحب د ننګ تورو تر ملا وو — په رب باندې ډېر ویا وو

مریدان د کوجرو میا شهید او میا عمر دي

پښتون پیر نوراني

د محمد خان دا دے چار بیتې نه دي د ځپله زمانه هم معلوم ښېدے شي. ځکه

نه هر څو مره جنږړ کان یاد کړې یک به ټه ئې کښې په زمانه کښې د ټولو نه دوستانو د حضرت

شیخ یحیی حضرت جي دا ټول مریدان دي. لکه میان عمر چمکني. میان شهید د میاګان

میان محمد او میان دا صاحبزادګان میان شیخ سنت د پېړانو چه دا ټول د سنه ۱۲۰۰ھ د

خوا وشا بزرګان دي او د دے نه دا اندازه کیدے شي چه محمد خان به د دوی زمانه لیدلی

وي ځکه چه د دغه بزرګانو نه د دوستو نامے د بل قوم بزرګ تو مے نه دے یاد کړے.

د محمد خان دیوان او رو چار بیتو بو څو شعرونه دادي - چه دا دواړه چار بیتې

په ۱۸۹۸ئ کښې پادري هیوز په خپل کتاب کلید افغاني کښې را وړي دي او ما هم

هغه په حواله په خپل کتاب کښې درج کړي دي. د نمونے په طور یو څو شعرونه

دادي :- دا ولني چار بیتې مطلع :-

او ښکے دے د ستر ګو په مخ څي نادانے ز نلې به شي

نه به ده پرے د تور قمیص لستونړے تار و رنګ به شي

او ښکے دے د ستر ګو په مخ څي حسن بسیار لرے

سپینې ګې موتے په کریوانه باندے قطار لرے

پر لښې دکه له دایه د پیزوان غمی آبدار لرے

Marfat.com

تُند وهي نو يونه د پيښې سره په جنګ به شي

د دې څلور بيتي مطلع او وينا:-

شين رنګين ئې واغوستل دو پټه ئې کړه په سر صنم
راغله برابر صنم

شين رنګين ئې واغوست محبوبا ګل خندان نه شوه   ورو ورو راروانه شوه
دا د ګل غنچه وه را بېرون له بوستانه شوه   ښه راښه عيانه شوه

ټوټې له حجابه راسر چند که په هنر صنم
راغله برابر صنم

Marfat.com

امیرشاه

امیرشاه په محمد علی باندې معروف وو. په اصل د کوټې او سیدونکی وو. او د سنه خیلو په جماعت کښې امام وو. بیا هندوستان ته لاړو او په مقام د لکهنو کښې ئې استوګنه اختیار کړه. په ۱۲۷۸ھ کښې څه موده په ریاست ګوالیار کښې اوسیدلے دے اولاد دې په صلیح آباد لکهنو کښې اوسیدلو. او د یونانی طب او حکمت روزګار ئې وو په کوم وخت کښې چه په ګوالیار کښې وو. (۱۲۷۸ھ) نو د کوټې د حضرت سید میر صاحب په صلاح کښې ئې یوه قصیده ویلې ده. دا قصیده میمیه یعنې شپیته شعرونه دی چه د دې نه د امیرشاه د علم و فضل اندازه لګیدلے شي. امیرشاه د دې قصیدې په آخر کښې لیکلي دي. "تمت هذه القصیدة التی فی ردیف المیم قد الفتها فی ریعان الشباب فی مقام قوالیار (ګوالیار ریاست)." د دې قصیدې د فصاحت او بلاغت په وجه زیاته حصه ئې نقل کوم. نمونه ئې داده:-

حمیدُ الاسمِ محمودُ المقامِ — عمیمُ الخُلقِ مشهورُ الانامِ

امامُ الناسِ اتقاهم هداهم — بارشادٍ و رشدٍ بالسّلامِ

نبیلٌ المعیٌّ جلَّ قدراً — دبیرٌ اریحیٌّ ذو احتشامِ

جمیلٌ صاحبُ النفسِ الزکیّة — جلیلٌ ربٌّ نفضلٍ و اعتصامِ

تشرّف بالفضائلِ والفواضلِ — من اصلابٍ واسلافٍ کرامِ

عمادُ الدینِ رکنٌ للشریعة — ضیاءُ الملّةِ البیضاءِ و حامِ

Marfat.com

وبدرٌ تمَّ فی فلكِ المعالی ــ ومصباحُ المعارف فی الظلام
فریدُ الدّهر لیس لهٗ ندیدٌ ــ وحیدُ العصر ذو الشرف الجسام
ونبراسُ الاکابر والاماجد ــ ومقیاسُ الجهابذ والعظام
وغطریفٌ وصدرٌ للفحول ــ ومرجعُ کلِّ خاصٍ والعوام
تسامی واعتلا عزاً ومجداً ــ ولا یُحصی علاه بالاقلام
هو الغوّاص فی قاموس توحید ــ ونظّام المعانی بالنظام
محیطٌ زاخرٌ تنصبُّ فیه ــ جداولُ کلّ خیرٍ والتمام
ونورُ اللهِ یبرقُ من جبینه ــ کبرقٍ او کبرقٍ فی الغمام
روائحُ نشرِه واریجُ رشدِه ــ تمیطُ الهمَّ عن قلبٍ صیامٍ
شهابٌ ثاقبٌ بدرٌ منیرٌ ــ وتاجُ العارفین ذوی المقام
ویرتعُ فی ریاض القدس والغیب ــ کانوار الربیع لدی ابتسام
لعمری ان هذا الدهر یدنوا ــ علیه بازدیادٍ [illegible] واحترام
مسمی [illegible] معروف وعظمت
[illegible] علا ذو الوسام
شهیدٌ فی الاقاصی والاداني ــ وفی الآفاق کالبدر التمام
اضاء بوجهه الاقصی والادنی ــ رفیعٌ مقام کرسی باهتمام
وان تسألنی عن خرقه هی الآن ــ بیمن دعائه [illegible]

[illegible] :
[illegible] فاقبل [illegible] ــ [illegible] بنوعٍ لا [illegible]

بیاواری :ـ
یسیلُ الدمعُ من عینی [illegible] ــ ولا [illegible] من [illegible] الازدحام

Marfat.com

فؤادی فی اضطرابٍ و احتراقٍ ... ووَجْدی دائمٌ والجفنُ دامٍ

صُروفُ الدّهرِ ترمینی بِنَبْلٍ ... فیا لله! من تلک السهامِ

بارضِ الهند قد صرتُ اسیراً ... کثیراً بالمعاصی والاثامِ

سَرَیٰ فیّ الهندُ الی فعادَ جسمی ... کعودٍ فی الشّباکةِ والقوامِ

شرابی ماءُ دمعی کلَّ وقتٍ ... وشحمُ القلبِ مطعومی ادامِ

انیسی! لو تحنّی منّی سُمیری! ... شبیهُ الغمّ ضوئی واضطرامِ

بیا وائی:-

فقم عنّی و خلِّ من سبیلی ... اُفوّضُ کلَّ خطبٍ للسّلامِ

علاجه نظرةً من ذات قدسه ... ولن أبرحْ باقداحٍ و جامِ

فادرکه الذی برحمته دارٌ ... واوطانٌ واحبابٌ فخامِ

ولا تنسوه فی اوقات خیرٍ ... بدعواتٍ لحسن الاختتامِ

انا الصّادی الی سلسال جودک ... فناول جرعةً تروی اوامِ

ایا ریح الصبا! ان جُزتِ یوماً ... الی تلک الدیارِ ذوی الاسامِ

نقف واهمل رویداً بین ایدیهِ ... وقبّل کفّهُ عن مستهامِ

وبلّغ عن قتیل الهجرِ والشّوقِ
سلاماً ختمهُ مسکُ الختامِ

دا میرشاه د کلام نورے یو څو نمونے د عبدالرحیم (دامان کوټ علاقه رزړ مردان) د حالاتو په ضمن کښے درج دی. هلته ئے وګورئ.

Marfat.com

عبدالرحیم

عبدالرحیم دامان کوټ[1] علاقه رړ (مردان) دیار لسمې صدئ هجری د آخرے حصے د پښتو ښه شاعر ادیب او عالم سړے دے - په سنه ۱۲۹۷ھ کښے ئے د ربیع الاول په پنځم تاریخ د پیر جوګهر په نوم سره د درکوټي بحر په مثنوی کښے یو نظم لیکلے دے. او د دغے نه وړاندے د سنه ۱۲۹۵ھ د صفر المظفر په نهم (۹) تاریخ ئے یو بل نظم د معفت کهیکل په نوم د درکوټي بحر په مثنوی کښے لیکلے دے - د لندن میوزیم د فهرست نه معلومیږی چه د علم قرأت د مشهور کتاب "د جزری مقدمه" عبدالرحیم په پښتو به ترجمه کړیده - او یوه نسخه ئے په لندن میوزیم کښے موجوده ده - د لندن میوزیم په فهرست کښے یوه دا هم

مم چه "نصیحت البیان" نومے یو پښتو منظوم کتاب هم د عبدالرحیم تالیف دے - او پنځ ګوهر نومے مثنوی، میرشاه نومے شاعر نظم کړے ده - لمړی برخه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم شمائل دی - او دویمه برخه ئے په عقائدو کښے ده؟

لیکن حقیقت دا نه دے - بلکه د لندن میوزیم فهرست لیکونکی ته غلط شوے ده - او د دغے وجه دا ده چه د امیرشاه او عبدالرحیم دواړو مثنوی نظمونه د درکوټي کتاب په حاشیه باندے لیکلی شوی دی - چه د دغے کتاب نوم "نصیحت البیان" دے - او حافظ محمد آمین د برکهکال ضلع پېښور په سنه ۱۲۶۹ھ کښے د درکوټي بحر په مثنوی کښے لیکلے دے - په دے کتاب کښے د نظمونو ترتیب دا شان دے -

---

[1] امان کوټ د تحصیل صوابئ د رړ په علاقه کښے د شیخ جانا مرونو د دیوکلی نوم دے -

Marfat.com

(۱) نصیحت البیان - د کتاب په متن کښې - تالیف د محمد آمین سنه ۱۲۹۴ھ
(۲) شمائل نبوی - په حاشیه باندې - تالیف د امیر شاه - سنهٔ تالیف نامعلوم
(۳) پنج ګوهر " " تالیف د عبد الرحیم - د سنه ۱۲۹۵ھ تالیف
(۴) هفت هیکل - " " " " " " " "

د فهرست لیکونکی ته غالباً دا اشتباه په دے وجه پېښه شوې ده - چه محمد آمین د نصیحت البیان په اول سر کښې خپل نوم نه دے لیکلے - بلکه په اولسم مخ باندې ئې ذکر کړی. او کیدے شي چه فهرست لیکونکی دغه مقام نه وی لیدلے - او چونکه د عبد الرحیم نوم هم د دغه کتاب په حاشیه باندې موجود وو - نو نصیحت البیان ئې د عبد الرحیم تالیف ګڼلے دے.

دغه شان فهرست لیکونکی ته دا اشتباه پېښه شوې ده چه پنج ګوهر ئې د امیر شاه نظم ګڼلے دے. حالانکه دا نظم د عبد الرحیم دے - ځکه چه عبد الرحیم وائی " هر کله چه امیر شاه شمائل نبوی په نظم کښې لیکلی وو او پنج ګوهرے نه وو لیکلے نو دغه کمے عبد الرحیم پوره کړه او پنج ګوهرے او لیکلو - البته د لندن میوزیم د فهرست لیکونکی دا خبره اهمیت لری چه امیر شاه چه کومه مثنوی لیکلے ده - د هغې لمړی برخه د آنحضرت شمائل دی - او دویمه برخه ئې عقائد دی - نو ویلے شو چه د لندن میوزیم دغه نسخه د امیر شاه د مثنوی مکمله نسخه ده - چه زموږ په لاس کښې نشته - دا وخت د نصیحت البیان په نوم چه کومه نسخه زما سره موجوده ده په هغې کښې د امیر شاه د مثنوی صرف هغه حصه درج ده چه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم شمائل پکښې درج دی - او کومه حصه چه د عقائدو په باب کښې ده - هغه ورسره نیشته.

Marfat.com

دلته د نمونې په طور د نصیحت البیان[1] د شمائل نبوی[2]، پنج گوهر[3]، هفت هیکل[4]، څلور واړو مثنویانو یو څو شعرونه درج کوو چه د محمد آمین[1] - امیرشاه[2] او عبدالرحیم هوتی[3] د مثنوی او دهغوی د تالیف په حقله د لندن میوزیم د فهرست نه پیدا شوی اشتباه رفع شی.

نصیحت البیان

نور یم ذکر دا په زړه کړه   مسمیٰ مې اول نه کړه

نوم مې هلته کېښې زه بندمه   چه کتاب تمامه ومه

لیکن سن به مې کړم اظهار   په آغاز شو کېښې بیاره

سن صغیر کېښې مې را وړې   دا ابجد حساب مې کړې

خوشبین کاله کړه ته بیرته   نور مې ورکړه حساب کړته

د شعبان په پنځلسمه   ماشروع وکړه عالمه

زر شه اې محمد آمینَ   قول د خوند دې تر کبینَ

چلوه ید رو قلم   خالی مه کېښینه بې غم

چه کتاب دِ شی تمام   نصیحت د خاص و عام

کړه ته حساب شي ناس   په اتامرون الناس[2]

محمد امین عاجز فقیره   قلم بند کړه له تحریره

که قول عمر کړه تقریر   خلاص به نکړې په تحریر

چه اول آخر دې دینه   کتاب د پر لذت کوینه

---

[1] (ص ۹۰ غ ۱۰۰۰ ی ۱۰ ر ۲۰۰ جمع ۱۳۰۰ منفی ۶ باقی ۱۲۹۴ھ)

په آخرت کې نوم عیان شه چه نسبت د بیان شه

هر مؤمن ته نصیحت دے

پکښې داره په عبرت دے ۵ (رمضان)

شمائل نبوی او پیرشاه

د پیرشاه شمائل نبوی ټول ۲۲ بیتونه دي چه د مربع مثلث په طور
... ۴ بندونه دي ... د نمونې په طور اول بند او دوه مختلف بندونه دلته درج کړی

بند ۱

پیر امجد ... نه سلونه — رشه عفو یا محمد رجاته
شمائل وایم هر ساته — ذکر لا اله د رحمان دے

بند ۲

... صورت چه شما ... — ... نوم ...
... تر ... — ذکر لا اله د رحمان دے

بند ۳

... — نو شمائل ... ولوستنه
چه ... — ذکر لا اله د رحمان دے

بند ۴

... د ... زاری — صبح و شام ... زاری
... — ذکر لا اله د رحمان دیاره

پیرشاه

... په ... کښې ... نظم ... چه عبد الرحیم ... ...

سیف البیان په حاشیه په ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱ - مخونو باندې لیکلې شوې دې
[illegible] والنظم قول لیکو چې د عبدالرحیم د کلام د نمونې په طور ئې دلته درج کول مناسب
[illegible] مخمس دا دے په

بل بنده څیزه [illegible] هر دی　　　قرض په غاړه په قلندر دی
چا چې دا قونه [illegible] واړه　　　دنیا په [illegible] سر دی
چې ئې نه په څه قرار یاره

اول چې د سیف البیان دے　　　په [illegible]
په [illegible] زوال [illegible]　　　[illegible]
[illegible]

بیا دوئیم چې [illegible] یاره　　　عقل [illegible]
[illegible] عمل [illegible]　　　[illegible]
[illegible] هوښیاره

[illegible]　　　[illegible]
[illegible] ځول چې [illegible]　　　[illegible] مال
بیا [illegible] تیزی [illegible] تاره

بیا دریم چې [illegible]　　　[illegible] داوړه [illegible]
زوال [illegible]　　　[illegible]
[illegible] چې [illegible]

څلورم چې [illegible] کړم [illegible]　　　[illegible]
[illegible] بیخ او باس　　　د کرم [illegible]
دانا [illegible] ده [illegible] کاره

دے پنځم ګوهر کلابه ‏ ‏ ‏ ‏ صبر زده کړه له کتابه
په حرص به زوال درکړے ‏ ‏ ‏ ‏ پرے به شے خانه خرابه
شي به سم په غیره لاره

امیرشاه شمائل ساز کړه ‏ ‏ ‏ ‏ مثلث طورے آغاز کړه
ولیکن ګوهر ے پرېښول ‏ ‏ ‏ ‏ اما ما لیپے دراز کړه
نه شي کم له ښکلی هاره

د درویزه بابا غلام یم ‏ ‏ ‏ ‏ تر دامنے یم تلخ کام یم
که له حضرته مے ورغواړی ‏ ‏ ‏ ‏ مثال څاڅکے له پور جام یم
یم خادم ولے بے کاره

سن دولس سوه نوی دو ‏ ‏ ‏ ‏ څلور کاله لا ترقی دو
په پنځم کال کښے دوه میاشتے ‏ ‏ ‏ ‏ تیرے نور همه باقی دو
پنځه ورځے هم دلداره

تم تمام مے کړ ګوهر ‏ ‏ ‏ ‏ مارحیم عاجز بېتر
امیدوار یم له حضرته ‏ ‏ ‏ ‏ که مے ورنیسی خبر
یم بے شانه ګناهګاره

(ر له ۵ ربیع الاول سنه ۱۲۹۵ھ)

هفت هیکل

د عبدالرحیم دامان کوټ بل یو مهم نظم دور کوټي بحر په مثنوی کښے هفت هیکل دے - چه ټول دوه سوه دوه اویا (۲۷۲) شعرونه دے - اِبتدائی شعرونه دادي:-

یوه ورځ په مدینه کښے ‏ ‏ ‏ ‏ مدینه منوره کښے

Marfat.com

جماعت کښې ناست حضرتؑ وو   د بنهٔ خدائے په بنه طاعت وو
ناڅهانه جبرائیلؑ   راغے شهٔ ورته په تیل
چه ښځتن سلام وتاته   اے سرورہ کائناته
راستولے دے رویداره   اے د دوه کونو سرداره

په آخر کښې لیکی:-

خدایه ما عبد الرَّحیم   کړه له اوره بچ سلیم
له زواله د ایمان   خدایه راکړے تهٔ ایمان
هم عفوه تهولی تهول   د حضرت ذکرهی تهول
د اسناد په دوه دیرشم   د صاحب په تاریخ تم
دوه دیرش ورځے د وفات   شیرے وے دفعه نیلذات
په نهمه د صفر ے   وے قطار دا ملغلرے
دولس سوه پنځه نوی هٔ ۱۲۹۵ھ   سنه د اهم هجری وو
چه تمام شو دا بیان   په پښتو ژبه آسان
په فارسی وو پخوانوړ   ما پښتو کړهٔ ورته کوره
خاص د خدائے د پاره جانه   زما روره مسلمانه

په دے شعرونو کښې وائی چه د صاحب د وفات نه دوه دیرش ورځے وروستو په نهمه د صفر یے دا نظم اولیکهٔ۔ نو د دے وضاحت دا دے چه صاحب باباجیؒ د س... په اتم تاریخ د محرم الحرام سنه ۱۲۹۵ھ وفات شوے وو۔ په دغه حساب د اتم تاریخ د محرم نه ۹ تاریخ ماه صفر پورے دنه دیرش ورځے کیږی۔ د دے شعرونو نه دا معلومیږی چه عبد الرحیم د سوات د باباجی صاحبؒ مرید او تعلق دار وو۔

Marfat.com

خانزمان

خانزمان ځوئ د حبیب خان ځوئ د میر باز خان دے۔ فقیر تخلص کوی په قوم سرکانړے دے۔ او په سرکانړو کښے بیهوړ دے۔ او په بیهوړو کښے اسپ خیل دے۔ په علاقه د چم کښے په بالهوړی نوم کلی کښے اوسیدلو۔ او د کوټې د حضرت سید میر صاحب سره ئے عقیدت لرلو۔

په مستقله کښے د عربی ژبې د علم فقې کتاب خلاصه کیدانی ئے په پښتو ژبه په نظم سره ترجمه کړې ده۔ چه د دغه د قلمی نسخې مطابق غلام محی الدین خان خانخیل د موضع شیخانو قلمی کړې ده۔ او بیا د دوستو د قلمی نسخه رفیع الدین اخونزاده په مستقله کښے چاپ قلم نقل کړې ده۔ او دا قلمی نسخه زموږ د صاحبزاده عبدالحمید په قلمی کتب خانه کښے موجوده ده۔

د رفیع الدین اخونزاده خط ډیر خراب دے او د املا د لحاظ د ډیرو غلطو نه ډک دے اګرچه دا ډیر نایاب کتابونه قلمی کړی دی۔ لیکن چه هر څومره لیکے ئے زما د نظر نه تیرے شوے دی د یو نقل املا ئے هم صحیح نه ده۔ بیا هم د ښکلی دے د یادونې ده چه د حافظ سید احمد ځوئ د حضرت سید میر صاحب د کوټې په سرپرستئ کښے رفیع الدین چه څومره پښتو کتابونه قلمی کړے دی د هغے نه برکته ډیره علمی او ادبی ذخیره زمونږ په لاس راغلے ده۔

هرکله چه د خانزمان دا خلاصه په دویم ځل د رفیع الدین اخونزاده په لاس قلمی شوے په دے وجه نه شو ویلے چه د خانزمان خپل الفاظ او د اشعارو بندش به څرنګ وو۔ نمونه

Marfat.com

... ده :-

خلاصه مې په پښتو کړله بیا راتو — هر یو بیت مې [illegible]

[illegible] — [illegible]

[illegible] — [illegible]

[illegible] — [illegible]

[illegible] — [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

Marfat.com

کلے کوړے د شینکی نسب خانخیل دے — په نوشتن که خدائے تعالیٰ رویداږ د خلاصے

په لیده دے هر سړے ورته دعا که — چه نظر که په رخسار د خلاصے

زه به هر ساعت دعا ورته کومه — چه بیتونه ئے کړه په شمار د خلاصے

خانزمان چه مشهور شم په جهان کښې
بنه سبب مې شه اشعار د خلاصے

خانزمان زه د حضرت د درخاکروب یم — ځکه په زړه مې کړو یادګار د خلاصے

رفیع الدین اخونزاده د دے په آخر کښې لیکی:-

خدایه رحم په مصنف هم په کاتب کړے — چه بیتونه ئے کړه په شمار د خلاصے

کاتب بنکولے رفیع الدین د دې کتاب دے — رب تعالیٰ د و بخښی تورخیل هم د خلاصے

څلور دیا سه دوه سوه بیتونه نوشته شو
دغه واړه دی په قلم سره شمار د خلاصے

د خانزمان د منظومے پښتو خلاصے د اول سر شعرونه دا دی:-

په یار یار به ثنا وایم د و هاب — چه خالق د کل عالم دے هم تواب

دغه جهان بنیاد ی به دغه خلق که — چه هر کار ئے موافق دے په کتاب

او درود سلام هم دا دے په رسول وی — چه بنه قوم ئے محمد ﷺ د کل د کلاب

هم په آل او په اصحابو رضی الله عنهم باندې وایم — په همه مومنانو بے حساب

دا نه د واهد احکامو حال به وایم — چه په کړو نه کړو ئے څو عذاب ثواب

چه په دلیل قطعی سره ثابت وی
دغه فرض وی ته له ما واوره جواب

Marfat.com

مُلا امیر

امیر نومے یو شاعر د تحصیل صوابئ ضلع مردان په کلابټ نومے کلی کښے تیر شوے دے. په خپلو شعرونو کښے امیر او ملا امیر دواړه تخلصونه کړی. په بعضو شعرونو کښے د شاه شجاع د کابل د تخت نشینئ او بیا له تخت نه د کوزیدلو ذکر کوی. په دے بناء ویلے شو چه د سنه ۱۲۴۷ھ د زمانے شاعر دے.

امیر په پښتو ژبه کښے د تمیم انصاری قصه په نظم کړے ده[1]
د امیر شعرونه د قصو د مخصوص طرز سره برابر دی. د محاکات طرز ئے ساده دے. البته حمید بابا مهمند او فیاض مند ړچه د قصو او حکایتونو په مثنوی نظمونو کښے د تشبیه، استعارے او تشبیب کوم نزاکتونه پیدا کړی دی. هغه رنګینی پکښے نشته دے. بیا هم صرف په دې خبره کښے د فیاض پیرو کار دے. په قصه ټوله په اوږدو اوږدو مسلسلو قصیدو کښے ئے بیان کړے ده.

دلته د امیر د دے قصے د کتاب نظمونو څخه د مقطع یو څو شعرونه او یو قصیده د نمونے په طور درج کولے شی. د دے نه علاوه د ملا امیر نور کلام تر دے وخته زمونږ د نظر څخه نه دے تیر شوے. د متفرق شعرونو نمونے ئے داده :-

ص آشنا ستا په سینه خوله ځکه جوړیږی   چه نن اخلی له امیر رخصتونه

---

[1] چه د پېښور د جوړ شوی بادامی رنګ کاغذ باندے رفیع الدین اخونزاده قلمی کړے ده. او دغه قلمی نسخه د صاحبزاده صاحب عبدالحمید د قدیمی قلمی کتبخانه کښے موجود ده.

Marfat.com

ظلمت رچه هغه اختیار کړے اے امیر
خپل وطن ورباندے تنګ شه بے پیرانه

ستا یارۍ شوه له امیره هسے پاتے | لکه پاتے شه کابل له شجاع ؤله

اے امیره د رنجیت پلیت دلاسه
رنګینه وطن خراب د پېښور شه

اے امیره په یوسف مند تړ خوړه | د پیښور فقیران منډ کړه ره

اے امیره یا خوبان د کلابښ دی
یا ماعذور د امبر سره ځلی د لاهو

زه امیر شو پیرا تغان د ظلم یم | نه په اصل ترک تاجک یا دزاک

نه به دلاصی ملا امیوځی نه شوو
نه به کښیني شیاه دل په خپل سری

د تمیم حکایت لا ... لا ندیه شه | د امیره د سته لا بیکلے زیبا شه

د کلام نمونے دا ده

نه به شو کړے حیات د لته نور سنده | چه مدام کړے کارونه ناپسنده
نه کها ته ے آواز په خوږ وساز شنه | په ترے د تیښته تمیم عقل ونده
دا دنیا ده مکر جنه د لفریبه | ځکه نا ستہ ره غم جنه ناخورسنده
هر سړے چه په دے باندے مبتلا شی | مبتلا شی په ملا کارے بے خونده
په بنا ئښت او پربا ے غلط مه شه | هم عاشق په خطے مشه خردمنده
دا آوازے چه په غوږ شی بیا به خورشی | په توبه په استغفار شوه خوچنده
ساه نیولے په رو رو د غلم ستر پیره | پیرو ئیل چه راته وایه بانی بنده
د بنه خدا ے قدرت د ولیده په ستر ګو | مانے او ستا په دعا خلاص شم له ګنده

Marfat.com

ما وئیل چه پیره وایه هغه څوک دی
چه ستا له راو ستلم په سر کنده

څوک یې ته او هغه جن وایه چه څوک دی
چه د تخت د پاسه ناسته ئې خوږه

ده وئیل زه مهتر خضر یم تمیمه
هغه بل یې ورور الیاس دی دې سر کنده

چه په خشکه شي څوک تږی ورته حاضر یم
ورته اوبه رایم او به خوږې تر قنده

په الیاس باندې مې منت درالیسنو دی
په څوک ډوب شی د دریاب په یې کنده

هغه جن چه دې بیا هغه د بیاده
نن آواز وو د یاجوج ماجوج د بنده

زه مې لګ په دا خبره شوم حیران
بیا مې وې اوس یې رخصت کړه دښمنه

ده وې راشه اوس تر کوره دې رسوم
هیبت مې کړه عاجزه مستمنده

ما وې کور مې له دې ځایه څو منزله دی
ما خبر کړه هغه له لاره یم له پښنده

ده وئیل که د دولت کال په درومې لا له
[illegible]

چه له ده مې دا خبره واورېده
[illegible]

ده وئیل تمیمه ولې ارن وکښلین شرمې
[illegible]

د هجران باران چه راغی په ما باندې
[illegible]

زه امیر محمد م زار [illegible]
کړه مې خلاص که له غمه [illegible]

دوستم

دوستم د صوابئ د علاقې په زیده نومې کلي کښې اوسیده. تخلص ئې حافظ وو. د دوستم تخلص هم کوي. د قرآن شریف حافظ وو. او د پښتو په ژبه کښې لکه د حافظ شیرازؒ پوره رنګین بیان شاعر وو. چه نظیر ئې نه لرلو. د ارسلا خان د زیدې په دربار کښې د ده ډیر عروج وو. او دغه د مجلس خاص شاعر وو. هره شپه به ئې نوې غزل په رباب کښې دغه ته آوروو. ډیر پرهیزګار وو. او دکوهټې د حضرت جي صاحب ډیر مداح وو. تقریباً په سنه ۱۲۳۰ھ کښې د ده زور او شور وو. چه ارسلا خان د رنجیت سنګه د لاس نه له وطن نه ورک شو. نو د ده هم تنزل شه. معلومه نه ده چه بیا کله مړ شو. مګر مړ خوپه زیده کښې دے. د رباب دهلو استاد کل تسلیم شوے وو. حضرت جي صاحب د کوهټې به ورسره ډیر مروت کولو. (مدح الابرار ص۱۳۷)

د دوستم یو نظم په مدح الابرار کښې او یو دوه چار بیتې ئې د یادرې هیوڼ په کلید انغانی کښې راغلي دي. نور کلام ئې تر دے وخته پورے په لاس نه دے راغلے.

کلام نمونه ئې داده:

په خپل نیت کښې بمه خاورے د در با ستا
د دعا دے آرزومند یم په بار با ستا

رامدت شي د کوهټې کامله پیره
ترلمن لاندے خلاصین ی ګنهګار ستا

Marfat.com

داسې سردې مولا ستا په خوله کښې ایښی
کافران مسلمانېږي په ګفتا ستا

د بزرګۍ که هر څو ښه مرتبې دي — هغه واړه رب روزي کړې وار په وار ستا
په پایه د غوثیت مولا قایم کړې
سالکان دي نه دي حاله خبردار ستا

هیڅ تغیر دې په ظاهر باطن کښې نشته — له خزانه رب ماتلې دې ګلزار ستا
من ساعت له تانه پوره ولي نشته
رب تش ګردش د زمانې کړه په اختیار ستا

دم په دم لکه دریاب وهي موجونه — په تمام جهان پرتو دې د انوار ستا
هم بزرګي هم سخاوت لري بې حده
دغه دواړه په نصیب کړه کردګار ستا

په تمام عالم ښکاره لکه خورشید دې — شام او روم واړه خبر دي په اسرار ستا
رب دې صبر د ایوب په شان درکړې
محبت دې له هر چا سره بسیار ستا

هر طرف نه چه مخ واړه وې په مینه — خو مخ ورته شي درګوهر په دیدار ستا
د کوڅې پېره مې د ر اسره او کړه
نو حافظ یم په صدق خدمتګار ستا

د چار بیتې نمونه دا ده :-

مطلع :- پنه د ګه صنمه سپین رخسار والې بیا
د غمزې په دو ستم که نیزه دار والې بیا

Marfat.com

دغه نوی رسم نیزه وار که په ما باندې　　آسمان زمکه دې په ما کړه لاندې باندې

طبیبان که مې دارو درمل نخور کاندي

چه ولیشتې وي د چشمو په نکرا لوالي بیا

یو ځل خندا وواېه دې وکړو د سړیغه دریغه　　افسوس نه ورکړې غوږم شه بې له تیغه

مستانه غم نه بد دی که شي ملا تیغه

که یو غیر را بانده تا وکړه ولې یار وائي بیا

که یو غیر را بانده ته وکړې جانانه　　هیڅ وبه سیئن مې نیشته بې له تا نه

په دیدن بیسی دی زاهم یک همانه

په دلبار دې ډوبې برت یم د دبیا اروائي بیا

بیه دیدن بیسی دی زه یار زالمه　　چرته وې چرته زه راغلمه له کومه

پاسه غم د آخرت کړه دوستمه

آخر به ورانه شي د دنیا بنګلې بازار وائي بیا

Marfat.com

احمدجي

احمدجي اخوندزاده په اصل د خوېشګي قوم کښې د [illegible] علاقې ته لاړه . دوی په قصابه نومې کلي کښې استوګن شو . [illegible] اخوندزاده خوېشګي د مصري بابا [illegible] روایت کيږي چه مستسعود اخوندزاده د خوېشګي علاقه نامو [illegible] مانه وېلې دي چه احمدجي اخوندزاده د علم و بصيرت د سلوک د [illegible] دوه شنوار د کښې په باباجي صاحب مشهور دے . دوی د دغه علاقې کښې د خلقو پېشوا او روحاني مقتدا دے .

احمدجي اخوندزاده په دکوټې د حضرت سيد امير صاحب [illegible] نيک او عالم سړے دے او د حضرت صاحب مشائخ [illegible]

د سنه ۱۲۶۰ھ په خواږ شا کښې شهيد کړے شو . زيارت ئې په موضع [illegible] د شهيد باباجي په نوم شهرت لري . (نفحة الدرر صفحه [illegible])

ددهٔ صرف دا يو نظم (د کوټې د اسماعيل صاحبزاده په [illegible] کتاب په حاشيه) په لاس راغلے دے . چه د تصوف او [illegible] بيان کښې غوره اشعار دي . او ددهٔ د طبيعت [illegible] والي .

بلبلا نو ترې د سپېره دے چغار کله — د دماغ په [illegible]
که رنګين نقاب ئې يو ته کهله مخ — په دنيا به [illegible]

Marfat.com

دبلبل په دود مے تا وته زاری دلا
چه ښکاره را ته دعینِ یقین لار که

چه سر کوز کړم په دا خپل ګریوان کښے ګوره
تل ګنه وی څو د زړه ستر ګے مے ښکاله

په خپل نفس کښے شرمنده نزحده تیریم
کوم عمل دے چه صبا به مے پکار که

غرض دا ہے ستا له مهره بل څه نشته
چه مخ تو ره بنده پر خپل خاطر قرار که

تش ئے مهٔ پرینږده په بیرته ای کریمه
مختومهٔ که حاجت عرض ستا په دلبار که

د عه تیرے غلطئے مے کړه معاف ئے
د حبیبؐ په روئ قبول مے استغفار که

د شیطان له غلبے مے نګهبان شه
ما په لار د شریعت کښے استوار که

ستا د مینے رنځ مے کیږده په وجود کښے
د غفلت له خوا به خوب مے بیدار که

علایق د کلی وا په مے موجود اتو
بے له تا چه وی له ټولو مے ویزار که

زړه مے صاف لکه آئین کړه له اغیارو
بلهٔ ژبه مے جاری په ښه ګفتار که

له دُنیا مے چه د کوچ نغاره کیږی
غوث خدایه خپل ایمان را سره یار که

چه سر پوخ مے ګورستان کا خندیږه خاوره
د منکر نکیر په سوال کښے مے هُښیار که

هغه ورځ چه د محشر شی هیبتناکه
آقارب په اِجتناب سره اِختیار که

په خاطر د مخلصانو در ته عوا یم
دا خراب بنده د نیکو په قطار که

چه خبرے د عملونو در کول شی
په ښی لوری سرفراز دا ګنهګار که

د نیکئ لوری مے دروند که په میزان کښے
په ټولی د عرصات کښے مے رڼ پیدا که

خصوصاً چه په صراط مے بیا ګذر اوړی
په خپل فضل مے له برقه تیز رفتار که

چه په هیره خطرناکه لار روان یم
د رحمت باران په ما باندے نثار که

تن مبوس د مصطفٰے مے کړه رحیمه
هم روزی مے په جنت کښے خپل دیدار که

احمدجی در ته محکم په طمعه اوسه
د مطلوب لوری په رو ښنا در ته منزل که

Marfat.com

ابن الفقیه

یو پښتون عالم چه نوم ئے عبدالرحمٰن وو۔ او لقب ئے ابن الفقیه[1] وو۔ او خپل نوم ابی الحسن البستانی لیکی۔ د شاه بهادر شاه عالمگیرؒ په زمانه کښے په دهلی کښے اوسیدهٔ۔ د "مفتاح الرحمان" په نوم ئے په فارسی ژبه د "تجوید القرآن" شرح لیکلے ده۔ چه د کتاب په آخر کښے د قرآن په ترتیل سره د لوستلو په باب ئے پښتو شعرونه ئے د "رساله ترتیل" په نوم سره لیکلی دی۔ د دے ابن الفقیه نور شعرونه په غیر د دے نه تر اوسه پورے زمونږ د نظره نه دی تیر شوی۔ د دے کتاب قلمی نسخه په موضع ټوپئ تحصیل صوابئ ضلع مردان کښے د صاحبزاده عبدالحمید په قلمی کتب خانه کښے ده۔ د غه شعرونه دا دی:-

اے طالبه قرآن خوانه ۔۔۔ د ا[illegible] واوره له ما نه

چه ترتیل د ے په دیر قسمه ۔۔۔ هم ئے زده کړه په د [illegible]

یو ترتیل تر ا لوستل دے ۔۔۔ د قرآن آداب [illegible]

بل ترتیل واجب یا دیږی ۔۔۔ [illegible]

هغه دا دے واوره عیانه ۔۔۔ چه ملتون د [illegible] عثمانه

بعض حرف د [illegible] ۔۔۔ ولے د [illegible] لوستلے

---

[1] ابن الفقیه د مفتاح الرحمانی په دیباچه کښے لیکی :- ودیدکه درین ایام خجسته فرجام خلافت ظل سبحانی اجالس اورنگ سلطنت و کشورستانی طالع سکندری و سلیمانی ابی الظفر محی الدین محمد میر سیر بهادر عالمگیر ۱۲

Marfat.com

بعض حرف په نوشته وي ولې لوست په یې بندۀ نه وي
ثُمَّ اِلَی اللهِ تُحْشَرُوْنَ دا مثال د پروت اخون
او اُولُوا الْاَرْحَامِ کوره وَدُ لوستې نه شي آروره
دا رنګه نور هم کلمې دي چه له حرفه بې بهرې دي
لکه ماءٌ وي چه ماءٌ شي هم جاءٌ وي چه جاءٌ شي
هر تنوین د فتحتین شي بدل په الف ډې بین
بې له دا رنګه کلمونه چه جدا دي له هغو نه
د الف چه بنکی آیاره هم د دې چارې دپاره
چه پر وقف کیښې بدلیږي پر الف مرسوم یادیږي
چه له دې کلمو ورک دې ځکه سبب چه همزه سپک دې
سبب دا چه خپل صورت همزه نه لري لت پت
کله وي چه په واو سراشي کله دې مرسوم په یا شي
دا هم دا ره طالبه نه ذکره ده په تا واجبه
او بل دا واجب یادیږي چه اوه قاریان ستائیږي
دوه شاګردان د هر یوه دي سکه له شناخته یې بایده دي
دا هم دا ره ترتیل دې ځکه بیان زده کړه دلیل دې
بل ترتیل لازم دې واوره هم یقین ور باندې راوړه
چه صحت دې د حرفونو هم په خپلو مخرجونو
هم صفات واړه زده کړه بل د وقوف په انداز کړه
له حضرت علي اې جانه نقل دا رنګ واوره ما نه
په معنی یې د ترتیل بنۀ و یېلې بې تعطیل

Marfat.com

قاري دې شرطونه زده کړه — هم حروف په اندازه کړه

يو اندازې د مخرج دې — بل صفت ئې لوئ حرج دې

بل هغه وقف دې ياد کړه — هم پېژنه د کړې زړه ښاد کړه

چه معنی پرې تغير موي — هغه رمز به کوم موي

دا درې قسمه چه بيان شه — قول ترتيل درته عيان شه

تلاوت د قرآن ياره — دې سنت يا نفل شماره

تلاوت السنة والئ — قاري تا ته دا رنګ ښائي

چه تکيه خالص په خدائ کړې — او د زړه حضور په ځائ کړې

تلاوت چه په دا شان کړې — چه حقوق ادا په ځان کړې

بس ثواب به ستا حاصل شي — هم عذاب له تا زائل شي

د ترتيل بحث تمام شه

د ابن الفقيه کلام شه

قاضي عبدالرحمان

قاضي عبدالرحمان په اصل د ماز کړهنۍ وو. بیا د نواب مهابت خان په زمانه کښې په طورو کښې اوسیدو. د نواب مرحوم ډاکټر دوربهرام خان پیر صفت کوی. ځکه چه دے هم د پښتو ژبے شاعر او ادیب وو. او د عبدالرحمن مره سره ئې خصوصیت لرلو.

عبدالرحمان په ۱۲۹۹ھ کښې تر ۱۳۰۲ھ د فسانهٔ دلپذیر په نوم یوه قصه لیکلے ده. چه په پښتو ژبه کښې د فسانهٔ عجائب منظومه ترجمه ده.

په تاریخ ادبیات پښتو کښې لیکی چه قاضی عبدالرحمان په قام بابوزے او د سوات وو. لیکن عبدالرحمن چه د فسانهٔ دلپذیر په اول سر کښې د خپل ځان په حقله کوم تفصیل درج کړے دے د هغې نه واضحه ده. چه دے اول په ماز کړهنۍ کښې اوسیده. بیا طورو ته په کډو راغے. البته دا خبره تر دے حده درسته ده. چه دے په قام بابوزے وو او مشرانو ئے د سوات نه راغلی وو.

په کتاب گلزار محبت قلمی تالیف د ۱۳۰۹ھ کښې د عبدالرحمان یوه قصیده درج شوی ده چه د خپل پیر حضرت سید آمیر صاحب د کوټې په مناقب کښې ئې ویلے ده په هغې کښے ئې هم دے خبرے ته اشاره کړے ده چه په سمه کښې ځان مسافر گڼړی.

عبدالرحمان به تر آخر عمر پورے د طورو نه ماز کړهنۍ ته تللو راتللو. چه کله د صاحب د سوات او حضرت صاحب د کوټې اختلاف زیات شو نو عبدالرحمان د پیر

Marfat.com

چاربیتې په وجه مشکلات ورپېښ شول، د شهید کړې شهٔ. د کلام نمونه یې داده :-

څوک چه بند د تورو زلفو په دام وینه
اے قاضي د هغهٔ حال د غمے وینه

د فراق آتش مے کړه سینه مجمر
هر یو آه مے دے د شولے جوړے انګر

د جانان په انتظار کښې حال د مرګ شهٔ
هغه ئې نغ وعده شوه برابر

هره ورځ په ما تیریږي په فرقت کښې
هر ساعت په ما حساب دے د محشر

د خندا په ځاے مے ځي د سترګو اوښکې
په ژړا باندے مے کسي شو احمر

زړهٔ زما د یار فرقت پاره پاره کړهٔ
ځاے د خلقو د خندا شومه اکثر

دیوانه غونې په غرونو ګرزیږے
خوشحال روے په خدمت کښې د دلبر

بختور هغه عشاق دي په عالم کښې
په حبیب سره بیا نهٔ وي په بستر

ولیکن چه شته دے دا فلک مکاره
تل ئې ړولي عاشقان خاورے په سر

د حضرت سید امیر صاحب په قصیدهٔ مدحیه کښې په آخر کښې وائي:-

مسافر یم بے وطنه
ځکه نهٔ مے کړے پښتنه
اے د ښې پګړے څښتنه

د واړه لاس راکړه عجب

په هر وخت په هر زمان
سوال کوي عبدالرحمان
ستا په شهٔ دار الامان

د واړه لاس راکړه عجب

Marfat.com

محمد جي

محمد جي په اخونزاده سره مشهور وو. لوئ عالم وو. د ګدون په علاقه کښې په ویول نومې کلي کښې استوګن وو. د حضرت سید امیر صاحب د خاصو مریدانو څخه وو. د سوات اخوند عبدالغفور صاحب چه له حضرت جي صاحب سره اختلاف (سنه ۱۲۶۰ھ) نو په هغه وخت کښې دے شاعر په یو نظم کښې د حضرت جي صاحب تعریف او مرسته کړې ده. (مرح الابرار ص۱۳۸).

محمد جي لوئ فقهي عالم وو. د علم فقهې په مشهور کتاب شرح الوقایه باندې ئې ډیره فاضلانه حاشیه لیکلې ده. چه یوه قلمي نسخه ئې د ده د خوئې محمد اشرف اخونزاده د لاس نه په حنائی کشمیري کاغذ باندې ډیره خوشخطه لیکلې د سوات په قمبر کلي کښې د مرحوم قاضي سید رحمت الله صاحب په قلمي کتب خانه کښې زما په نظر راغلې ده.

د محمد جي یو نظم په ملاح الابرار کښې او دوه چاربیتې ئې د پادري هیوز په پښتو مجموعه کښې راغلې دي. د دې نه علاوه نور کلام ئې تر دې وخته زما په نظر نه دے راغلے.

صفي الله خټک په خپل کتاب نظم الدرر کښې د حضرت جي صاحب د کوټې د سوات د اولني سفر د سنه ۱۲۴۲ھ په دوران کښې چه د ګدون د علاقې د څو مریدانو

Marfat.com

او عالمانو نومونه ذکر کړیدی په هغه کښې د محمدجي نوم په نظر نه راځي. هر کله چه په دې سنر کښې د حضرت جي صاحب سره قول عالمان مریدان مذکوري دي. نو په دې وجه دا ښکاره شو چه محمدجي د ۱۲۷۲ھ نه په وړاندې کلونو کښې وفات شوې دې. د کلام نمونه ئې داده:-

چه حجت ئې نه حدیث وو نه کتاب ‏ ‏ ره گمائے شهٔ د هغه دا خون کذاب

سرانجام د شیمت ئې فضیحت وی ‏ ‏ چه په لاره د سنت نه کړی ذهاب

که خوک مخ په زور له حقه نه جلباسی ‏ ‏ پیژندے شی برئ د صوب له کذاب

چه پلینه په کنډکئ لری منبوکه ‏ ‏ د طبیانو مقام نه هومې عذاب

د وبتینو خوئ میدان ته راوتلی ‏ ‏ دروغژن گرځی مخ پټی په حجاب

نور د بدار له نقصانه په امان وی ‏ ‏ که ئې غبار په شپه کښې جوړه کړی گلاب

په انواهو د بد خواهونو پټیږی ‏ ‏ هغه نور چه منتقم ئې وی وهاب

چه جناب ته ئې حسد لری په زړه کښې ‏ ‏ په سود مصیبت د وی کباب

بدے سترگې د بد بینو بد گمانو ‏ ‏ شپه او ورځ د له حربانه وی پر آب

خیال عباد به خاطر بنادکړی رب کریم د ‏ ‏ د حسود په سر به وا چوی خراب

محمدجي د حضرت بی دره غلام دئ

امید وار دے په نظر ته د جناب

د چار بیتے نمونه ئے داده:-

مطلع:-

چه مازیگر شی ښاد د نماز په بړهه ول ځا گی

ادی مے په اوکل ځا گی

چه مازیگر شی ښاد یه غاړه بنه حمیل کا نیۍ قول د بینو میل دا نی

په بخملي وربل ګکیا دی تور ځلیل ګاندي   زړه زما غلبیل ګاندي
د ګل غنچه شي لکه زاسره په کابل ونګي
اور مې په ګړ ګل ونګی

د ګل غنچه شي چه دا شور ساتو په سر کاندي   بیا لیبلي لکه د زړه کاندي
د لاله و ګل زړي دا شي جیني خبر کاندي   ځان لره لښکر کاندي
د ګل دسته شي چه آشنا په ګړ ونګي
اور مې په ګړ ګل ونګی

ګودر له ورشي چه یو بل سره خبرې کاندي   یو بل با ندي غږې کاندي
په نوبت د اوبو د زلفو اب دمي کاندي   پس له هغې ستا رې کاندي
چه کور ته راشي خپلي مور ته په زړل ونګي
اور مې په ګړ ګل ونګی

چه کور ته راشي مور ته وائي لونګین نشته دی   بل زما آئین نشته دی
نبات کو ښې بل کالي بل مې ګلچین نشته دی   بل مې خال همین نشته دی
اوبو له ځم راسره پیغلي په خندل ونګي
اور مې په ګړ ګل ونګی

مورې وړې چه لوړې نه رسیږي نوس نه مومي   زړه دې په سواس نه مومي
چه فصل راشي رب به قرض کاندي خلاص نه مومي   پس ګوره پیاس نه مومي
تا به سنبال ګړم که ړنګي پرزاساغ لګی
اور مې په ګړ ګل ونګی

دې لوړې وړې چه بیا تا سره خوارې نه کوم   ستا زمینداره نه کوم
پر ساعت په ځان به ګرم تیرچه به یارې نه کوم   تش په سلامې نه کوم

Marfat.com

محمد جي زاړي په ديار په وران بوډل وائي

اوړے په ټوکو کښي ډکي

محمد جي والي دا شاعران جمع هزار شينه — ټولوته مے قرار شينه

زما عمر د ديوانه غازي سره دار شينه — تول به تار په تار شينه

دا سے به تبنتي ليوه ځان چه په ځنګل ولګي

اوړے په ټوکل ډکي

ديوے بلے چار بيتي مطلع ئے دا ده:

بيګاه مے دے سيل کړے په بازار د تورو زلفو

نه ګټه لکه بوره شوم په ګلزار د تورو زلفو

Marfat.com

ارباب عبدالرحيم

مولانا حاجي عبدالرحيم ځوئ د فقير عبدالکريم صاحب عليه الرحمة وو
په قوم ميتها خيل وو چه د خليل قبيله د اس بابا نو په کورنئ کښې يوه درنه کورنۍ
ده. دېرانګ په کندي يا مېين زائ کښې اوسېده. او د خيبر ممزدلو او مشرانو
په ورته لالا جي صاحب ويلے. د سوات د بابا جي صاحب عليه الرحمة مريد وو.
د عربي علومو ښه عالم وو. او خصوصاً د هغه زمانے د قاعدے او رواج مطابق
د فارسي کتابونو درس به ئے ورکولو او په خپله به ئے هم په فارسۍ، عربۍ، پښتو
ژبه کښې شاعري کوله. د تخلص ئے ارباب وو. کله عبدالرحيم هم تخلص کوی.

په ۱۲۶۳ه کښې ئے د علم صرف د مشهور کتاب مثانے کتابت پخپله کړے دے
خو کله چه دے د ۱۳۰۰ه نه روستو هم ژوندے وو. او د دغه نے د قلميتوب د زمانے
خط وو. او بيا هم خط او صلاحيت ښه دے. دوے نه معلوميږي چه د ليکلو سرته
رو ... د سرته ميه وه. د سوات د بابا جي صاحب په اوږده مرثيه ئے
ليکلے ده. چه په سفے کښې يو شعر په عربي ژبه او په آخر کښې لس شعرونه په
فارسي ژبه ليکلي دي. د دے نه معلوميږي چه په عربي او فارسي ژبه کښې ئے
هم موزونه طبيعه لرله. د کلام نمونه ئے دا ده چه اکثر شعرونه ئے اخلاقي
د پند د نصيحت دي.

Marfat.com

(۱)

نعمت عجیبه عجیبه عمر دې لتا په هوس لاړ — بیا نه راځي په بیرته لکه تللي نفس لاړ

همه وس دې تدارک کړه مونده یې بیا محال دی — [illegible] [illegible] تنفس لاړ

توښه د عقبی تا په دنیا کښې کړه خرابه — [illegible] عزیز [illegible] تا په تش [illegible] لاړ

ناخرمه دموږ [illegible] په تلوار [illegible] دولت کښې — [illegible] تا په [illegible] [illegible] لاړ

قول کلکت [illegible] تو [illegible] نو بیا [illegible] دی — [illegible] لکه نفس لاړ

حسابکه دې دروغ ورته نمر بادشاه عیسی اندام — [illegible] اشنا [illegible]

بیغم بادشاهي کړه تل تر تله پنکه وال — جو [illegible] کوچ و جرس لاړ

خو دوب شه کمر د شي چه حساب خطر — بیا [illegible] منګلو نیر [illegible] لاړ

خبر [illegible] باریکه چار چلن لره په واک کښې — [illegible] تر [illegible] کړې [illegible]

ارباب بل ته خطیب شي خان ته نه [illegible]

نعمت عجیبه عمر دې لتا په هوس لاړ

(۲)

اول وایه خدای ته بیا په تا کوم اعلام — غفلت تورو بلاد [illegible] امان عوام [illegible]

لاهو په دې دریاب کښې [illegible] په ستور — [illegible] [illegible]

د [illegible] [illegible] کړه نوی [illegible] دی په [illegible] — [illegible] [illegible]

[illegible] د سفر [illegible] خله — [illegible]

بیاه [illegible] کوت صبا [illegible] — [illegible] فرښته [illegible]

بې [illegible] [illegible] — [illegible] [illegible]

[illegible] دی د [illegible] الله [illegible] شیطان — [illegible] دښمن [illegible] دوسته [illegible] الله

[illegible] چه [illegible] عوام — [illegible] [illegible]

Marfat.com

دغه یې چه یاغي دے هغه کله مسلمان دے — محکوم د خدای د رسول شه د امعنی د داسلام

مشغول په عبادت شه په ایمان د سلامتي — توفیق در به غواړه چه دغه کړه سرانجام

توفیق له تا غواړمه زما ربّ الارباب

یا حيّ یا قیّوم ذو الجلال والاکرام

(۳)

بې مثله بې مثاله دے زما رب الارباب — بیرون له وهم وخیاله دے زما رب الارباب

قدرت دده محیط دے په جمیع ممکناتو — قادر په کماله دے زما رب الارباب

واحد او شریک دے معرفت یې فرض عین دے — باقي هم بې زواله دے زما رب الارباب

د فکر تصور په ذات پاک کښې لاره نشته — خارج له قیل وقاله دے زما رب الارباب

کم کیف کنه لري حیف چه یې خلق ولسبت کړي

بري له دے احواله دے زما رب الارباب

که زیا په مشرق مغرب جنوب شمال کښې هر دے — ذو العزّ و ذو الجلاله دے زما رب الارباب

نه خوب یې دے نه یې لاندې دده قائم هم تبیل نشته — بې غم له غم له خاله دے زما رب الارباب

په توره شپه کښې تورې میږې په تور کوهي کښې وینې — بصیر له کمواله دے زما رب الارباب

وعیت د پښې اواز یې هم چه نه خلاصې کښې کړي — خبر دده له حاله دے زما رب الارباب

لیدو کا نابه دسترگو وینا به کانه بې نه وي — بینا شنوا بې آله دے زما رب الارباب

دسترگو خطرات دې او د زړه نور خطرات دی — واقف له کلي حاله دے زما رب الارباب

ساده شي دنیا رنج او کیا شو د بنیاد دے — عالم په ترتیب اشکاله دے زما رب الارباب

په تعلیم یې کښې دی دېښې پا نه به هیڅ وانه — خبیر په کړه بالا امثاله دے زما رب الارباب

تعین کښې وجود یې د هر شي دے — حافظ ناصر هر حاله دے زما رب الارباب

صفات عالي وجود یې کښې موجود شه — لوی فضل لوی افضاله دے زما رب الارباب

Marfat.com

دا يو دليل کافي د عجائب د خلقت دے　　خالق با نواله دے زما رب الارباب

حاجي عبدالرحيم شوق دے چه دا بيان به کاندي

بر تر له هر مقاله دے زما رب الارباب

(۴)

کۀ بادشاه د درست جهان شي آخر هيڅ　　فرض کړه خان يا که سلطان شي آخر هيڅ

ته به مرګ له اول ځان په پرو کښې شمار کړه　　چه حساب نه زمان مکان شي آخر هيڅ

نن ژوندے وايمه زيرمه د خپل ځان کړه　　بيا به بند په ګورستان شي آخر هيڅ

لکه وے راغلے هسې به د بيائي　　خالي لاس به ترے روان شي آخر هيڅ

دا جوړه جندرے د کل دا په عبث دي　　په تخته به تر عريان شي آخر هيڅ

زړه ړې مه بد کړه د پير يا د پښتو شي　　په دے سود کښې به تاوان شي آخر هيڅ

د سفر توښه د نن ځان سره واخله　　خدائے دِ نکړه چه ميران شي آخر هيڅ

د ربنا به خير خلي جي چليږي　　کۀ "ارباب" شي يا کلان شي آخر هيڅ

دا بيات دے آخر هيڅ کړي يکاريږي

که واعظ که ضبحه خوان شي آخر هيڅ

(۵)

مربع نظم

آخر شوے تور لړ داب د غم ډنګه

تريد دا اضطراب له غوښنده

هجران دے حال زما کړ پريشانه

ژوند وړي لے له تا سخت کنهم دے شانه

منصف شه ژوند دن دی بے جانانه

Marfat.com

د هجر په پر تاب شومه کړکنه

فراق دے په ما اوکړے راسه غاړے
چه هلے د صینو راشه لاړے
بیره شوم نه آباد ے په ویجاړے
خلاص نه شوم له عتابه نه کمنه

مدام ستا د عتابه یم په غم کښے
تیر یږی دا درست عمر په الم کښے
بل نشته زما شان سوے عالم کښے
کړلے دے ګلاب شولو اوږهنه

دلریش یمه همیش ستا په فراق کښے
بندی شوم په تکلیف مالا یطاق کښے
اخته د سپی رقیب په تیرو طاق کښے
لاهو د غم سیلاب کړمه بے رنګه

رقیب رالوړے خاندی زه ژړا کړم
حیران یمه چه چاته واویلا کړم
خنزیر دے په لوے غم مبتلا کړم
زه تل کړم تب وتاب د دے ملنګه

نه چیرے مے له غمه فراغت شته
نه هیڅ د شعر قدر نه قیمت شته
نه څه د اورین و رحیا همت شته
قلم شه د ارباب څه و نه شته

Marfat.com

قصیده

دا لاندې قصیده په طور د مرثیه سره حاجی عبد الرحیم ارباب د خپل پیر طریقت باباجی صاحب رحمة الله علیه د وفات په برابرې ویلې ده - هر کله چه دا مرثیه ډیره اوږده ده - صرف د پښتو شعرونو څه لږه حصه او په آخر کښې هم د دې قصیدې فارسی شعرونه درج کوو - والیٰ -

په زړه مې د غم لړې شوې انبار کوم سوران
چاوې چه صاحب لاړشه له دُنیا نه هغه ارمان

دا څه کوې آسمانه چه پیر دِ څه برسیره
لږ دا راکړه لږ دا راکړه عالم دِ کړه پریشان

دا هومره عام ماتم وی په جهان بانډې ماتم کړه
پیرې دې کړه سرې دې ټول دِ کړې کړې په سوګان

اوکړ د محرم ورځ د خالی دا قیامت راغې
بل یاتې د جمعې خو هغه نه دې د درې ګران

چه نور شه نیزه دار دا علامه د قیامت راغله
په وخت د اشراق د روح نور وخوت په آسمان

ملکو ورته جوړه که هار سنګار د آسمانونو
رضوان والیٰ لبَّیک کوی تمام حورې غلمان

کاردار د آسمانونو راغلې استقبال ته
تعظیم تکریم د ده کوی کل دا ده دروانجیان

کُلٌّ یَقُولُ مَرْحَبًا اَنْ عِشْتَ طَیِّبًا
اَوْ مِتَّ طَیِّبًا اوس ستا قدم زمونږ چشمان

Marfat.com

او عمل دَ عاملانو دے دَ دے ورځے د پاره
ورځه د مولیٰ قرب ته علیّین دِ دے مکان

هر څوک چه عمل کاندی اشتیاقِ د جنّت وی
اهلاً و الیٰ سهلاً خیر مقدم تا ته جنان

دیرینه تمنّا تا دَ رضوان کړله حاصله
پاک رُوح ته منتظر دے د جنت حورے غِلمان

دیدار دِ رب نصیب کړه د حضرت صؐ مجلس هم
په دے دواړو څیزونو ډیر خوښیږی جنتیان

ستا عمر او برکت دِ په اولاد باندِ ب کیږده
چه نوم دِ دی مرقوم په جریده کښے د دوران

وحوش دی که طیور بری بحری حیوانات واړه
چه څوک ژوندی سر دی ټول دِ کړه کړه په افغان

یواځے حیوانات څه نباتات که جمادات دی
ژړا داستا په فوت باندِ کوی زمکه آسمان

مرګ یه جلدی مکړه څه خو وار تا له پکار دے
معین دَ دین مُبین دے دین متین په ده روښان

دَ دین انتظام داړه پاک مولیٰ ده ته سپارلے
صاحب لوئ مناقب د دے زمان ثانی نعمان

او دَ دے ډیرے اوږدے قصیدے په آخر کښے نا فارسی شعر دنه دی چه پښتو شعرونو په ردیف او قافیه باندے دی۔ په دے کښے یو عربی شعر هم دے چه دَ دے نه دَ ارباب صاحب د طبیعت روانی ښه معلومیدے شی۔ والیٰ:

هجر تو ماتمے ست الم زا و غم فزا — شنوندہ رازِ روز قیامت دہانشان

جز صبر ہیچ چارہ ندانم علاج غم — بگزید صبر را دل حیران و ناتوان

گر صبر کرد ورنہ کند آنچہ بود شد — فعّالِ ما یُرِیدُ چو خواہد کند ہمان

واحسرتا زِ فرط خجالت شدیم خجل — جان با تو ہم رکاب نگردید و ہم عنان

در بزم اُنس جملہ دم از عشق میزدیم — روز فراق قالب بر آید عیار جان

جانم نہ بود لائقِ ہدیٔ نثار دوست — این تحفۂ محقر ما ماند ہم چنان

من بعد ازین وجود و عدم یک برابر اند — چون دوست را نبود نظر بر قبول آن

إِنْ مِتُّ بَعْدَ ذٰلِكَ حُزْنًا فَلَا تَقُلْ

لِيْ خَالِصُ الْمَحَبَّةِ بِالرُّوحِ وَالْجَنَانِ

سال رحیل از دل ارباب خواستم — گفتا غریق بحر غم نیستم توان

امداد شد ز ہاتفِ غیب و ندا بداد

بادا احد رفیقش و انبار غم بدان ع۱

۱۲۹۴ھ

۱۲۹۵ھ

ع۱ طریقہ د تخریج د تاریخ لہ دے مصرعے نہ:

« بادا احد رفیقش و انبار غم بدان »

د "انبار غم" د اعداد و شمیره چہ د ابجد پہ حساب (۱۲۹۴) کیږی یو عدد نور ملګرے کړه چہ جمع ۱۲۹۵ شی او دغه د صاحب د سوات تاریخ د وفات دے - یعنی روزِ شنبہ وقت چاشت اُوومہ ورځ د محرم الحرام سنہ ۱۲۹۵ھ (ناشر)

Marfat.com

دلیل

دلیل خان په قوم محمدزی پښتون دے۔ د نوښهر د میتها خیلو د کندی اوسیدونکے وو۔ بیا روستو نوښهر سره نزدے په ترکئ کلی کښې چه په کنهړ مشهور دے، آباد شوے وو۔ د محمدین او شاه پسند خان همعصر وو۔ په ۱۸۲۵ کښې پیدا شوے او په سنه ۱۹۲۰ کښې په حق رسیدلے دے۔ ډیرے چار بیتے دے ویئلے دی۔ چه اکثرے په کښې تاریخی او حماسی دی۔ غزلونه او رباعیات هم لری۔ د کلام نمونے دا دہ:-

ه

که مے څښلی ستا د مینے شراب نه وے — یا به زه کښلے مے د شعر کتاب نه وے
ما به حال د خپل زړګی چا ته وَنه وے — دریغه دریغه که ګویا په دے باب نه وے
چه ګویا شوم نو رسوا شوم په عالم کښې — که په خوله د غمازانو خراب نه وے
د فراق تږا به ما څه له کوله — که بیلتون راپسے پښه په کاب نه وے
شب و روز به منت بار د یار نه وم — که را غلے مو په مخ کښې کذاب نه وے
بوی به نه تللو د زلفو خوشبوئی زمانه — که زړګے مے په هجران کښې کباب نه وے

زه دلیل به نر غوندے په دنیا نه وم
که دا غم مے کناره په رباب نه وے

(۲)

یو ساعتے زه د غمه وزګار نه شوم — بیهوده یم په تنا د غفار نه شوم
شپه او ورځ را باندې برق هسے تیریږی — زه د عمر په قیمت خبردار نه شوم

Marfat.com

د شیطان په طبع کړم هم سرو هلے — زهٔ د دین د شنهٔ دولت دنیا دار نهٔ شوم
نه پوهیږم چه خپل خدای نهٔ مے تر تیر دے — چه د پیر او د فقیر خدمتګار نهٔ شوم
عاشق زتلی پیره سپینه زخت مے تیر دے — لا تر اوسه د اِنسان په قطار نهٔ شوم

قافلے تیار دی ستر ما په مخ کینبے
زهٔ دلیل په همه عمر تیار نهٔ شوم

دلته د نمونے په طور د دهٔ د یو څو چار بیتو د مطلع او مقطع شعرونه درج کوو۔

(۱) مطلع دا ده:- یوه ورځے جبرائیل

ورو استوهٔ جلیل
یونان بادشاه له ورشه ورته وایه په داشان
بنده شه د رحمان

او ددے چار بیتے مقطع دا ده:-

محکم او سه دلیل
پیدا به شے د سبیل
درود په ژبه وایه د نبیؐ آخر زمان
بنده شه د رحمان

(۲) د دویم چار بیتے مطلع دا ده:-

عمر مے خپل په بل تیر و لیدهٔ — نهٔ په سبا ئیست کینبے در خانه د څه
کړکے زهٔ په وینو سور لیدهٔ — خبر مے نهٔ نه د ورا سے د څه

(۳) دیوے بلے چار بیتے مطلع دے دا سے ده:-

پیدا شو په تیپهه کینبے د سپید کره فرزند — بے شانه جادو کرد
او ددے چار بیتے په شعر دے دا دے:-

اصلی ځاے مے لږ بنا دے اوس یادیږم په کنهٔ — بے شانه جادو کرد

باز محمدؐ

باز محمدؐ په اصل د قندهار و[عه]. څه زمانه په بنوں کښې اوسیده. بیا پېښور ښهر ته راغلی دے. او مولانا غلام جیلانی د پېښور نه د خوشنویسۍ فن زده کړے او کتابت به ئے کولو. په ۱۲۸۷ھ کښې د پېښور په مطبع مصطفیٰ کښې عینی شرح د آخر کنز د میاں محمد امین فرزند د میاں عبد الصمد او ناظر خیر الله تاجران کتب پېښور په فرمائش سره چاپ شوے ده. چه په دے کتاب د سید میر حسین پېښاوری شاګرد د مولانا غلام جیلانی حاشیه ده. دا کتاب د باز محمد په قلم لیکلے شوے دے. او د دغه کتاب په دې مطبوعه نسخے په آخر کښې یو پښتو نظم د باز محمد په قلم لیکلے شوے دے. د دغه نه علاوه یو پښتو منظوم کتاب تالیف د محمد آمین د تهکال په ۱۲۹۵ھ کښې په دهلی کښې چاپ شوے دے چه دغه هم د باز محمد په قلم لیکلے شوے دے.

عه ښاغلی عبدالحی حبیبی په خپل کتاب تاریخچه ادبیات پښتو کښې باز محمد د قندهار له شاعرانو څخه شمار کړیدے. مګر زه وایم که څه هم باز محمد په زیږه د قندهار و. لیکن آستوګنه ئے په پېښور کښې وه. (ناشر)

ئه د مولنا احمد الله یوسفزائی چه په مکه شریفه کښې اوسیده او د سوات د شیخ عبد الغفور مرید وو هغه یو عربی کتاب د کوټے د حضرت صاحب په رد کښې لیکلے دے چه ئے هغې باندې د مکے، مصر، شام وغیره علمائو تقریظونه دی لکه شیخ احمد بن زینی دحلان وغیره. د دغه شان د غلورو پښتنو علمائو تقریظونه هم شته چه یو په کښې باز محمد قندهارے دے. او دغه کتاب په ۱۲۸۲ھ کښې په بمبئی کښې چاپ شوے. لیکن د غور قابله خبره دا ده چه احمد الله لیکی چه باز محمد نزیل شهر بمبئی. هر کله چه باز محمد خوشنویس کولائی کیښنه نه ده دیر کتابونه د پښتو په بمبئی کښې چاپ کیدل نو لیدے شی چه د دے غرض د پاره بمبئی ته تلے وی. (ناشر)

Marfat.com

باز محمد د عینی په حاشیه کښې د پښتو څینې شعرونه په طور د انتخاب لیکلی دی. چه زیاتې اشعار یې د حمید مهمند انتخاب کړي دي. دلته اول د ده د خپل نظم او بیا د ده د انتخاب یو خو شعرونه درج کوم. والله سه

سره لمبه ده په بازار کښې چه بلیږي — هر سړی چه ورنږدې شي د سوزیږي
هیر عالم په وسره اور ته را ارتاو کړي — د دغو په زړه کښې سرې لمبې بلیږي
هر سړی چه زړه یو ختم د یارانه زاړي — او شهره یې ورځ په ورځ په زیاتیږي
په دې وخت کښې اوس خبره په پیسو شوه — بې پیسو جواب د چا نه شي رد یږي
او هغه چه بیا کم ذات وي په دنیا کښې — چه پیسه یې لاس ته ورشي په خوا کیږي

باز محمد که ایمان د سلامت شي
په عقبی به دې هم د یو پکار پیږي

د باز محمد د انتخاب کړو شعرونو په طور د نمونې یو څو شعرونه دا دي:

داوینې که د یار خط په ماته زبه
چه خبره کړه تن ساعت هر چاته زبه

د دې دهر د وفا د ګلو بوی لاړ
له خوبانو څخه ی نام د مهر دوی لاړ

په نازک شونډو یار دیاني مه بره
خدایه هم شونډې تاله سرې یاتو در کړې

سل ځله م درته خپرې کړې له بدن خپل
واده نه یوول له ماته رقیبان ...

یا تنور دې یا دوکان د آهنګرو
چه په عشق کښې تصور کړم خپل سوب

آشنا ن د ده د دنیا د آشنا پوچه
د لالا د ګلو غواړې بقا پوچه

Marfat.com

محبت کړم د خوبانو اوس په نته
د هر چا د مینې بار وړم بې منته
لکه لا د خط په بخت د یار نتاب سخت
وي د شپې باد و باران سره لې سیلاب سخت
که هر څو مې د حیا په حجاب نغښت
عاقبت زما عاشقي شوله مشهوره

د باز محمد د مثنوي نمونه دا ده:-

مونږ محتاج یو الله تعالیٰ تا ته	ته محتاج نه یې هیچا ته
وحدانیت ستا په ما فرض دے	لازم شوے لکه قرض دے
پیغمبر مې محمد ص دے	چه زمې دوست د پاک احد دے
بل د ده څلور یاران دي	چه هغه بیا جنتیان دي
بل څلور مذهب دي جانه	بهترین یې دے نعمانه
بل زما مناجات دا دے	چه د تا نه هویدا دے

خپله مینه مې په زړه کښې وا چوه ته
غیرې مینې مې له زړه لرې کوه ته

د دے نه معلومیږي چه باز محمد د دیارلسمې ۱۳ صدۍ هجري د آخرې زمانې شاعر دے. د دے نه زیاتي حالات یې نه دي معلوم.

Marfat.com

بهاول خان

بهاول خان د بنوں د علاقے او سیدونکے عالم او د طب یونانی حکیم وو. پلار نوم یے حکیم شادی خان وو. د جنګنامهٔ زیتون په نامه یوه قصه یے په مثنوی کښے لیکلی ده. چه د دهکنی ژبے د کوم کتاب نه یے ترجمه کړے ده او لهجه یے بنوسئ ده. لیکن دا سے معلومیږی چه څه موده عمر یے په وادئ سوات و پېښور کښے تیر کړے دے. په دے وجه د یوسفزئ لهجے سلاست او روانی یے په اشعارو کښے لیدے شی. د سوات د باباجی صاحب سره عقیده لری. دا کتاب یے په سن دولس سوه پنځه اتیا (۱۲۸۵ ه) کښے لیکلے دے. یوه نسخه یے په لندن میوزیم کښے موجوده ده. د کتاب په اول سر کښے لیکی:-

د کونینو خاوند ته یے سبحانه ... هم خالق رازق د هرچا ذوالمنانه
خپل قدرت سره دِ کړه عدم ظهور ... آسمان زمکه ملایک د آدم حور
آدمیان جنیان حیوان بلکه تمام ... یاد وِل دِ ثنا کړی خدایه مدام
ته توانا عالم قادر یے په هر کار ... په نیکیٔ کښے د هرچا یے مدد ګار
حمد ثنا دِ ثنا بے حده بے شماره ... زهٔ په وایم همیشه پسر ورد کاره
اوس آغاز نعت صفت د رسول پاک ... چه برتر دے په رتبه نور کل افلاک
هم عاشق دے هم معشوق د خپل سبحان ... ذکر قدر یے د رب دے په هر آن
هم شفیع د کل اُمم دے صاحب نور ... د حضرت په شان لولاک نازل یار انور
د نبیانو د سرتاج سردار د دین دے ... محمد نبی بهتر مومنو یقین دے

Marfat.com

محمدؐ دے لوئ بادشاه د اصفیاؤ — محمدؐ دے عالیجاه د انبیاؤ

بیا ورپسے د دستو والی :-

تعالی تل کړیا په دا گفتار شه — د نبیؐ د لیس د دانو خد منکار شه
هر په چه تابعدار د لیس وان شه — په دوه کونه کښے شاد او عالیشان شه
او سی سبب د دے کتاب وا ورله مانه — په دهگړی ژبان رقم وو زما جانانه
مشتهر وه په قصه د زیتون گوره — عجائب د محمدؐ حنیفه گوره
مخفی شوم په خپل زړه کښے دا کتاب — افغانی ژبه دوان کړم په شتاب
په پښتو کے کړیے یو هندی ژبان — چه عجیب وه حنیفه زیتون بیان

دکتاب په آخر کښے لیکی :-

له فساده شه آباد دا کل جهان — فتنے پوره شو سے بے حده دا زمان
پلار او زوی بے اتفاق شو دی هره — محبت شه بر طرف د ورور له وروره
استادان او شاگردان صاحب عند د شول — دا زمان کښے بیخ کند ونکی بنیاد شول
عزت نه کوری د دنیا و ته مے مخ دے — څوک چه ترک که دا خصلت د هغه سخ دے
تعالی! ته کړیا په استغفار شه
له فساده له عناده توبه گار شه

زړه سانه د هر مومن په هر ساعت کښے — په دا نفع ډیره دے راحت کښے
دا جهان وا ډره فانی دے او نابود — سود او زیان د هغه جهان په دا موجود
ته مختیار دے که ثواب کړے که عذاب — خدائ راضی دے په ثواب د بد عتاب
عالمان دی روشنائی د دے جهان — لکه شمع تاریکی کښے دی عیان
لوئ عالم دے دا زمان صاحب سوات
د ده علم لکه بحر بے جهات
برابر دے شریعت په طریقت کښے
لوئ شاه بادے حقیقت په معرفت کښے

Marfat.com

ئے غریب عاجز مسکین او بے نصیب — په دا ملک کښې ئې مشهوره په طبیب

قصه تم شوه آزمایاره دلدارہ — لا ئے نه کړم خبردار شه ای هوښیاره

شین او نون او بے او هے وه له ایامه[1]

دغه حال وه وی کړوه صاحب نامه

و تاریخ پو و لیښتم د دویم خور — سن هجری غرفه[2] کښې کوره په هر طور

بے او هے الف او لام کړه نور تمام — که هوښیار ئے فکر دکړه داده نام

شین الف او دال او یا و خا و نون[3]

زما پلار دے دا مصرعه کښې ذوننون

دا مشهور په حا و کاف و یا و میم[4]

که ته هوش کړے نو به زر شے پرے فهیم

دل رنجه شو په اتمام د دی بیان

آخرکار د تاسف او د ارمان

---

[1] روز شنبه۔ — [2] ۲۱ ماه ربیع الثانی۔

[3] ۱۲۸۵ھ۔ — [4] بهاول۔

[5] شادی خان۔ — [6] حکیم

عبدالقادر خان

خان بهادر عبدالقادر خان د موضع جنډه علاقه صوابئ ضلع مردان اوسیدونکے وو- د انګریزانو د حکومت په وخت کښې د خان بهادرئ خطاب ورکړے شوے وو- تر آخره عمره پورې د سپي د بوسفزو پخوانے قومی لباس به ئے آغوستنه درنه خلکه ګوړ پړتوګ- غټه سپین پټکے- د مشرانو د زمانے زاړه عادات او اخلاق ئے لرل- د ځلور پنځوس کاله (۹۰ سال) په عمر ۱۹۳۴ء کښې په حق رسیدلے وو- په پښتو ژبه اتادیب مئین وو- او پخپله هم بنه موزونه طبعه ئے لرله ډیرے چاربیتے او غزلونه ئے یادګار پاتے دی- دیوے چاربیتے مطلع ئے داده:-

ولاړ دے اسرافیل د عرش په خوا کښې ثنا خوان
شپیلئ ئے ده په خوله کښې منتظر دے د فرمان

د دے چار بیتے په مقطع کښې وائی:- سه

سردار عبدالقادره محمد نبی سرور دے
توښه د نیکئ واخله درنګ ساعت د سفر دے
عذرونه نغارے د کوچ مرګے ولاړ په سر دے
بیدار اوسه مؤمنه الاالله که په زبان

د غزل نمونه ئے داده:-

غم په زړه ئے اندرون د جانان پریوت ۔۔۔ څکه داغ مے په زړګی د هجران پریوت

Marfat.com

دا زما یار بې وفا دې نه پوهېږم
که دا رسم په ټولو د خوبانو پرېوت

دبیلتون سوزو په زړونګ چارې وکړې
ځکه تخت د سر نګون شاجهان پرېوت

په انجام د عاشقۍ څوک پوهه نه شو
افلاطون د زمانې تر آریان پرېوت

د آشنا مینې د باغ د زړه تالاکه
سړی کاږې الغیاث په زړه بار پرېوت

عبدالقادر دائی مختور یم خدایه تا ته
چه د لاسه دې د عدل میزان سپر پرېوت

Marfat.com

عمردین عمر

عمردین عمر د مردان د سید ونکي وو. او د پلار د ریتم ځوئ وو. د دوئ د پلار نوم زین العابدین او په قام اتمان خیل پښتون وو. په اصل کښې د قبائلي علاقې د اتمان خیل قبیلې د سپړي نومې کلي او سید ونکي وو. سپړې د هشتنغر تنګي نومې کلي ته نزدې د غرۀ غاړې د اتمان خیلو کلې دے. د دوئ والد صاحب په هلکوانه کښې مردان ته راغلے وو. او په کائیډ پلټن کښې نوکر شوے وو. چه د حوالدارۍ عهده ئے اوله. د پنشن نه پس په مردان کښې او سیدۀ. واده ئے هم دلته کړے وو. او هم دلته وفات شو.

د عمردین څلور زامن وو. په دے ترتیب سره. نظردین، ګلزاردین، عمردین، ظهیرالدین او شاه دین.

(۱) نظردین د علاج حیوانات په محکمه کښې مستشنټ وو. اولاد ئے په مردان کښې آباد ده.

(۲) ګلزاردین په پولیس کښې تهانه دار وو. چه اولاد ئے نه وو.

(۳) عمردین دده یو ځوئ وزیردین په ځلمی توب کښې وفات شوے دے. او بل ځوئ نصیرالدین ئے په پولیس محکمه کښې اے. ایس. آئی دے.

(۴) ظهیرالدین بی. اے. بی ټی پاس دے. ننن موده په اسلامیه کالیجیټ سکول

Marfat.com

پېښور کښې نائب مدرس وو۔ نن ورځ مردان کښې په کور دے۔ د اولیا کانو
په عمر دے اولاد ئې هم شته دے۔

(۵) شاه دین۔ دده عمر هم اولیا کانو ته نزدې دے په مردان کښې اوسیږي۔

ماسټر گل دراز صاحب د مردان په خپل یو مضمون کښې ماته دا معلومات رالیږلي دي:۔ "عمردین عمر چه زما ماما وو۔ سفر قول ملازمت په صوبه د بلوچستان کښې کړے وو۔ آخري عمر کښې د مردان د تحصیل په محکمه کښې ئې هم ملازمت کړے وو چه بیا د بیمارۍ په وجه ئې دغه ملازمت پرېښودو۔ او لکه چه د عامو شاعرانو ژوند وي۔ آخري عمر ئې هم دغه شان بې غمه وماته تېره وو۔ غالباً په ۱۹۲۳ء کښې د خپل ورور ظهیرالدین د لاسه قتل شو۔"

عمردین عمر هر ذهین فهیم استاد او خوشنویس وو۔ د ښکلي ... پېښور ته ئې ... ورته ... وو چه د مردان په کلي کښې ... پاس ... وو ... چه په مردان کښې ... پاس ... شي۔

د مردان مشران خلق وائي چه د عمردین د ... نمونه ... وو۔ مردان مشهور خان شاد محمد خان مرحوم ... ډېره ... او ... وه۔ ځکه چه شاد محمد خان په خپله هم ښه قدر ... کلام شاعر وو ... د پښتو ادب قدردان وو۔

عمردین په آخر عمر کښې د "وحدت الوجود" په مضمون یو نه کتاب لیکلے وو چه د صفح نوم ئې "الله م" ایښودے وو۔ د حرف "ا" نه ئې الله مراد وو او د حرف "م" نه ئې محمد رسول الله وو۔ ددې کتاب اصلي مسوده په اردو انګرېزي ژبو کښې د هغه د ورور ظهیرالدین سره محفوظ ده۔ هر کله چه ددې کتاب ذکر د ...

Marfat.com

د لوستو او علم نه ډېر لرې وه . نو چه یو څو اقتباسات ئې د لاهور په پیسه قوم نه اخبار کښې چاپ شول . نو ملایانو پرې د کفر فتوې ورکول نو ډېر ئې بې عزته کړو . کېدې شي چه کله په ملک کښې د دغسې تحقیق قدر پیدا شي او د دغې کتاب فائده وا خیستلې شي — عمر دین زرماما او د دغه د دیوان یو نقل مې د پښتو اکاډیمي پېښور یونیورسټي ته ډائرکټر صاحب مولانا عبدالقادر ته ورکړېدې چه محفوظ پاتې شي او څوک ترې نه فائده

ص یو جفا بله وفا ده دغه ستا د غم زرما — یو خندا بله ژړا ده دغه ستا د غم زرما

په نیمګړي ژوند ترکومه زه به عشق کړم ستا د حسن — یو بقا بله فنا ده دغه ستا د غم زرما

زړه مې نور صبر و نه کړه څکه نن مې د تا ښکار کړه

یو عطا بله خطا ده دغه ستا د غم زرما

تا خو قتل کړم په قهر زه ژوندی شوم په قول ئې — یو سزا بله جزا ده دغه ستا د غم زرما

مروال مې دی راوړی ستا د یو دیدن دپاره — یو بها بله مسرا ده دغه ستا د غم زرما

نن مې مرګ د خدایه غواړې زه د خیر غواړم د

یو خیره بله دعا ده دغه ستا د غم زرما

که هزار ځل جفا کړې زه هم ډېر په دا راضي یم — یو رضا بله قضا ده دغه ستا د غم زرما

چه رقیب ئې عوض زر منیا دی د ستا تنګیه دا ییږه — یو ... بله شفا ده دغه ستا د غم زرما

نه په خیال حسن نازنین زه به ارځ ... کړم

یو ده سخا بله زما ده دغه ستا د غم زرما

کله مینه کښې بلبله صاعمر مره یکسان کړې

یو دروغ بله رښتیا ده دغه ستا د غم زرما

بلبلان دې په شور وي نم وړاندې ورځ سنګار چپ

په چمن کښې ګلونه ونم وړاندې ورځ سنګار و چپ

Marfat.com

چه مې سېل او کړو د ګلو، په دا وخت د نوبهار کښې
ټول ګلونه په اوږي وینم ویرانه دې ورو ستوراس وچیب

چه داخل په میخانه شومه، ساقي جام په لاس نیولې
ترش چاپیره میخوره وینم، ویرانه کړو ستوراس چیب

چه مې سر په بتخانه کړ، بت پرست دا په له ګُښته
هر طرف ته سکور وینم، ویرانه درو ستوراس چیب

د عدمه په هستۍ شومه، بیا هم عقد شان عدم دې
دا جهان لکه ګور وینم، ویرانه درو ستوراس چیب

چه مې ځان وته نظر کړه، په دا ښهر نا پُرسان کښې
لکه ځان هسې نور وینم، ویرانه درو ستوراس وچیب

ما چه اوستول زړونه، د دې خلقو په جهان کښې
هر یو زړه لکه سکور وینم، ویرانه درو ستوراس چیب

دا جهان څه جهان نه دې، په ژوندوني یو دوزخ دې
د زړه هر سري تور وینم، ویرانه درو ستوراس چیب

په دنیا څه پاتې نه شو، خو یا عناد یا غلطي ده
هر یو کس په زړه چور وینم، ویرانه درو ستوراس چیب

نه په غم سره شریک دي نه شامل دي خوشحالۍ کښې
د نفاق کورا کور وینم، ویرانه درو ستوراس وچیب

لور او مور سره جوړه نه دي، پلار او ځوی سره وران دي
ورور د ورور بیزاره له ورور وینم، ویرانه درو ستوراس وچیب

Marfat.com

هر هنده وته چه خیال کړم، زړه عمر پښه په کا باد
درنګئ ساله ئې سور وینم، وړاندې وړو ستوری چپ

د نثر د نمونې په طور د عمر دین عمر د دیوان دیباچه دلته نقل کولے شي. چه د دے نه د طرز تحریر اندازه کول په آسان شي. لیکي:-

" زما نشي یاد چه ما چرې د خپلو بزرګانو د خلے آوریدلی وی چه زمونږ په خاندان کښې چرې یو شاعر په یو وخت سره تیر شوے دے. صرف له دے خاندانه خدائے تعالیٰ یوازې کرم چه د شعر خزانے را عطا کړه. او لکه بنامارے د دے ګنج د پاسه پیچ وتاب کړم. زه په نیستئ د دے دولت سراسر مفلس وم. او له دے نعمته بالکل محروم. مګر پاک رب تعالیٰ د هرے چارے یو سبب جوړوي او لوئ کارساز دے.

په دیارلسم ۱۳ مئی د سن ۱۸۹۴ء عیسوی په شپه کښې ما نور او جلوه د هغې دلربا چه پاک پروردګار پرے شیدا دے او اسم مبارک ئے محمد مصطفیٰ دے په خوب کښې اولید. چه صبحدم د خوبه بیدار شوم. هغه دم مے په خیال کښې هغه ښکلے تصویر را پیدا شه. او هر یو خال او خط نه به مے چه تصور کړ. یو له بله را ته زیات دلکش معلوم کیده. حتیٰ چه دا خیال ما لیسے شه. او باعث زما د عاشقئ شه. او لاس مے په شعر پورے کړ. تاهم تر یو وخته پورے ما دا کسب او کړ. مګر لیس له هغې په وجه د ملازمت د سرکار انګلشیه په ممالک د بلوچستان او ایران کښې ما ته د شعر د پاره ډیر کم فرصت وو. ولے آثرے د محبت هغه شان په زړه قایم وو. او تر اوسه دے. او ملازمت کښې مے زړه نه لږیده.

Marfat.com

سکال د مارچ په میاشت کښې اتفاقاً د مریانو په علاقه کښې په
صوبه د بلوچستان کښې، زهٔ د بابو غلام حیدر خان سره چه د هندوستان
د سروے په محکمه کښې په عهدهٔ جلیله باندے ممتاز دے او باشنده
د هرګ د کلی چه د آباسیند په غاړه د حضرو و تربیله په لاره کښې غازی
تهانړے ته نزدے دے - او پېښور کوډر سره متصل واقع دے - او ماته د
خپل سکه ورور نه خوږ او راتیر دے - یو ځائے شوم - زهٔ په درخواست
سره او په دے خیال چه اکثر خلقو په علاقه د یوسفزائی په ضلع د پېښاور
کښې څه مات ګډ شعر په ابتداء کښې زما آورېدلے وو - او مشتاق وو -
ما دا دیوان په قریباً دوه میاشتې کښې تیار کړ - دا څه دومره لوئ
دیوان نه دے - مګر خاموشی په هر څه کښې پکار ده - او ځکه زیاته
دیباچه هم ښه نه ده -

نقط المرقوم ۷ مئی سنه ۱۹۱۱ء مقام کردګاب - علاقه
مستونګ ریاست قلات - صوبهٔ بلوچستان -

دستخط عمر دین عمر - مردانی -

Marfat.com

خیرے

خیرالله خان په قام نعمت خیل وو۔ چه د زبر خیل شاخ دے۔ او زبر خیل په عایشه خیل ورکډیږی۔ او عایشه خیل د نیک بی خیل یو شاخ دے۔ د پر سوات په چاچو ډهیرئ کښے اوسیده۔ نن ورځے د چاچو ډهیرئ نوم بدل شوے دے۔ شاه ډهیرئ ورته وائی۔

خیرالله خان په خپلو شعرونو کښے خیرے تخلّص کوی۔ او د سوات په شاعرانو کښے زیات مشهور شاعر دے۔ تقریباً د پنځوس کالو په عمر کښے په ۱۹۰۸ء کښے په حق رسیدلے دے۔

په شعرونو کښے ئے د تصوّف رنګ زیات دے۔ په دے وجه د خیری بابا په نوم مشهور دے۔ روایت دے چه د دیر نواب ورته د نوکرئ پیشکش کړے وو۔ په جواب کښے ئے ورته لاندینے غزل ورا ولیږه۔ چه د دے نه ئے د نقر زهد او توکل استغناء معلومیږی۔ وائی:-

زه چه د شاه په مینه مست یم بنګ شراب څه کوم
تن مے په خپله سرودی شه چنګ رباب څه کوم

عالم مکے له ره تردی ومی د طواف د پاره
زما دی ره مکه خدائے پاک د کل جناب څه کوم

ص۳ خیرے د هغه چا نوکر دے چه زوال نه لری

Marfat.com

دَ نيمې ورځې نوکري د خان نواب څه کوم

د خيري په شعرونو کښې د پند او نصيحت مضامين هم شته. لکه چه وائي :-

که دریاب په غاړه کښېنې اسراف مکړه
که دې ډکې شي خزانې د سيم وزر نه
چه ئې څنګه دَ پيسې نګاهداشت دره وي
که باد شاه وي لاندې کيږي د نوکر نه
د ښادره سره پښې غزول ښائي
هسې نه چه پښې ووباسې د ښادر نه
زهٔ خيرے د داسې خلقو نا اغواړم
چه نه ويره کړي له خدائ نه پيغمبر نه

د چا چرته هيرئ سره نزدې په کوټلئ نومے کلي کښې د خيرالله خان معشوقه ده. مګر په هيڅ يو شعر کښې د هغې نوم ئې نه دے ذکر کړے. او نه پرې څوک پوهه شو چه دا څوک وه؟ په دغه کوټلئ کښې فقط يوه چينه ده. هغه هم داسې چه ښاځکې ښاځکې اوبه ترې نه راځي. جينکئ چه ترې نه منګي ډکوي. نو ډېرځ پرې ستړه شي دوئ ورته قلار نه ناستې وي. خپله مشغولتيا کوي. په دې وجه دَ دغې چينې نه مشغولکئ کښېږدے شوه. خيرے د خپلې معشوقې په ذکر کښې د دغه مشغولکئ چينه يادوي. او وائي. سه

د مشغولکئ طرف ته وخت د ماز ديګر بنايه شي — عائيشه د داړه لاړې ورته
هغه د ډېره ورله ورځئ چه پېرګهو د ډېر بنايه شي — څه جانيشته دَ دريابې ورته
خيرالله خانه که روئيدا رې ورته

خيرالله خان په خپلو شعرونو کښې په رديف او قافيه کښې خالص پښتو لغات ډېر

Marfat.com

په خوند ځائے کړیدی۔ وائی:-

په بېبهاشه زما یاره دَ با سنړیٔ
بیلتانه دے دَ زړهٔ ورانه کړی کوړیٔ

چه دے نوم فضل مولیٰ مُلا یادیږی
خدائی درکړے بنایسته علم دَ هُنړیٔ

رقیبانو په غلطه لار روان کړم
په تَلو دے ځیٔ اَعنزی د مالکو نړیٔ

توره بخته ځمک دِ خوار دَ زمانے کړم
چه هیرا ے نه قبلیږی په شنړیٔ

زرهٔ خبرے تره په سل قسمه اَمنی یم
کهٔ چار وهره د شو ملو کړله کوٗنړیٔ

Marfat.com

شاه پسند

شاه پسند خان د کندي میتاخیل د ننګرهار وسیدونکے او په نوم محمدزی پښتون دو. د دلیل محمدین تیلي او باچا ګل هم عصر دو. ډیرې غزلې او چاربیتې یې ویلې دي. عالم سړے دو. په دغه وجه په شعرونو کښې یې د خپلو نورو هم عصرونه نزاکت او خوبي زیاته ده. پادري هیوز د غزل ګو شاعرانو په ډله کښې شامل کړے دے. د ده یو څو چاربیتې په هارو بهار کښې او یوه زمانه کتاب پښتو سندرے کښې راغلي دي. صدیق الله رښتین په خپل کتاب پښتانه شعراء دویم جلد کښې د ده ذکر کړے. یو دوه غزلونه یې په بهار نورو کښې راغلي دي. دا لاندې چاربیته یې تر ننه د رحمٰن په ټیټ کتاب کښې چاپ شوې نه ده. په دې وجه دلته درج کړے شوه. په ۱۸۲۸ء کښې پیدا شوے دو. او د اتیا کالو په عمر کښې په ۱۹۰۸ء کښې په حق رسیدلے دو. د کلام نمونه یې دا ده.

مطلع :- تن بیا د زړه په سرے لګیدلے د عشق اور دے

جواب یې کړے سپور دے

تن بیا د زړه په سرے لګیدلے د عشق تیر دے

نږے وینې څې ډیر دے   سکه زړګي نه بیرون

دیدن یې مایه عشق وستوګو کړے په زیر زیر دے

Marfat.com

زهٔ وائیم یو نظیر دے — جدا رانه پرون
اوربل ئے دا طلسو لوبه لس وو دلے تور دے
بے قط د ګلو سو دے — رنړائے د ګړانو

شاه موړ مے که په لبو په لذت کښے چوارے دی
بیخی په پانړسرے دی — خوراک د بختورو
ګلونه دو لس تیر شو ستا په در کښے ډیرے دی
مدام مے شو ګیرے دی — زړهٔ سخت د درد لیږ
بنه آوره په عوږو د بلبلتون نارے سورے دی
لمبکرے ئے خورے دی — چپاوئے زور آورو
که ولوټ مے شا پسند چه په دین لیسے نسکور دے
لوئے درنړئے څکه خور دے — نوکر دے د خوبانو

یو غزل ئے دا دے :-

نن ترما زړګیه ولے خطرے کړے
راپه یاد دے د کوم قیت بیا شجرے کړے

عمر واړه د شنه تیر نشوے خوشحاله
د آشنا عمونړ لا ذرے ذرے کړے

په تیره چاره دیا دلاسَ مړ شوے
د هجران په اورئے لا خاورے ایرے کړے

یوه ورځ د فراغت په ځائے ولاړ وُم
په چمن کښے مے د ګلو ننداره کړے

ناګاه هلته کښے سورے د زړهٔ په سر شوم
چه شا مستے په سپین مخ زلفے خورے کړے

د جبین دیا مے قط وو سره ګلونه
تر مشکین اوربل ئے هم خورے پیرے کړے

هسے شان تور ئے بر سپیره شوله شاله
چه سپین مخ ئے د ګلرنګ ستارے کړے

Marfat.com

بېګناه قنديل کاندے ترس ئے نشي   له عاشقونه ئے ولې اديرے کړے
رب د پاره مخ څرګند کړه له محل نه   ملنګانو په دربار د درنه ديرے کړے
ستا ديدن مے په مثال آب حيات دے   را په خوله که ياره شونډے چواړ کړے
د آشنا زړګے په نرم لکه موم کړے
شاه پسند! چه دا نه سوځے مصرعے کړے

پلوشے د کړې پيزوان له ځمره تيزے   دواړه لب د چوارسه راکړه خونريزے
خوشبوئي د دے په تمام جهان خوره شوه   په چمن کښے نوے ګل نه سحر خيزے
که نارے د رنه وهم فرياد مے ناوړے
د رقيب په خوا کښے ځې په اوړے سېزے

فیض الله

(قریشي)

فیض الله قریشي د ضلع هزاره د تربیلې په هغه کلي کښې چه د لغمانو تربیله ورته وائي د ابراهیم خانو په کنډي کښې اوسیده. د دیني علومو فاضل وو. په عربي ادب کښې یې ښه مهارت درلو. او په فارسي او پښتو ژبه یې شعرونه هم ویل. د عربي ژبې او ادب استعداد او قابلیت یې د فارسي ژبې نه ښه وو.

ذکر شوے د حضرت سید امیر صاحب مرید وو. ډیره موده یې ورسره تیره کړې ده. او د سوات په سفر (۱۲۷۲ھ) کښې د خپل پیر سره ملګرے وو. صفي الله خټک په خپل کتاب نظم الدرر کښې د ده د پیر ځاے ذکر کړے دے.

فیض الله درې کتابونه تالیف کړي دي[1]. دلته د دے درے واړه کتابونو ذکر کول مناسب ګڼم.

(۱) یوه په عربي او فارسي ژبه یوه رساله ده چه د "اقامة الجمعة" و "فرضیة الجمعة" په نوم سره پېژندلې ده. د دیباچې شروع یې دا ده:-

الحمد لله الذي یسبح له الرمال. و یسجد له الظلال. و یندکدک من هیبته الجبال. خلق الانسان من طین اللازب والصلصال. و زین

---

[1] چه قلمي نسخې یې د صاحبزاده صاحب د ټوپۍ په قلمي کتب خانه کښې زما د نظر نه تیرې شوې دي. (عبدالحلیم اثر)

Marfat.com

صورته باحسن تقویم واتمّ اعتدال۔ وعصم قلبه بنور الهدایة عن مضات الضلال۔ واذن له فی قرع باب الخدمة بالغدوّ والآصال۔ ثمّ کمل بصر المخلص فی خدمته بنور لا یزال۔ حتیٰ لاحظ بیضاوه حضرت الجلال۔ فلاح لهٗ من البهجة والکمال۔ ما استنقع دون مبادی اشراقه کل حسنٍ وجمال۔ والصلوٰة والسلام علیٰ سید الانبیآء وعلیٰ آله خیر آل۔ امّا بعد فانّ الجمعة فریضة قائمة الی یوم القیٰمة بالکتٰب۔ "یآیها الذین امنوا اذا نودیَ للصلوٰة من یوم الجمعة"۔ ددے رسالے نور دلیکلو طرز هم د علمی تحقیق برابر دے۔ او دپیرته اقتباس نه ئے په عربی ژبه او ادب کښے دمهارت او علم وفضل اندازه لګیدے شی۔

(۲) دوېم تالیف ئے دحضرت صاحب مناقب دے چې په فارسئ ژبه ئے لیکلے دے۔ لیکن لکه چې وړاندے ذکر وشهٔ۔ فارسئ ژبے انشاء او نظم ئے دواړه کمزوری دی نمونه ئے داده:۔

ملقب به عبدالله اندایشان — مُبشّر به ابن من عندالله اند ایشان
بس هست درام فضیلت والابشارت — که بنده به بندگی یابد ز مولیٰ اشارت
زندرین رمزے با منصب اکبر بدان — تو "رضوان من الله اکبر" بخوان
عکس عبدالله همه نوری بود — عکس بیګانه همه دوری

عکس نورانی همه روشن بود
عکس ظلمانی همه گلخن بود

(۳) درېم تالیف ئے په پښتو ژبه منظوم مناقب دے۔ چې په دے کښے په تاریخی لحاظ سره ډیر معلومات راجمع شوی دی۔ حضرت سید امیر صاحب د کو ټهٔ چه:۔

Marfat.com

(و) سید احمد شهید ته کوم خطونه لیکلی دی.

(ب) دانگریزانو خلاف د پښتنو سردارانو سره یې کوم ملاقاتونه کړیدی.

(ج) او یا شجاع الملک ته یې د کابل د حکمرانئ په وخت کښې کوم خط لیکلے دے.
چه دانګریزانو سره جهاد اوکړه - او که جهاد او نکړے نو په کابل کښې ستا
حکومت نشي پاتے کیدے.

(د) د ذیرے دار سلا خان سره د حضرت صاحب مخالفت راتلل او د دغې په
سبب د حضرت صاحب د بونیر باجکټه ته په کډه تلل او بیا دهلته کښې
اوسیدل.

(ه) اشارت بالشُبابه ته سنت وئیل.

دغه شان ددے قسم نور تاریخي واقعات پکښې راجمع شوي دي - اګرچه
ددے کتاب عام طرز تحریر د مناقب په طرز دے - لیکن کوم تاریخي واقعات
او علمي نکتے چه پکښې درج شویدي هغه د تاریخ د طالب علم د پاره ډیر زیات
قیمت لري - او ددے کتاب د تاریخي شهادتونو په وجه د بحث یوه نوے موضوع
میدان ته راوتله - هغه داچه:-

د حضرت سید امیر صاحب د کوټې له طرف نه کابل ته شاه شجاع ته ددے قسم
نه خط لیږل چه پا سیږه او انګریزانو سره جنګ اوکړه د دے خط نه په خاصه
انګریزان خبر شوي وي - دغه شان د سید احمد شهید سره د خط کتابت نه به
هم انګریزان ته علم شوے وي - او ددے په وجه د کوټې د حضرت صاحب د
طاقت او اثر و رسوخ کمولو د پاره به یې مختلف ذریعې استعمال کړے وي -
چه یوه په هغې کښې د کوټې په حضرت صاحب او د هغه په تعلق دارانو د تلو
حکم ګډول وي.

Marfat.com

کیدے شی چه د حضرت صاحب خلاف چه دَ مخالفت کوم طوفان پورته شوے وو۔ په بعضې کښې د الله پاک پیرنګ بندګان د چا په لمسه او چغله په غیر شعوری طور سره شامل شوی وو۔ لیکن دا ثابته شوه چه دَ انګریزانو پکښې لاس وو۔ او دا هم ثابته شوه چه حضرت صاحب او د هغه تعلقداران رهابیان نه وو صرف قصوری دا وو چه دَ انګریزانو خلاف ئے دَ مجاهدینو امداد کولو۔ دَ کرهټے د حضرت جی صاحب یو مشهور مرید او رنګین بیان شاعر حمیله د انګریزانو خلاف په میدان جهاد کښې یو مجاهد نه داسے خطاب کوی :-

ملک دے دَ فلک شه په کومک کښې سید اکبره!
خونریزته په جنګریز کښې دَ انګریز کهلوا او سے

فیض الله قریشی د پښتو نثرے د منظوم مناقب په ۱۲۶۹ھ کښې لیکلی دے۔ او "ګنج سعادت" نوم ئے پرے ایښے دے۔ لکه چه وائی :-

پس له هجرته یو نزر دوه سوه کاله	یوکم او یا پرے دَ پاسه زما لا له
وَو سیر شوی چه دا کتاب تم شه	نور ورک زما دَ خاطر غم شه
دا کتاب ګنج د سعادت دے	هم د حضرت صاحب صفت دے
دَ اولیاؤ چه څوک مذکور کا	خدائے ئے په رحمة پے مسرور کا
د حضرت چه مریدان دی	اکثر مقبلان و مرادان دی
مالی خود ... وته منسوب ئے	دَ ... محبوب دَ دوئ ...
بعضی په دوئ کښې اذونان دی	بعض په دوئ کښې ...
بعض تابعان د سنت دی	بعض ... د ...

د نر ... په لغمانو کښې
په لوری دَ ابراهیم خانو کښې

دَ کلام نمونه ئے دا ده :-

در بیان آنکه حضرت ایشان در نماز دانستند کہ من گوشت کبک از دست یتیمان خورده بودم

یوه ورځ زه پخپله نه ما جانه ... کښیاله وم ر اغلے ناګهانه
نور صبا ترینه لاړم کوهتے له ... نن زه مانزه ددین یوے لمونځ له
نور نمونځ د امامت هغلته ما که ... حضرت صاحب زما په شا که
چه زه فارغ شوم له نمازه ... دخپل خالق له خوږه رازه
حضرت صاحب مے ناګهان ... دا خبره وښکه له دهان
دیتیمانو مال دے تا خوړلے ... دا اوس دله د خوراک سره تړلے
په هغه شپه ما دیتیم لاله ... ومے خوړلے غوښے بے وړغاله
متوں بدل د هغو غوښو پیره کۀ ... په دے خوراک ځان کمتر شماره که
هر څوک چه دنفس داری په بنتیا ... هغه خوار و زار شی په عقبیٰ و په دنیا

خدایه نفس د فیض الله نه برقرار کړے
په آخرت ئے ته لایق دخپل دیدار کړے

---

(۲)

بیا حضرت سرے واستوه کابل ته ... پیغام هغه یرلی هغه ځان ناقابل ته
ورته ئے وئے دا راوړے بنه پیغام د ... چه لایق دانعام و د اکرام دے
حضرت دی تاته فرمائیلی ... په بار بار سے آن فرمائیلی
کار د فرنګ هم ان له تخه ... دے د ای بیستلی اوس داشوه پښنه
شروع یرے نه وکړه چه نیکنام شے ... هم تره پند به خاص و عام شے
اوکه نه په دے امر کښې کاهل شے ... خود به خپله به زائل شے

Marfat.com

اوداکار کیدونکې دې بې شکه　　　　زما عقیده ده سپېره کلکه

شاه جواب ورکه نادان شه　　　　ذ اولیاؤ له امره بې فرمان شه

خو رشاه و فرنګ دواړه　　　　ورک له کابله شوه وېجاړه

اولیاء چه کاروته دلبری کا

کل له ځانه خوله خدایه رهبرکا

دا مناقب د شاه شجاع او د انګرېزانو د تباهئ په حقله ډېر مفصل ورکړې چه حضرت جي د انګرېزانو خلاف څومره جهاد کړېدې - د هغې پوره بیان پکښې راغلې دې -

Marfat.com

رضوان

رضوان الله رضوان حُویٔ دَ بادشاه گل دهوتی مردان او سید ونکے وو۔ په تام ما مانیل وو۔ د یونانی طب عالم او حکیم وو۔ په عربی فارسی اُردو پوهیدو۔ یو کتاب یٔ "د مجربات اکسیر" په نوم لیکلے دے۔ چه "طب بشیر" نومے کوم اردو کتاب نه یٔ ترجمه کړے ده۔ د سوات د بابا جی شیخ عبد الغفورؒ مرید وو۔

رضوان په دینی علمونو کښے د فقهه او اصولِ فقهه بنهٔ عالم وو۔ په کهنړو علمی بحثونو کښے یٔ حصه اخیستے ده۔ او په دغه زمانه کښے چه د مختلفو دینی مسئلو کوم رسالے او فتوے چاپ شوی دی په هغی کښے دَ دهٔ مهرونه شته دے۔ تر ۱۳۰۳ھ پورے دَ دهٔ ژوند یقینی دے۔ چه هم په دے کال په وقت د نماز پیشین ورځ سه شنبه شپږ ویشتم د ماه رمضان ۱۳۰۳ھ کښے یٔ کتاب "طب اکسیر" تالیف کړے دے دیو شعرونه یٔ معلوم نه مېږی چه دا کتاب یٔ په آخر عمر کښے تالیف کړے دے۔ په دے بناء ویلے شو چه رضوان د دیارلسمے صدیٔ هجری دَ آخرے حصے د زمانے د پښتو ژبے نثر لیکونکے او شاعر دے۔ نثر یٔ ساده، سلیس او روان دے۔ او شعرونه یٔ بنهٔ دی د نثر او نظم نمونه یٔ دا ده۔ د طب اکسیر په ابتدا کښے لیکی:۔

لایق حمد دے دحکیم	چه شانی د هر سقیم
په کمال او په قدرت	دے خالق دَ هر خلقت
له حکمته یٔ عقول	پیدا کړی په یو نول

Marfat.com

په غایت د حذاقت — له کماله خپل خلقته

عناصر اربعه څلور — مخالف سره کړه اسې روړه

بنه معجون ئې مرکب — آدمي ئې ترمرتب که

او د یوه بل د غزل څو شعرونه ئې دادي:-

بې آرامه چه شپه ورځ له غمه ګرځي — په ښنګو وي د غمونو د دې و بیشتلي

خصوصًا چه چرې هیڅ نه وي لیدلي — عمر ټول د ده شتیر شوي نازولې

ناڅاپه په دریاب د غم کښې ډوب شي — روس ئې د واړه په مرګوني اچولې

نه ده رضوان په ګلشن کښې تالیدلي نه

چه ښیکلا ونه ښکاره نه شم دېیلي

د نثر نمونه ئې دا ده:-

« واضح دې وي چه مراد له علاج نه دفع کول د سبب د بیمارئ دي - او دا امر موقوف دې په تشخیص پورې. یعنې اول طلب د سبب د مرض دې. پس له هغې موافق له هغې مرض سره علاج کول دي »

« او دا خبره په اکثرو خلقو کښې مشهوره ده - چه حکیم د قوت باه په [illegible] هیڅ نه پوهیږي - او حال دا دې چه دا خبره مخالفه ده له دې جهته چه دا مطلق جل وعلی شانه ئې له مرګه د ټولو مرضونو علاج پیدا کړ [illegible]

« معجون مقوي د باه - مجرب د ښیله لوی [illegible] دم دې - او مؤلف هم د دې باره د [illegible] ده - [illegible] - کوچله یوه توله - زعفران - [illegible] - [illegible] - عفرقرحه - لاچي سرخ - لاچي سفید - [illegible] - سنبل الطیب - [illegible] - [illegible] - شیرین - دارچینې - [illegible] - [illegible] - بادیان - [illegible] - [illegible]

فلفل دراز[19] - جوزبویه[20] .

هرقیز شپږ ماشې - شهد[21] درې چنده د ادویه وُ (یعنې دیرش تولې) .

اول دې کوچله اووه ورځې په اوبو کښې خوشته کا - او په اتم ورځ دِ له اوبو لرې کړه - او پوست دې ترې نه جدا کانړ او د غنمو په اوړو کښې دِ غلوله کاندِ - او اووه ورځې دې د غه غلوله پخپل حال پریښدی - او په اتمه ورځ دې په اوبو نیم گرمو کښې ووینځي - او دا ټولو ادویه وُ سره دې میده کاندی - او په دستور معموله سره دِ معجون ترې جوړ کا او په قدر د غلوزې نیمو ماشو دې په وقت د صباح کښې خوری - او یو سړی دا معجون ترڅلو یښتو ورځو پورې خوړلی ذو - نو کیفیت د ځوانی په دهٔ کښې حاصل شوې وو "

ء

Marfat.com

صفي الله

صفي الله په نامه خټک او مصري بانډې اوسېدونکے وو. صاحبزاده
عبد الحئ د کوټې د "مخزن الاسرار" په دیباچه کښې د ده په تذکره کښې لیکي: ر
ملا صفي الله صاحب په بانډه ملا مشهور وو. له مصري بانډې نه ئې د
بانډې اختصار کړے دے. مصري بانډه د اکوړې خټک د کابل سیند په شمالي
غاړه په علاقه د خټکو کښې یو کلے دے په خپله زمانه کښې لوئ عالم. منشي
ادیب او تاریخ دان تېر شوے دے. د علم دین د تحصیل نه چې فارغ شو
نو تصوف ته ئې رجوع اوکړه او حضرت جي صاحب رحمه الله په کوټه کښې ئې بیعت
د نقشبندیه طریقې وکړه. او ځان ئې په دے باب کښې هم کمال ته اورسوه.
بلکه خپله د ده د تصوف اندازه په مختصر طور د هغه د تالیف "مخزن الاسرار"
نه کېدے شي. علاوه له دے نه یو کتاب ئې په سنه ۱۲۷۰ھ په فارسي ژبه
تصنیف کړے دے. چې نامه ئې "نظم الدرر في سلک السیر" دے
سنه ۱۳۰۰ھ کښې زما پلار حضرت حافظ سید احمد بن سید امیر د کوټې
چاپ کړے دے. صفي الله د کوټې د حضرت صاحب ځوړا منشي وو
حالانکه په پوره سنز کښې محمد ... هم وو. مګر بیا هم په خپله زمانه کښې خوشنویس
او منشي مشهور وو. د سوات د اخوند صاحب له قلمه ئې تحریرات د لیکو او اخیل
کلي مصري بانډې نه کوهړ کښې اسماعیل زئي علاقه یوسفزئي ته لاړه شوه. او

Marfat.com

نصر اللہ خان سرہ ډیرہ شہ ۔ چہ دا خان ھم د حضرت جی صاحب مرید وو۔ د حضرت جی صاحب د وفات (سنہ ١٢٩٣ھ) نہ پس ډیرہ مودہ ژوندے وو۔ بیا وفات شہ ۔ ما پہ خپلہ لیدلے وو۔ ډیر ښائیستہ۔ نازک اندام سرہ سپین مخ۔ بلند قد وو۔ ډیرہ بہ ئے پہ نکرینو سرہ کولہ۔ ښہ متقی پرھیزگارہ۔ زاھد عابد عالم وو۔ لہ قومہ خټک وو۔ ځامن ئے نہ وو۔ البتہ لونړہ ئے وہ۔ چہ څوک ئے پہ خپل کلی مصری بانړہ کښے او څوک ئے پہ طورو کښے وادہ کړے دے۔ د لور زوئی یعنے نمسے ئے میاں عبد الحکیم نومیدہ۔ چہ د پېښور د ډپټی کمشنر پہ محکمہ کښے ملازم دے۔ پہ پښتو ژبہ د حضرت صاحب مناقب ئے ھم لیکلی دی۔ چہ څہ حصہ ئے پہ "مدح الابرار" نومے کتاب کښے درج شوے دہ۔"

صاحبزادہ عبد الحئی چہ پہ پورتہ بیان کښے د صفی اللہ د کوم پښتو نظمونو ذکر کړیدے۔ د دے نہ علاوہ د صفی اللہ یو بل منظوم کتاب ھم دے چہ پہ سنہ ١٢٦١ھ کښے د پښتو ژبے د ور کوټی بحر پہ مثنوی کښے ئے لیکلے دے او یوہ نیمگړے نسخہ چہ د اول سر پانړے ئے ورکے شوی دی۔ دا وخت د صاحبزادہ عبد الحمید دفتر پیڅی پہ قلمی کتب خانہ کښے موجود دہ۔ او غالباً چہ د دغہ کتاب د صاحبزادہ عبد الحئی د نظر څخہ نہ دے تیر شوے۔ ځکہ ئے نہ دے ذکر کړے۔ د صفی اللہ د تالیف نظم الدرر د صفحے ١٢٩ د پر بیان نہ معلومیږی چہ د دغہ کتاب نوم بدر منیر دے۔ د دے کتاب نہ څہ شعرونہ بہ پہ آخر کښے درج کړے شی۔

د صفی اللہ پہ حقلہ صاحبزادہ عبد الحئی دا لیکلی دی چہ د مصری بانړے نہ کوټ اسماعیل زئی تہ بہ کلہ راغلے وو۔ پہ دے باب کښے د صفی اللہ د خپل کتاب نظم الدرر صفحہ ٢٤ نہ معلومیږی چہ ھر کلہ حضرت جی صاحب د کوټے

Marfat.com

په سنه ۱۲۷۲ھ کښې د سوات د درې نه واپس راغې. نو د کاټلنګ سره نزدې په سیکرۍ نومې کلي کښې صفي الله ته یې رخصت ورکړو. دې وائي چه له حضرت جي نه رخصت شوم. نو شیخ له طورو ته راغلم. او صباله په دویم تاریخ د جمادي الاول سنه ۱۲۷۳ھ مصري بانډې ته لاړم. هر کله چه د حضرت جي صاحب او د سوات صاحب په منځ کښې مخالفت د سوات د دې دورې نه روستو زیات شوې دې. نو په دې وجه ویلې شو. چه صفي الله به د سنه ۱۲۷۲ھ نه وروستو کوټه اسمعیل زئ (مردان) ته په کړه راغلې زي.

د صفي الله د کتابونو مخزن الاسرار. نظم الدرر. بدر منیر د مطالعې نه معلومیږي چه د دیني علمونو او د تصوف د رموزو او اسرارو نه ښه واقف وو. د شعر و ادب په اړخ ئې موزون طبیعت ئې لرلو. د عربۍ او فارسۍ انشاء او تحریر ئې ډېر پوخ او عالمانه دې.

مخزن الاسرار ئې په پښتو نثر کښې لیکلې دې. لیکن د لیکلو اسلوب ئې د اخوند درویزه بابا د مخزن الاسلام په څیر دې. چه نیم منظوم. مسجّع او مقفّی نثر. یا د بحر طویل شعرونه ورته ویلې شو. داسې معلومیږي چه د سنه ۱۲۸۰ھ پورې په پښتو عالمانو کښې د دیني علمونو د بیان د پاره هم هغه د اخون درویزه بابا طرز او اسلوب د بیان غوره ګڼړلې شه. او دغه یو کونلې سبک وو.

دلته د صفي الله د کلام نمونه پیش کړې شي. په مخزن الاسرار کښې لیکي:

باب دې تونسم په بیان د تواضع او خاکسارۍ کښې.

تواضع به د بیان کړم چه دغه یو لوی هنر دې. هر څوک چه تواضع [illegible] پاک اکبر دې. هر څوک چه تواضع کا په دارین کښې به رفیع شي. مَن تَواضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ الله دا حدیث د پاک سرور دې. هر متواضع خدای ته شریف دې. متکبّر رذیل خفیف دې. اَلشَّرَفُ التَّوَاضُعُ دا حدیث دې مالیدلے که ستا هم په دې باور دې. اې چت مه کښېنه له نورو په مجلس کښې له متکبرانو به محسوب شې.

Marfat.com

هرهغه چه تکبُّر کا، تواضع نه کاندِ واوره د شیطان خاص برادر دے. څوک چه
تاسره روان دی، فصد د وړاندِ د تلو مه کړه. چه دا هم یو تکبُّر دے. هم ترمینځ
د دے مه کړه چه د دے د روستو څوک روان شو ے، کتره دغه تکبُّر د تا په سر دے.
بل هرچرے چه کښینئ په ادب دوه زانو کښینه. یا په بل خه طریقه چه
تواضع پکښے ښکاریږی. تکیه مه کړه په تعود کښے چه تکیه کړی دغه کار د ده ایتر
دے. هم ترمینځ د دے مه کړه چه دا خلق زما په مخکښے قطار د ریږی زه به کښینم.
کښینا ستل د همه وار و هم په دا رنګ مجلس کښے تواضع ته قریب تر دے. که
څوک پیښ تا ته ضرر کا. تحمُّل هغه ته و کړه. هم سلام په هرچا وایه چه مُلاو دی.
هم افشا د سلام وکړه که شریف وی، که وضیع، که صغیر وی، که کبیر چه دا خوئ
د پاک سرور دے. که سلام د ربانه ے څوک چرے وُنه وائی، هغه ته چرے په تهر
چرے نه شے، نه غضب ورباندے اوکړے. که څوک فخر یا غضب کړی په تکبُّر
نه مبتلا شی، چه دا خوئ بے حد بتر دے. که له تا مناظره کا څوک، او حق نه
رسیدلے شی. نه خوشحاله په دے کار شه. هم ثنا د خدائے دوایه. چه اظهار
د حق هم وشنه. هم انکار په ده و مه کړه چه انکار په ده مُنکر دے. د
سپک والی نظر بل ته چه و نکړے. چه دا بل هم ستا په شانے د آدم حوا اولاد
دے. هرچه بل په سپکه ګوری، دے به خدائے هسے سپک کا. د تکبُّر هم
دا اثر دے. په ګوښه د سترګو چا ته کتل مکروه نه هیچرے. بلکه کوره ته
تمام سره همیش. هرچه په ګوښه د سترګو ګوری، یا ځټ کوږلری مبشکه چه
احمق خاور ے په سر دے. شرافت د تواضع نن ورځے په عجزه د حضرت جی صاحب
د کونے شریفے دے که پو هیږے. صفی الله حُکه خوشی کا. هم نازیږی چه د
ده د تربیت تاج ئے په سر دے.

Marfat.com

منظوم کلام نمونه ئې دا ده ـ په الف نامه کښې والئ ـ

(الف)

الف الله دے بلا ریب یکانه دے
هم دُو بیت ئې بلا ریب بېگانه دے

دَوحدت په سمه لاره چه روان شه
عقلمند دے هغه کس هم فرزانه دے

چه اشیاؤ ته نظر کا رب ته نه کا
دے بېشکه عاقل نه دے دیوانه دے

دَ وحدت په بال چه والوته له ورایه
رسیدلے د مقصود تر آشیانه دے

هر چه ترک د ماسویٰ کا بنده په کاکه
ده آغوستے بنده خلعت شاهانه دے

ویخ د دین ته خاص مطلب نه رسیږي
دے ولاړه خاص د شیطان په آستانه دے

دَ مخلوق ته چه راجع شي په دے پوهه شه
چه دا کس له خپل خالقه بېگانه دے

چه محبت د پالنهاری دَچا روزی شی
هغه مست دَ محبت په ترانه دے

چه دَ عشق شراب ئې وڅښل له دے لېسه
نه حاجت د دے سری په میخانه دے

چه د عشق په اور جلبل شه سر تر پایه
دے سوځنه په شان دَ سری پروانه دے

را دو بین ئے دے له درشمه لے شوے
مُوحّد ئے دے د ننا هم خانه دے

مُوحّد لکه بلبل ئے په گلزار کښے
هر ساعت په خوش آواز په ترانه دے

د وحدت په لاره منډه چه څوک لاشی
رسیدهٔ دَ شهادت تر آستانه دے

را دو بین په دواړه سرا به شرمیدلے
دمُوحّد په سر خود تاج شاهانه

په وحدت کښے خو یو ذات دَ چه مقصود دے
دا صفت ئے سر تر پایه بهانه دے

چه له ذات سره آشنا شه هغه دم بیا
دا صفت ئې هم و ټولے له میانه دے

چه په ذات ئے پرے بیا مونده هر کله
دے خلے د مقصود په خزانه دے

دا مقام دسر بریکړو عاشقانو
چه دا سر په د عرفات کښے یکانه دے

دا مقام د حضرت جي صاحب چه نو دے
شر یا نه چپه دے دو شاهانه دے

Marfat.com

صفی اللہ مرید دده دپاک دربار دے

هم خادم دده دپاکے آستانه دے

په مدح الابرار نومے کتاب کښے د صفی اللہ یو څو نظمونه راغلی دی۔ یو مربع نظم دے۔ ټول ۱۲ شعرونه دی۔ یو بند ئے دا دے :-

اے صاحب عالی نظره ؤمے مه باسے له فهمه

ترهیبه عالمه غوره ؤمے مه باسے له فهمه

چه کوټه دِ تا وطن دے

بل مدین دِ تا مسکن دے

باجکټه هم ستا گلشن دے

ؤمے مه باسے له فهمه

د وحدت د باغ بلبل ئے

ثنا خوان ئے په هر گل ئے

په گلاب په سنبل ئے

ؤمے مه باسے له فهمه

ته صاحب عالی رتبت ئے

غرق په بحر د وحدت ئے

تر هرچا عالی همت ئے

ؤمے مه باسے له فهمه

په دے کتاب مدح الابرار کښے د صفی اللہ یو مثنوی دے۔ چه په هغے کښے ئے د خیل پیر طریقت حضرت جی صاحب د کوټے عقاید بیان کړیدی۔ چه دے اهلِ سنّت والجماعة دے۔ او د امام اعظم ابو حنیفهؒ په مذهب دے۔ مُقلّد

Marfat.com

حنفی مذهب او سُنّی مشرب دے۔ په دے بِنا چه څوک ورته د وهّابی نسبت کوی۔ هغه په غلطه دی۔ ځکه چه وهّابی د دے خلقو په اصطلاح کښې اهلِ حدیث او غیر مقلِّد ته وائی۔ بل دا چه دے په طریقت کښې نقشبندی مجدّدی دے۔ او د نقشبندی طریقې ټول پیران حنفی مذهب سُنیان دی۔ د دے مثنوی یو څو شعرونه دا دی:-

پس له حمده د معبود	په رسول ئې دے درود
چه پاک نوم ئې محمدؐ دے	هم محبوب د پاک احد دے
بیا په کل واړو اصحابو رض	چه دده دی له احبابو
بیا په واړو عالمانو	ترتیا منته اے یارانو
خصوصاً چه دے هم نور د	په امام اعظمؒ مشهور دے
پس له دے نه مؤمنانو	د رسول متابعانو
چه داعی وی د الله تعالیٰ ته	هم نادی سبیل الله ته
عالم بولی د الله تعالیٰ ته	د الله تعالیٰ د درگاه ته
بے له خدایه بل مقصود	ددی نشته بل بهبود
د عالمو دے خیرخواه دے	په صباح هم په بیگاه دے
مشهور چه په حضرت دے	[illegible]
مُستی په سید آمیر دے	دے محبوب [illegible]
هر عالم چه نن زمان دے	یا ولی په دا دوران دے
واړه دی له ده نه زیر	په خوړو دده دی سیر
دے عالم دے د قرآن	بے نظیره نن زمان
متابع دے د حضرتؐ	هم پیرو دے د سنت

Marfat.com

د اصحابو رض پیروی کا | په هر کار دے پیروی کا
په مذهب د امام نعمان دے | چه عالم د دعوی بے شان
هم سنی د ائمو یارانو | هم اتقیا د مؤمنانو
په هغه چه خوړلے مذهب دے | هم ئے خوښ دغه مشرب دے
عقائد ئے د سنیانو | تا سو واورئ مؤمنانو

ددے نه روښانه شو ئے د اهل سنت والجماعت بنیادی عقائد په تفصیل سره بیان کړی دی. خصوصاً هغه عقیدے ئے چه د مخے په حلقه الزام وو چه حضرت جی صاحب ددے نه خلاف دے. صفی الله دا عقائد په خپل دوئم کتاب نظم الدرر کښې هم بیان کړی دی. او ددے په حقله چه څومره مناظرے او مقابلے شوی دی د هغې تفصیل حال ئے په پوره شرح او بسط سره بیان کړے دے. لیکن که حضرت جی صاحب به هر څو په بار بار په خپل تقریر او تحریر کښې دا اظهاره کړه چه زه حنفی مذهب سنی مشرب او مقلد یم. لیکن مخالفین د خپلے الزام تراشئ نه چپ کیدل. او وجه ئے هغه وه چه حضرت جی صاحب د انګریزانو خلاف د مجاهدینو سره مرسته کوله. او د انګریزانو په اشاره ئے د هغه د دروبارانو د پاره په مختلفو ذرائعو سره دا شورشونه کیدل.

صفی الله هم خپل مسدس منظر په آخر کښې وائی.

چه ئے نوم صفی الله دے | امید وار دے نه د رحم د رب
شفقت د مغفرت د الله شته | چه په ما باندے احسان شته
صادقی سره د فلاح کرم | ددے دپسے پیر تاج کرم
په بیعت ئے سره د ... | چه زه دو منه په دے نیت
چه له ما سره بیعت | د کرم ئے کړه د طریقت

Marfat.com

چه له چا به زهٔ واصل شوم / په مکان به ئے داخل شوم
په احوال به ئے ناظر شوم / چه به دهٔ وته حاضر شوم
که اقوال که ئے افعال وو / یا چه نور د دهٔ خصال وُ
خو اکثر به له قرآنه / مخالف وو زما جانه
له سُنَّت د حضرتؐ / مخالف به ئے وو خصلت
نور به زړهٔ زما تر سوړ شه / هم له دهٔ نه به دے سوړ شه
چه گلشن د بخت مے واشهٔ / شام مے ترے له صبا شهٔ
له اُفق د شقاوت / را ښکاره شه سعادت
اُودهٔ بخت زما بیدار شه / هم رحمت د پاک غفار شه
مُلاقی شوم له پیره / چه هر څه دے بے نظیره
موافق په شریعت دے / هم سرکار ئے په سنت دے

له منوکه دے د دین
مے باور کړه هم یقین

چه د دے کتاب تقریر شه / په کاغذ باندے تحریر شه
له هجرته د سرورؐ / هم تاریخ وو د "اسغر"

والف = ۱ - س = ۶۰ - غ = ۱۰۰۰ - ر = ۲۰۰ - جمع [illegible]

استلسم وو د صفر / هم په [illegible]

چه تمام شه دا کتاب
والله اعلم بالصواب

"نظم الدرر فی سلک السیر" په [illegible] ے لیکلی دی. دلته د نمونے په طور یو څو شعرونه ترے درج [illegible]

Marfat.com

چو رفت از جهان آن خورشید تابان | ماند بے نور و تاری این تاریک و ران
وقت رحلت عالم سفلی و علوی ہرچہ بود | دست حسرت می گزید و کرد ہمی آہ و فغان
در حقیقت بود کامل بر شریعت مستقیم | در طریقت بود واصل نائب پیغمبران
در ولایت بے نظیر و در کرامت بے مثال | بود اندر معرفت سرخیل و میر عارفان

محئ سنت کہ چوں او دیگرے
ماحئ بدعت نیاید در جہان
باطنش از معرفت آئینہ دار
ظاہرش شرع نبی را پاسبان

Marfat.com

حمیدُالله حمیدؔ

حمیدالله اخونزاده په صوات ملا مشهور وو۔ په قام باما خیل وو۔ چه د باما خیلو په نوم په بر صوات کښے یو کلے هم شته دے۔ په سید و شریف کښے اوسیده۔ کله چه د صوات د اخوند صاحب او حضرت صاحب (کوټے ملا صاحب) په منځ کښے اختلاف پیدا شو۔ نو کوټے ته ئے هجرت اوکړو۔ صاحبزاده عبدالحئ د کوټے په خپل کتاب مدح الابرار کښے لیکی۔ " حمیدالله پیرلوئ عالم او شاعر وو۔ تخلّص ئے حمیدؔ وو۔ غالباً په سن دیارلس سوه یو ویشت هجری (۱۳۲۱ھ) کښے د پیتاؤ امازی په تپه کښے په مقام د کوپړئ وفات شو۔ په کوټه کښے ئے یو ځوئ صدیق الله نومے په ۱۳۴۲ھ کښے ژوندے وو۔ چه د هغهٔ یو ځوئ حبیب الله نومے د مرحوم نواب صاحبزاده عبدالقیوم خان (بانئ اسلامیه کالج پېښاور) خاص ملازم وو۔ او دویم ځوئ ئے د صاحبزاده صاحب د ترور د ځوئ فضل رحمان صاحب د کوټے معتمد ملازم وو۔ د نوم رحیم الله دے۔ ولے د دے نوسو نه ئے د علم کار قطعی هېر شوے

الابرار ص۱۳۸)

عبدالحئ صاحبزاده ممکښے والئ " حمیدالله په ۱۲۷۲ھ کښے د صوات په اولنی سفر کښے د خپل پیر طریقت حضرت سید امیر صاحب (کوټے ملا صاحب) سره ملګرے وو۔" د دے نه معلومیږی چه د دے ۱۲۷۲ھ په خواؤ شا کښے د صوات نه کوټے ته په کډه راغلے وو۔

Marfat.com

د کوهاټ ملا صاحب د مشر ځوئ حافظ سید احمد صاحبزاده د قلمی کتابونو په ذخیره کښې د حمید الله یو فارسی نظم زما د نظره تیر شو۔ چه هغه ئې د ضلع هزاره د علاقه تناول په پهولړه نومے ځائې کښې د عبدالرحمن ولد عبد الله خان ولد مدت خان ولد نواب خان په ځائې کښې په سنه ۱۳۱۵ھ کښې لیکلے دے۔ د دې نه معلومیږی چه څه زمانه ئې په هزاره کښې هم تیره کړې ده حمید په فارسئ ژبه هم ډیر ښه شعرونه لری۔ (یو نظم ئې په کتاب د مجموعهٔ مناقب حضرت جی بزبان فارسی کښې راغلے دے۔)

دلته د حمید د کلام د نمونے په طور دده یو څو نظمونه درج کولے شی۔ د حمید په کلام کښې چه کوم سوز او درد دے۔ رنګینی او سرجوشی ده۔ محاکات او واسوخت دے۔ هغه دده د نورو ملګرو شاعرانو په کلام کښې نشته۔ اګر چه د حضرت جی صاحب قول هغه صحیح دی چه د شعر او ادب موزونه طبیعه ئې لرله۔ ټول ډیر ښه عالمان او فاضلان هم وو۔ لیکن د حمید په کلام کښې چه کومه پختګی ده۔ هغه یو بیل مقام لری۔ نمونه ئې دا ده۔

د عبد القادر خان د مشهور غزل په جواب کښې وائی :-

چه ئې ولیدے ستا شونډې میګون هسے ‏ ‏ غنچه شوه له ډیره غمه پرخون هسے

چه د چاه زنخدان ئې ناظر شوم ‏ ‏ سرم کیښود د حیرت په زنګون هسے

دا دولت د عاشقئ نه وو نو رڅه وو ‏ ‏ چه بیرون کوم له صومانه اخون هسے

چه رم ولید رقیب د یار له څنګه ‏ ‏ شه له قهره مے تنها کے لړمون هسے

عاشقی نه وه کیمیاد سعادت وه ‏ ‏ چه په لاس راغے دولت د جنون هسے

چه دوا غوښت سروپا د عشق حمیده
دا خلعت دے مبارک شه میمون هسے

Marfat.com

سپکبانی دَیار دَدرکوه حمیده
درجات یې دَعالی شي فزون هسې

(۲)

راشه گفتار وکړه دیار سپین رخسا قمري
برقِ لمعان دے دَدرخشان نورالابصار دلبري

باغِ اِرم ته ړم تسم دے چه قدم نهٔ ږدمه
ځو چه په گوش کښې سر ش نکړے دَیار خبري

غوټے ضمیر شهٔ که تدبیر ستا د وصال نه کړي
لکه بلبل په سرِ گل تل کړم چغار سحري

راشه امروز دیده افروزه په جمال د حبیب
وقت د فرصت دے غنیمت مکوه کار دیگري

بیت العتیق دے په تحقیق کړم توفیق شي رفیق
بِه دَ به مدام کوم تهٔ که لیلُ النهار سروري

غوث الاعظم شاهِ عالم قطب الاقطاب دے هندې
وکړه نظر کیمیا اثر ماته یکبار رهبري

ماهِ منیر دے زمونږ پیر څکه نظیر نهٔ لري
زیر فلک تا به سمک راغے غم خوار بیهري

یا به شهید مرشم حمیده یا به شم یار ته رسید
اور د هجران مے سوے جان یم بیمار قوصري

(۳)

یو ځل مې راته ښکاره کړه له حجابه
چه هجران مے دَزړهٔ خونه کړه خرابه

واړه ستا دهجران تا دَدے زهٔ پوهیږم
چه مے وریت شهٔ دزړهٔ سر سینه کبابه

مثول خوبان دي ستا په مخکښې لکه ستوري
ستا دحُسن شغلے تیرے تر آفتابه

ستا له زلفو دختن نافے شرمیږي
د فردوس د باغچے تازه [illegible] به

ستا دَعشق په حروکے ریدي حلال دے
څکه سُورکفن شهٔ پورته له ترابه

که دَځان حلاتول یار ته قبلیږي
نهٔ هم ځان حلالوم بے له قصابه

دا وعدے له جانان سره ده کړے
دا وعدے په ځائے نهٔ کړے ځوابه

په سرو وینو آلوده کاغذه ورشه
د طوطا په څیر کیا شه له ځوابه

Marfat.com

سر سړتور په مبارکو قدمو کړه
اول بنکته بیا هاله وایه جنابه
زه هم دُچار د له هجرانه عرض دا دے
نور د سترګو د کوتے قطب الاقطابه

ستا د عشق په اور نسکور حمید نه غور کړه
اے زما د عشق په اور سوے کبابه

(۴)

که څوک ګوري په سترګو د انصاف
وُنه نه ګوري ستا د حُسن انحراف
نمر له شرمه چه ستا مخ ته ګوري نه شو
مخ ئے پټ کړو په لمن د کوه قاف
ستا له شرمه اوس پانړے کښي پټيږي
چه هميش واخه ګلاب د حُسن لاف
له سرو شونډو دِ اثر د اور څرګند شو
داغ ئے ګيښو د لاله په زړګي صاف
که ساکت شم ستا د حُسن له تعريفه
بوئ د مشکو نه پټيږي په غلاف
دانايان په دا نکته باندے پوهيږي
چه دغه حلقه د ميم دغه د کاف
که جوړه زما او يار جدا جدا دي
حلقه روح مے د جانان په جوسه باف
زه چه ستا په سپين جبين باندِ شيدا شوم
پوهه نه شوم په تميز د فا او قاف
اوس دے تاج د غوثيت دے په سر اينبے
مسخر دے کل جهان دے قاف ترقاف
اول خوبان د زمانے دے نوکران دي
نشسته هيڅ په دا خبره کښي خلاف
که صيقل غواړے د زړه کوښے له ورشه
چه زنګ زړه دِ کړه حضرت صاحب شفاف
ما کعبه په کور کښي بيا مونده عالمه
اوس ترے ګرځمه چاپيره په طواف
مقصر په ګناهونو آلوده يم
که پاک رب م تقصيرات کاندِ معاف
دا دولت ماله په دواړه کونه بس دے
چه مے پروت په زړه دے ستا د مينے چاف

حميد زړګے د عشق په لمبو ريت دے
که ئے ګورے په سترګو د انصاف

Marfat.com

(۵)

یوځې په عالم کښې نن دِ ښوک نښته ثانی
خاصه دا په تا بانده دے د رب مهربانی

دا قدر دې بس دے حضرت جي مدح و صفت
تېنګه د پیغمبرځ په هر کار کښې په سنّت
رب ځ نازل کړے په عالم بانده رحمت
ګواه مے په دے بانده دی آیاتِ قرآنی

بیا دِ مونده پو هیږم د بندهٔ خدائے محبوبیت
بیائے مشرف کړے په مقام د حقیقت
واړه دے په تا بانده له خدایه عنایت
ځکه دے زړهٔ پوره دے له دې دنیا فانی

نمر د هدایت ځ چه ښکاره شوې په عالم کښې
یا لکه سپوږمۍ د څوارلسے په توره تم کښې
سیال دِ چرته نشته په تمام عرب عجم کښې
زمکه آسمانونه دے په نور دې نورانی

ته چه خاص وارث د پیغمبر آخر زمان شوے
ګنج وے د اسرارو د توحید د دریو کان شوے
کښېناستے په تخت د غوثیت غوث الزمان شوے
ځکه خاص و عام دی ستاله وصله ارمانی

ستاله شرافته مشرف د اُمتان نوم شه
ځائے په ځائے مذکوره دې خاص و عام و ته معلوم شه

Marfat.com

بې له دې رحمته د کوم خلق محروم شهٔ

شو مې دې په دې باندې نن فضل سبحانی

ستا د حسن غیر دې په هر ځاي په هر مکان کېنې

پوره دې صفت ملائکې کا په آسمان کېنې

قول بنایسته خوبونه د مردې شي په قرآن کېنې

چرته ستا صفت او د حمید کوتله زباني

(۶)

زړهٔ مې ستړې شو د هجر له خوارې — سر مې خوږ شه په فریاد او په زارې

شب و روز چې د وصال له خدایه غواړم — سړی کار مې دې همیش له بیدارې

ستا هجران را بانې هسې فساد وکړ — چې مې نشته یو ساعت له قرارې

له چشمانو مې د وینو رود بهیږي — تمامي عمر مې دې له خون خوارې

که منصور غوندې څوک دار ته را کاږي — وایه نه وړمه جانان ستا له یارې

جار و ولاړ مې ستا له دره بېرته نشته — که مې څوک حلال لوي په کتارې

څوک له شرمه در ته عرض کېتلې نه شي — ملائک دي که سړي که بنا پیرې

نن په تخت د غوثیت ناست یې حضرته — عارفان در له راځي په نوکرې

که دې سر دلیو لې حمید پکار وي — اوس تسم دې پر ډیکوري خپله مړې

د حمید زړهٔ ستا د عشق په لمبو سوزي

که دې خیري شین لوګي د ککرې

(۷)

په مدح د "سید بادشاه" سید اکبر صاحب باشنده

د ستانړي د آبا سنده کوهستان کېنې والي :-

Marfat.com

سلطان عالی نشان په درست جهان قدردان اوسه
مدام په صبح و شام په خاص و عام قدردان اوسه
دولت د سعادت دے هر ساعت نصیب ستا وی
منظور په بنده د ستورو سره مشهور جاودان اوسه
ملک دے د فلک شه په کومک ستا اکبره
خونریزه په جنګ کښے د انګریز پهلوان اوسه
مغفر شه ستا په سر د پاک سرور منګل صاحب
په جنګ کښے د فرنګ په ویخو رنګ هر زمان اوسه
کفار شه وار خطا په پوهنه ستا شمشیره
مطاع شاه شجاع په هندوستان خراسان اوسه
سبحان دے نګهبان شه په قرآن عالی نشانه
جاوید لکه خورشید په هر وطن درخشان اوسه
غفار دے مددګار شه په هر کار کښے قرض دا دے
حمید والی سعیده په نصرت په هر آن اوسه

(۸)

د فارسی کلام نمونه ئے دا ده چه کومه د حضرت صاحب
مدح کښے وائی :-

بر آتش عشق تو من [illegible]
آه برکشم از سوز دل در دیده خون افشان کنم
مانند بلبل در چمن بر غنچه رخسار تو
خنجر زنم بر سینه ام عالم به خود حیران کنم

Marfat.com

گل در گلستان مثل تو، هرگز ندیدم خنده زن
زان بر گلت کوکو زنان، قمری صفت افغان کنم

خوبان دهر اندر لیست، دیدم که چینند خوشه ها
زان مر ترا اے دل ربا، سر حلقۂ خوبان کنم

گر عاشقِ گلدستۂ، در گلشن کوتہ درآ
بنگر چسان شور و شغب، من بر گل و ریحان کنم

چون من ز وصفت عاجزم، اے گلرخا بارِ دگر
جانِ حزینِ خویش را، از حضرتت قربان کنم

فردائے محشر آرزو، دارم ز لطفِ کردگار
نزدِ محمد مصطفیٰ، اے شہ ترا جویان کنم

یا ہم ترا در صحبتش، پرسی ز حالِ ناخوشم
دستم بگیری از کرم، گوئی بیا احسان کنم

صد آہ و افغان مے کند، گوید حمید اللہ چنین
از خاکِ کویت کاشکے، گر سرمۂ چشمان کنم

(کتاب مناقب حضرت جی) صفحہ ۶۲

(۹)

کوکبِ برجِ وفا و گوھرِ وحدت توئے
دائمت بر فرق عالم سایۂ رحمت توئے

از شعاع روئے تو بینم جہان را روشنی
آفتاب و ماہ را بخشندۂ زینت توئے

منظر انس و ملک حور و پری گردیدۂ

Marfat.com

مطلع انوار خوبی مشتری طلعت توئے

از چہرۂ زیبائے تو ہستند حیران جملہ خلق

یا زہرۂ چرخ برین یا لؤلؤ عزت توئے

اندر چمن زار شریعت تو نہال جوئبار

سرو سیمین نازپرور دلربا قامت توئے

یک مشعلِ دینِ نبیؐ در کوتہ شد افروختہ

آن مشعلِ دین نبیؐ ہم نائب حضرت توئے

چون پرتوِ نورِ جبینت ابن حمیداللہ بدید

این نعرہ از جان میزند گوید دُرِ وحدت توئے

(کتاب مناقب حضرتی صـ)

Marfat.com

محمد شریف

محمد شریف د سوات د کوزے بانډے اوسیدونکے وو۔ د دیارلسمے صدۍ هجری (سنه ۱۳۰۰ھ) د روستنۍ حصے پښتون شاعر وو۔ او تر سنه ۱۳۲۱ھ پورے ژوندے وو۔ د ده نوم او ذکر تر اوسه پورے د پښتو ژبے د ادبیاتو په کومه تذکره یا تاریخ کښے نه دے راغلے۔

د سوات د یوسفزو په قبیله کښے نیک بی خیل دوه ټبرے دی۔

(۱) عائشه خیل۔ (۲) ابا خیل۔ عائشه خیل په دره کښے آباد دی۔ او آبا خیل د سیند په غاړه په اواره علاقه پراته دی۔ محمد شریف په دے ابا خیل کښے د شدګی خیل قبیلے وو۔ د ځومه نه لرے نوم وو۔ چه د هندوستان په بمبئی کښے اوسیده او هم هلته پاتے شوه۔

محمد شریف د مناقب اخون الیاس په نوم یو کتاب لیکلے دے۔ چه په هغے کښے شپږ مثنوۍ، یوولس قصیدے او دوه چاربیتے او یو مربع نظم دے۔ د اشعارو نه ئے داسے معلومیږی چه عوامی شاعر وو۔ علمی خواے د ومره اوچت نه وو د قصیدو نه ئے په چاربیتو کښے روانی زیاته ده۔

اخون الیاس رح د ریاست دیر د لاجبوک نوم کلی اوسیدونکے وو۔ او هم هلته ئے مزار دے۔ د حضرت سید آدم بنوری رح خلیفه او ماذون وو د شاجهان

Marfat.com

په زمانه کښې دهلی نه د بنوړ صاحب دلاس نیوے کولو د پاره تلے وو۔ اخون الیاس صاحب دریاست دیر د موجوده نواب د دیر مشرنیکهٔ دے۔ په دے وجه دے کورنئ ته اخون خیل والی۔

محمد شریف په دے خپله قصیده کښې د حضرت اخون الیاس صاحب علیه الرحمة او د هغے زمانے د نواب دیر نواب محمد شریف خان زیات تعریف کړے دے۔ د کلام نمونه ئے داده: په اولنئ قصیده کښې والی:-

سحر بیا چه بلبل پاسیده په سیر — عندلیب غوندې له گل نه شهٔ چاپیر
په هر گل باندے کړی بوسه تماغ — ورنه گل شو له ټکونه د نمیر
وقت د عیش د خوشحالئ دے نوبهار — د گلو د غنچے ګل دی تیر و بیر
آوریدلے مے دے داستګه بیان — چه دے نن محمد شریف نواب د دیر

د نیکهٔ نوم ئے اخون الیاس یادیږی
په رښتیا سره بنده وو د خدائے

بے ولی د شک نشته ولایت کښې — خدائے ورکړے ورله دے عزت [illegible]
لکن داد پیر کامل وو په طلب کښې — دا سود [illegible] وه پرنه [illegible] په ضمیر
یوه ورځ شهٔ د کور نه دے روان — پیر کامل پسے روان [illegible]
زمانه وه د بنوړ صاحب قربان — ولایت ورله ور [illegible]
دے روان وو د بنوړ صاحب په تینه — ددهٔ زړهٔ [illegible]
د شاملے کور ته دے چه شهٔ رسیده — [illegible] وت کاڼو [illegible]
هم میاں نور بابا راغے له سلام پوره — شهٔ اخون بابا الیاس ورته ......
بیا بهٔ خپله نوے کلے ته په سوات کښې — [illegible]
د دوی د ژوند شپه په شعر کاں شو له — [illegible]

Marfat.com

ورپل اخون الیاس بابا قربان — اے میاں نور چرته ځې حیران دلګیر
میاں نور ووے پیر کامل لیسے روان یم — اے اخون! شو منکری په تقدیر

ته چه ځې بنوړ صاحب غوث الزمان دے
زمونږ دے د دواړو دا رنګ تدبیر

محمد شریف دهریوے قصیدے په تشبیب کښې چه کوم شعرونه لیکلی وی هغه ترڅه حده رنګینی لری. د نمونے په طور دا شعرونه د کتلو دی.

چه بلبلے کړی شروع خوږے خبرے — د روښکونه تو یه وی د مرغلرے
والی دا چه خدایه تل وے نوبهار — بلبلان ولے را تلے دلرے لرے
په څرچه په غنچه ناست بلبل وی چت وی — په زړه کی باندے بلیږی اور د سرے
چه بلبل وصل له ګله شی یو آن — سوال کړی دا خدایه خزان لرے ته لرے

نو بهار دے معشوقے کړځی له خیاله
د طوطیانو په ګلګشت خوږے سندرے

د چار بیتے یو څو شعرونه دا دی:-

نسیم چه د صبا شه په ګلونو د ګلاب — شیرین مخ یے ښکاره کړه بیرته ی د غونډ حجاب
مثال کښے راښکاره په آسمان باندے آفتاب
د عدل په کرسئ چه کیناسته د دیر نواب

خانان هم د یاتلهم د سمکوټ شولو سره تام — بیا مخکښې ورته ودرید داړی کنه خان په سلام
اخلاص باندے ولاړ دے غازی خان عالیجناب
د عدل په کرسئ چه کښیناسته د دیر نواب

نائب صاحب محمد شاه دے قانون د وزارت — په مخ کښے د سخی نواب کوی هر یو خدمت
پوهیږی ښه دا نادے د نواب صاحب پداب

صیفور اخونزاده ئې د خدمت کښې تل حضر دی ترڅو ملا ولاړې دی چه وقت راشی د حضور

نواب صاحب کوی دا نسرئ ورته خطاب

د عدل په کرسئ چه کښیناسته د یر نواب

محمد شریف د خپلو شعرونو په آخر کښې شریف او محمد شریف دواړو تخلصونه

راوړی. لکه چه وائی:

اے شریف دے کښې د خدائے حکمت

مناقب شو د بنوړ صاحب روښان

ابتدا کوم په نامه د پاک غفار ... د کامل قدرت خاوند دے کردگار

شریک نه لری په ذات یا شاهئ کښې ... بل موسوم د به نشه اسم د ستار

چه آسمان ئې بے ستونه معلق کړو ... تل به ئې زه ثنا صفت کوم په بار بار

کل جهان ئې په دائره د قدرت بند دے ... مستجاب ئې هر حاجت وی په دربار

زه عاجز محمد شریف ئې امید وار یم

په آخر کښې لاله را کړې خپل دیدار

Marfat.com

ګل احمد

ګل احمد د کریم شاه ځوئ د جلال خان نمسے او په قام ټېټي زائی دے
چه د خلیل قبیلے یو شاخ دے۔ د تنیه خلیل په سفید ډهیری نوے کلی کښے
د موسٰی خیلو په کنډی کښے دده رونړه عزیزان آباد دی۔ دده کورنئ په صاحبزادګی
یادیږله۔ په خپلو شعرونو کښے د خپل نیکه نوم کرم، کریم شاه او عبدالکریم
یادوی۔

ګل احمد په سنه ۱۲۴۲ھ کښے پیدا شوے وو او تر سنه ۱۳۰۱ھ ژوندے وو۔ بیا د پښتو
د امامتئ او ولایتئ په ډول په تیراهی نوے کلی کښے اوسیده۔ او په دغه وجه
په "احمد د تیراهی" سره زیات مشهور دے۔ کښې کتابونه ئے د پښتو ژبے دوه کیتي
بحر په مثنوی کښے لیکلی دی۔ دالاندے درے کتابونه په لندن میوزیم کښے موجود
دی۔ او په دے وطن کښے د دے درے واړو کتابونو زړے نسخے لا زما په نظر نه دی راغلی

(۱) قصص الانبیاء یو عربی کتاب دے چه احمد د تیراهی د جواهر الانبیاء
په نامه په ښه اسلوب سره ترجمه کړے دے۔ په لندن میوزیم کښے ئے
هغه نسخه ده چه په سنه ۱۳۰۱ھ کښے غلام مرسلین چاپ کړیده۔

(۲) د شهزاده رت ویدمن قصه چه په ۷۲ مخونو لیکلے شویده۔

(۳) قصه د طوطی او مینا۔

د پورته درے کتابونو نه علاوه داوخت د احمد د تیراهی دوه نایاب کتابونه او

Marfat.com

دوه مدحيه قصيدے او يو فارسي نظم ترما سره موجود دي. چونکه په دے دواړو
کتابونو کښې دے د خپل ځان او خپلے تام قبيلې په حقله معلومات هم درج کړي دي
او ورسره په دواړه بيانونو کښې څه لږ شان فرق هم شته دے. په دے وجه
د غه دواړو بيانونو نه د دغه حصے شعرونه نقل کول مناسب گڼم. د تاريخي
معلوماتو سره سره د ده د کلام نمونه به هم مخے ته راشي.

(۱)

اولنے کتاب دے ذخيرة القُرّاء دے. د دے کتاب په حقله د اخوندزاده
فيض الله خان د اکوړے د تذکرے په ضمن کښې په دے باندے پوره بحث شوے دے
چه دا کتاب په اصل کښې د احمد تيراهي تاليف نه دے. بلکه د اخوندزاده فيض الله
خان دے. فقط د ده ره کارشوے دے. چه احمد دے تصحيح کړے وه. اود
اصلي مؤلف فيض الله په ځائے د احمد تيراهي په نوم په سن۱۳۱۰ھ کښې اول
ځل او په سن۱۳۴۴ھ کښې په دويم ځل چاپ شوے دے. د اولنئ چاپ نسخه
اوس نه پيدا کيږي. د دے کتاب په آخر کښې احمد د تيراهي ليکي:

زهٔ له اصله بنې زائے يم   د کرم خوئ جلال تميسے يم

زهٔ احمد يم عاصي ډير

په دعا مې کوئ د ځير

تيراهي کښې سکونت کړم   هم پېښنه د ...

يم په اصل کښې خليل   وايم تا ته اوس دليل

سفيد ږيرې کښې مې شو تجدد   خاص بنده د پاک احد

فرزند يم د عبدالکريم

که ايمان مې شي سليم

Marfat.com

(۲)

داخند دتیراهي دوییم کتاب چه اوس نایاب دے. او په دے لحاظ زیات اهم دے. چه هم ددے کتاب نه دآخند دتیراهي پوره حالات معلوم شول. چه دده پوره نوم ګل آخند دے. په قام صاحبزاده موسٰی خیل دے. چه په بهتی زی قبیله ورکښې یږي. او بهتی زی دخلیل شاخ دے. او په سنه ۱۲۴۲ھ کښې پیدا شوے دے. دخپل وخت دمروجه علمونو ښه عالم وو. او دنیمګړ لښت کالو په عمر کښې په سنه ۱۲۷ھ کښې دحضرت غوث الزمان باباجي دسیدو شریف نه یې بیعت کړے وو. او په دغه عمر کښې یې دشعر ښه موزون طبیعت لرلو.

ددے کتاب نوم هدایت المومنین افغانی دے. اګرچه دکتاب یې دخلاصه کیدانی ترجمه بللے ده. لیکن محض دخلاصے ترجمه نه ده. او دنورو کتابونو نه مختلف مسائل پکښې راجمع شوی دی. او په سنه ۱۲۹۶ھ کښې په مطبع نول کاشی دهلی کښې چاپ شوے دے. ددے کتاب په اول مخ دا عبارت درج دے:-

„دکل مطلب دخلاصه کیدانی او نورو مسائل دفقهي دمعتبرو کتابونو نه څخه په لږ نظم کښې تصنیف دعالم باعمل ملا ګل احمد ساکن تیراهی بالا چه په دے فن کښې کامل دے"

ددے کتاب ابتداء ددے شعرونو څخه شوے ده:-

ستائیش دهغه رب دے — چه په اسم کښې عجیب دے
مقدس لری خپل ذات — هم عاری دے له حاجات
یګانه دے هم په ذات — هم لایق دهر صفات

او په آخر کښې وائی:-

اوس بیان کړم حقیقت خپل — وایم زه په کتابت خپل

Marfat.com

زما اصل دے خلیل — درته وایم په تعجیل
مسمی چه زما پلار دے — کریم شاه نوم ئے اظهار دے
قریه نوم سفید ډیری دے — هغه ځائے وم ضروری دے
موسی خیل ورته وایه شي — محله چه نمایه شي
په اصلی اخوندزادګان یو — هغه ځای کښې ساکنان یو
په نا نقیر احمد یم — درے پنځوس هم په عدد یم
سن پنځه نوی دپاسه — دولس سوه نوروونا سه
دا کتاب چه ے تمام شه — دا حساب ځکه ارقام شه
ورځ پنځمه ذوالحجه ده — چه ے خلاصه رساله ده
د پیښین په وقت کښې جانه — کلام تمم شه له زبانه
بند زما په لاس قلم شه — لما پاتے دا رقم شه

والسلام والاکرام
زی دے هرچا ته اعلام

قصیدے

دا حمد دغه کتاب هدایة المؤمنین د ورکوټي بحر مثنوي تا سر ملاحظه کړه چه په ۵ ، پنځم تاریخ د ذالحجے سنه ۱۲۹۵ھ ئے لیکلے دے ۔ د سوات باباجی صاحب د دغه نه یوه میاشت پس د محرم الحرام په اتم تاریخ د جمعے په ورځ سنه ۱۲۹۵ھ کښې وفات شوے دے . ظاهره ده چه د هدایة المؤمنین [illegible] دیوځم شاعري ده او د پښتو ژبے په ورکوټي بحر کښې چه څومره نورو پښتنو شاعرانو شاعري کړې ده ۔ د احمد شعرونه د هغے ښکلے نمونه ده ۔ لیکن هرکله چه [illegible] د احمد هغه قصیده اوګورو چه هم په دے ورکوټي بحر کښې د پنځو پښتو

Marfat.com

کالو په عمر کښې ویلې ده - نو دا سې معلومیږي چه د ورکوتي بچر د شاعرۍ سره دا ځمس طبعي او فطري مناسبت وو - او په دغه عمر کښې هم دده په کلام کښې ښه رواني، سلاست او پختګی موجوده ده -

دا قصیده د مربّع نظم په شکل کښې ده - ټوله شپږ ویشت (۲۶) بنده ده - چه د نمونې په طور پرڅو مختلف بندونه ئې دا دي :-

اے زما کامله پیره
ماو عنواړه له قدیره
ګنهګار یمه کثیره

زور دے پیر دے د سوات رنده

مخ تورن یم له غفاره
اے د سوات ولی نامداره
یم بے حده ګنهګاره

زور دے پیر دے د سوات رنده

ستا مرید یم له اخلاصه
ماکړه خلاص له هر سزا
دارسیږه سم د لاسه

زور دے پیر دے د سوات رنده

مخ تورن نزپاک الله یم
بے عمله حال تباه یم
دلاور ستا په نګاه یم

زور دے پیر دے د سوات رنده

Marfat.com

پہ طاعت د رب مسرور یے
حکه دا رنګه منظور یے
هم په نوم عبد الغفور یے
زور دے پیر دے د سوات رنده

سوات بونیر په تا آباد دے
هر مرید په تا دلشاد دے
زما هم په تا دلشاد دے
زور دے پیر دے د سوات رنده

غوثیت کښے نشته شک ستا
حکه غواړمه کومک ستا
ما خوړلے دے نمک ستا
زور دے پیر دے د سوات رنده

بیست و پنج (٢٥) عمر مے تیر شه
د ګناه بار زما پیر شه
د غفلت ساعت مے ډیر شه
زور دے پیر دے د سوات رنده

دا ختم نشته دے پنګه
حکه کړی ستا ترځنګه
که نظر وکړے له ننګه
زور دے پیر دے د سوات رنده

Marfat.com

(۳)

د حضرت باباجي صاحب علیه الرحمة د سوات په مناقب کښې د احمدؔ یو بله قصیده ده یو څو شعرونه دا دي - دا قصیده ټوله اتلس ۱۸ شعرونه دي والې :- سه

عرض د فیض په دا دورات پیدا شه یاره
هر عالم ترې فایده مند شوله یو واره

بحرِ فیض چه ورته وایم ښاۍ روره
دے ساقي دے مریدان یې دي میخواره

هر کلام یې مستجاب په هر دیت دے
بے تسبیح نور څه نه کاله گفتاره

تاج په سر د غوثیت کلام صادق دے
فرزندان یې کړه صالح غني غفاره

خدای دے ده له دراز حیات روزي کا
چه په امن یو د هجر له کهنداره

د صفت حد یې معلوم نه دے اتمام له
دا احمد به تمام نه کاله اشعاره

خوار احمد چه دا قوة د شعر بیا مونډ
صاحب کړے ده دعا ورته بے شماره

د فارسي کلام نمونه :-

د هدایة المومنین په آخر کښې (سنه ۱۲۹۵ھ) یو فارسي نظم یې هم لیکلے دے - د نمونې په طور یو څو شعرونه یې دا دي :-

گفتم این نظم بر زبان افغان
یادگیرش درو مسائل جان

التجا دارم از درت یک دل
کن غلط را صحیح بر احسان

روزگارم بشد به نادانی
کار من جمله رفت در عصیان

د نثر نمونه :-

په دے کتاب کښې څه لږه حصه د نثر هم شته چه د هغې نه د دے دور د پښتو

Marfat.com

نثر د لیکلو د طرز اندازه کیدے شی۔ نمونه ئے دا ده:۔

مسئله:۔ ښځو لره زیور وا چول روا دی۔ او سړو لره روا نه دی۔
لیکن چه ګوته مهر داره وی۔ او غمے هم لرېته۔

مسئله:۔ ګوته له او سپینے او له کانړی روانه ده۔ پادشاه او قاضی لره
ګوته ساتل سنت دی۔ او نورو لره ترک بهتر دے۔

مسئله:۔ طفل نر لره آغوستل د ریښمو او زرو حرام دی۔

جواهر الانبیاء

د قصص الانبیاء نومے کتاب منظومه ترجمه چه د جواهر الانبیاء په نوم
ئے کړے ده۔ او یوه نسخه ئے په لندن میوزیم کښے موجوده ده۔ د کتاب په آخر
کښے د خپل ځان متعلق هم هغه خبرے بیان کړی دی چه په خپلو نورو کتابو
کښے ئے لیکلے دی۔ لیکن د څه نورو معلوماتو اضافه هم پکښے شته دے۔ په دے
وجه د غه یو څو شعرونه ئے د لته درج کول مناسب ګنړم۔ ملا ګل احمد والی چه
زما اصلی ځائے د تپه خلیل سفید ډیری نومے کلے دے۔ بیا وائی:۔

پیدایش مے د هغه بنګلی وطن کښے دا احوال مے درته ووے په لفظ کښے
ځائے مے هلته کښے موجود دے هم د نتر خیل هم په هغه ځائے اوسه پورے
خصوصاً په موسی خیلو کښے مے مکان دے

آفتاب کله ا د حجاب کل بل مستعان د وعا منم کښے شته ...
غرض دا اصلی مے هغه ځائے وطن دے تقدیر کړو ره پېکلی کښے مے مسکن دے
پېکلی کښے مے حال دے سکونت جمعه خان ثمه کوم ده امامت

که څوک وکه د دنیا رانه پوښتنه
من د اسے کور کښے تشنه دے بنا د منه

Marfat.com

دا کتاب ئے په سنه ۱۳۰۱ھ کښے لیکلے دے او په هغه وخت د پېښور یو مشهور تاجر کتب غلام مرسلین ته ئے د چاپ کولو اجازت ورکړے دے چه په ډهلی کښے ئے چاپ کړے دے۔

د دے کتاب د روستو بیتونو ځنے هغه اشتباه ورکه شی چه بعض تذکره لیکونکو ته پېښه وه۔ چه احمد د مخکیځ او احمد د تیراهی شاید جدا جدا کسان دی۔ معلومه شوه چه احمد د ملائی او امامتئ په سلسله کښے د سفید ډیری نه تیراهی او بیا مخکیځ ته راغلے وو۔

قصهٔ جمجمه

دا یوه مشهوره قصه ده چه ملا احمد د تنګی د پښتو شعر یے د ورکوټی بحر په مثنوی کښے لیکلے ده۔ او هم دغه د ورکوټی بحر په مثنوی هم دغه قصه ملا کل احمد د تیراهی هم لیکلے ده۔ سره د دے نه چه ملا کل احمد اعتراف کری چه زمانه نه وراندے بل چا دا قصه په پښتو نظم کښے لیکلے ده۔ او هغه ډیره ملیکه ده۔ لیکن سره د هغے ده بیا هم دغه قصه په نظم کړه۔ د کل احمد نوئ عیب دادے چه د خپلو همعصرو شاعرانو نومونه ئے یاده وی۔ او د دغه شان د خپلو معاصرو یا پخوانو شاعرانو علمی او ادبی آثار گمنام کری۔ احمد د تنګی دا احمد د مخکیځ اگرچه معاصر وو۔ لیکن بیا هم دا احمد د مخکیځ نه په عمر او زمانه کښے مشر وو۔ او بله خبره دا چه احمد د تنګی د کوهے د حضرت صاحب مرید وو او د سوات د باباجی صاحب مخالف وو۔ په دا سے حالاتو کښے احمد د مخکیځ چه د باباجی صاحب مرید وو۔ دا سے معلومیږی چه ده خاص جذبے ماتحت ئے د جمجمه دغه قصه نظم کړیده۔ مګر قابل اعتراض پهلو ئے دادے چه د ده تخلص هم احمد دے۔ او د تنګی د ملا احمد تخلص هم احمد دے۔ په دے وجه دا معلومیږی

چه د احمد د ګنجينې منظوم قصه او د احمد د تنګي منظوم قصه کومه يوه ده - اګر چه يو اديب او شاعر د اذواق په آسانتيا سره کولے شي. ځکه چه د ملا احمد د تنګي اشعار به ادبي او علمي او فني لحاظ سره ډير اوچت دي. هغه ادبي خصوصيتونه سلاست رواني او خوږوالے د احمد د ګنجينې په اشعارو کښې نشته دے. بيا هم د احمد د ګنجينې دا قصه په نظم کول په داسے حالاتو کښې چه د قصے نوم يو دے (جمجمه) زمانه يوه ده او تخلص يو دے خپله د تعريف کار نه دے. او سره د دے نيک کارنامه نه شو هيرولے.

د جواهر الانبياء په آخر کښې احمد غزلونه هم مختص شان انتخاب شامل شوي دي دلته د نمونے د پاره يو غزل ے ليکو :-

معشوق په مخ ټپان نشته د خبرو — که پوهيږے د دغه کار دے د زړه درد

هر يو کار چه په دنيا کړه بے هوده څوک — ګويا غواړي د نصيبه قيمت په زرو

پيسه نه لري په لاس کښې اے مفلسه — په بازار کښې بيو کړے د ما خاطرو

عقل نه لري د بخت له معرفته — ديوانه شوے په عشق د او ښکو

په مشکل باندے ساته يا ز بشکار د پاره — ورو نکړے سيل په بيا بنا ليسته کونترو

احمد وا غوسته خرقه د درويشانو

ځان ے شمارکه په قطار د قلندرو

د پښتو ادبياتو تاريخ په روايت په ۱۳۰۳ کښې يو ... د "الواعظين" په نامه يو پښتو نظم کښې ليکلے دے.

محمود

ملا محمود اخونزاده د ستم د چارغلئ او سید دنګے. او د حاجی شمس الدین اخونزاده ورارهٔ وو. تره ئے دخپل وخت ډیر لوئ عالم او د حضرت جی صاحب د کوهټے په مریدانو کښے مشهور فاضل سړے تیر شوے دے. د صفی الله خټک د نظم الدرر په روایت د حضرت جی صاحب سره د سوات په آخرنی سفر سنه ۱۲۸۱ھ کښے شامل وو. هرکله چه محمود د دے علمی کورنۍ یو ښاغلے ادیب او رنګین بیان شاعر وو. په دغه وجه د سوات صاحب د مخالفت له کبله په چارغلئ کښے ورته ژوند ګران شو. او په کوره د پېښور ښهر سره نزدے سپینه وړے ته نوے کلی راغے. هم دلته وفات شهٔ. صاحبزاده عبد الحئ د دهٔ د حالاتو په تذکره کښے لیکی چه ډیر لوئ عالم او شاعر وو. یو پښتو نظم ئے په مدح الابرار کښے راغلے دے. د دهٔ کلام د نمونے په طور دلته درج کولے شی.

(۱)

چه په اذکار کاندی چغار هغه محکم اونیسه
ګوره باری ذکر جاری په هر هردم اونیسه
چه ئے قدم دے په عالم هغه صنم له ورشه د عشق په اور شه لکه سکور زړګے پرسم اونیسه
دلامکان ماهِ تابان دے نن زمان حضرت جی
چه د توحید کل دے وحید ځاپرے شبنم اونیسه

Marfat.com

که دې لذّت د محبّت د ذوالعزت وي په زړه — ورشه رياض له دنيا ځنې حرم او نيسه

لکه جرس په هر نفس ژړيږه لس که د دنيا

ورشه تلقين کړه په يقين بحر الحکم ونيسه

که دې بشر د پيغمبر خير البشر وي په زړه — ورشه خدمت کړه د حضرت ځان د خُدّام ونيسه

چه هرا باغ ئې کړه فراغ د زړګي باغ که رڼا

ورشه کوڅې له د کوڅې د يار قدم ونيسه

غوث الزمان قطب دوران ثاني نعمان شه حضرت — محموده ورشه برابر کان الکرم ونيسه

---

(۲)

چشم آبدار د رِّ يتيم همه بدن لرينه

په صبح و شام په ذکر هر سړې ايمن لرينه

قطب دوران او فرياد رس د هر سړي دې مدام — لکه بلبل نظر په ګل د هر چمن لرينه

که ديدار غواړې د دنيا پريږده د حضرت جي له ورشه

فخر عالم دې خلوت نه د را انجمن لرينه

په لږ نظر سره صيقل که زنګ د هلي زړونه — غوث الابرار دې هم سفر اندې وطن لرينه

د زړه د رنځور لره دارو په هر زمان ورکړي

عاشقان ځکه د هر لوري ورته رفتن لرينه

د فاستقم په باغيچه کښې نونهال ختلې — چه بلبلان دې چغارې په هر فتن لرينه

محمود چه خوبه دنيا کړې حضرت جي له به ځې

که مرشد رب دې په کوی د ده دفن لرينه

Marfat.com

محمد علی غریب

محمد علی خوئ د سید علی په اصل د پېښور د تحصیل سپینه وړی او سیدونکے
دے. اندډار ښکو د عالمانو د خاندان څخه دے. د تناول د ریاست چه د هزارې په ضلع
کښې دے. د نواب محمد اکرم خان مرحوم قاضی دے. د عربی علومو ښه ټکړه او کوټلے
عالم دے. په یو عربی کتاب د رهنم الکبیس باندې ئے حاشیه لیکلې ده. د هغې په آخر
کښې لیکي:-

د خدائے د نعمتونو د اظهار په طور سره وایم چه د احسان کوونکی رب
فضلیه چه په ما شوی لحد د حساب څخه زیات دی. لیکن دوه نعمتونه ئے په خصوصیت
سره داسې دي چه ذکر ئے لازم دے.

یو دا چه د هر یو علم نه ئے خبردار کړے یم. خصوصاً له دینی فنونو او علمونو
څخه. سره د ادبی مقدماتو لکه صرف، نحو، معانی، بیان، بدیع، لغة، شمول.
او هم له مقصدی علمونو څخه ئے اګاهی راکړې ده لکه چه تفسیر، حدیث، فقه
او دغه شان د شرعی علمونو څخه لکه تصوف او علم الکلام شمول. او سره د فقهی
اصولی او فروعی علمونو څخه اګاهی ئے راکړې ده.

دویم دا چه توفیق ئے راکړو چه په مختلف علمونو کښې په څو کتابونو حاشیې
او لیکلې چه نومونه ئے دا دي:-

Marfat.com

(۱) حاشیه د کتاب ملا جلال شرح عقائد.

(۲) حاشیه د تلخیص المفتاح (ناتمام).

(۳) حاشیه د شرح وقایه (په علم د فقه کښي) دغه حاشیه د ذخیرة العقبیٰ نوم

لري. چه دویمه جلد مکمله او د اول جلد نیمائي تمامه ده.

(۴) حاشیه د دوطلم الکبیر.

(۵) نیل المنال في من هو المفضل والمفضال. (عربي)

(۶) القول المقبول في فن الاصول. (عربي)

(۷) رساله في اثبات الشفاعة في عدم الحاجة المسالة (عربي)

(۸) رسالة ... الجمعة على من الحضر.

(۹) رسالة ... في ... الولاية.

(۱۰) رسالة ... حب الله ورسوله.

او علاوه دغه ... مختلفي عربي فارسي او پښتو قصیدي ...

... او د سلوک او معرفت په بیان کښي ... دي.

محمد علي د ... په بیان په آخر کښي یاد ... چه ... علماء او ...

... خصوصاً د نقشبندیه طریقه د بزرگانو سره ...

او ... نقشبندیه طریقه کښي د حضرت ...

د کوچه ... .

محمد علي ... د حضرت ...

حضرت خواجه بهاؤ الدین نقشبند په ... فارسي ...

د ... ده ... بیان تصدیق ... .

... پښتو نظم په مدح الابرار کښي ... قادري ... په مناقب ...

Marfat.com

کښې راغلې دي - هر کله چه تر دې وخته د ده لوړ کلام زمونږ په لاس کښې نشته دې په دې وجه د ده د غه نظمونه دلته درج کول مناسب گڼو - د کلام نمونه دې دا ده :-

طوطا په ناز ساتلې ښه نازبین د ناز پرور دے
خوشنود دې له کلام څخه جن ملک بشر دے
بلبل په ښاخ د گل باندې هر وخت ثنا صفت کا
همدم اوسي له گل ښه منظور د یار په در دے
شاه باز لري پرواز عجب په سیل کښې د بازانو
پنجه لري سکینه ځکه په خلقو مهیب تر دے
شهسوار کاندي سورلی همیش په شاد ایلغانو
آسبق په سابقانو کښې رهبر په سم و غر دے
سلطان لري په سر باندې لوی تاج د معرفت
خوبان د هر زمان همه په ده پسې لښکر دے
خورشید دې د عالم جهان همه په ده روښان دے
محرم هم په خلوت کښې د اسرارو سراسر دے
حضرت ته د کوهي لري محمد علي یو عرض
ما کلک نیسه له لاسه په نري پل ې گذر دے

ساقیا برخیز و انگن یک نظر — وز غرورم دارهانی سر بسر
خرقهٔ ناموس و ننگ من بسوز — شعله ام جان سوز در نه در جگر
زین خبر کز خویش دارم دور کن — زین اثار هستی ام کن بی خبر

Marfat.com

غمزه ها فرما که تا از خود روم   وز لب نوشین مرا کن در بدر
کن خبر آن سرو را با ناز و غنج   چون تدرو جان کنم در دم هدر
جام کونین سوز را ده از کرم   تا به بندم محملے سوئے مفر
اے دلا پر مشکلا از راه صدق   کن به سوئے حضرت کوثه مفر

اے نسیما مرحبا از سوئے او
وز علی دل تحفه ات یا جان و سر

باز قلم خوش رقم دود سراسر گرفت   کرده دلم آتشش شعله وا خگر گرفت
جسم کجا با دلم تا که بسازم نثار   در قدم آن نگار ره که سے طر گرفت
تا که جهاد بے یمن وقت حسام و غا   همت عالی او جمله عدو بر گرفت
شاهِ بتان با حشم جمله غلامانِ او است   از سر دبا یک قبا چونکه به بر در گرفت
ذره بے قدرمن نور کنان گرد او   چون به کرم مهر او جمله منور گرفت
بلبل شیرین نوا طوطے شکر شکن   لفظ فقیر ست این یا دُر و گوهر گرفت
نکته ز توصیف او خوانده مرا شد عجب   گرچه ز بهرش قلم یک قدم از سر گرفت
جان و دلم با تنم باد فدا از دعا   چونکه زِ اقدام او نافه و عنبر گرفت
راه بجو ابد ز تو اے به هنر مشتهر   از دل و جان بے خبر دلبستم

گر سخن خام چند گفت محمد علی
بے سر و پا از قصور نفس بجنبر گرفت

خوش خفته بودم صبحدم آن یار آمد بر سرم
از جوشِ عشق خونِ دلم کرده خراب و ابترم

Marfat.com

صد گونه لطف و رحمت بس تربیت بے حد و عد
فرمود بر ناچیز خود گفتا که مهر خاورم

بودم همه ظلمتها تنها هم دود و گرد راهها
تا کرد آن نور بها جمله صفا و انورم

آن خواجه نقشبند دین محبوب مجذوب و مراد
بنشسته در دلها نقشها آن نقشبند و افسرم

آن شاه دو عالم آن خواجه بهاء الدین بنام
در یاد او هم جمله گم مکنون و مضمون مضمرم

هستم غریب بے نوا دارم ازو امیدها
تا بر حسینم شفقت نظر باشم بلطف و کرم

فیضی

محمد عارف د ضلع هزاره د پهکلئ د علاقې د تهکرۍ نومي کلي او سیدونکي وو. په قام سواتي دلازاک وو. "فیضي" تخلص یې وو. صاحبزاده عبدالحئ دده په تذکره کښې لیکي چه واقعي فیضي وو. هر علم ته به چه به یې مخ اړوو. خدای به ورته آسان کړي. د حضرت جي صاحب مشهور خلیفه وو. او پوره پیر عاشق وو. (مدح الابرار صفحه ۱۲۱)

صفي الله ختک په خپل کتاب نظم الدرر کښې دده په حقله لیکي :-

"یکے مریدان حضرت محمد عارف اخونزاده نام که مشهور است به فیضي ملا صاحب واز ساکنان ولایت پکلي است. مردے فهیم وشخصے علیم است. بزیور تقوی آراسته وبخلعت ورع پیراسته است. صاحب ادراک بسیار وخداوند امتیاز بے شمار است."

د فیضي یو څو نظمونه چه د حضرت جي صاحب د کوهاټ په مناقب کښې دي د ... دلته درج کوم. تر دې وخته د دې یو څو نظمونو نه علاوه د ده نور کلام په لاس نه دې راغلی.

د نظم الدرر د مطالعې نه معلومیږي چه سنه ۱۲۵۲ھ نه تر سنه ۱۲۶۲ھ پورې د حضرت جي صاحب سره وو. حضرت جي صاحب چه په دویم ځل په سنه ۱۲۶۱ھ کښې د باجکټې نه سوات ته په سفر تللو او په نتیجه کښې یې د بنیر نه په کهه د کوهټ نه راغی په دغه سفر کښې چه د څو مره مریدانو او عالمانو ذکر صفي الله کړیدې په هغې کښې

د فیضی نوم مې نه دې ذکر کړې - په دې وجه د پېلې شو - چې فیضی د سنه ۱۲۷۲ھ او سنه ۱۲۸۱ھ په منځ کلونو کښې وفات شوې دې - دلته د مفرح الابرار په حواله د ده نظمونه درج کولې شي - د کلام نمونه ئې داده:

اې چې شاه ئې نن زمان د بحر د بر
رب د پاره په ما وکړه یو نظر

د توجه توغ دې په عرش کې ودرېدلې ... په زمین دې همای وي د ربه دې
ستا له نوره مستعار دې په دې آن کښې ... په آسمان کښې چې شمس تور دې دې نمر

جهان واړه ستا په عشق کښې مبتلا دې
ما هم کړه له خپله عشقه بهره ور

پیروي مې هیڅ د تا حاصله نکړه ... شرمنده ځکه ولاړ یم ستا په دَر
کوم به وي چې په محشر کې بختور نه شي ... ځکه راغلمه تور مخ خاورې په سر

داچې ستا نظر اکسیر دې بې خلاف
محال نه دې که مې خاک جوړ شي زر
فیضی ستا د دَر غلام دې له ازله
پیرې مې نه بې د دې نه دې نه په محشر

---

(۲)

ستا په جمال باندې شیدا شوم د کوهټ حضرت جي!
په زړه کې داغ لکه لاله شوم د کوهټ حضرت جي!
د آشرې ځاې مې بل څوک نشته بې له تا نه چرته
ستا له دیدن بې نوا شوم د کوهټ حضرت جي!

Marfat.com

په ډیر هجران کښې شوم ناتوان تر څو به طاقت نشته دے
اوس د وصال په تقاضا شوم د کوټې حضرت جی!

د تمامې جهان دولت به کړم د پښو تر لاندے
که دے په پاک دین نبینا شوم د کوټې حضرت جی!

بدن او روح مې شه قربان بلکه جهان هر سره
که شته رضائے زه رضا یم د کوټې حضرت جی!

په سر او مال یاد نوم تا ته دایم حکوم عقل دے
په دے ګفتار کښې ډیر خطا شوم د کوټې حضرت جی!

زه چه څه وایم همګی واړه نقصان د سینه!
کمال به داوي که "زه" [illegible] شوم د کوټې حضرت جی

د غلامۍ په چاپ به هله [illegible] شمه ستا
که لاس په سر د ماسوا شوم د کوټې حضرت جی!

د بد همراه په بد ګټل مې نه کړے بیل له ځانه
په غلامۍ چه دے رسوا شوم د کوټې حضرت جی

فیضي کچکول د بے عرضۍ په تحرک کښې پېش کړمه دې
په امید ستا د [illegible] شم د کوټې حضرت جی

---

(۳)

شمس العرفان نور الهدی دے د کوټې حضرت جی
د محمد د دین پیشوا دے د کوټې حضرت جی

چه څوک خلاص له تاریکئ ذکنا هو نو غواړی
په تن زمان مشال رڼا دے دکوټې حضرت جی

مشال دے نشته درست جهان کښې سر تر پایه پورې
د مینٔ زړهٔ اثر کیمیا دے دکوټې حضرت جی

دا ستا اوصاف به څه بیان کا مادحان د جهان
چه په صفت دے خپل آشنا دے دکوټې حضرت جی

دا ستا مقام په غوثیت کښې ډیر بلند وینمه
فیضی په دے بیان لالا دے دکوټې حضرت جی

Marfat.com

چاندی عبدالرحمان

عبدالرحمان ئے نوم دے چاندی ئے لقب دے. په دے وجه چې د بیاضئے بڼه پاکه. صفا او کره وه. د نوښهرا او سید دے ګی وو. بیا بلوچستان ته په کښو لاړو. په سیبوئ کښې دے. د خلو لیښتو کالو په عُمر په سنه ۱۹۰۰ کښې هم هلته وفات شهٔ او هم هلته دفن کړے شهٔ.

د کلام نمونه ئے داده :-

د زړهٔ حال و یُلے نه شم هیچا ته　　په سینه کښې مے پټ پټ کړی در دونه
بیلتانه رابانده د وکړه ډیره زیاته　　معلومیږی لاس مے خیږ د ژوندونه

د زړهٔ حال که چا ته وېم دا مے وسواس　　هسے نه که مے له دے نه حال بتر شی
ریباران صادقان نه راځی په لاس　　وی د رغله زما ځکه ترے ډار
پیت ګمان رابانده کاندی عام و خاص　　زما مینه به ښکاره د الله د محرشی

په جرګه سره راغلے یم یاره تا ته
بس که نور مه اخله عماره ته پیغونه

Marfat.com

(۲)

صنم زۀ دے ویشتلے یم پہ چشمانو کتارو
تا ترسہ شرے خادرو — خون بہ واخلے د ملتانہ

صنم زۀ دے ویشتلے یم زړۀ مے شو قلم قلم
ځی د سترګو نہ مے نم — پہ کړیوات لکہ سیلاب

تا تہ پہ دواړو لاسہ هر لیمے وهم هر دم
[illegible] زړۀ ریښئ پہ ما غم — مخ خرګند کړہ د نقاب

[illegible] پہ [illegible]
[illegible] پہ اړو
[illegible] — خون بہ واخلے د ملتانہ

بي بي تاج

تاج بي بي، يوه پښتنه شاعره ده. چه اصلي نوم ئې کرم نساء [illegible] خپلو شعرونو کښې تاج تخلص کړی. په نام مشهوره ده. د شبقدر [illegible] حاجي حيات کلي لوېږه ده. په قادريه طريقه کښې د بغداد شريف [illegible] شاه صاحب مريده وه. په قادريه طريقه کښې د سلوک او معرفت [illegible] خاونده وه. عالمه، اديبه او تاريخ دانه ښځه وه. [illegible] مشهوره وه.

په مدح [illegible] ئې نوم د کتاب کښې دوه نظمونه [illegible] چه [illegible] نمونې په طور دلته درج کړے شي.

د کوهاټ غوث الزمان — په قوت کښې پهلوان
په بيکسو مهربان — مشهور ئې [illegible]
ستا مريد غلام د خزان — [illegible]
شوم خبر ستا له دوران — [illegible] ستا له دربان

[illegible] جان
د کوهاټ شاه مردان

حضرتجي زما [illegible] — د بيکسو [illegible]

Marfat.com

شرق تر غربه بې نظیره — ای آفتاب عالمګیره
خوش الحانه خوش تقریره — مرید اوله اکسیره
زه شم ستائیم د ا منګیر — ای زما کامله پیره
کړه نظر را باندې جانه
د کوهاټ شاه مردانه

ای د هر مریض علاجه — مرید اوو د سر تاجه
شاه د کوهاټ د رته محتاجه — خلق د هند کړله رواجه
شور دې لاړ دې تر هراجه — خالي نه دې ستا له باجه
ای د هر وطن سراجه — شه خبر مې احتیاجه
کړه نظر را باندې جانه
د کوهاټ شاه مردانه

نه ګوري مې لرو بره — یو ساعت نه ئې دلبره
حسن زیات دې له قمره — شغلې تیرې دې له نمره
د شپې یې د ګل اختره — وړې نه شي لره دره
ګناه زیات لرم تر غره — ته مې وړ پاله پدره
کړه نظر را باندې جانه
د کوهاټ شاه مردانه

د الله په در وړی اره — د احمد نبي مختاره
د رسول د دین سرداره — په ولیاتو کښې شهسواره
تاج د در د خدا [illegible] — سوال کوي ستا له درباره
[illegible] په لاره — شم قربان ستا له دستاره

Marfat.com

کرہ نظر راباندے جانَ
دکھونے شاہِ مردانَ

Marfat.com

حمیدُ الله

حمید الله خوئ د امیرالله خان چه په کال ۱۲۲۵ هـ کښې زیږیدلے او په کال ۱۳۱۷ هـ کښې د ۹۲ کالو په عمر کښې وفات شوے وو. د ضلع مردان د تحصیل صوابۍ د کالو خان لوے کلی اوسیدونکے وو. په تمام رزړمندان او د خیل وخت یو ښه عالم شاعر او د دینی علومو مدرس وو. یو کتاب ئې په پښتو ژبه مثنوی کښې لیکلے وو. قلمی نسخه ئې د خوئ سره وه چه بیا ترے نه ورکه شوه. د دغه کتاب احوال النساء نوم وو. یو څو شعرونه چه د خوئ په بیاض کښې ئې لیکلی پاتې دی. دلته لاندې درج کوو. د دے شعرونو څخه د دے شاعر سادګی او د طبیعت روانی معلومیږی. ژبه ئې ساده ده. روز مره محاورے دی. او د هغې وخت د نفسیاتی او تهذیبی رجحاناتو عکس پکښې ځلانده دے. وائی:-

په چینه یا په کودر کښې — چه شی جمع لکه زرکے
وائی ګوره کنه خوارې — د فلانکئ د خاوند چارې
دا سے نوشه ورسره نله ئې کا — تش د خولے غنړ ورته نه کا
هلته بله پرے نعره کا — لګئ پورته لکه خره کا
هلته بله خوش ګفتاره — پرے را الوزته شی دواره
وئ زما خو خپل خوئ دا دے — وهر چا ته هرېدا دے

Marfat.com

چه خاوند مې راشي کور ته   مخ ترې واړوم بل لوري ته
زړه مې ناخلي چه خوزېږم   چه د کټه به کوز پرېږم
وايم نشته زما زور   په پښه وبنيم ورته ښکور
چه ته مومې هغه وخوړې   چه ته نوې نور به ته خوړې
بيا کښنوې کنډول کنګال   لوښي ټول سره سنبال

چه بهر ځي رخصت غواړي
بې رخصته خوړې سو باړي

دَدهٔ وس به د خامنتا وي   هم هغې ته به وار خطا وي
دا به والي کښې وړې   په خامنامې خوږ شوي ډړې
رېښم راوړه راله پوړ   تور پېڅو به کوم کور
لس لس پېټې مې خوښېږي   چه هر څوک راته پسخېږي
راله راوړه ټکل بدن   الحمه شه ستا کفن

شي سوسۍ سپېره دې ورکه
سور سالو غواړم په کلکه

Marfat.com

سُفید شاهُ

د خټکو د علاقې د مشهور کلي اکوړې او سید ونکے وو۔ عالم سړے وو۔ په
روستو بدر بنو ته راغے۔ او د سید غلام خان په جماعت کښې یې امامتي کوله
د اویا کالو په عمر کښې په سنه ۱۳۲۷ھ / ۱۹۰۹ء کښې په حق رسیدلے دے۔ تقریباً د سنه ۱۲۵۷ھ
خوا شا کښې پیدا شوے وو۔

په پښتو شاعرۍ کښې ظریفانه کلام لري۔ نمونه یې دا ده:-

یاره راشه چه پخه کړو بنه حلوا — درے څیزونه به راوړي او درے ستا
او 1، او 2 به، خشاک 3 زما په ذمه یاندے — شیرینی 1، غوړي 2، وړه 3 کړه ته پیدا
چه پخه شي بیا به د واړه سره نیم شو
یعنې زه به کړم خوراک ته تماشا

قدرت او ګوره د حئ لا یموت
چه د پاسرے سره سم لري شهتوت

Marfat.com